

# دافغانستان نومیالی

اطلاعاتو او کلتور وزارت
د نشراتو ریاست

مؤلف:
عبدالروف بینوا

دافغانستان نومیالی
څلورم ټوک
عبدالرؤف بینوا

Ketabton.com

ketabton.com - The Digital Library

وشی کتاب شاه محمد
چاراهی صدارت تیلفون ۲۵۸۸۶

0006564

# دافغانستان نومیالی

## څلورم ټوک

۳۰۸ تنه

مؤلف

عبدالرؤف بینوا

۱۳۶۰

د اطلاعاتو او کلتور وزارت

د نشراتو ریاست

ketabton.com - The Digital Library

يادونه: داكتاب د محمد هاشم بهرامي او محمد ابراهيم پيكارجو
پهزيار او اهتمام چاپ شو.

ketabton.com - The Digital Library

# یــادونــه :

د گران افغانستان د پنځه زره کلن تاریخ په زرینو پاڼو کی د دی قهرمان هیواد دپتمنو خلکو د حماسه جوړوونکو ویاړ و نو په څنګ کی د لطیفه هنرو نو بیلگی په ځلانده توروکښل شوی چی زموږ د تولنی فرهنگــی شتمنی یی لاپسی زیا ته کړ یـــــه زموږ د زیار ایستو نکو خلکو فر-هنگی میراثو نه چی د هیواد د هنراو ادب د خا و ند انو په پا ملر نه د زما نی د نا خو الو څخه سا تـــــل شوی او دورك کیدو څخه یی مخ-نیوی شوی ژبه رښتیا سره یی د خپلو خلکو په وړاندی ددی نه هیر یدونکی خدمت له لاری خپل ټولنیز رسا لت سرته ر سولی د ی په دی لـــړ کی «دافغانستان نو میا لی» اثر د یادونی وړ دی .

د( افغانستان نو میا لی ) د محترم استاد عبدالرؤف بینوا اثر دی چــی لیکوال له دی لاری زموږ د ټولنــی دگڼ شمیر لیکوالو او ملی نومیالیو دپیژ ند نی په وسیله د قدر وړ ټولنیزه درنده دنده سر ته رسو لی ده .

دادی د افغانستان نو میا لـــی څلورم ټوك د دریو تیرو ټوکونو په څیر د یوی ار زښتنا کی معنو ی پانگی په توگه نوی نسل ته وړاندی کیږی چی شکل او محتو ی دواړه یی د پاملر نی وړ گڼل کیږی .

دغه ارزښتنا که اثر په داسی حال کی د نشر اتو د ریا ست په مرسته له چا پ څخه را ووت چی په قهرمان افغانستان کی د ثور ملی اودمو کراتیك انقلاب اوددی ویاړلی انقلا ب د نوی بشپړ تیا یی پړ او پلو شود گران هیواد گوټ ـ گوټ روښانه کړی او د ټولنیز فر هنگ د لاودی لپــاره یی لاره او اره کړیده .

زه د هیواد د ټولو لیکوا لو اودهنر او ادب د خا وند انو لپا ره په دی سپیڅلی لاره کی کا میا بـــــی غواړم او تردی زیاتو او چتو پوړیو ته د رسید واو د خپلی ټو لنی په وړاندی ددی ستر ټولنیز رسالت پــه سرته رسولو کی یی دلا بر یالیتوبونو هیله کوم .

عبدالمجید سر بلند

دوزیرا نو د شورا مر ستیا ل اوداطلاعا تو او کلتور وزیر

ketabton.com - The Digital Library

# ددی کتاب دنوسیالیو فهرست


| نوم | مخ |
|---|---|
| باباجان اسیر | ۱ |
| باباجان هروی | ۲ |
| باباخان محمد مجزوب | ۳ |
| بابادل (ختېك) | « |
| باباسنکو اندخویی | « |
| باباسیدگل دپکلی | ۴ |
| باباشوریده هروی | ۵ |
| باباعبدل دهکی غزنوی | « |
| باباعلیشاه هروی | ۶ |
| باباعلی هروی | ۶ |
| باباولی کندهاری | « |
| بابای برق | ۱۸ |
| بابا سرپلی | « |
| بابا(ظهر الدین محمد) | ۱۹ |
| بابر خان کاکړ | ۳۱ |
| بابك صاحب | ۳۱ |
| باب صاحب | ۳۱ |
| بابو | ۳۲ |
| بابوجان بابی | ۳۲ |
| بابوجان لغمای | ۳۳ |

ketabton.com - The Digital Library


| نوم | مخ |
|---|---|
| باتکی کاکړ | ۴۹ |
| با جوړی | ۴۹ |
| باجوړی | ۴۹ |
| بادر | ۵۰ |
| بادشاه‌گل (حکیم) | ۵۴ |
| بادشاه میر | ۵۵ |
| بادو ابریدی | ۵۵ |
| باران آخوند | ۵۶ |
| باران ینگزی | ۵۶ |
| باران سنځرخیل | ۵۶ |
| بارپکشاه لودی | ۵۷ |
| بارح هروی | ۵۹ |
| بارع پوشنگی هروی | ۵۹ |
| بارک نیکه | ۶۰ |
| بارو | ۶۱ |
| بارو خان نورزی | ۶۱ |
| باره خان چهارهاری | ۶۲ |
| باره خو بابا | ۶۴ |
| بازار کاکړ | ۶۴ |
| باز بهادر سور | ۶۵ |
| باز توخی | ۶۶ |
| بازجنگ خان | ۶۸ |

ketabton.com - The Digital Library

| نوم | مخ |
|---|---|


| نوم | مخ |
|---|---|
| بازجو گیزی | ٦٨ |
| بازخان بنگښ | ٧٢ |
| بازخان ننگرهاری | ٧٢ |
| بازرخان څولخیل | ٧٣ |
| بازگل لغمانی | ٧٣ |
| بازگل (ملا) | ٧٣ |
| بازمحمد کاکړ | ٧٤ |
| بازمحمد کندهاری | ٧٤ |
| بازمحمد کندهاری | ٧٥ |
| باز (ملا) | ٧٦ |
| بازو نڅولخیل | ٧٦ |
| بازید | ٧٧ |
| بازیدخان افغان | ٧٧ |
| باسطی کابلی الاصل | ٧٨ |
| باشانی هروی | ٧٨ |
| باشنانی هروی | ٧٨ |
| باشهیدنیکه | ٧٩ |
| باصر حاکم شاه | ٧٩ |
| باطنی بلخی | ٧٩ |
| باعوف سیستانی | ٨٠ |
| باغون مسه‌خیل | ٨١ |
| باقر ذو الکمالین هروی | ٨١ |

ketabton.com - The Digital Library



| نوم | مخ |
|---|---|
| باقر شاه | ۸۲ |
| باقی بالله کابلی | ۸۲ |
| باقی بلخی | ۸۳ |
| باقی مجددی | ۸۵ |
| باقی هروی | ۸۵ |
| باکوراو غانی | ۸۶ |
| بالخوازی نیکه | ۸۶ |
| بالون آخون | ۸۶ |
| بالیث طبری | ۸۷ |
| بانو بی بی | ۸۹ |
| بانو سیستانی | ۹۰ |
| بانو کشپ | ۹۱ |
| بانی خاخی | ۹۱ |
| باوری (آخوند) | ۹۲ |
| بایتگین زمین داوری | ۹۲ |
| یاتیگین غزنوی | ۹۳ |
| بایتوزبستی | ۹۴ |
| بایخان | ۹۵ |
| بای خان | ۹۶ |
| بای خان حافظه | ۹۷ |
| بایزید افغان | ۹۷ |
| بایزید پورانی هروی | ۹۸ |

ketabton.com - The Digital Library


| نوم | مخ |
| --- | --- |
| بایزید پیر روښان | ۹۹ |
| بایزید دوری هروی | ۱۴۴ |
| بایزیدلودی | ۱۴۵ |
| بایسنغر میرزا | ۱۴۶ |
| بایسنغر میرزاعادلی | ۱۵۲ |
| بایقرا هروی | ۱۵۲ |
| بایی‌خان‌توخی | ۱۵۳ |
| ببرخان سواتی | ۱۵۳ |
| ببن شاهوخیل لودی | ۱۵۴ |
| ببوجانه | ۱۵۵ |
| ببون منګل | ۱۵۶ |
| ببی‌یا بیبنه‌ ب | ۱۵۷ |
| بجلی چارسدی | ۱۵۷ |
| بخت‌خان‌جنرال | ۱۵۸ |
| بختک‌هلمندی | ۱۶۲ |
| بخت‌ناک‌خان‌ختک | ۱۶۴ |
| بدایعی بلخی | ۱۶۶ |
| بدخشی | ۱۶۷ |
| بدخشی | ۱۶۹ |
| بدرالدین غزنوی | ۱۶۹ |
| بدرالدین هروی | ۱۷۰ |
| بدرحاجب غزنوی | ۱۷۱ |

ketabton.com - The Digital Library


| نوم | مخ |
|---|---|
| بدرطر خان بامیانی | ۱۷۲ |
| بدری غزنوی | ۱۷۳ |
| بدل خان | ۱۷۳ |
| بدل خان یابدی خان | ۱۷۴ |
| بدیع الدین جوینی | ۱۷۴ |
| بدیع الزمان خراسانی | ۱۷۵ |
| بدیع الزمان میرزا | ۱۷۵ |
| بدیع الزمان هروی | ۱۷۷ |
| بدیع اندجانی | ۱۷۸ |
| بدیع بلخی | ۱۷۹ |
| بدیعی سجزی | ۱۸۱ |
| بدیع هروی | ۱۸۵ |
| بدیعی هروی | ۱۸۶ |
| بدیل ابوبکر هروی | ۱۸۶ |
| براست | ۱۸۷ |
| براهیم | ۱۸۸ |
| برت نیکه | ۱۸۹ |
| برخوردار پاشمولی | ۱۸۹ |
| برخوردار خان اڅکزی | ۱۹۱ |
| برخوردار فراهی | ۱۹۲ |
| برکت خان | ۱۹۲ |
| برم خراسانی | ۱۹۳ |

ketabton.com - The Digital Library


| نوم | مخ |
|---|---|
| برمك بلخي | ۱۹۳ |
| برمکی | ۱۹۴ |
| برو ردهٔ بلخی | ۱۹۵ |
| برها تکین | ۱۹۶ |
| برهان‌الدین | ۱۹۶ |
| برهان‌الدین ابولحسن غزنوی | ۱۹۷ |
| برهان الدین بلخی | ۱۹۸ |
| برهان الدین خاوند شاه بلخی | ۱۹۹ |
| برهان‌الدین عطاأله هروی | ۱۹۹ |
| برهان‌ادین لاغربدخشی | ۲۰۱ |
| برهان‌الدین محمود بلخی | ۲۰۲ |
| برهان‌الدین هروی | ۲۰۳ |
| برهان‌بلخی | ۲۰۳ |
| برهان‌خان | ۲۰۴ |
| بریانگرغزنوی | ۲۰۷ |
| بریم‌خان | ۲۰۷ |
| برسکوسوسی‌جان | ۲۰۸ |
| بزرجمهر قاینی | ۲۰۸ |
| بزرگ خواجه بدخشی | ۲۰۸ |
| بزگر علی محمد | ۲۰۹ |
| بزرگ (میا) | ۲۰۹ |
| بزم کابلی | ۲۱۰ |

ketabton.com - The Digital Library

| نوم | مخ |
| --- | --- |
| بزمی خراسانی | ۲۱۰ |
| بزمی کندهاری | ۲۱۱ |
| یسالمی غزنوی | ۲۱۲ |
| بسام سیستان | ۲۱۲ |
| بسام کورد خارجی | ۲۱۳ |
| بستان بریخ | ۲۱۴ |
| بستان خان پوپلزی | ۲۱۷ |
| بستی | ۲۱۸ |
| بستی | ۲۱۸ |
| بسطامی بلخی | ۲۱۹ |
| بسکی | ۲۱۹ |
| بسمچی هروی | ۲۱۹ |
| بسمل بدخشی | ۲۲۰ |
| بسمل جلال آبادی | ۲۲۱ |
| بسملی سبزواری | ۲۲۳ |
| بشار بستی | ۲۲۳ |
| بشار تخاری | ۲۲۳ |
| بشارت سنگر خیل | ۲۳۰ |
| بشار مرغزی | ۲۳۱ |
| بشاری پوشنگی | ۲۳۳ |
| بشیر بلخی | ۲۳۳ |
| بصیر سیستانی | ۲۳۳ |

ketabton.com - The Digital Library


| نوم | مخ |
| --- | --- |
| بصیر سکرم | ۲۳۴ |
| بغراجق | ۲۳۴ |
| بغوی | ۲۳۴ |
| بغوی | ۲۳۵ |
| بقای بدخشی | ۲۳۶ |
| بقایی | ۲۳۷ |
| بقایی هروی | ۲۳۷ |
| بکتاش بلخی | ۲۳۸ |
| بکتغدی غزنوی | ۲۳۹ |
| بکتیگین چوگانی | ۲۴۰ |
| بکتگین حاجب | ۲۴۱ |
| بکیر خراسانی | ۲۴۱ |
| بگل | ۲۴۲ |
| بگی خان بامیزی | ۲۴۲ |
| بلال بن ازهر سیستانی | ۲۴۲ |
| بلبل | ۲۴۳ |
| بلبل کابلی | ۲۴۴ |
| بلکاتگین غزنوی | ۲۴۵ |
| بلکایگینی غزنوی | ۲۴۶ |
| بلند خان سدوزی | ۲۴۷ |
| بلوخان | ۲۴۸ |
| بلوڅ خان اڅکزی | ۲۴۸ |

ketabton.com - The Digital Library


| نوم | مخ |
|---|---|
| بلوڅ خان خدرزی | ۲۴۹ |
| بلوڅ خان کاکړ | ۲۴۹ |
| بلوصوفی | ۲۵۲ |
| بله نسته قندهاری | ۲۵۲ |
| بم نیکه | ۲۵۳ |
| بنارس | ۳۵۳ |
| بنائی کابلی | ۲۵۴ |
| بنائی هروی | ۲۵۴ |
| بندر شاه | ۲۶۰ |
| بنګل خان کاکړ | ۲۶۰ |
| بنګی الینګاری | ۲۶۵ |
| بولعجب کابلی | ۲۶۶ |
| بوسعید کابلی | ۲۶۷ |
| بوعلی شاه | ۱۶۸ |
| بوعلی هروی | ۲۶۹ |
| بلوک نیکه | ۲۶۹ |
| بولی بلند | ۲۷۰ |
| بهاء الدین بلخی | ۲۷۰ |
| بهالدین سام غوری | ۲۷۱ |
| بهاء لدین عمر هروی | ۲۷۱ |
| بهاولدین (ملا) | ۲۷۳ |
| بهاو الدین نوربخش | ۲۷۳ |

ketabton.com - The Digital Library


| نوم | مخ |
|---|---|
| بهزاد کابلی | ۳۱۴ |
| بهزاد هروی | ۳۱۵ |
| بهشتی هروی | ۳۳۶ |
| بهکت بابا | ۳۳۶ |
| بهکهاری خان پرملی | ۳۳۷ |
| بهلول لودی | ۳۳۷ |
| بهلول نیکه | ۳۶۶ |
| بهیکن لودی | ۳۶۶ |
| بهیم | ۳۶۶ |
| بهیم پال | ۳۶۷ |
| بیاض دسوابی | ۳۶۷ |
| بیاض گل( قاضی) | ۳۷۰ |
| بیانی خراسانی | ۳۷۱ |
| بیاضی بلخی | ۳۷۱ |
| بیبک خراسانی | ۳۷۱ |
| بیبویکوائی | ۳۷۲ |
| بیبو بلوڅه | ۳۷۴ |
| بی بی ایمنه | ۳۷۵ |
| بی بی تاج | ۳۷۵ |
| بی بی زینب | ۳۷۶ |
| بی بی زینب هوتکی | ۳۷۷ |
| بی بی ستی | ۳۸۰ |

ketabton.com - The Digital Library


| نوم | مخ |
|---|---|
| بی‌بی ستی هروی | ۳۸۰ |
| بی‌بی ستی کاسی | ۳۸۱ |
| بی‌بی شمسو روشانی | ۳۸۱ |
| بی‌بی صاحبه | ۳۸۲ |
| بی‌بی صاحبه بړیخه | ۳۸۲ |
| بی‌بی گله | ۳۸۳ |
| بی‌بی گله شنغری | // |
| بی‌بی گنجانی | ۳۸۴ |
| بی‌بی مبارکه | ۳۸۴ |
| بی‌بی مستو لودی | ۳۸۵ |
| بی‌بی میر کوهره | ۳۸۸ |
| بی‌بی نوره هروی | ۳۸۸ |
| بیبته نیکه | ۳۸۹ |
| بیخود هروی | ۳۹۳ |
| بیخود بلخی | ۳۹۴ |
| بیخودی فراهی | ۳۹۴ |
| بیدار نیکه | ۳۹۴ |
| بیدل اشنغری | ۳۹۵ |
| بیدل بلخی | ۴۰۳ |
| بیدله هروی | ۴۰۳ |
| بیدلی لنګ هروی | ۴۰۴ |
| بیدلی هروی | ۴۰۴ |

ketabton.com - The Digital Library


| نوم | مخ |
|---|---|
| بیدم افغان | ۳۰۴ |
| بیرام خان خانخانان بدخشی | ۳۰۵ |
| بیر بل | ۳۰۸ |
| بیر نگک پشاوری | // |
| بیقیدی بدخشی | ۳۰۹ |
| بی قیدی بلخی | ۳۱۰ |
| بیکر نیکه | // |
| بیکس( دسوابی) | // |
| بیکسی سجاو ندی غز نوی | ۳۱۱ |
| بیکسی هر وی | ۳۱۲ |
| بیگک محمد | // |
| بیگک محمد لغمانی | ۳۱۳ |
| بیگی هر وی | ۳۱۴ |
| بی نشان پیښوری | // |
| بینوای بدخشی | ۳۱۵ |
| آدم | ۳۱۶ |
| آدم | // |
| آدم | // |
| آدین | ۳۱۷ |
| آزاد | // |
| آزادخان ختک | ۳۱۸ |
| آزادخان ساپی | ۳۱۹ |

ketabton.com - The Digital Library


| نوم | مخ |
|---|---|
| آزاد کوهاتی | ۳۱۹ |
| آزادگل (سیا) | ۳۲۰ |
| آصف خان جندولی | ۳۲۱ |
| آفتاب پری (پیشوری) | ۳۲۲ |
| آنخون ختیک | // |
| آیتی هروی | // |
| آبا | ۳۲۳ |
| ابابکر کندهاری | // |
| ابراهیم | ۳۲۴ |
| ابراهیم خیلیل | // |
| ابراهیم شاه کالو خانی | // |
| ابراهیم متی زی | ۳۲۵ |
| ابن یمین شنواری | // |
| ابواحمدبستی | ۳۲۵ |
| ابو بکر جاسی | ۳۲۶ |
| ابوبکرمحمد بلخی | ۳۲۶ |
| ابوبکرسیا | ۳۲۶ |
| ابو الحسن هراتی | ۳۲۷ |
| ابوعبداله محمد بلخی | // |
| ابوعلی حسن بلخی | // |
| ابوعلیشاه (سید) | // |
| ابوعلی شقیق بلخی | ۳۲۹ |

ketabton.com - The Digital Library


| نوم | مخ |
|---|---|
| ابو علی عبدالله بلخی | ۴۲۹ |
| الفتح النبی غزنوی | // |
| ابو القاسم عبداله بلخی | ۴۳۰ |
| اتکړمو لانا ـ یا ـ ارکړ مولانا | // |
| احسن | ۴۳۱ |
| احمد تراهی | ۴۳۳ |
| احمدتیراهی | ۴۳۴ |
| احمدجان ځاځی | ۴۳۵ |
| احمد(ملا) الینګاری | ۴۳۶ |
| احمدجان (سمک) | ۴۳۶ |
| احمدجی | ۴۳۷ |
| حمدخان | » |
| احمدداودزی | » |
| احمد (شیخ)لو دی | » |
| احمدغـوری | ۴۳۸ |
| احمد کندهاری | » |
| احمدګل تکړی | » |
| احمدګل سلیمانخیل | ۴۳۹ |
| احمد نور آهنګر | » |
| احمدی عبیدالله | ۴۴۰ |
| اختر محمدشینواری | ۴۴۰ |
| اختر (ملا) | ۴۴۱ |

ketabton.com - The Digital Library


| نوم | مخ |
|---|---|
| اکرام آخونزاده | ۳۶۲ |
| اکرم نیازی | ۳۶۳ |
| التفات‌خان | ۳۶۳ |
| الکونیکه | » |
| اله‌داد (شیخ) | ۳۶۴ |
| اله‌یار الیسه خیل | » |
| اله ویردی | ۳۶۵ |
| الو لالا | ۳۶۵ |
| الهداد (میا) | » |
| اله‌یارخان‌نواب | ۳۶۶ |
| الیاس( مولانا) | » |
| امام الدین (شیخ) | ۳۶۷ |
| امان ترین | ۳۶۸ |
| امان‌گړا تی | » |
| امامی هروی | ۳۶۹ |
| امیر اصلاخان جوانشیر | » |
| امیر خان ننګرهاری | ۳۷۰ |
| امیرخان هجری | ۳۷۱ |
| امیر خلیل هراتی | ۳۷۴ |
| امیر شاه کویتی | ۳۷۵ |
| امیر (ملا) | » |

ketabton.com - The Digital Library


| نوم | مخ |
|---|---|
| امیری هروی | ۳۷۶ |
| امین | ۳۷۷ |
| امین اله راجایی | » |
| اثار | » |
| انارګل لغمانی | ۳۷۸ |
| انځرګل | ۳۷۸ |
| انعام خطاط | ۳۸۰ |
| انګوخان پامیزی | / |
| انمرخول خیل | ۳۸۱ |
| انورشاه (سید) | » |
| اورکزی روښانی | ۳۸۲ |
| اول خان رڅړی | ۳۸۳ |
| اول ګل ننګرهاری | » |
| اوسی کتوازی | ۳۸۴ |
| ایاز لنډی | |
| ایوب خان | » |

kėtabton.com - The Digital Library

# ب

**۱۳۶۰ـ باباجان ( امیر):** دسلطان بدیع الزمان میرزا له امیرانو څخه و. په ۹۱۱ ه ق کال چې بدیع الزمان په کندهار کې و، محمدخان شیبانی پر میمنه او فاریاب باندې یرغل وکړ، نو دبدیع الزمان میرزا له خوا امیر باباجان دخواجه جلال الدین میرک زوی چې په هغو سیمو کې او سید دمحمد قاسم میرزا او امیر شیرم جلایر په ملګرې دمحمدخان شیبانی دیرغلګرو دمخنیوی دپاره وروو ت، جګړه ونښتله، او ز بکانو بری وموند اودبدیع الزمان دری سره امیران په جګړه کې ووژل سول، او دهغو ولایتو داو سېدو نکو ژوند ګډوډ سو، او ژیاتره فراره سول.

خواندمیر په خپل کتاب «حبیب السیر» کې داپېښه داسې لیکی:

«دراوایل سنه احدی عشر وتظعمائه که سلطان بدیع الزمان میرزا درولایت قندهار تشریف داشت درممالک بلخ وتوابع حاکمی صاحب وجود که بداراٸی سپاهی ورعیت قیام تواند نمود نبود ومحمدخان شیبانی که همواره همت عالی نهمتش برسرانجام امور کشورستانی مقصور بود متعاقب ومتواتر جنود جلادت مآثر بدینجانب جیحون میفرستاد تا لوازم قتل وغارت وتخریب شهرو ولایت ظاهر میگردانیدند ودرمیدان خالی بچوگان اقتدار گوی مراد بهواگاه مقصود می رسانیدند ودرپاٸیز سنه مذکوره جمعی کثیر از آن لشکر برق اثر تا ولایت میمنه وفاریاب تاخته بنهب وتاراج فرق عباد پرداختند واموال بسیار غنیمت گرفته رایت استیلاو تسلط برافراختند ولدامیر ابوالقاسم ارلات محمدقاسم میرزا ....

ketabton.com - The Digital Library



باتفاق امیر شیر م جلایر و امیر باباجان و لدخو اجه جلال الدین میر کی کەدر آنحدو د اقامت داشتند متو جه دفع آنجماعات گشتند و بین الجانبین غبار جنگ و شین ار تفاع یافته او زبکان راصو رت ظفر و نصرت ر و ی نمو دو آن سەسردار بعز شهادت فایزشده لشکر یان ایشان روی بصوب فر ارآو ر دند...»

مأخذو نه:

۱ــ حبیب السیر ــ ۳ خیام د کتابتو ن خپر و نه ــ م/ ۵ ۱ ۳ مخ

۲ــ دد هخدالغتنامه ــ د «ب» ر دیف ــ ۶۸ مخ.

۱۳۶۱ــ بابا جان هروی ، ملاباباجان د دریژ بی‌شاعر و ، په هر ات کی او سید، ښه‌طبع یې در لو دله، او «عشر تی» تخلص کاو ه ،دامطلع دده‌دي:

ر و زفر اق یار که باصد ند امت است

ر و زفر اق نیست که‌ر و زقیامت است

مأخذو نه :

۱ــ مجالس النفائس ــ دښاغلی علی‌اصغر حکمت په‌سمو ن ــ م ۶ ۶ ۱ مخ

۲ــ دد هخدالغتنامه ــ د «ب» ر دیف او ــ ۶۸ مخ

۱۳۶۲ ــ باباحاجی هر وی: د هر ات دنهمی هجری پیړی له‌مصو ر انو څخه و ،چی‌دسلطان حسین‌بایقرا په‌در بار کی‌یې ژ و ند کاو ه .

په‌انځو ر او تصو یر کښلو کی یې‌لوی‌لاس او پو خ قلم‌در لو د، او په‌تو ل خر اسان کی‌دنقش په‌طرح کی‌یې بې‌ساری و .

دده دژ و ند نو ر حالات په‌لاس ر انغلل.

مأخذو نه:

۱ــ د پښتو آر یانا دائر ةالمعار ف ــ م/ ۹۶ ۲ مخ.

۲ــ صو ر تگر ان و خو شنو یسان هرات‌در عصر تیمو ر یان ــ ۰ ۱ مخ

ketabton.com - The Digital Library



۳— د کابل مجله— ٦ کال— ۱۱ گڼه— ۷۲مخ .

**۱۳٦۳ــ بابا خان محمد مجذوب:** د پروان دولايت د کوهستان په سیمه زیږېدلی دی، دامیر دوست محمدخان په وختو کی عسکر و ، او دانګریزانو دتیری په مقابل کی یې په جګړه کی ګډون درلود، او څنګه چی یې له ظلمیتو په دصوفی ګری خواته میل درلود، نو هغه لاره یې ونیوه تر څو چی دعمر په پای کی مجذوب ییت ته ورسید،اوعو امو خلکوور ته زیاته عقیده درلودله په ۱۳۳۵ ه ش کال د ګلبهار په کلی کی مړاو په هغه کو ته کی ښخ کړه سو،چی ده ژوند په کی کاوه .

ماخذ :

پښتو آریانا دایرة المعارف — ۳/۹٦۲مخ.

**۱۳٦٤ ــ بابادل (ختیك) :** دپښتو دنومیالی او خوږ ژبی شاعر عبدالقادر خان ختیك دخو شحال خان ختیك دزوی لقب دی،چی د(۱۰٦۳ ه ق ) کال دذی الحجی دمیاشتی په پنځه ویشتمه زیږېدلی دی او دده پلار خوشحال خان ختیك د«بابادل» په لقب داسی یادوی:

نه زوی د«بابا دل» دی

تل دی ژوندی په جهان(۱)

(دعبدالقادر خان ختیك دژوندنو ر تفصیل دی ددې کتاب د«ع» په ردیف کی د«عبدالقادر ختیك» ترعنوان لاندی ولوستل سی)

ماخذ :

دخوشحال ختیك کلیات— د کندهار چاپ — ۹۵۱ مخ.

**۱٦۳۵ــ بابا سنکو اندخویی:** په اندخوی کی یو مجذوب درویش او ملنګ و ،چی ځینی کراماتو نه ور ته منسوب دی— مثلاً په ۷۸۲ ه ق کال کی چی

ketabton.com - The Digital Library



امیر تیمور گورگان دخراسان دنیولو په نیت تر آسو راپور یو وت نو په اند خوی کی یی د«باباسنکو» سره ولیدل، بابا سنکو دجذبی په حال کی د سینی یوه تو ته غوښه دامیر تیمور گورگان خواته ور غورځوله، امیر تیمور کار پر ښه فال ونیو، او ویل :

«خدای تعالی دځکی سینه چې خراسان دی ماته راوبا خښه» او هغسی هم سوه .

باباسنکو داو وسوه او خو اتیاهجری قمری کال په شاو خوا کی په اندخوی کی سړ، او هملته ښخ دی.

مأخذونه:

۱— حبیب السیر — دتهران دخیام چاپ— ۳/۳۴۵ مخ .

۲— رجال حبیب السیر — ۶۳ مخ .

۳— دده خدا لغتنامه د«ب» ردیف— ۷۰ مخ .

۴— از سعدی تاجامی— ۲۰۸ مخ.

**۱۳۶۶— بابا سید گل دپکلی:** دپښتوژبی اولسی شاعروه، اود(۱۲۰۰ هق) کال په شاو خوا کی دپیښور دسیمی د«پکلی» په «بپه» ځای کی او سیده، عمر یې تر سلو کالو تیر سوی و .

دده او لسي بدلی تر اوسه دخلکو په خولو کی جاری دی او په خپلو نظمو کی یې دامیر دوست محمدخان نوم د«گیدړ پور» دیوه مشهور خان «جمعدار» دنامه سره راوړی لکه چې وایی :

په گیدړ پور کی جمعدار چې تازه تل اوسی
لکه امیر دوست محمد خان چې په کابل اوسی
بل هر عاشق اوسعشوقی ته په بو رجل اوسی

ketabton.com - The Digital Library



بس کهچی‌نن‌تری سیدگل سوی ځگر لا ړ شو

ددی پو ر تنی بدلی دسر بیت (کسر) دادی:

پهژ ړاسرې سترګې و لاړ یمه دلبرلاړ شو
لکه آفتاب په شغله پر دساز یګر لاړ شو

او بل بندی دا دی:

لکه آفتا ب په شغله پر د یار صور ت و ینم
ساه‌سې لو ګی پهسر ت لمبه په‌ځان قیامت‌وینم
دچاله خو ږه سی‌پهزړه د غم خنجر لا ړ شو

مأ خذ:

پښتانه شعر اـ ۲/۳۵۷ مخ .

۱۶۳۷ـ بابا شوریده هروی: ددریژ بی شاعر او په‌قصیده و یلو کی یی‌شهرت درلود، داسیر علیشیر نو ایی په‌و ختو کی په‌هرات کی او سید. ښه طبع یې درلو دله او تل دخوش طبعانو سره ملګری و . دبو ډاتو ب په‌باب کی یی و یلی دی:

قدم شد چو ن کمان و عمر شد شست
جو انی همچو تیر از شست من‌جست

مأخذ:

مجالس‌النفائس ـ۸٦، ۲٦۰ مخو نه .

۱۳٦۸ـ بابا عبدل دهکی غزنوی: د خپل و خت نومیالي رو حا نی عالم و، دغز نی ددهك د کلی شمال خوا ته ښخ دی او مز ار یې د هغه ځای په‌خلکو کی‌شهرت‌لری ـ دژ و ندنو رحالات یې په‌لاس را نغله .

ketabton.com - The Digital Library



مأخذ:

دآریانا پښتو دائرة المعارف –٥/٩٦٦ مخ .

**۱۳۶۹– بابا علیشاه هروی :** دنهمی هجری پیړی لهنو میالیومشایخو څخه و ،دشاهرخ میرزاله و ختو دسلطان حسین میرزا تر و ختوپه هرات کی اوسېد او خوارق عادات ځینی نقل سوی دی او عجیب او غریب کا رونه یې ده ته منسوب کړی دی—او دشیخی سرهیی په دری ژبه ښه شعر هم وایه .

مأخذ :

تاریخ نظم و نثر در ایران— ۳۲۸/۱مخ دسعیدنفسیی تألیف .

**۱۳۷۰– بابا علی هروی :** د امیرعلیشیر نوا یـی له لېمکری نو میالیو سالارانو څخه و ، چی په هرات باندی په دپردیو دتېری په وخت کی د تېری کوونکو د مخنیوی د پاره دلېمکر سره و راستول کېده .

مأخذونه:

۱— حبیب السیر— ۲۱۷/۴ ،۲۲۱ ،۲۴۸ مخونه .

۲— ددهخدالغتنامه- ۷۶مخ د « ب » ردیف .

**۱۳۷۱– باباولی کندهاری :** سیدحسن ابدال مشهورپه«باباولی» د کندهار لهنو میالیو روحانیونو ،و لیانو او ستر سیدانو څخه تېر سوی ،چی د کندهار د ښارشمال لو یدیځی خواته شپږ کیلو متره لیری دارغنداو پر غاړه پر یوهغرکی باندی ښخ دی، په کندهار کی په ښه روحانیت او کراماتوشهرت لری او ډېر خلك يې زیارت تهورځی او ارادت و رته څرګندوی .

لو مړی دخراسان پهسبز و ار کی او سېد،خو دګو رګانی شاهرخ میرزااو او ملکې ګو هرشادبیګم پهبلنه لهسبز و ارهورات تهراغی، او بیا هغه وخت چی شاهرخ د کندهار لهلاری هندته تلی، دی یې هم دځانه سره رارهی کی

ketabton.com - The Digital Library



خوچې کندهارته راورسېدل- دلته نودوه روایته دي: یو روایت داسې دی چې: دشاهرخ میرزا پرباباولي صاحب نوردسفر ربړونه، نه لوړ بدونو ځکه یې له هغه ځخه هیله وکړه چې په کندهار کې پاتې‌سي،او دی‌هم دارغنداو د«لنګر» په کلي میشته،او هغه وخت چې‌شاهرخ میرزا بیرته له هندوه راو ګرځېد، دی‌وفات سوی ودارو ایت د مرحوم سیدمحسن آغا کندهاري دی چې‌په‌خپل منظوم کتاب «د کندهار دسیدانو مزاوات» کې راوړی‌او داسې‌وایي:

د بابا صاحب بیان کړم
کرامات‌به‌یې عیان کړم

توفیق غواړم له‌سبحانه
دیز دان دپاک فیضانه

خلاصه داو لیأ دی
نقاوه دا صفیا دی

دښکی دباغ بلبل دی
درسول‌دګلزار ګل دی

دلاهوت داوج همای دی
دناسوت منزل یې ځای دی

لنګر داره لکه غر دی
پرآسمان دعزت نمردی

په‌عمده وکی عمده دی
دو لیانو سرکرده دی

تمام تن‌یې په‌اذکار کې
داذکارو په انوار کې

ketabton.com - The Digital Library



نو ر اني و ، سر تر سر ه
صفا يي يې و ه اظهر ه

سلسله يې ر حما نی و ه
طر يقه يې حقا نی و ه

د ده نو م سيد حسن و
په «سو ز و ا ر » کې يې و طن و

دحضر ت ر سو ل او لادو
د حضر ت علی احفاد و

دحضر ت حسين فر زند و
ذا بد ا لو ار جمند و

دده کسب ز ما و رو ر ه
دبر اهيم ادهم له کو ر ه

پادشاهان عظيم الشانه
خادمان ددہ و و ، جانه

دشاهرخ پادشاه مخدو م و
د افتا ب په دو د معلو م و

چی تاريخ دنه صد يا ره
دهجرت تېر شوه هنبياره

شاهرخ شاه و يل ز ما پيره
ز ما نيت د ی تر گشمير ه

تا له ځا نه سره بيايم
ستا په ديد سره ز ه پايم

ketabton.com - The Digital Library



شیخ و یل‌چی‌ای امیره
ربدی‌تانکړی دلگیره

په‌ځای چی دی گذردی
زماهغه خواته سفردی

قند هارته رارهی شو
کل‌عالم په‌ده‌راضی شو

په‌جوفان کی راتی‌دله
په مزلو مزلو پخپله

شاهرخ‌شاه په‌ده‌شادان‌و
په زرویی خادمان و

له‌هراته‌رارو انشه
قندهارپه‌ده تابان شه

بادشاه و و یل‌نو ربس‌دی
زما دغه قدرهوس دی

هندوستان لیری وطن‌دی
دغی خواته زما رفتن دی

ته‌یې شیخ دغه دی ځای دی
زیاتی‌سه ځه‌روی دخدای دی

د سړوقول‌د ریاب دی
دریاب ځه‌لاردرناب دی

زهیر بده دی همبری بس ده
تمنا سی یو په لس ده

ketabton.com - The Digital Library



ښې دعاوی به کوې ته
فیوضات به را لېږي ته

ستا پر قول زما باور دی
مقصد دا قدر سفر دی

له اردو څخه جدا شه
په «لنگر» کې یې ماوا شه

ارغنداب یې کړ روښانه
لکه نمر هسې تابانه

عام و خاص ترې فیض مو ندلی
و مقصود ته رسېدلی

ای زما د زړگی نوره
رب دی تاکاندی مسروره

څو شاهرخ له هندوستانه
شورا ستون تر خراسانه

دده روح و پرواز کړی
وجنان ته رسېدلی

گوره خود به سری انسان و
چې عاجزه هم ناتوان و

قدسیان ټول له مسروره
احبا ټول له بې نوره

نور یې ښخ کړ پر غره باندی
کاعالم شو تر ده لاندی

پادشاه هان ټول زماورو ره
تل راځی دده ترگوره

ketabton.com - The Digital Library



اقتباس يې دانوار کړی
مقاصدو ته انبار کړی

ټول رواشي دم تردمه
يقين ټينګ کړه اې همدمه

کرامات يې ترحد تېر دی
خو يې نمايم لاسی هېر دی

فيوضات يې نمايان دی
تاثيرات يې صدچندان دی

ښه مسجد عمارنو نه
رنګارنګ ښايسته ګلو نه

فو ارې ،حوض و اشجار دی
چهارجوی او قاف بسيار دی

دغه ټول له شاهرخی دی
شاهرخی و فرخی دی

په سيرو کی بيان دی
ښه واضح او ښه عيان دی (۱)

بل روايت دادی چی باباولی صاحب دشاهرخ ميرزاسره هند ته ولاړ، او چی بېرته له هنده راستون سو، نو کندهار يی داوسېد و دپاره خوښ کی او دلته پاته سو، دا روايت د محمد معصوم ناسی دی چی خپل ځان دحسن ابدال اولادې ته منسو بوی او په خپل کتاب «تاريخ سند» کی ليکی :

«ايشان از سادات صحيح النسب سبزوارند ، و در مبداحال که ايشان را ذوق دست داده سفر حجاز اختيار نمو دند و بزيارت حرمين شريفين و ارض مقدس

---

(۱) د کندهار دسيدانو مزارات ـ قلمی . ۲ مخ د پښتوخېړنو دبين المللی مرکز په کتابتون کی خونددی . خو مأخذ يې نه دی ښوولی .

ketabton.com - The Digital Library



مشرف شده‌چندسال در آن نواحی گذرانیدند، و در زمان سلطنت میرزا شاهرخ ولدارشد حضرت صاحب قرانی از دیار روم و حجاز مراجعت نموده‌به‌سبزو ار تشریف آوردند و شاه رخ میرزا نسبت ارادت و حسن عقیدت که به‌بابا حسن ابدال داشته درسفر هندبابار انکلیف نموده باخودبردند و در حین مراجعت در موضع‌لنگر قندهار رحل اقامت انداخته با مریدان و معتقدان خود اظهار نمودکه ازین زمین بوی محبتی بمشام من میرسد. تا آخر عمر در آن منزل گذرانیده‌همانجا آسوده اند. خوارق ایشان بسیار است ...

و در پیش استانهٔ ایشان گنبدی است رفیع مخروطی شکل که ازسنگهای ناتراشیکه هریک بوزن پنج من قندهار بوده باشد، بی گچ وآهک و گل ساخته اند. میگویند که‌چله خانه‌باباحسن بوده است (۱)

د محمد معصوم ناسی دار وایت و «گلزار قندهار »دکتاب مؤلف شیخ محمدحسن مولوی قندهاری هم تائیدوی او دباباولی د مزار په باب څه‌نور مطالب هم زیاتوی،او هم‌دباباولی‌له‌خولې‌څوخبری‌لری‌چی‌دلته‌یې کټ مټ‌راخلو-دی‌لیکی:

«سر حلقهٔ سالکان طریق حق جوئی و پای بند شریعت غرای محمد(صلعم) باباولی رضوان الله‌علیه‌اسم مبارکش سیدحسن ابدال‌از سبزوار خراسان است که باستدعای‌شاهرخ میرزای‌گورگانی ملکهٔ مکرمه گوهرشاد بیگم بانی مسجد جامع معروف‌مشهد مقدس‌ازسبزوار بهرات‌تشریف‌آورده‌و ازانجابقندهار عرورود دارزانی‌سفری‌درهند تشریف‌برده‌اند بهرجائیکه‌چندفرصتی‌بیتوته‌نموده‌اندو مشغول عبادت شده اند همان موضع شرف‌ونور انیتی بهم رسانیده و بعدازهندتشریف‌بردنش زیارت گاه عمومی شده باسم«باباولی» .

زمانیکه ازهندقندهارآمده اندقریهٔ‌لنگراز جملهٔ‌قرای‌جلگه رود ارغنداب ر برای‌عبادت وریاضت حقهٔ‌خود انتخاب نموده و میدانستند که مزارمبارکش باید درقندهارمحل فیض‌رسانی‌اهل آن ولاباشد، کرامات متواترازان جناب ظهورو بروزنموده تل‌بلندخاکی مشهور به تپهٔ‌اسیر انقب کنده سردابی برای آرام گاه

---

(۱)تاریخ سند۱۳۳۱- سخ

ketabton.com - The Digital Library



بدن سبارک خوددرست نموده، و وصیت نموده که: «در وقتی که از دنیا رفتم بعداز غسل و کفن قبای سبزم را بربدنم بپوشانید و سرار وی سریری که دایما خواب میشدم بخوابانید و عصای سبز که سرعصا نقره کارشده پهلویم بگذارید و برای سرداب دری کوچکی قراربدهید بدنم خاک نمیشود غسل جمعه شرعی اترک نکرده‌ام، حافظ قرآن شریفم و در قضاوت عدالت محض نموده‌ام، لحاظ احدی را نکرده‌ام و این هرسه صفت سبب سلامتی بدن بی روح میشود» همان طور به وصیت عمل نموده‌اند و مدت یکصدسال جمیع مردم از زیارت بدن مبارکش استفاضه نموده‌اند وبعدبواسطهٔ رفتار غیرمشروعی که در سرداب مذکور واقع شده در بسته و در نتیجه باتل یکی شده صورت قبرمبارک و لوح بزرگ تاریخی که حالا بالای سطح تپهٔ امیر زیارتگاه عمومی است محاذی سریربدن آن جناب بام سرداب شمرده میشود، و آن جناب حسینی نسب و به پشت یازدهم به حضرت سید الساجدین امام علی بن الحسین منتهی میشود» (۱)

په «گلزار قندهار» کی داهم لیکلی سوی دی چی د حضرت باباولی در یاضت او عبادت دری ځایه مشهورو، یو په خپله دباباولی په کلی کی هغه زیرزمینی چی اوس دد ی ټبر هم هلته دی، اوبل د «لنگر» په کلی کی، اودریم چی د ېرخاص ځای و، اوحتی دده سریدان او خپل منسوبین یی لا هم نه‌سو، ورتلای اوهغه دجبه دارپه کلی کی دده یوخالصه باغ و (۲)

اوهم زیاتوی چی: جناب باباولی سیدحسن حسینی از علمای متبحر و خاصه درعلم اخلاق یگانهٔ عصرخود بوده ...

و از بس در هدایت و ارشاد خلق نظربلند و جدو جهدی زیاد داشت در هندو قندهار نفوس زیادی از بودائی هاو برهمن های هنود وآتش پرست هارا مسلمان نمود، و نفوذ کلمه او خیلی ممتاز بود

---

(۱) گلزار قندهار-طبع مطبعه-النعمان النجف الاشرف -۹ مخ

(۲) گلزار قندهار -۱۹ مخ

ketabton.com - The Digital Library



علمای رسمی طوایف مذکور را باستدلال ومناظره ومرتاضین شان را که از راه ریاضت نفس کمالی درعلوم غریبه و نیرنجات وتسخیرات وسایر علوم غریبه بدست آورده بودند ازهمان طریق راه را ـ برایشان سد نموده وکمالات دام غرور آنهارا خنثی نموده غالب آنهارابشرف دین اسلام مشرف می نمودند. (۱) بابا ولی صاحب په (۹۲۰ ه‍ ق) کال کی مړدی اودده پر قبر یوه لوحه ولاړه ده چې پر دواړو خواوی یې دده په باب لیکنی سته ، پرلو مړی مخ یی دباندی خوا ته لیکلی سوی دی :

«هو الحی القایم القیوم سبحان الملک الحی الذی لا یموت له الحکم وله الحمد وله الکبریا والجبروت .بر لوح ضمیر زائران روضه ادراک وخاطر خطیرعاکفان خطهٔ خاک ظاهر و پیدا و روشن وهویداخواهدبود که خلاصی ازمضایق ایام ورستگاری ازمزلت اقدام بزیارت ارباب قبور واستعانت ازاصحاب حضور منوط ومربوط است چنانچه کلام خجسته فرجام حضرت رسالت پناه علیه من الصلوات افضلها و من التحیات اکملها خبرا زاین معنی میدهد ( اذا تحیرتم فی الامور فاستیعنوا من اهل القبور ) کاشف این حکایت وشاهد این روایت است اسعاف حاجات وانجاع مهمات زائرین این مشهد مقدس ومتعکفان مرقد منور است اعنی مرقد سلطان الطریقة و برهان الحقیقته قطب فلک الهدایت مرکز دایره ولایت مهبط انوار الهی ، مظهر اسرار

---

(۱) گلزار قندهار ـــ ۳۶ مخ

ketabton.com - The Digital Library



نا متنا هی ، قدوة السو اصلین، ز بد الکا ة شفبن، سر حلقهٔ اربا ب و جد وحا ل ،با با حسن ا بد ال نو ر الله سر قد ه عطر مشهد ه که درعا لم طر یقت کسو ت و خرقه ا ز حضرت سلطا ن الا ولیا ،و برهان الاتقیا ...فی العالم سلطا ن ابر ا هیم اد هم داشته اند ه و به نیل سعا دات و رفع د رجا ت فا یز وفا یق.. .و مجذوب سالک بوده اند وخو ارق عا دات از خد مت ایشان بطهو ر می انجا میده چنانچه د ر افو ا ه و السنه جا ری است و ا رباب ملک و ملت و اصحا ب د ین و دولت روی نیا ز و ابتهال بد ین درگاه که کعبه آمال و اهالی ا ین دیار است آ و رد ، مقصو د می یا بند .

چو ن کعبهٔ قبلهٔ حا جات خلق گر دید ، نهند روی بد رگا هت ا ز دیار بعید وحضر ت خاقا ن مر حو م مغفو ر شاه رخ میرزا از رو ی اخلاص وار ادت درین مقام ملا قات کر ده آ نچه ٔا زخد مت باباشنیده بو دند بر ری العین مشا هد ه آ مد و این مو ضع که مو سو م ا ست بقر یه « لنگر » بر سم ذ کا ت و قف حضر ت با با فرمو د ه ا زما لیه و کل تکا لیف معا ف و مسلم د ا شته ا ند و د رز ما ن حضرت سلطا ن ومشا رالیه بفحو ای مصدوقه (المو منو ن لایمو تو ن بل ینتقلو ن ا لی) از دار فنا به دار بقا رحلت فر مو دند وچو ن زمان سلطنت منتقل بحضر ت سلطان مر حو م مغفو ر ابو ا لغا زی سلطان حسین بها د ر گشت اهل بغی وعناد در بلا دسر بفتنه بر آو رده وگر د ن کشی آ غاز کر ده بو دند ،و رعا یا متضر ر و متفر ق گشته ا ز ا و طا ن خو د جدا می شدند هر چند که فر زندان کا مگا ر و مر د ا ن نامدار می فرستادند این دیار قر اری پیدانمی کرد ، برین تقدیرحضرت امیر کبیر عالم گیرالمئویدمن السما المظفر علی الاعد ا افتخار الاعا ظم ا لامیر الـمر حو م ا لمغفـو ر

ketabton.com - The Digital Library



امیر شجاع الدولته والدین ذوالنون بهادر برد الله مضجعه رادرین ولااز ولایت ماوراالنهر.... شان اتفاق افتاد ودر اهل شر وفسا ددفع و... عالی‌بنام مبارک حضرت مشا رالیه شرف صدور یافت آنحضرت با برادران نامدار وفرزندان کامگار وچندی از خاصان واردین حدود گشتندبعون عنایت الهی ویاری دولت نامتناهی، بضرب تیغ آبدار این دیار را ازشر مفسدان باغی‌پاک وصافی گردانید دران.. . از کنارآب سند تاخط کابل و ازبلخ تاناحیت دارا لسلطنه هرات وازسر حد سیستان تاداس.. .درقبضئه تصرف پادشاهانه درآورده لوای عدالت وشفقت دراین اقلیم ...سلطان غازی سلطان محمودسبکتگین نورالله مرقده ازصفحه خاطر جهانیان واهل زمان محو هستی گردیده »(١)

دډیر ینې لوحې پر دوهم مخ دا لیکنه سته :

«وبحمد الله تعالی که این دولت ابد پیوند ولدارجمند عالیحضرت مشارالیه وهو حضرت امیر روشن رای ما فی ضمیر عالیجاه‌سمالک پناه عدالت دستگاه النیر الفلک الارتقا مبارزالدولته والدین شاه شجاع خلد الله دولته الی یوم الدین اهل این دیار وبلاد.:: بفراغ دل وحضور روزگار میگذرانند واوقات برسرمی برند ظل خلیل مرحمت وعاطفت این حضرت الی یوم التناد برسرسکان... عباد آفاق گیر باد وهذا.... فاصلاح

---

(١) د کندهار رمشاهیر - ١١٦ مخ ــ هغه ځای نه چې تکې اینبوول سوی دي اصلي توري یې نه ویل کیږي

ketabton.com - The Digital Library



الاصناف مشار الیه ... کافه رعایاو بر ایا ابنیه عالیه معر وف و معطوف است ارکان و اعیان حضرت ... مساعی جمیله بظهو رسی رسانندد راین ایام خجسته فر جام تو فیق رفیق حال فر خنده حال حضرت کو کلتاش مشار الیه و هو جناب رفعت ما آب امارت پناه شجاعت دستگاه امیر عاقل کامل عادل باذل امیر ناصر الدین فاضل ایدد و لته بر لوح عرش فر سای ... عالی ... تو فیق یافت والحمدالله علی التو فیق (۱)

لکاتبه :

میر فاضل یادگاری ماند در عالم ز خیر باد با قی دو لت او تاجهان فانی است

چونکه درماه ربیع الثانی شدا تمام او سال تاریخش همین ماهی ربیع الثانی است

و تا ریخ سند نو میا لی مو لف محمد معصو م ما سی خپل ځا ن د همدي بابا ولی صا حب اولا دی ته منسو بوی او د خپل کتاب په مقدمه کی لیکی : « اما بعد راقم این صحیفه محمد معصو م المتخلص به نامی» بن سید ...صفائی الحسینی الترمزی اصلا و البکری مسکناو مدفناو المنتسب الی سید شیر قلندر بن حسن ابدال السبز واری مو لد او االقندهاری مو طنا و مر قداً »

ما خذ و نه :

۱- تا ریخ سند ۳۳ مخ

۲- د کندها ر دسید انو مزا رت -قلمی - ۰ ۲مخ

۳- گلز ار قندهار دبغداد چاپ ۹۶ ،مخو نه

۴- د کندهار مشاهیر -دمباغلی ز لمی لیکنه -۱۳ مخ تر ۱۸ مخ پو ر ی

---

(۱) د کندهار مشاهیر -۱۸ مخ -تیش ځایو نه چی تکی ایښوو ل بسو ی اصلی تو ری نه لو ستل کیږ ی

ketabton.com - The Digital Library



۵- آریانا مجله -۷۰ گنه -۰۲ مخ د ۱۳۲۷ کال دلړم دمیاشتی -

**۱۳۷۲- بابای برق :** داسیر عبدالرحمن خان دوخت دسر کاری شاطرانو مشرواوښنګه چې دیر ګړندی و ، نو ځکه یې « بابای برق » باله وایي چې یو وخت د آس په سپرلی په دروشپو کې له هراته کابل ته ورسید په دې توګه چې له هراته تر کابله په هرپړاو کې یو یو اید ک آس و ر ته ولاړ و ، چې ده په هر پړاو کې آس الیشاو ه .

داسیر حبیب الله خان په و خت کې هم د ډېر و ا ک او اختیار خاوندو ، حتی وایی چې دغړ غړه کولو صلاحیت یې هم درلو د ، او د کابل په ښار کې زاړه ګمرک ته نژدې یو ه غړ غړه خاص دده په ناسه ولاړه و ه ، او داسیر حبیب الله خان په و خت کې هم د سرکاری شاطرانو مشر و .

**ماخذ :**

دانیس ورځپانه -۳۴۳ ا کال د کب ۸ ۲ نیټه -

دښاغلی محمد صادق دستګیر لیدلی حال .

**۱۳۷۳- بابا سرپلی :** میر بابر ددری ژ بې شاعر او د سر پل له سا داتو څخه و ، او د ا بیتونه دده دی :

بشام غمت د و د آهی که دار م
از آنست ر و زسیاهی که دار م

بد عو ی عشقت چنا ن سر بلند م
که بر عر ش شاید کلاهی که دار م

ز بید اد خو بان بد اد د لم ر س
تو ئی در جهان پادشاهی که دارم

طر یق و فا پیشه کر د م چو «بابر»
همین استسوی تو ر ا هی که دار م

ketabton.com - The Digital Library



دی د میر چوچکۍ علمی و رو رو

مأخذ و نه:

۱ـ مجمع الفضلا ـ خطی ـ ۳۴۳مخ

۲ـ تاریخ افغانستان

در عصر گورگانی هند ـ ۲۲۷

## ۱۳۷٤ـ بابر (ظهیرالدین محمد) (۱):

ظهیرالدین محمد بابر دعمرشیخ زوی، دسلطان ابوسعید میرزا نمسی، د محمد میرزا کړوسی ، دمیر انشاه کوسی او دامیر تیمور کودی دکابلستان او هندوستان او خراسان له ډیرو نومیالیو پاچیانو څخه تیر سوی دی چی د (۸۸۸ هـ ق ـ ۱۴۸۳) کال د محرم د میاشتی په شپږمه او د فروری په ۱۴ د ماوراالنهر په فرغانه کی زیږ یدلی او د (۹۳۷ هـ ق ) کال درد یمی خور ( جمادی الاولی ) په پنځمه د دوشنبی په ورځ په هند کی دجمناد سیندپر غاړه په « باغ زرافشان » کی مړ او هملته ښخ کړه سو ـ خو په (۹۳۷ هـ ق .

۱۵۴۰ م کال دبابر ددوصیت سره سم دبابر یو سفری ماند ینی بی بی مبارکی دده مړی له هغه ځای څخه کابل ته راووړ او دکابل د شیر دروازه د غره لویدیځی لمنی په هغه باغ کی یی ښخ کی چی تراوسه دده په نامه د«بابر باغ یا دیړی » او هغه وخت یی په قدمگاه شهرت درلود .

---

(۱) دظهیر الدین محمد بابر دژوند دی پښتو ژ یا تره بر خه د پوهاند عبدالحی حبیبی له هغه کتابه په پښتو را اړولی سوی ده چی په (۱۳۵۱ هـ ش ) کال دنو سوړی پوهاندلهخو ادظهرالدین محمد بابر شاپه نامه په دری ژبه لیکل سوی وی

ketabton.com - The Digital Library



دبابرسور«قتلق نگارخانم »نو میدله اود مغولستان سوردواکمن یونس خان لور وه،اوبابرد مور له خوا په پنځلسواو سطو چنگیز خا ن ته رسیده .

د بابر د نیکه سلطان ابو سعید میرزا د پاچهی ارتو رالیی له آذر با یجا ن څخه د هندوستان ترسرحد و او بیا له مکرا ن څخه د تاتار تر ریگستان رسیدلی وه ( ۸۷۳ ه ق = ۱۴۶۸ م ) کال چی دبابر نیکه ابوسعید میرزا مړسود ده دپاچهی هیواد ده دز امنوتر منځ و ویشه سوسشرزوی یی سلطان احمد میرزا دسمرقند او بخارا او کمن سواود استرآبا دسیمه سلطان محمود میزاو اخیستله او کابل او غزنی دالغ بیگ برخه سواود کندهاراوگرمسیردوا کدنی وال- گی سلطان مرادمیرزا په لاس کی واخیستلی اود فرغانه حکومت دبابر پلارته چی دسلطان ابوسعید میرزاڅلورم زوی وپاته سواوبابرپه همدغه فرغانه کی وز یږیداود حول پلار ترسیوری لاندی دیوه شهزاده په توگه وروزل سواود پلارپرروزلوسربیره دده په روزنه کی دده دپلاردر بارنوسیالیو پوهانو هم لوی لاس د رلودچی له هغی جملی څخه یخپله بابر دشیخ « مزیدبیگ »اوباباقلی بیگ اوخدای بیردی بیگ نوسونه اخلی او دهغوعالمانو له مڼخه چی بابرورته عقیده در لو دله او ځان یی دهغه شاگرد باله یوهم خواجه قاضی مولاناعبدالله دسلطا ن احمدقاضی زوی و چی بابریی داسی ستایی« اوستاد وپیرمن خواجه مولانای قاضی باشد ... نسب او ازطر ف پدربشیخ برهان الدین قلیچ فتهی سی شودواز جانب مادر بسطان ایلک ماضی میرشد در ولایت فرغانه این طبقه مقتداو شیخ الاسلام وقاضی شده اندمرید خواجه عبیدالله بود از یشان تربیت یافته بود درولی بودن خواجه قاضی مراهیچ شکی نیست عجب کسی بود ترسیدن درواصلا نبود... این صفت هم دلیل ولایت است(۱) دبابر پلار عمر شیخ میرزاچی ۸۹۹ ه ق =۱۴۹۴ ) کال دروژی خلرسه اودجون نهمه ددوشنبی ورح دآخشی په کا لا کی

---

(۱) بابرنامه ۵۰۳مخ دظهیرالدین محمدبابرشاه دپوهاندحبیبی دتالیف برحواله

په داسي حال کې چې کوتری یې الوزولې د یوې ودانۍ له پاسه خندق ته ولوید او مړسو
نو د فرغانې د دربار امیرانو زلمی د وولس کلن شهزاده بابر د هغه ځای
د پلار پر تخت کښیناوه. په دغه وخت کې د ده آکا سلطان
احمد میرزا د سمرقند حکمران او ماما یې سلطان محمود میرزا د قندوز او بدخشان کې
حکومت کاوه چې دا دواړه د بابر معاندان وو خو ده یې په مقابل کې ټینګ مقاومت وکاوه
او د خپل پلار د دربار د ځینو امیرانو او مخورو په سلا ترې یې د (۹۰۳ ه ق) کال (۱۴۹۷ م) کال
چه لوړی خورنو سبرله خپل کاکا سلطان احمد میرزا څخه سمرقند ونیو مګر څنګه چې د ده
ورور جهانګیر میرزا «داندمان» نیولو ته وپاراوه نو بابر سلو ورځو
حکومت وروسته د رجب میاشت سمرقند پریښووه او د اندجان خواته وخوځید. خو هغه
ښار هم د بابر تر وررسیدو د مخه سقوط وکې او د ده طرفداران لکه مولانا قاضی او نور
ورل سو بابر چې د خپل پلار پایتخت او سمرقند او اندجان بایلل نو تر ډیری مودی پوری
لالهانده ګرځیده خو چې تاشکند ته ولاړ او واته سوه تنه یې پر ځان راټول کړه پر فرغانه
یې یرغل وکې او بیا اندجان ځانته وغوښتله او د (۹۰۵ ه ق) کال د ذیقعدې په
میاشت یې د خپل ورور په سلګری د سمرقند د نیولو تکل وکې او په (۹۰۶ ه ق. ۱۵۰۰ م)
کال یې هغه ښار له شیباني خان څخه ونیوه دی په خپله وایي «من جوان نزده ساله ور ـ
یب من شیباني خان مرد پر تجربه و پیر کار دیده یی بود با وجود این هم بیاری د وست و
چهل تن شبانه بر سمرقند تاختیم و از راه پل مغاك بر حصار بر آمده و شهر را گرفتیم و شیباني
خان با هفت و هشت هزار سواری که داشت هزیمت یافت و بسوی بخارا پس نشست»

بیا هم شیباني خان پر آرامه کښېنوست د بابر د هغه د ماما سره چې د تاشکند
حکمران و ډیر جنګونه وکړه خو چې د (۹۰۸ ه ق = ۱۵۰۳ م) کال ذوالحجې او جون
په میاشت یې تاشکند د بابر او د بابر له ماما سلطان محمود څخه ونیو. (۹۰۹ ه ـ
ق = ۱۵۰۴ م) کال بابر بیا لالهانده ګرځېده، او د ځان د پاره د یوه ټاټو

ketabton.com - The Digital Library



بې پلټون کړو، خو چې د(۹۱۰ هق = ۱۵۰۴م) کال په محرم او جون او جون کې له فرغانې څخه د خراسان په نیت د حصار و لایت ته راغی او په دې وخت کې دده سره تر درو سوو تنو زیات کسان و ر سره نه وو، چې هغه هم زیاتره پلي وو، چاروغې یې په پښو او لکړې یې په لاس کې وې، او یو ازې دوې خیمې یې درلو دلې، په داسې حال کې تر مذتې نژدې د آمو د سیند د «یو تاج» له گودره دافغانستان خاوري ته راپوري یووت، او د «کهمرد» او «بامیان» سیمو ته راغی چې دلته د باقي زوی احمدقاسم د خسرو شاه خوریی واکمن و.

بابر چې یو داعیه غوښتونکی او فعال سړی و، په کندز او ایبک او دوشی او آجر کې یې دخسرو شاه لښکر یا ن او نو ر خلک ځانته جلب کړی او د(۹۱۰ هق ) کال په لوسړي خو ر داندراب تر اوبو پو ریووت او په دوشی کې کښته سو، او دخسرو شاه ټول خلک او لښکر بابر ته ا پل سول او خسرو شاه د دهانهٔ غوري له لارې خراسان ته و لاړ، او د ده ټول پیسې او وسلې د بابر په لاس و رغلې او بیانو تر هندو کش را او اوښت او د دو همې خو رد سیاشتې په پای کې یې د کابل ښارونیوه.

خراسان او عراق او چین او روم او هند تر منځ لوی تجارتي مرکز و، او لکه پخپله چې بابر لیکي د کابل مالیات د لغمان سره هغه وخت اته سوه زر شاهرخۍ وې.

په(۹۱۱ هق =۱۵۰۶م) کال یې دغزنی او گرد یز او کوهاټ او بنو او تهل او دگومل د دریې نیولو ته ملاو تړله او خپل ورور جهانگیر میرزا یې دغزني حکومت ته وگماره.

د کابل او نورو پو رتینو سیمو تر نیولو وروسته د(۹۱۲ هق) کال د محرمې

په سیاست د شیباني خان له حملو څخه د هرات د ژغورلو په نیت د غوربند او شیبر او بامیان له لارې هغې خواته وخوځیداو ځان یې په بادغیس کې د هرات تیموري شهزاګانو ته چې د شیباني خان د حملو د مخنیوي د پاره د سرغاب د سیند پر غاړه د سره راغونډ سوي وو، ورساوه، او د خلرمې خور په شپږمه د دوشنبې په ورځ د «ګل باغان» په سیمه کې ورسره یو ځای سو، چې بیا د بدیع الزمان په بلنه هرات ته ولاړ ..

خو په کابل کې دده تر تګ وروسته محمد حسین میرزا دوغلت او د ننګرهار حاکم سلطان سنجر پر لاس یو څه مغولان چې په کابل کې پاته وو، د ځانو سره ملګري کړه او د بابر دا کازوي خان میرزايي د کابل په پاچهي وټاکه او د بابر طرفداران لکه ملابابای ساغرچي او خلیفه محب علي قورچي او احمد یوسف او احمدقاسم یې د کابل په کوټ کې کلاپند کړل. بابر چې د دې پیښې خبر په هرات واورېدنو د (۹۱۲ هـ ق) کال دبرات د میاشتې په او ومه د بادغیس او غرجستان او چخچران او یکه‌او لانګ او بامیان او غوربند له لارې بیرته د کابل پر خوا راهي سو، او د ژمي په ډېر و سختېو کې یې ځان کابل ته را ورساوه، او د ښار یې د کوچنۍ اختر په میاشت بیا ونیو خان میرزايي کندهار او محمدحسین میرزا دوغلت یې د فرا او سیستان خواته پر ښوول چې ولاړ سي.

بابر تر هغه وروسته د خپلو عسکرو د اعاشې او خپل مصرف د پاره په (۹۱۳ هـ ق = ۱۵۰۷ م) کال غلجي او مومند قبائل چور کړه، مل زره پسونه ځیني بوتلل او د کتواز تر حدودو پسې ورسېد، او هغه بندیان چې په دې چور او چپاو کې په لاس ورغلل ټول یې ووژل او د هغو له سرو څخه یې کله منار جوړ کړی.

څنګه چې د (۹۱۳ هـ ق) کال د محرم په میاشت شیباني خان هرات ونیو او له هغه ځایه د فراه او ګرمسیر خوا ته پر مخ راغی نو بابر د هغه د مخنیوي د پاره د غزني او کلات له لارې د کندهار او زمینداور خواته وخوځېد د کندهار ښار ئې ونیو او د کندهار حکمران شاه بېګ د شال او مستونګ خواته او د هغه ورور محمد مقیم د زمینداور لوري ته وتښتېدل.

بابر د کندهار ښار خپل ورور ناصر میرزا ته وسپاره او پخپله د پېرو ولجو سره د کابل خواته راروان سو — خو تر څو میاشتو وروسته شاه بېګ او محمد مقیم د شیباني خان په سلا بېرته کندهار ونیو او د بابر ورور ناصر میرزا د کابل خواته وتښتېد. شیباني خان کندهار شاه بېګ او محمد مقیم ته چې دواړه د ذوالنون ارغون زامن وو، وسپاره او پخپله هرات ته ولاړ چې په دې وخت کې محمد مقیم وسړ او کندهار یوازې شاه بېګ ته پاتې سو.

د (۹۱۳ هـ ق = ۱۵۰۷ م) کال په دریمه خور د جمادی الاولی کې بابر د کابل له لارې د افغانستان په ختیځ کې د ننګرهار آدینه پور ته وخوځېد لغمان او ننګرهار او کونړ یې ونیول او عبدالرزاق میرزا ته یې وسپارل، او پخپله یې د (۹۱۴ هـ ق = ۱۵۰۸ م) کال د سې په میاشت د مومند و پر قبیلې یرغل وکی. په دې وخت کې که څه هم د عبدالرزاق میرزا په پارونه په کابل کې د بابر پر خلاف یوه دسیسه منځ ته راغله، خو بابر هغه له منځه یووړه او عبدالرزاق میرزا هم ووژل سو.

بابر په (۹۱۵ هـ ق = ۱۵۰۹ م) کال بدخشان هم د خپل اکا د زوی خان میرزا په واسطه تر خپل واک لاندې کی، او د هغه ځای حکومت خپل همدې د اکا زوی ته وسپاره چې تر (۹۲۷ هـ ق = ۱۵۲۰ م) کال پورې هلته حکمران و، او په دغه کال هم هلته مړ سو.

ketabton.com - The Digital Library



د(۹۱۶ ه ق ــ ۱۵۱۰ م) کال دبرات په ۲۶ او ددسمبر په دوهمه د جمعې په ورځ چې شیباني خان په مرو کې دصفو یانو دلښکر سره په یو دلو یه او سخته جګړه دلسو زرو او زبکو سره وو ژل سو، نو خان میرزا له بدخشانه بابر ته و لیکله او هغه یې دفرغانه دنیو لو دپاره تشو یق کې، بابر هم فرصت غنیمت وګانه او د همهغه کال دکو چنی اختر په میاشت تر هندو کش و رواو و بنت او کند ز ته ورسید، له شاه اسماعیل صفوی څخه یې مرسته و اخیستله او له بدخشانه دخان میرزا عسکری سلاتړ هم ورته ورسید نو دشپیتو زرو عسکرو سره د آمو تر سیند ورپوریوو ت او دحصار(او سنی تاجیکستان ) سیمی یې و نیو لې، او د (۹۱۷ ه ق ــ ۱۵۱۱ م) کال په رجب او اکتو بر کې یې د سمرقند ښار هم د دریم ځل دپاره ونیو ه او له هغه ځایه ئي خپل وروړ ناصر میرزا د کابل په حکومت وګماره ،خو په(۹۱۸ ه ق ــ ۱۵۱۲ م ) کال عبیدالله خان او زبك بابر ته ماته ورکړه او د هغه کال دروژی په د ریمه او دلو سبر په ۱۲ د امو تر سیند پیرته د افغانستان خاوری ته راپوریوو ت او په (۹۲۰ ه ق ــ ۱۵۱۴ م) کال کابل ته را وورسید .

په (۹۲۲ ه ق ــ ۱۵۱۵ م) کال بابر له کابله د کندهار نیو لو ته ملاو تړ او په (۹۲۳ ه ق ــ ۱۵۱۶ م) کال یې هغه ښا رو نیو ه.

په(۹۲۵ ه ق ــ ۱۵۱۹ م ) کال بابر د هند و ستان خو اته لښکری وایستلی ـ دی په خپله په بابر نامه کی لیکي چې :

«در تاریخ ۹۱۰ که و لایت کابل مسخر شد ا زان تاریخ تاحال همیشه هو س هندو ستان کر ده می‌شد. ګاهی از جهت سستی رائی امر ا،ګاهی از همتائی بر ادران، یو رش هندو ستان میسر وممالك او مسخر نمی‌شد. آخر اینچنین موا نع نماند»

ketabton.com - The Digital Library



بابر (دده په خپل قول) تر پنځولسو لښکر کښیوو روسته د هند پر نیولو بریالی سو، خو دده دلومړي لښکر کښي دنېټې په باب دمورخانو نظر سره توپیر لري

داکبر د دربار دمورخ ابو الفضل علامي په قول د بابر لومړي لښکر کښي د هندوستان د (۹۱۰ هـ ق) کال په برات کې، او دوهمه لښکر کښي یې د (۹۱۳ هـ ق) کال په دریمه خور، او دریمه لښکر کښي د (۹۲۵ هـ ق) کال د محرم په اول کې وه — خو محمدقاسم فرشته پر هندوستان باندې د بابر لومړۍ حمله د (۹۲۵ هـ ق) کال په سر کې، او دوهمه حمله د (۹۲۵ هـ ق) کال په پای، او دریمه حمله په (۹۲۶ هـ ق) کال کې ګڼي، او دڅلرم او پنځم یرغل دنېټې په باب دنورو مورخینو نظر یو شان دی.

خو پخپله بابر لیکي چې ددهٔ لومړی یرغل د (۹۲۵ هـ ق = ۱۵۱۹ م) د محرم په اوله او دجنوري په دریمه ددوشنبې په ورځ و، چې د بړکو نړاو جندول له لارې باجوړ ته ولاړ او دپښتنو د دلازاک دقبیلې سره تر سختې جګړې وروسته یې د محرم په پنځمه د باجوړ ټینګه کلاو نیوله، دري زره تنه د کلا ساتونکي یې ووژل او ډېر یې هم بندیان کړه، دوژلیو سرونه یې کابل او بدخشان او بلخ ته واستول او هم یې هلته پر یوې غونډۍ باندې کله منار جوړ کړی.

د محرم په نهم یې دباجوړ والي خپل یو امیر خواجه کلان ته وسپارله او دی پخپله دسوات خواته روان سو.

څنګه چې دسوات سیمه زیاتره دیوسفزیو پښتنو په لاس کې وه او مشر یې هم دملك سلیمان شاه زوی شاه منصور و، نو ځکه بابر وغوښتله چې دیوسفزو سره خپښي وکړي او بیا دیوسفزو د دوستي له لارې دهندوستان خواته د خپل لښکر لار پرانیزي، هغه و، چې دشاه منصور لور «بي بي مبارکه» یې ځان ته وغوښتله او پدې توګه یې یوسفزي قبیله دځان سلګري کړه، او دهمدې کال

د صفري په شپاړسمه او د فروري په اوولسمه د پنجشنبي په ورځ د سند تر «نیلاب» سیند پوري ووت او د لږ سړي ځل د پاره یې د هند په خاوره کې پل کېښود، او د پنجاب د «بهیره» ولایت یې او نیو، بو دخلو رسوو زرو شاهرخي (چې تقریبا شل زره ستر لنګې پونډه کېدل) په مقابل کې یې د هغه ځای خلکو ته امان ورکی او د لومړي خور په پنځمه د دوشنبي په ورځ یې د بهیره ولایت هندو بیګ ته، او د چناب ولایت یې حسین اکتر اکټه او سپاره او پخپله د لومړي خور په یوولسمه او د مارچ په دیادلسمه د یکشنبي په ورځ له بهیره څخه د کابل خوا ته راوګرځېدو، او د پېښور د خیبر او ګندمک له لاري د لومړي خور په او له چې د اپریل هم لومړي نېټه وه د جمعي په ورځ د کابل ارګ ته داور سېد، او په عیش و نوش بوخت سو. خو یو میاشت و دوسته د. هندوستان پښتانه او د بهیره دولایت زمیندادان سره یو ځای سول او د بابر ګماره لي حکمران هندو بیګ یې له هغه ځایه وشاړه او بابر ته یې ځان راورساوه، او هم د پېښور د سیمو یوسفزي چې د کابل د سیند پر غاړه پرا ته وو، بابر ته پور ته سوه ځکه نو بابر ور وسته تر هغه چې د ګردېزو پښتانه یې و ځپل، د پر آبي و ژل او د هغو د سرو سرو څخه یې کله منار و دراوه، د (۹۲۹ ه ق — ۱۵۰۹ م) کال د روژي په د یر لسمه او د سپتمبر په اتمه د خیبر له لاري د پېښور او لاهور خوا ته و خوځېد، اشنغر یې د ډېري علي شر ور نیو او غو بنته یې چې پر بنګښ و لازسي سګر په دې وخت کې ور ته خبر راو رسید چې سلطان سعید خان له کاشغر ه د بدخشان خوا ته راځي نو بېر ته کابل ته راوګرځېد او د خپل وروره نمسي میرزا محمد سلطان و پس د ه خصو ر زوي یې د خلو رو زرو سپرو سره د لاهور خوا ته ولېږه او پخپله د کوچني اختر د میاشتي په پای کې او داکتوبر په شلمه کابل ته را ورسید.

خو څنګه چې په لاره کې د سلطان سعید په بېرته ګرځېدو خبر سو، نو د غندر خېلو

پښتنو پر تېر يې چې د خپلې آزادۍ د ساتلو د پاره پاڅېدلي وو، يرغل وکي او هغه يې چور کړه.

د (۹۲۶ هـ ق ۱۵۲۰ م) کال په پای کې بيا د پېښور له لارې د پنجاب خوا ته رهي سو، د سند تر سيند پورې ووت، او په بهيره کې يې هغو کسانو ته د رنه سزا ورکړه چې د بابر کارداران يې له هغه ځايه شړلي وو، او هم يې د سيد پور د سيمې خلک چې دده په مقابل کې يې لاسونه وسلو ته وروړي وو، قتل عام کړه، مالونه يې ولوټل او ښځې يې بنديانې کړې. په دې وخت کې بابر ته خبر ورسېد چې د کندهار حکمران شاه بېګ ارغون د بابر پر متصرفه سيمو تيری کړی، غزني او کابل ته يې خطر پيدا کړی دی، ځکه نو بابر بېرته کابل ته راغی، او څنګه چې په دغه وخت کې د بدخشان واکوال خان ميرزا مړ سو، نو بابر په (۹۲۷ هـ ق) کال خپل مشر زوی همايون د بدخشان واکوال وټاکه او پخپله د کندهار خواته وخوځېد، شاه بېګ يې په کندهار کلابند کی، شاه بېګ له صفوي شهزاده طهماسب څخه چې د امير خان له خوا يې په خراسان حکومت کاوه مرسته وغوښتله، امير خان هم بابر ته د کندهار پرېښودلو پيغام را ولېږه خو بابر و نه مانه او شاه بېګ مجبور سو چې بابر ته شيخ ابو سعيد پوراني هروی په ننواته د روغې د پاره ولېږي، بابر هم روغه ومنله او پر دې يې روغه وکړه چې په راتلونکي کال کې به کندهار بابر ته سپاري.

هغه و، چې د (۹۲۸ هـ ق = ۱۵۲۲ م) کال د کوچني اختر د مياشتې په ۱۳ او د سپتمبر په ۱۰ له شاه بېګ د کندهار د ښار کلي د حبيب السير د مؤلف خواندمير د کړوسي مير غياث الدين په لاس د بابر دربار ته واستول او پخپله د شال (کوټې) ولايت ته ولاړ او په سيوي کې کښېنوست. او بابر د کندهار واکو-

ketabton.com - The Digital Library



الی خېل زوی کامران ته و سپارله او د بابر دواکمنی لمنه تر هلمنده پوری ورسېده. (۹۳۰ ه ق — ۱۵۲۳ م) کال بابر څلرم وار د هند خوا ته لښکر و یوست پر لاهور یې یرغل وکی، که څه هم د پنجاب واکوال لو او مقتدرو پښتنو لکه بهار خان او مبارک خان لودی او بکمن خان لواڼی د لاهور په شپږ کروهی کی د بابر سره جګړه وکړه، خو د پښتنو مشرانو د بې اتفاقی په سبب بابر وروباندي بری وموند، لاهور یې ونیو او و یې سوځاوه، څو ورځي وروسته یې دیبالپور هم ونیو او خلک یې قتل عام کړه — لاهور یې میر عبدالعزیز او سیالکوټ یې خسرو کوکلتاش او دیبالپور یې باباقشقه مغول او کلانور یې محمدعلی تاجیک ته و رسپارل، او پخپله د کابل خوا ته را رهی سو. په دې سفر کی بابر ته سرهنده پر سخ ولاړ.

د (۹۳۲ ه ق — ۱۵۲۵ م) کال د صفری په اوله او د نومبر په اوومه بابر پنځم وار له کابله د هند د نیولو په غرض وخوځېد — کابل او کندهار یې خپل زوی شهزاده کامران ته پرېښود، او پخپله د خیبر او پېښور له لاری د لومړی خور په اوله د دسمبر په شپاړسمه د شنبې په ورځ د سند تر سیند پورې ووت او د لومړی خور په څوارلسم د جمعې په ورځ یې د «چناب» د سیند په څنډه خوا کی سیالکوټ او بیا یې د «ملوت» کلا ونیوله او د لودی دولت خان د زوی غازی خان ټول مالونه او خزانې او لویه کتابخانه یې ضبط کړه، او بیا یې د لاهور او سرهند تر منځ کلاوی هم ونیولی، او د همغه کال د رجب او اپریل په میاشتو کی پانی پت ته ورسېد، او د سلطان ابراهیم لودی سره یې تر یوه ډېر خونړی جنګ وروسته چی سلطان ابراهیم په همغه جنګ کی د نږدې پنځوس زره افغانی جګړنو سره ووژل سو، بابر بری وموند او د (۹۳۲ ه ق) کال د رجب په دوولسمه د شنبې په ورځ د دهلی پر تخت کښېنوست او

ketabton.com - The Digital Library



دګووګانی سلطنت بنسټ يې په هند کې کښېښود، او بابر د هند د شهنشاه په حيث و پېژ انده سو.

د بابر شهنشاهي تر بنګاله پورې وغځېدله او په هند کې يې هرلو ر فتوحات وکړه (چې د هغو فتوحاتو او په هند کې د بابر د نو رو کار نامو مفصلې يادو نې په هغو مأخذو کې ر او ړه سوې دي چې په دې کتاب کې د بابر دژ و ند پېښو په پای کې ښو و لې سوې دي، محترم علاقه لر و نکي هغو ته مر اجعه کولای سي دلته يو ازې هغه خه ر ااخلو چې په افغانستان پو رې اړه و لري او هغه داچې:)

بابر د هند د شهنشاهۍ د چار و تر سنبالو لو و ر و سته چې د هند په «اګر ه» کې تاتو بې و نيو، نو بيا يې افغانستان ته تو جه ر او و شتله او افغانستان ته يې د اوده افغانستان خپل د ر بار نو مياليامير انر او استول، چې يوله هغو څخه د ده ډېر باو ری او لوی سپه دار «خو اجه کلان» و، چې د بابر له خو ادغز نې ا و ګر دېز په و ا کوبي او حکومت و ټا کل سو، او هغه هم تر هغه و ر و سته چې د ډ هلي ديوې و داني پر ديواله يې په دری ژ به دا بيت و ليکه چې.

اګر بخير و سلامـــت ګذارسند کنم سيـــاه ر وی شوم ګرهوای هند کـــنم د (۹۳۲ هـ ـ ق) کال د ذيحجه د مياشتې په شلمه د پنجشنې په و رځ له ډهلي څخه د کابل خواته ر اوخوځېد.

همدار از بابرد (۹۳۳ هق) کال د رجب په نهمه خپل ز وی شهزاده همايون د کابل او بدخشان په حکمرای وټا که، چې همايون بيا په (۹۳۳ هـ ق) کال په بدخشان کې سلطان و يس د خان سلګری کې او د خلوېښت ز رو تنوسره د سمرقند خوا ته وخوځېد، خوځنګه چې په هند کې لا د بابر په سخ کې مشکلات و و، نو همايون ته يې فرمان و لېږه چې د ماو ر اءالنهر د حکمرانا نوسره ر و غه و کړي، هغه و چې هما يو ن يو کال و ر و سته د بدخشا ن حکومت خپل يوه خپښ ته

ketabton.com - The Digital Library



چەسلطان ولیس نو میده . وسپاره اوبه خپل د کابل د لاری با بر ته
ورغی په کندهار کی هم دبابر لەخواشیهزاده کامران وا کولومچی بیا هی کندهار
خپل ورور شهزاده عسکری ته وسپاره .
بابردو دانیوپه و دانولواو دباغوپه جوړولو کی بەذوق درلود، دهرو اندلستالف
دباغ دو یالو کښلواو دخیا بانو سمول دده په وخت کی سوی دی . کەڅه هم د
استالف باغ ترده دمخه «الغ بیگ میرزا له خلکو څخه غصب کړی و ، خوبابرخلکو
نەدهغه باغ بیه ور کړه لنەتی یی پکښی و ئیستل او خیابانونه یی سم کړه .
همدارنگه یی دخواجه سیاران په سیمه کی ډیروه غو نډی یوه گردی صفه جوړه
کړي او دهغه ځای له چینوڅخه یی یوه نوي ویاله ایستلي وه ، چی د ایستلونیته
یی د«جوی خوش »له کلماتوڅخه د(۹۲۵ ه ق) کال ر او تلی دی .
بابرپه کابل کی دآلویالودنیالگیو ایښودل تعمیم کړه اودهند وستان ترنیولو
وروسته یی دخواجه کلان په وسیله دغزنی د سلطان بند دبیاو دانولو دپاره
ډیر زر راو لیږل .
سربیره پردي بابرپخپله بابرنامه کی دد ي باغونوسونه یا دوی چی دده په وخت
کی ودان او دسیل ځایونه وو :
باغ نورو زی، بو ستان سرای، چها رباغ ، باغ بهشت ، باغ بنفشه ، باغ نور،
باغ گل کنه، باغ خلوت ، باغ صورت خا نه، باغ حیدر تقی .
دعبدالحمیدلاهوری په قول بابرپه کابل کیخونور باغونه هم دشهرآرا، چار باغ،
جلوخانه، او رته باغ ، باغ صورت ، باغ مهتاب ، باغ آهوخانه او سه با غچه
جوړ کړی اودیوالونه یي پر را گر ځو لي وو . په کا بل کی دبابردوخت له ودا
ینو څخه یوهم تخت بابر دی چی د کابل دروددمجرا پر چنو بی غرم بانده ی یی
دصنفي په شکل جوړ کړی دی اوهلته یو گرد ی حوض هم دشر بوډ پاره کینلي و

ketabton.com - The Digital Library



چې هندې دوه منه شراب یې نیو ل او هلته کتیبه هم سته چې پر هغې باندې لیکې سوی دی:
تختگاه پادشاه عالم پناه ظهیرالدین محمد بابر ابن عمرشیخ کورکان خلی الله ملکه
فی سنه ۹۱۳ ﻫ» د بابر کروسی نورالدین جهانگیر لیکی چې: دې د بر ینی صفی
په تخت شا ه شهرت د رلود ا و با بر پر هغې وګنبتا ستی ا وشراب یې چښل.
او هم جهانگیر وا یی چې د شهر آرا باغ ، دبابر تر ور شهر بانو بیگم و داني
کړی و چې د جهانګیر له خوا ییا جوان آرا و باله سو .
په کابل کې بله ودانی چې د بابر په وختو کې ودانه او د استوګنې
ځای و د ارک کلا ( قلعه ارک ) وه چې اوس یې با لا حصا ر بو لی با بر
داو دانی ستایی او لیکي چې د ا عجیب ا رګ پر یوه لو ړه پر وت دی
چې ډیر ه ښه هو ا لري او لاندی یی داو بو یو لوی ډ نډ ( کو ل ) او د ر
و خو او ته یی سمسو ره شنیلی دی او د شما ل لو ر ته یی کوزو نه دی
او ملاطالب معمایی د دی ارګ په ستاینه کې بدیع الزمان میر زا ته دا بیت و یلی و :
بخور د ر ا رګ کابل مې بګرد ا ن کاسه پی د ر پی
که هم کوه است وهم د ر یاوهم شهر است وهم صحرا
د با بر د وقت بل مشهو ر بن د ننګر ها ر
بهسود و ته نږدې باغ صفا و ، چې د شا هجهان تر وختو پو ری هم شهرت د رلود ،
او ابوالفضل دا باغ داسې ستا یی آ نر ابهار چمن آرایش طرب افزا ی خوا طر و صفا بخش
رنګا مستا ن بو ، واطن توان ګفت که نزد یک جلال آبا د بود ( ۱ ) او عبد الحمید
په قو ل د صفا با غ له بګرا می ځخه پر سمه ټه ر ۳ ۲ کر ولیری وه ،
باغ و فیر صفا ا و ر نګین ( ۲ ) چې هم د ا او س دجلال آبا د لو ید یزی

(۱) ا کبیر نا مه - ۳ / ۳۲۱ مخ د پو ها ند حبیبي په حوا له
(۲) پاد شاه نامه - ۲/۳ ۶۰ مخ

ketabton.com - The Digital Library



خو اتەشل کیلومترەلری دوری رود په او لسوالی کې دباغ صفاپه نامه یو کلی ستە او د باغ صفا د وهبت کارندوی دی وچوارباغ صفا هم په هغو حد ود دو کې پر] پ ب دی (۱) همدا رنگه په دی نامه دپنجاب په ایالت کې د بهیر؟ نوسی ځای څخه لس کروه لیری د بهیره اوجود د غره تر منځ د چینهپرغاړه د با بر له خوا یو بڼ جوړ سوی دوفاباغ : په ۹۱۴ هق = ۵۰۸ هم کال بابر له کابل څخه د جنوب خو اته د یا رلس فر سنگه لیری پر یوه لوړه باندی یو جوړ کړی واچی رودآی په منځ کی بهیده او دبن په منځ کی یوه غوندی وه چی بابر هته خیابانااو نه ا وحوض نه جوړ کړی وو او دنار یرنبج او انارو ونی یی کښینو لی وی د ابن د سپین غره په لمنه کی و ، خو واوده هلتهنهاو ریدله، او څنگه چی د کابل اوننگر هار دلا ری پر سرو نوبا بر به‌دی‌بڼ‌تەورتی‌او د ۹۳۲ هق = ۵۲۵ ام کال د صفر په ۱۷ چی بابر دخپل وروستی جنگ د پاره دهند دفتح په نیت هغی خوا ته تی دغه بڼ تەورغلی او هلته میشته سوی و(۲) او اکبر هم په (۹۹۸ ه ق ۱۵۸۹ م) کال کابل تەدتگ پروخت څه سو د ه په باغ وفا کی پا ته سوی او د هغه شاوخو اته یی ښکار کړی و (۳) لکه بابر چی لیکی د وفا باغ ، د جوی شاهی اوگند مکڅ ترمنځ پر و ت و، او دکابل لار له باغ وفاڅخه د سلطانپو رخوا ته تله.

---

(۱) بابر نامه - ۲۳۸،۱۴۲ مخو نه

(۲) اکبر نامه - ۱/۹۳ مخ

(۳) " " ۲/۹۷۰ "

ketabton.com - The Digital Library



بابر لیکی چی : بسیار بصفا باغی واقع شده، هر کس بچشم خریدا ری ببیند خواهد دانست که‌چطو ر جاییست صفا ولطا ف آن بی نظیراست (۱)

ابو الفضل هم وباغ وفاّ مو قعیت د گندمک او کوشکک ترمنځ ښیی .

او اوس ئاځای دجلال آباد لویدیځ پلوته لس کروه لیری د«باغوانی »دکلی سره پر وت دی ، او د بابر « آدینه پور » هم دلته و ، اوابوا لفضل لیکی چی :

«باغ وفانزدیک آدینه پو رازآثار بابر است»

په کند ها کی هم دسر پوزې

دغره پر څو که «چهل زینه» دبابر په‌امر و دانه سوی‌ده چی‌محمد معصوم یې پخپل کتاب تاریخ سند کی‌د«عمارت‌پیش‌طاق» په‌نامه یادوی او لیکی :

«بفرمو دهٔ بابر پادشاه در کو هیکه موسو م‌به‌سر پو زه‌است‌از سنگ بر یده‌اند و آن طا قیست در غا یت ار تفاع و در مدت نه‌سال هشتاد نفر سنگتر اش هر رو ز در انجا کار کر ده با تمام رسانیده‌اند — الحق جای نفیس و فرح فز است و در آنجا کتابه یی بنام بابر پادشاه و میر زا کامر ان و میر زا عسکری و میر زا هندال که صاحب اهتمام‌بو ده اند نو شته اند»

خو پخپله‌بابر یو ازی‌دو نی‌لیکی‌چی:«در بینی‌گاه کو ه‌قندهار عمار تی‌ساخته‌ام» دچهل زینې و دانی په (۹۳۰ ه ق ) کال سوې او په ( ۹۵۳ ه ق ) پای ته رسیدلی ده، او په (۱۰۰۷ ه ق ) کال‌چی دا کبر پاچانظامی منصبدار میرمعصو م کند هاری کندهار ته‌راغی نوپه‌څلو رکاله کی یې دبهکر د ډبر و تو ږو نکو

---

(۱) باپرنامه

ketabton.com - The Digital Library



په واسطه یو ه بله کتیبه دهما یون او اکبر په نا مه هم دڅهل زینې پر پخوانی کتیبه زیاته کړه او داکبر دشهنشاهی دتبولوښار و او ولایاتو نو مونه یې هلته ولیکل .

په دې توګه بابر په افغانستان کی ډېر ځایو نه و دان او ډېر باغو نه جوړ کړل چې له هغو څخه دافغانستان سره دبابر زیاته علاقه او مینه څرګندیږی او دده دزیاتی مینې یو څرګند دلیل دادی چې ده دمړینې پر وخت وصیت وکی چې دده مړی دی کابل ته یو وړه سی او هلته دی ښخ کړ ه سي ، هغه و ، چې دبابر داو صیت دده ننګیالی پښتنی ماندینې یو سفری «بی بی مبار کی » پر ځای کړ ، اودده مړی یې کابل ته راو وړه او دلته دشیردرو از ه دغره په لو یدیځه لمنه « کی ښخ کی چې هغه وخت یې په «قدمګاه» شهرت درلو داو اوس یې «دبابر باغ بولی .

عبدالحمید لاهوری داهم لیکی چې بابر و صیت کړی و ، چې دده پر قبر دی ودانی نه جوړیږی ، ځکه نو لو مړ ی دده قبر ډېر ساده و ، خو په (۱۰۱۶ ه ق ) کال د جهانګیر پاچا په امر یې د سپینو مرمرو یا شناخته (لوحه) پر قبرو درو له سو هچې یو نیم متر یې لو ړو الی او نیم متر یې پسو ر دی او پر یوه سخ یې په ډېر ښکلی نستعلیق خطلیکی سوی دی:

لو مړی لیکه : یاسبحان یاملك یافتاح یاعدل یاقوس

۲ الله اکبر

۳— لااله الله محمد رسو ل الله

۴— پادشاهی کز جبینش تافتی نو ر الله

ketabton.com - The Digital Library



٥– آن ظهر الدین محمد بو د بابر پادشاه

٦– باشکوه ودولت و اقبال و عدل و دادو دین .

٧– داشت از توفیق و فیض و فتح و فیروزی سپاه

٨– عالم اجسام رابگرفت و شد روشن روان

٩– بهر فتح عالم ارواح چون نورنگاه

١٠– : شد چوفرد وس مکان، رضوان زمن تاریخ جست

١١–:گفتمش«فردو س دایم جای بابرپادشاه» –٩٣٧ هـ

د شناختی پربل مخ لیکلی سوی دی :

١–لیکه: یاالله یانور یافیاض یاغفار یا رحیم

٢–«: یاارحم الراحمین

٣–«:از فیض عنایت بیغایت الهی

٤–«: وقتی که بزیارت روضهٔ منورهٔ

٥–:حضرت فردوس مکانی

٦–«: ظهیرالدین محمد بابرشاه

٧–:« غازی انوالمظفر نوردین محمد

٨–«:جهانگیر پادشاه ابن حضرت

٩–«: عرش آشیانی جلال الدین محمد

١٠–«: اکبرپادشاه غازی کامجو گردید ند

١١–«:این لوح فرمودندسنه ٢جلوس .

١٢–«: جهانگیری مطابق ١٠١٦ هجری دبابرپه هدیره کی دده د کورنی داقبر ونه

ketabton.com - The Digital Library



همستيه :

۱-دبابرد نمسی دهمايون دزوی محمد حکيم قبرچی د(۹۶۰ هق)
کال ددربمی خور په ۱۵ز بېږدلی او د(۹۹۳ هق) کال دبرات په اوله دجمعې
په ورځ سراو دبابردقبربنۍ خواته ښخ دی .

۲-دبابردزوی هندال قبرچی د(۹۵۸ هق) کال دذيقعدی په ۲۱ په چپرهار کی
وژل سوی او دبابردقبر کينۍ خواته ښخ دی

۳-درقيه سلطان بيګم قبرچی دميرزاهندال لوراو دجلال الدين اکبر پاچاساندينه
وه اوپه (۱۰۳۵ هق) کال دهندپه اکبرآباد کی مړه سوې وه اوسړی يې کابل ته
راوړه سوی اودباغ په پنځلسمه مرتبه کی ښخه ده، او دجهانګير پاچاپه امردسرسر
و چپوتره و رباندی جوړه سوې ده .

عبدالحميدلاهوری په خپل کتاب «پادشاه نامه» کی ليکی دبابرباغ پنځه سوه ګزه
اوږدوی، او پنځلس مرتبې يې درلودلی چه دهری مرتبې لوړوالی دېرش ګزه و، او دشاهجهان
په وختو کی هم دې باغ ډېر ښه رونق درلود، يوو اړيې پنځلس زره روپۍ او بيا يې دخپل
جلجيوس په نولسم کال په (۱۰۵۶ هق) کی دوه لکه او پنځوس زره روپۍ دبابرپه روضې
او دکابل په نورو باغوخرڅی کړی چی دهغوله جملې څخه يې دبابرترقبرپه لاندی
مرتبه کی يو کوچنۍ مسجد دمرمرو له ډېرو څخه په دوه کاله کی دخلوېښتو زرو
رو پيوپه مصرف ودادن کیء، اوهم يې په دې باغ کی دوو لس آبشارونه ديړلې و
سره دکابل له سرسرو ډېرو څخه جوړ کړه .

دبابرشخصيت اود ده علمی اوادبی استعداد:

دسور خانوپه اتفاق بابردلوړ شخصيت خښتن او دعلمی او ادبی استعداد خاوندو

ketabton.com - The Digital Library



د ده‌دپخاله زوی میرزا حیدر دوغلات د کاشغراو کشمیر حکمران د بابر شخصیت داسی ستایی .

«پادشاهی بود بانواع فضایل آراسته و بخصایل حمیده پیراسته، از ین همه خصلت شجاعت و مروت او غالب بود . در شعر ترکی بعد از میر علی شیر کس مقدار او نگفته - دیوانی دارد ترکی در غایت عذوبت و «مبین» نام نظمی ساخته در فقه بغایت رسالهٔ مفید است و مقبول خلایق، و عروض ترکی نوشته که پیش از وی کسی عروض ترکی را بآن لطافت ننوشته و رسالهٔ والدیهٔ حضرت ایشان (دلیکونکی خواجه عبیدالله احرار دی) نظم کرده و قایعی که نام تاریخ تزک (دارد) در غایت سلاست و روانی و عبارت پاکیزه منقح قریب الفهم.. بفضایل او پیش از وی در دودمان او غالباً کس نگذشته است و واقعات غریبه و جنگهای عجیبه دست داده که بتحقیق از ابنای او کس را دست نداده .... »

دموسیقی په علم او په شعراو انشاءاو املاء کی یې ساری نه درلود، د خپلو پاچهی پیښی یې په ترکی ژبه و لیکلې چی د بیرم خان زوی عبدالرحیم خان‌خانان بیا هغه دا کبرپاچاپه وخت کی په پارسی ژبه راواړولې .

د فرشته په قول بابر یو عیاش اوسی پرست سړی هم و، خوسره له هغه په حنفی فقه هم خبرو، رو ژه یې نیوله او نمونځ یې کاوه .

په شعر کی یې ناز که او بدیعه طبع درلوده، اوهم یې یودول خط اختراع کړی و، چی «بابری خط» یې باله او پخپله بابرد (۹۱۰ هق) کال په پیښو کی یوه دا خبره هم لیکی چی ده دا خط په کابل کی اختراع کړی دی او ددې خط په باب تفصیل

ketabton.com - The Digital Library



او دخط نمونه یې د پوهاند حبیبي د«ظهیرالدین محمد بابرشاه» د کتاب په ۷۵ مخ کې تر ۷۸ مخ پورې راغلې دی .

دبابر مشهور تالیفات دادي :

۱-بابرنامه : چې دتزک بابري-یا- واقعات بابري په نامه هم یادیږي ، او په انگریزي ، الماني ، او فرانسوي ژبو هم ترجمه سوې ده .

دا کتاب بابرپه تور کي ژبه لیکلی او ددرو تنوله خوا پېل پېل په پارسي اړول سوی دی .لومړی ترجمه دعبدالرحیم خان خانان له خوا په (۹۹۸ هق ) کال ،او دو همه ترجمه دشیخ زین الدین خوافي وفائي له خوا چې(په ۹۴۰ هق کال کې سړ دی )او دریمه ترجمه دمیرزا پاینده حسن غزنوي له خوا په ( ۹۹۴ ه ق کال کې)

۲-دعروض رساله:داساله بابر دتر کي اشعارو پر اروض په (۹۳۳ هق ) کال کې لیکلې ده .

۳-دبابر دیوان: دبابر دتر کي اشعار و دیوان دی چې پار سي اشعار یې هم پکښې سته او په (۹۴۲ ه ق ) کال ترتیب سوی دی .

۴- مبین: دا کتاب دبابر دحنفي فقه په مسائلو کې په تر کي ژبه منظوم کړی او نظم یې د(رمل مسدس محذوف) په بحر کې دی او په (۹۲۸ هق) کال پای ته رسیدلی دی چې یو فصل (کتاب الزکوة )یې په (۱۹۶۰ م) کال کې داوزبکستان دعلومو دا کادیمي داقتصاد دموسسې په مجموعه کې خپور سوی دی ۵-دو الدیه درسالې نظم: دارساله چه دخواجه ناصرالدین عبیدالله احرار تألیف و په(۹۳۵ ه ق) کال بابر په تر کي ژبه نظم کړی ؤ بابر په تر کي ژبي تر بیره په پار سي هم ښه شعرو ایه دا خلو

ketabton.com - The Digital Library



ریزه‌دده ده

دروېشانر اگر چه‌نه ازخوشیانم

لیک‌ا زدل وجان معتقدا یشانم

دو راست‌مکوی‌شاهی‌ازدرویشی‌شاهیم

ولی بنده‌درویشانم داسطلع هم دده ده هلاک میکندم فرقت‌تو دانستم

وگربه رفتن ازاین شهر می‌توانستم

وایی‌چه په کابل کی‌یی‌دتخت‌شاه‌ددبرین حوض برخنه دابیت کیند لی‌و:

نوروزنوبهاری‌وسی ودلبری‌خوشست

بابربعیش کوش که عالم دوباره نیست

مأخـــذونه:


۱ـ ظهیرالدین محمد بابرشاه ـ دپوهاندحبیبی تألیف ـ ذکتاب‌له‌زیاتری برخی

خخه استفاده سوې ده.

۲ـ بابرنامه ـ پارسی ترجمه ـ دبمبی چاپ ـ ۲ مخ اونورمخونه .

۳ـ اکبرنامه ـ ۱/۸۶مخ او نورمخونه

۴ـ منتخب اللباب ـ ۱/۲۱ «

۵ـ تاریخ‌فرشته ـ ۱/۱۹۳« او نورمخونه

۶ـ مفتاح التواریخ ـ ۱۵۶«

۷ـ طبقات اکبری ـ ۱/۲۷« او نور مخونه

۸ـ تاریخ افغانستان درعصرگورگانی‌هند ـ له‌دوهم مخ‌خخه‌تر۳مخ پوری.

ketabton.com - The Digital Library



**۱۳۷۵-بابر خان کاکړ :** دلسمې هجري پېړۍ په سر کې د پښتو ژبې ليکوال،او د«غرغښت نامې» د ناظم دوست محمد کاکړ پلار و ،چې پخپله دوست محمد کاکړ په خپل کتاب کې ليکلي دي :«چې زما پلار بابر خان هم يو کتاب په شعر کښلی و ، چې نوم يې و «تذکرهٔ غرغښت» او هغه وخت چې بابر خان وفات سو ، او زه پر کور نه وم، نو هغه کتاب ورک سوی و ، او چاضايع کړی، زه چې راغلم د خپل پلار په ماتم هسې و ير جن نسوم ،لکه چې کتاب ورک سوی و.ساخو د هغه کتاب خبرې او ربدلې او په وار و وار و ويلې وې ، او هم سی يو څه له هغو څخه په يادو ې ، نو ما پر خدای تو کل وکا، او هغه قصې او روايات مې بيا په شعر و ويل ،خدای تعالی دې زما پلار سعې مشکو ره کا »

مأ خذ :

پټه خزانه -د کابل لومړی چاپ -۸۷ مخ

**۱۳۷۶- بابك صاحب:** د خپل وخت يو روحاني سړی او په ختهه باديزی سيدو ، او کو يتې د گلستان دعنايت کاريز ته نژ دې په غره کې ښخ دی عالم خلك زيا ته عقيده ورته لري او زيارت ته ورځي

مأ خذ :

مزارات-دسيال کاکړ ليکنه ۲٦ مخ

**۱۳۷۷باب صاحب:** نوم يې ملا محمدجان-يا-سيد محمدجان اومشهور په بابك صاحب د خپل وخت نوميالی روحاني عالم و ، ډېر مريدان يې در لودل چې تر اوسه يې هم زيارت شهرت لري او ډېر عوام يې زيارت ته ورځي.

دی په خته سيدو ، په فقه، حديث او تصو يب کې يې لوی لاس درلود، ډېر

ketabton.com - The Digital Library



متشرع، زاهد او پرهیزگار سړی و، ژوندیې زیاتره دخدای په عبادت تېر او او په طریقت کې د نقشبندی سلسلې پیرو و، په ۱۲۳۵ هـ کال د کندهار په پهسوین بولدک کې مړ او هم هلته ښخ دی- لنگر یې تر او سه چلیږي.

مأخذ:

د کندهار مشاهیر -۸ ۳۱ مخ.

۱۳۷۸- بابو: دباز یدزوی دپښتنو دبابوزوی دقبیلې مشرنیکه و، په قبیله سیدو، سر سرداری، گلوگرام، کوکړی، بټوده سپل بانړی، شیر اترپ، او سلام پور سیمو کې اوسی

مأخذ:

حواشی- تواریخ حافظ رحمتخانی- پهاردو ۶۳۵ مخ.

۱۳۷۹- بابو جان بابی: د کرمخان زوی دهوتکو ددورې دپښتو ژبې نوموتالی شاعر، او دملې قائد، میرویس نیکه ننگیالی ملگری و. دزابل داتغر پهسیمه کې اوسیده و دهغه وخت دآزادی ساتلو په میروجگلو و کې یې برخه اخیستې وه.

هغه وخت چې میرویس نیکه دصفوی دولت دتیری پهمقابل کې ملاوتړله، او په کندهار کې دصفوی دولت ارمنی ظالم حکمران گرگین وو اژه کېده، بابوجان بابی دخپلو جنگیالیو زلمیانو سره د«ماشور» دکلي لهخوا د کندهار پرزاره ښار یرغل وکې او ښار یې دگرگین لهستمه و ژغوره او جگړو نوخته و نیوه، او بیا د میرویس نیکه لهخوا د کلات (زابل) دسیمې حکمران و ټاکل سو.

دمیرویس نیکه تر مړینې و روسته هغه وخت چې شاه محمود، هوتک د اصفهان لور ته لښکر وویوست بابوجان بابی د دوو ز روتنو جگړو نو سره د کندهار ښار ته

ketabton.com - The Digital Library



راغی او د شاه محمود د لښکر سره یو ځای سو.

د پټې خزانې مؤلف محمود هوتک لیکي چې: «په کال (۱۱۳۴) سنه هجري، چې شاه محمود پادشاه د پادشاه دوران شاه حسین و رو لښکر و کاوه او اصفهان ته یې دیر غل عزیمت و کا، بابو جان بابی سره له خپلو غښتلو ځوانانو، چې درې زره تنه هوتک و، او توخي او ترکي او ځینې آکا خیل راغلل کندهار ته او د شاه محمود سره و لاړل اصفهان ته، په جنګو کې بابوجان بابی هسې میړانه و کا، چې رستم دوران یې هېر کا».

د تاریخ سلطاني مؤلف سلطان محمد لیکي چې: بابوجان بابی په ایران کې د شاه محمود هوتک او شاه اشرف هوتک د استیلا په وخت کې د لار و بندر حاکم و، او په ایران کې د هوتکو د شهنشاهۍ تر ختمېد و وروسته بابوجان بابی کندهار ته راغی، او هغه وخت چې نادرشاه افشار له هراته د کندهار پر خوا یرغل راووړ، او امام ویردی بېګ د کرمان حکمران یې د ګرشک او بست د کلاوو لوته وګماره، نو بابوجان بابی د شاه حسین هوتک په امر د پښتنو جنګیالیو سره د هغه مقابلې ته ورووت او دویردی بېګ لښکر ته یې ماتې ورکړه.

بابوجان په پښتو ژبه خوږه شعرونه هم ویل، او په (۱۱۲۹ ه) کال یې د «شها او ګلان» قصه په پښتو نظم کړه، او هغه یې «قصص العاشقین» په نامه یې وبلله، او په هغه قصه کې د عشق داسې ستاینه کوي:

عشق یو هستي تور یالی دی چې پر هر ځای یې بري دی

د عشق اور هسې سوزان دی

چې سوځلی یې جهان دی

ketabton.com - The Digital Library



زړه بې عشقه کله زړه دی
چې بې عشقه زړه دېره دی
نه دی عشق په یوه رنګ
کله صلح ، کله جنګ
پښتانه کاندی ستل
چې دی خوږ ترشات ، عسل
چې «بې عشقه سر کدو دی. »
تش بې مغزه یو لادو دی
زړه بې عشقه په کار نه دی
هم هر زړه سز اوار نه دی
چې د عشق و کا خبری
کړی په غوږ د اسرغاری
دپاکانو عشق سزادی
امانت دا ، دسولادی

مأخذونه :

۱-پټه خزانه-۳۳ مخ ۲-تاریخ سلطانی-۸۵ مخ
۳-جهانکشای نادر-۱۲۱ مخ. ۴-دپښتو آریانا دایرةالمعارف ۴/۴۰۳.

۱۳۸۰- بابوجان لغمانی: دپښتو ژبی نوییالی شاعر و ، چې داشعار و بشپړ دیوان یې درلود او دده ددیوان یوه بر خه سشتر راورتی په خپل کتاب «ګلشن روه» کې را اخیستې ده، اوجارج راورتی لو سړی سړی دی چې دبابو

ketabton.com - The Digital Library



جان د اصل او نسب په با ب يې د پښتو گراسر دمقدسې په دري د پرشم مخ کښې ليکلي دي :

«بابو جان دبلو رستان (۱) لهسیا ه پو شو کافرو ځخه و مسلمان سواو دخپل علم او لیاقت له اسله يې پهمسلمانانو کېښه نو موگاته ـبابوجان په یو سفرو ښخ دی او خلک يې ز يارت تهو رځي».

قاضي سيراحمد شاه رضواني (۱۲۷۹-۱۳۵۳ هق) پهخپل کتاب « شکرستان افغاني» کېدر او تې دغه خبري رانقل کړې ا و دايي هم پر اضافه کړيدي‌چې :

«بابو جان لهتورو کافر و ځخهیو ه ملايو سفز يو ته را و ستلی و ، پخپله بابو جان د لغما ن و»

«پهو رکهخزانه» کېدراو رتې دغي‌خبرې تهچې بابو جان په او ل کې سیاه پو ش کافرو ،د شک پهستر گه کتل سوی‌دی ، ددغه کتاب دلو سړي تو ک په ۱۳۰ مخ کې کښلي‌دي:

«نهشي و يل کيداى چې داسعلو مات راو رتې لهکومه راوړې د ی ، ليکن‌تر کومه چې دبابو جان او سرو کافر و تعلق‌دي، نو که بابو جان په‌رښتیا دبلو رستان سور کافر و ، نو داخبر ه دعقل او قیاس نهلري ده چې د بلورستان‌یو سړي چې پښتو دهغه سور نی ژ به نهوی دو مره ژ ر دی پکښې کمال تهو رسی او بیاشاعري دي پکښي هم و کړي ، او بیاپه هغه ز مانه کې البته داکیدای شي‌چې دبابو جان پلار نیکه بهپه اسلام تر مشرف کیدو نه پس چهرته دپښتنو علاقې تهراغلی‌وی او بابو جان هلته پیداشوی وی . بابو جان کهمسلمان‌شوی و

---

(۱) بلورستان د کونړاو الینگار ددرو شمال ته پروت دی .

ketabton.com - The Digital Library



.. ئو ئکم اژ کم پهداسې عصر کبنې پهوی چې .د کلتر او اسلام ترمنځ دبنه او بد فرق په پې کولای شو، دبنه او بدو دا فرق کم از کم انسان دداير شو کلونو ..په عمر کې کولای شي- ددپرشو کالو یو سړی چې په یوه څیره ژ ني کې شاعري ..کوي هغه فرق دبابوجان په شاعری کې نه محسوسیږي»

پوهاند عبدالشکور رشاد د«گلشن و و»په سر یز و کې چې ۱۳۵۶ هـش .. کال په کابل کې چاپ سوی لیکي چې: «بناغلی همیش خلیل خو په پښتو ژ به کې دبابوجان بشپړی او صحیح افادی او بیا د شاعری تر عهد ی په ..په توگه سره و تلو دې تهار ایستلی دی چې درا و رتې خبره و نه منی او یاد سمون کوم ضعیف تاویل و لټوی.

..مگر زه وایم چې دبابوجان په عربي، پارسي او هندکو ژ بو پوره او صحیح پوهېدل هم دراو رتې خبره ثاتوی او ددې ادعا شواهد دبابوجان په کتاب کې دېردی »

پوهاند رشاد لیکي چې: بابوجان دفکر و ذکر او سلوک و عرفان له مخې د دپیر بابا«سیدعلی غواص ترمذی »(۹۰۸-۹۹۱هق) دسلسلګ او مشرب پیرو دی. دبابو جان دژوند انه دزماني په باب دپښتانه شعرا دلو سړی تو ک پـــه مقدمه کې لوی اوستاد پوهاندحبیبي لیکلی دی چې باباجان تر (۱۰۵۰هق) وروسته ژوندی و، او همیش خلیل دورکی خوانيمؤلف بې دمیرزاخان او رمرچې په(۱۰۴۰ هق) کال سړدیاو ددولت لوانی (۱۰۶۸هق)دزماني زماني شاعر بولي .

پوهان رشاد لیکي چې : دبابوجان داشعارو په مجموعه کې بداور

ketabton.com - The Digital Library



نګزیب عالمګیر (۱۰۶۸-۱۱۱۸ هق) ستاینه داسې چې بابوجان تر ۱۰۶۸ هق کال وروسته هم څه موده ژوندی و.
دبابو جان دنظمو نو مجموعه په بشپړ دول تر اوسه نه ده چاپ سوي خو خطي نسخې یې ډیرې دي. د لندن په انډیا آفس لائبریري کې یې یوه نسخه سته چې د لوی احمد شاه بابا د باچائی په څورلسم کال (۱۱۷۴ هق) کښل سوې ده او راپور د رضا لائبریرۍ نسخه د انډیا آفس لایبریري تر نسخې یو کال وروسته (په ۱۱۷۵ هق) کې لیکلې سوې ده. دبابو جان سریانۍ قصیده په ۱۸۴۷ کال ډېرې پروفیسر دورن په پښتو منتخبانو کې له ۳۷۴ مخ څخه تر ۳۸۴ مخ پورې چاپ سوې ده، او راورتي د ګلشن روه په پښتو منتخبانو کې دبابو جان د کتاب یوه برخه را اخیستې ده څو دنشر ګمان یې پر کړی دی حال دا چې دیوانه رشاد په نظر نظم دی. په هر حال بابو جان د کلا وی نمونې دادي:

-۱-

سینه ستا کړه د دنیا مینی لتاره
دزړه مینه دی تمامه پسې لاړه

د دنیا له مینې هسې مبدل شوی
څه دروغ الابلادې کړه په غاره

محرمان مستحقان دی نامحروم کړه
دحرام پو بهتنه نکړی هر څه نغاره

هغه مال به دی بلاشی سیاه سر څه
لکه څوک خمز پرپاتګه وو زی له بیاله

تا به پیامو سی په دو سره ډیر عالم کی
ستا بشره به په سو سو نوکري لتاره

به مکر و نو به دي اخلی یو تر بله
هیڅ نیره به دي پرې نه دي نه ی ګذاره

ketabton.com - The Digital Library



که دنیادی همه‌واره سره یاسوین وی — هره تنګه به‌دی داغ کاندی له ناره
په صورت به دی داغونه کاله اوره — په عذاب به دی بشره کا ګرفتاره
انبیا له بخیلا نوروی ګردان دی — عرض به‌نه کا د ظالم بخیل دپاره
د بخیل په باب راغلی آیاتونه — عذابونه‌به ډېر سخت کاندی‌دوباره
د یابوجان په بیانو نو باورنکا — دهو چی بر خه شوی‌ده له ناره
(۲)دحاتم نوم به جاری وی تر قیامته — دا زل بخره یی وه له سخاوته
حاجتمن به نا اسیده تر ینه تلو — ورکول یی‌وبی‌اجره بی منته دسوالی
زره به یی روغ په مرحبا کړ — کایل نمه و فقیرانو له خد بته
هر سوالی چی به‌دده په‌ورحاضرشو — غه رنځور به فارغ روغ شوله
زحمته په شارونونی نوم‌ولاړ دسخاوت شو — پادشاهان یی په غصه شو شهرته
همت د خدای له خزانو دی‌یابوجانه — همتناک د ی ځښتن نه کا بی همته

ما خذ ونه :

۱ـ پښتانه شعرا ـ ۱/۹۰۱۹۶۱ ۲ مخونه

۲ـ د ګلشن روه سریزه ،

کابل چاپ ـ دپوهاند رشاد لیکنه له ۱م مخ څخه تر ۷م پوری

۳ـ شکرستان افغانی ـ ۳۳م مخ دلاهور چاپ

۴ـ ورکه خزانه ـ ۱/ ۳۱۴

۵ـ پښتو آریانا دائرة المعارف ـ ۴/۳۰۵

ketabton.com - The Digital Library



۱۳۸۱-با تکی کاکړ :

دانگر نر انو د استعمار دزمانی یو مبارزاو ننگیالی پښتو ن و ، چې د کا کړ و ستان دبو ری دسیمی د«میر ان» په کلی کی او سېد.

ډیر ی مجادلې یې کړی او په کا کړی غاړو کی ستایلی سو ی دی ،لکه چې وا یی :

د با تکی بیړ ی چلیږ ی

نا خو پرزی و لاړ یږ ی

ا نگر یز سترې سو ی په پښتو نسی با تکی په جها زو

ما خذ :

کا کړ ی ـ د سیال کا کړ رسا له ـ ۴۸ مخ

۱۳۸۲-باجو ړی :

پښتو ژبی شا عر و ، او د پښتونخوا د سو ات په سیمه کی او سېد ، د سو چیگر ی کسب یې کا وه او د یو ان بی نظیر په نامه یې د پښتو اشعار و یو دیو دان درلو د او هم یې یو بل اثر د بهارسد ینه په نامه چاپ سو ی دی د ا بیت دده دی :

با جو ړی چې د افسوس غزلی وایې په فر یا دیې د ا سمان لمنی سر کړ ی

ما خذ :

فر هنگ زبا ن واد بیات پښتو ـ ۶۵ مخ

۱۳۸۳ -باجوړی :

اصلی نو م یې سلطا ن خو د حبیب الله رفیع د ا لیکنی سره سم یو

ketabton.com - The Digital Library



هنرمند شاعروه چی د(۱۳۰۰ ه ق ) په شاوخوا کی یې په پښتو رکی ژوند کاوه او په شعر کی د پښتو ردنو روزمشهور شاعر دادبی سبک پیر و ه

ددی دیوی بدلی سر دادی :

مه کوه وړ و کیه ! هو سره ظلم بې نیازی

داظلم اوستم به خیری ستا نشی رو زی او دپای بیت یی دادی:

چاوی د نقدیر شوی باجوړی وته را پښی نن

چیرته باجوړ راو پښو روا پوزی

ما خذ :

کابل مجله ـ ۱۳۵۶ ه ش

۱۳۸٤ ـ بادر :

پښتو ژبی اولسی شاعر و ، او دده یو چار بیته د ارښتتر په خپل کتاب دپښتو نخواد شعر هار و بهار کی راوړی ده ، او له هغی څخه څرگند یږی چی بادر په داسی اولسی شعر جوړولو کی لوی لاس درلود .

په دی چاربیته کی یی ددیری فقیر بابا یاد کړی دی او دیری خودیو سفرو په سیمه کی د بیاگانو دیرمشهورکانی دی، نوداسی اتکل کیدای سی چی دی هم دیوو سفرودسیمی و،اوداچار بیته یی سوال او حواب په ترتیب ویلی د :

پیگا د ی یم و هلی سحبو با په کتا ر

و درسته شپه شو گیرو در ته ناست یمه پر کا له

ketabton.com - The Digital Library



بیگا دی یم و هلی محبوبا شوم زحمتی
اوس گرزم تهمتی
نری نری فریاد کړی زما زړه لکه توتی
شوم په سر و لمبو ستی
په هرځای کی زما شوردی ..
ستا د تورو سترګو په ما بیا راغله قاتی
چی دی واغوستی بناتی
شاه اوربل دی په مخ خوردی
بی هوشه لیونی شوم مدام ګرځم په میرو
شوم خوراک ددمنز رو نری رنځ می شه ترکاله
بیګاد یم و هلی ....
نری رنځ خودی زیاتیږی خله ګرځم پر بیابان
چیری و به کړی ارمان راشه کښینه په پالنګ
له خیاله می زنګیږی په سینه با ندی زلفان
په جبین باندی سهر ان
لکه ته سی شوی ملنګ
پرا ته سی په د لبارکی ستا په شان ډیر ملنګان
شه زلمی د قبرستان
دی و لاړ زما په څنګ

ketabton.com - The Digital Library



دادا سی نامسلم دی ورته کښېنه په زارو
عمر تېر که په خوارو
آخر دربه سې کړی تا له
پېگادی یم و هلی ...

---

که دادادی نامسلم دی ونه یم زړی د خوښی کار
زړگی بی دی پرهار
مدام څاڅی تر ینه وینی
کورلی ښاسا رانویم زېروت وستا په دلبار
چراو دی په سازار
روغ به نشم گل رنگینی
له دره خودی نه ځم که سی ووسېځی په نار
نه سرېږم په گفتار
په مجلس د نازنینی
ستر گی دی چغمخ خوله دی تو پکک ډک له چرو
شین خال دی په ابرو
سپینه خوله دی را کړه ساله
پېگادی یم و هلی...

---

سترگی سی چغمخ خوله سی تو پکک و کړه ترې پام
چی را نه شي سا ښام
بند یوا ن به شی د کور

ketabton.com - The Digital Library



په‌خپله سی‌خور کړی دی دتورو ځنو دام
چری ته‌به شي پدنا م
بل ستی به شي په‌او ر
داتاله‌وی ساتلي نری ژ به خوله اینام
در کو م به يي شا سدام
په تا وشه ظلم زو ر
راغلی سی‌وطن له مسافر دجز یر و
ژ و ند ی بنخ په اد یرو
خو ک يي نشته‌دفی الحاله
بیګادی یم‌و هلی....

---

راغلی یم دیدن له مسا فر دبل وطن
په‌مطلب ستا دد یدن
بیلتانه سی کړه سلاسا ته
«دوېرې» فقیر بابار او رسیږي په‌چستن
ز سا نه کیږ ی ر فتن
د ا سوال کو م و تاته
جلی راغیء ستاله‌غمه‌په‌ساو خت دځنکدن
نه‌به‌روغ شم په بد ن
نه‌به خلاص شم له پسا ته
«بادرشو» قلندر پی پسی تیپ ځی د سورو

ketabton.com - The Digital Library



شا ن يې نشته د مسر و
نن به نحی د کلا خو اله
پیگادی یم و هلی ..

---

مأخذو نه :

۱ـ پښتانه‌شعراء ـ ۲ر۳۹۵ مخ ۲ـد پښتنخوادشعرهار وبهار ـ ۱۰۲ مخ د کابل‌چاپ

۱۳۸۵ـ بادشاه گل(حکیم): حکیم بادشاه گل د حاجی فیض گل زوی په خته‌نیازی یو نانی طبیب او د پښتو ژ بې شاعرو.

«په(۱۸۸۴ م) کال د پېښور په‌ښار کې ز یږ یدلی،او د ینی علو م یې د کوهستان دملاصاحب څخه لو ستلی و و، په‌یونانی طب او حکمت هم پوهېده .

لو مړی په پېښور کې د«انجمن بزم پښتو» سکریټراوبیا دهغه انجمن ر ئیس‌وټاکل‌سو ، او دژ وند په‌پای کې په‌یو نانی‌طب بوخت و ،او په(۱۹۵۰ م) کال کې مړ سو .

دده اشعار و عشقی‌او اجتماعی بڼه درلوده‌او خو ادبی آثار یې‌هم‌چاپ سوی چی مشهوره یې‌دادی :

۱ـ او ښکې د عشق

۲ـ فراق نیازی

سو ز نیا ز ی

او دابیت دده دی :

په دیرخیال‌چی د رومی دا گلعذار خو که‌دي ... سر و قد غنچه‌د هن پریوارخو که‌دی

ما خذ :

فر هنگ زبان و ا دبیات پښتو ـ ۶۶ مخ

ketabton.com - The Digital Library



**١٣٨٦-بادشاه میر :** د پښتو اولسيي شاعر وا و پر اولسي او زانو يې شعرونه ويل .
په (١٢٩٨ هش) کال د پکتيا د خوست دسيمې ده يا نور اسماعيل خېل په کلي کې زيږيدلی و دده اشعار و په عوامو کې ښه شهرت او مقبوليت درلود او په (١٣٣٨ ش ) کال کې مړ دی -دابيت دده دی .

خه خو به درته پايم بې ديدنه شپې ګلونه دی
د پر و بيتورو سپينی ليچي با لښتونه دی

ما خذ
فرهنګ زبان وادبيات پښتو -٦٦ مخ

**١٣٨٧-با دوابر يدی :** دپښتو ژبې اولسي شاعرو ،او شعر و نه يې پراولسي وزنو و يل .
دننګر هار په په کردی کڅ کې اوسيدا و چو پاني يې کو له . دده ژوند ( ١٢٠٥ هق) کال په شاوخوا کې اتکل کيدای سي او په (١٢٥٦ ه ق) کال ديو ی دلی غلو له لاسه و وژل سو، اود ز کندن په حال کې يې هم ځيني بيتونه ويلي وو چې په عوامو کې د ير شهرت لری او يوه توته يې د داده :

نصيب مې نه و د محبت دغو اوركوکي ... با د و يې مړ کړ
وينه مې کړ ځي د بدن تو لو رګو کې ... با د و يې مړ کړ

ما خذ :
فرهنګ زبان وادبيات پښتو -٦٦ مخ

ketabton.com - The Digital Library



**۱۳۸۸ـ با ران آخو ند:**

ملا باران آخوند په خټه خوستی دکو یتي په پښتنو کې د ښه نا مه خاوندوسزاریې په کچلاغ پوری دی، ښځې بیځی د یری و رځی. دغه زیارت دعو امو په عقیده دکو شینانو د دیو لېوناروغیو دپاره ښه بلل کیږی.

**ماخذ:**

مزارات - دښاغلی سیال کاکړ لیکنه - ۱۶ مخ

**۱۳۸۹ـ باران یلکزی:**

دپښین د بازارگی دایکلزیو دکلی اوسید ونکی په خټه تو ر تر ین ایکلزی پښتو ن دخپل وخت لهنو میالیو غا ز یا نو او مبارزانو څخه و چی په (۱۸۴۲م) کی دانگیر یز دجنر ال ایگلیند دپو ځ سره په مړانه و وجنگید، اود ملی مبارز ینو په کتار و لاړو.

**مأخذ:**

پښتو او پښتانه په سهیلی پښتونخوا کی دپر وفیسر سیال کاکړ لیکنه - ۳۰ مخ

**۱۳۹۰ـ باران سنځر خیل:**

د کا کړستان دبو ری د روسا نی سیمی د ختکی نوسی کلی اوسید ونکی په خټه سنځر خیل کاکړ د پر نگیا نو د استعما ر دزسانی یو ننگیالی او نو میالی پښتو ن وا و په کاکړی غاړو کی یې ستاینه سوی ده چی وایې

باړان سړ سهتر زمیر دي

ketabton.com - The Digital Library



بارن سر مهتر زهیر دی
نن پر گرد سر مه خیل ویر دی
تور په کوته کی دی بندی
او من په پښتو گر ځی ژوبی

مأخذ

کاکړی دسیال کاکړ -۳۴ مخ

**۱۳۹۱- بار بکشاه لودی:**

شهزاده مبارک خان مشهور په (باربکشاه) د سلطان بهلول لودی زوی و سوریې بی بی شمسی ،یا بی بی شمسیه ، یابی‌بی‌شمسونو مېدله او ماما یې قطب خان لودی و.

په (۸۸۳ ه ق) کال چی دده پلار سلطان بهلول جونپور و ینو نو مبارک خان یې دهغه ځای پر تخت کښیناوه ، ختیز ی سیمی یې ورو سپارلې او د باربکشاه ، خطاب یې ورکی چی تر هغه وروسته په‌همدی خطاب مشهور سو ،او تر (۸۹۸ ه ق) کال پوری چی د سلطان سکندر زمانه وه بار بکشاه پر شرقي تخت ناست و باربکشاه په ډیر وجگړو کی د خپل پلار سلطان بهلول دلښکر و مشر و او هم د وسلطان بهلول مشر زوی گڼلی سوی دی ځکه نو د سلطان بهلول د سړینی پر وخت ځینو پښتنو امیرا نو دی دولیعهدی دپاره تر نظام خان ،خو ښاوه او په (۸۷۶ ه ق) کال چی سلطان بهلول دملتان دپناه و روړی پاچا شیخ یوسف ، په سر سته د پنجاب حاکم تاتار خان پر ملتان دبر ید دپاره وگماره دلښکر مشر توب یې

ketabton.com - The Digital Library



با ر بکشاه ، ته و سپاره ، خو د سلطان بهلو ل تر سړ ینی و روسته دلمر ختیز و سمیو

جا گیر دارا ن با ربکشاه ته پو رته سو ل او څینو اسپر انو ر داد سلطا ن سکند ر تحر یک و با له ا و بار بکشاه یې دسلطان سکندر مخالفت ته وپا راوه نو سلطا ن سکند ر هم د ( ۸۹۵ ه ق ) کا ل په پای کی د لمر ختیز- و سیمو وا ک خپلو غښتلواسیر انوته وسپاره اودجونپور په در بار کی یې هم خپل معتمدان وګمارل مګر با ربکشاه د اونه زغملای سو ای او دی یر ژر سلطان سکندرته پو ر ته سود « پټیالي حا کم عیسی خان اودبهر ایچ حا کم شیخ محمد پر ملی کا لا یهار هم و رسر ه مله سو ل عیسی خان د سلطا ن بهلو ل تر بو ر اوشیخ محمد پرملی دسلطان بهلو ل تربور اوشیخ محمد پرملی دسلطا ن بهلول خو ریې و . سلطان سکندرچی خبر سو نو هغه آن یې دلو انی اسماعیل خان په مشری یو تکړه لښکرجونپورته ولیږه او پخپله دیوه لوی لښکرسر ه دپټیالي خواته ونوخید، دعیسی- خان لښکر یې مات کی او پخپله عیسی خان یې و باد خپه د پټیالي حکو مت یې سلطان رای کهین ته وسپاره او تر هغه و روسته یې لوانی اسماعیل خان دروغی د پاره باربکشا ه ته و لیږ ه خو نا کامه راستو ن سو ، نو سلطان سکندرد جو نپو ر لو ر ته لښکری و لیږ د و لی له هغی خو ا با ربکشا ه هم دخپلو فو ځو او دشیخ محمد کالا پار دفو ځو سر ه مخ پر قنو ج روان سو قنوج ته نژ دی د و ا ړه لښکری سر ه مخا مخ سوی جنګ و نښت ، د جو نپو ر لښکر و ماته و کړه او با ربکشاه بدیون ته وتښتید ، سلطان تر شا به پسی واو هلته یې کلابند کی

ketabton.com - The Digital Library



بـاربکـشـاه مـجبو رسـوچې وسـله کـبهیر دی سلطـان چـی پـر خپل وروربا ربکشاه بری وسوند بیرته یې خوشاله یې کی ، د یرونازاوه جو نپور ته یې بوت او بیرته یې د جو نپور اولمر ختیز وسیمو واک ده ته پر پښو د خو په دربار کی یې خپل معتمدان ورسره و گمارل .

مأخذونه :

۱- لودی پښتانه

دپوهاند رشادتالیف - ۳۱۱مخ اونو رمخونه .

۲- تاریخ فرشته - ۲/ ۳۲۶

۳- سیر المتاخرین - ۱۳۷

۴- خورشید جهان - ۷۹مخ.

۵- تاریخ فرشته - ۱۷۹/۱مخ

۶- مخزن افغانی - قلمی - ۱۲۰مخ

۱۳۹۲ بارح هروی :

احمد دبارح زوی د هرات له نومیالیو محدثینو څخه وچې د پلار په نامه یاد یده .

ماخذونه :

۱- د دهخدا لغتنامه (ب) ۲۹۳مخ

۲- منتهی الارب

۱۳۹۳ - بارع پوشنگی هروی: د خپل وخت له نومیالیو

ketabton.com - The Digital Library



پوهانو او فاضلانو څخه و، او د« طرائف الطرف » کتاب دده تألیف دی .

ددهخدا په لغتنامه کی دانوم دوه واره راغلی دی ، یو وارد«بارع پوشنجي»
او بل وارد«بارع هروی» په نامه. خو څنګه چې په معجم الأدبا کی دا دواړه
نوسونه په یوه مخ کی راغلی دی نو داسي اټکل کېدای سی چې دادوا ړه یو
سړی دی ، ځکه چې پوشنج هم په هرات کی دی او نوم هم یو دی .

مأخذونه :

۱-معجم الادبا-۲/۱۴۳مخ.۲-لغتنامه (ب) -۳۰۳مخ .

۱۳۹٤ -بارک نیکه : د بارکزو د ټبرلوسړی نیکه ، او د سړبن د
ابدالیو ښاخ ته منسوب دی چې د کندهار لهجنوبه ترفراه پوری اوسی،او
دافغانستان د«محمدزی» طایفه دهمدې بارک او لا دده.

بارک نیکه د(۷٦۰ﻫ) په شا و خوا کی ژوند کاوه چې دنسب سلسله یې سړبن
ته داسي رسېږی :

بارک دسلیمان (زیرک -۷۰۰ﻫ) زوی، زیرک د عیسی زوی ،عیسی د رجړ
زوی جړ داو دل -یاابدال زوی (چې ابدالیان یې اولاده دهاود ٤٠٠ ﻫ
په شاو خوا کی یې ژوند اټکل سوی دی) او اودل د ترین زوی (چې د ٥٠٠ﻫ په
شاو خوا کی ژوندی و) او ترین دشرخبون زوی (چې ژوندیې د ٤٠٠ﻫ په
شاو خوا کی اټکلولی سوی دی) او شرخبون د سړبن زوی و .

مأخذونه :

۱-حیات افغانی -۲۳۹مخ

۲-دنوای معارک تعلیقات د کراچۍ چاپ -۷۹۰-۷۹٤ مخونه .

ketabton.com - The Digital Library



**۱۳۹۵ - بارو** : دتولربـا-تـوران زوی او د باباغلځی لمسی دغلځیو پښتنو له ذو مياليو نيکه گانو څخه و. دده نيکه «باباغلځی » د غلځيو پښتنو لوړی نیکه و، چی غلځی پښتانه و رته منسوب د ی،او دبا رو زوی «بابا هو تک» بیاد هوتکو دتبر لو مړی نیکه و، چی د هو تکو ټبر د ده او لاده ده.

مأخذونه :

۱-حیات افغانی- ۲۵٦مخ .

۲-خورشيد جهان -۲۱۰مخ .

۳-پټه خزا نه -۷مخ.

**۱۳۹٦ بارو خان نورزی** : داحمدشاه بابادوختونوسیالی خان او زړور مجاهدو، چی داحمد شاه بابا سره دبلو چستان او هند وستان په لو یوجگړ و کی سلگری و او د«عمله باشی سر کار خاصهٔ شریفه» منصب یې درلود ،او د «تاریخ احمدشاهی» مؤلف یې داحمدشاه په جگړو کی څو ځایه نوم یاد کړی دی ، مثلاً یو ځای لیکی: «حسب الفرمان قضاجریان خان جان خان وزیر پادشاه تائید سپاه تیمورشاه و انزله خان نسقچی باشی و باروخان نورزی و جمع دیگراز خوانین اخلاص شعار بافوجی ازعساکرنصرت مآثر بطریق سرعت ایلغار کرده خود را بشاه ولی خان وزیر رسانیدند»

بل ځای لیکی:«د روقتی که فرمان ده بحر و بر تماشای آن معرکهٔ فیروزی وفرسی فرمود باروخان عمله باشی سرکارخاصهٔ شریفه که ازبرای استخبار احوال هرطرف ترددبمیدان میکرد و دسته های افواج ظفرنمون را بهر جانب که ضرو رمیشد بموجب حکم همایون بجنگ میبرد آسده عرض

ketabton.com - The Digital Library



نمو د که‌از طرف کفار زو ر بر سمت سیمنه بسیار است اعلیحضرت قدرقدرت امیر خان چنداو ل باشی که سر کر ده ا یل جوا نشیر و درصغر سن جنگ آو ر بیهمال‌وفایق بر سعر که‌آرایان کهن‌است بادسته‌چنداولان‌اسر باطفای‌نائرهٔ شورش کافران نمو ده سقر رفرسودند کلا .... »

سأ خذ :

تاریخ احمدشاهی ـ دمحمود الحسینی المنشی تألیف د مسکو چاپ ۷۸۰/۲ او نو رمخو نه .

**۱۳۹۷ـ باره‌خان چپرهاری** : دپښتو ژبی‌او لسی‌شاعرو،او دننگرهار په‌چپرهار کی اوسید ده‌هم پر اولسی و زن او هم پر عروضی و زن شعرونه ویل . داسی اتکل‌سوی دی چی باره خان د(۱۳۰۰هق)په‌شاوخوا کی ژوندی‌و. دده له و ینا څخه ښکاری چی علمی زده کړه یې لکه څنگه چی یې زړه غوښته نه وه کړې څکه چی په یوه شعر کی وا یی :

کاشکی‌و ړو کتوبه ! په‌سایوځلی‌راغلی‌وی ساخولړو ډېر سبق په‌خپل عمرویلی‌وی
زیره سی‌شوه‌سپینه‌غا ښ‌سی‌وواته کنداس‌شوسه نه‌به‌وسه‌داسی که‌سی‌پند‌دچاسنلی‌وی
تش شعر به څه کړم چی دنو رو پیروی کوم

نسوی کو ر (۱) به ما لکه « تو کـل » څان ته سو نډلی وی دده د ا شعارو د ږې نو ری نمو نې داد ی : (۱)

ستا غمو نو لیو نی لکه مجنون کړم
بې له تا به لیلی نو رځنگه ژ و ندون کړم

---

(۱) کو ردلته دو زن او بحر په‌معنا استعمال سوی د ی .

ketabton.com - The Digital Library



تاپه‌داسی غشی نه یم‌سوری کړی　چی‌علاج یې‌په دو اد افلا طو ن کړم
ستاسودا را باندې هسی شو ه غالبه　د آهو په خپر حیا ت په سپږ تون کړم
دغه‌پېتی‌دی‌تر داسی‌حده دروند دی　چی‌یې ژ و ندی‌په‌څمکه‌ښخ لکه‌قارون کړم
باره خانه! داشنا غمو نه ډېر شو　چی‌اخته‌یې‌په‌خپل غم‌اوجگر خون کړم

(٢)

سترگی دی ډ کی‌تمانچې‌دی‌بانه‌غشی‌لري
که‌یو خطا شی‌په‌کمان را ته‌دو یم‌سوروې
زه به‌دستا کمه نادو د ه زړه ته‌ونیسمه
په‌غرغره سی‌دښمنو ر غو ندی دایم سوروې
په‌دوه خالو دی لاځما دقتل سو د ه نشی
زساد قصده لا په دې دو اړو در یم سوروې
دخدای دپاره په‌خپل لاس سې خو ن بېلې‌درته
رقیب و لاړدی ساپه د اردل وجانم سورو ی
دباره خان و یل که‌هر خوسره‌ساده‌ښکار یږی
ساده غز له ته‌په زخم ښه سلهم سوروې

-٣-

## چاربیته

په‌سرو لبانو دی پېزو ان و هی ټا لو نه کنه
زلفی چا لو نه کنه

ketabton.com - The Digital Library



ستر گی دی تو ری جلي زلفي سمسو ري جلي
ستا په تندی کي عجب خو ند که شنه خالو نه کنه
زلفي چالو نه کنه
وخت دبهاردی جلي وطن گلزارد ی جلي
راځه چي دوا ړه دباغچو و کړو سيلو نه کنه
زلفي چالو نه کنه
بي تاسي تاب کله وی په سا کي آب کله وی
سا په شا کړی ستا غمو نه غرو نه غرو نه کنه
زلفي چالو نه کنه
د باره خان خبری درو سرجان خبری
زساد شعرنه قربان شه نور شعرو نه کنه
زلفي چالو نه کنه

مأخذ:

پښتا نه شعرا - ۲/۳۳۶ مخ.

۱۳۹۸ -باره خوبابا: نو مي ي سلک باره خان دسو سي بائي زی زوی دبا ئيزو دقبيلي يو نو سيالي شيخ و چي د کلپاني استيشن په سيمه کي د کلپاني درو د پر ختيځه غاړه شيخ دی او زيارت يي د«باره خو بابا»په نامه يادېږی.

مأخذ:

حو اشي -تواريخ حافظ رحمت خاني-په ارد و، ۳۸۶ مخ.

۱۳۹۹ -بازار کاکړ: حاجي بازار کاکړ دبلو خستان د«ژوب» دسيمي

ketabton.com - The Digital Library



عوامی شاعرو» او په پښتو ژبه یې پراولسی او زانو شعرونه ویل .

دی په(۱۹۷۰م )کال کی مړ دی .

مأخذ :

فرهنگ زبان وادبیات پښتو -۱/۶۸ مخ دکسې لمنۍ پښتانه لیکوال د و هم توک په حواله .

۱۴۰۰ - **باز** : دپښتو نخوا د «پکلی»دسیمی نوسیالی او لسی شاعرو چی دهغی سیمی دذوق د خاوندانو او س هم دده شعرونه په یاد دی .

دی د(۱۳۱۰ هش) کال پهشا و خوا کی مړ دی .

مأخذ :

فرهنگ زبان و ادبیات پښتو -۶۷ مخ .

۱۴۰۱ - **بازبهادر سور**: بایزید د شجاعت خان سورزوی مشهور په سجاول خان دهند په مالوه کی د شیر شاه سوری لهخوا سپهسالارو .

په ۹۶۲ ه کال کی دپلار پر ځای کښېنوست اوپه ۹۶۳ ه کال کی یې خطبه پهخپل نامه وویله او ټوله مالوه یې تر لاس لاندی کړه ،خو په پای کی په عیاشی بوخت سو ،او څنګه چې یې د موسیقی په فن کې لوی لاس درلود او داستادی مقام ته رسیدلی و ، نوخپل ټول همت یې هغی خواته وګماره ، او پر یوې ښکلی سندرغاړې« روپمتی »نومیدله مین سو ، او د هغې پهمینه کېیې ډېر شعرونه ویلی او د ددوی دمینیداستانونو په هندکی شهرت درلود .

په ۹۶۸ ه کال چې ادهمخان کوکه د نورو امیرانو سره داکبر پاچا

ketabton.com - The Digital Library



په وختو کې دسالوه نیولو ته وګمارل سو، نو باز بها در د سارنګپور په‌دوه ګروهي کې و رسره وجنګېد خو ما ت سو، مګر خه سوده و روسته یې بېرته مالوه و نیوله.

دی په‌اجین کې‌دده دعشوقې «روپ‌متی» تر څنګه پر یوې غونډۍ ښخ دی.

مأخذ:

مأثر الامرا ۱/۳۸۷ مخ

۱٤۰۲ - باز توخی: ملاباز توخی دهوتکوددوري د پښتو ژبې نوميالی اوبدیهه ویونکی شاعرو، په ۱۳۱۱ هق کال دزابل د«اتغر» په‌سیمه کې‌اوسېد. دهغه وخت ستداوله علوم یې‌په هندوستان کې‌لوستلي وو، او په تېره یې بیا په فقه کې‌لوی لاس درلود او دمنطقو او حکمت تدریس یې‌هم کاوه.

د پټې خزانې مؤلف محمد هوتک یې نژدې ملګری او همرازو، او هغه دده په باب کې داسې لیکي:

«ملاباز توخی په‌اتغر کې اوسي او په اصناف داشعارو کې‌ادستادی، غزل او رباعي وایي او دشاعرانو انبازدی، او زما چې محمدهوتک یم همرازدی کله‌چې قندهار ته راسي، زمو بر مجلس په‌تو دوی او یاران دده له لطافته‌د طبع ممنون، ملاباز مبادی دعلومولو لوستی، او په فقه شریف کې‌تیاردی، کله منطق او حکمت لولي او خپلو شاګردانو ته یې درس ورکوی، دمخه په ابتدأ دخوانی‌تللی‌و، او په هندوستان بې‌له‌استادانو لوست کړی»

بیانو د«لطیفه» ترعنوان لاندې‌دده یوه‌توکه‌چې‌دده ذطبع ظرافت او بدیهه ویل ښه ځیني ځرګند یبزېد اسې‌را وړی

ketabton.com - The Digital Library



## لطیفه

«کله له کلاته ملاباز راغیءاو په قند هارکی زماپلمه سو ، دستی ماچرگ حلال کا، او طعام می تیار ، چی دسترخوان راغی ملاباز هسی شعروو ایه:

پر کورویې رسې کرزی          د باز بر خه یوچیچی دی
د باز ښکا روی د غرخنو          او س می‌بس‌ها سپینکی‌وری دی

ماژرهغه سپین وری هم حلال کا، او دسپامه میلمستیا ته‌ می پوخ کا»

ملا باز پراو لسی و زن شعرو نه و یل، چی‌یوه بدله‌یې داده :

راسه پرخنگ، راسه لیلی، ته‌می‌نږدې سه‌لهٔ د ل
یمه‌زخمی چی‌می و نه‌نجتې په‌خوږ زړه منگول

---

راسه پرخنگ ،راسه لیلی، ولی‌له ماکړې بیلتون
داستا له‌غمه می‌زړکی دی ، په‌سروو ینو گلگون
که‌هرڅو تښتم نه‌پریږدی می ستا د عشق شوا خون
زه نه‌خلاصیږم له‌غمازم په لړدنه په‌تلل

---

راسه پرخنگ،راسه‌لیلی، چی‌دی په‌زړه کم ملهم
داستاپه عشق کی‌می‌ترشا کا ددنیا و اره غم
حساب کتاب مجلس می‌واره کاستا مینی برهم
لاروړته نسته چی دی کښېنوم دروڼ په کوگل

---

راسه پرخنگ ،راسه‌لیلی، چی‌دی په‌زړه کم پوری
کچل درو اخله دواړی سترگی به دی زه کم توری

ketabton.com - The Digital Library



لیدل به ستاد سخ کوم ، اند یښتني په نه کم نو ری
په کارسی نه دی ستا بې مخه د جنت ز یړ گل

---

را سه پر خنگ ، را سه لیلی، چی سره و کړو خو اله
پر تا مین یم بې له تا سی نسته هیڅ ا نـد یښنه
زه دغرو «با ز »و م ، تا بندی کړ مه قفس کی پر خه؟
یو وارې خلاص که، چی باز ده کړ م دو ز ر خپرو ل

مأ خذ :

پته خز انه -٥٠١ مخ .

## ١٤٠٣- باز جنگ خان :

دلوی احمد شاه بابا لەخوا د پنجاب دخلو رو و لایاتو حکمرا ن و، چی د « تاریخ احمدشاهی » مؤلف یې څو ځایه یا دو نه کړی ده او د ډهلی دباچادو ز یر غازی‌الدین او دجیو نسیک سر ه یې د هغه جگړې او مبار زلیکلی دی .

مأخذ:

تاریخ احمدشاهی-دمحمو دالحسینی المنشی تالیف-دمسکوچاپ ١/ ١٥٦١ر ٦٠١مخ.

## ١٤٠٤ - بازجو گیزی :

با زخا ن د محمد نو ر زوی ، د مر غی لمسی او د ا سحا ق کړو سی په ختیه جوگیزی کاکړ او په جوگیزو کی علی‌زی سنځر خیل د کاکړ- ستان د«غو ئی» نو سی کلی او سیدو نکی له هغو مبار ز انو څخه و ،چی د پر نگی نو کری (میجری) یې پر یښوو له او د پر نگی استعمار چیانو داستعمار پر ضد یې ملاو تړ له، افغانستان ته را افر اره سو.

ketabton.com - The Digital Library



هغه وخت چې په تېرو لهپښتو نخوا کې دافغانستان داستقلال په باب د پرنگیانو پر ضد مبارزې پیل سوې نو بازجو گیزې هم په (۹۱۹ ۱ع) کال دانگر یزانو سره په‌سړانه و جنگیده.

پروفیسر سیال کاکړ لیکي چې :

«په دغه شپو کې د کلاسیف الله تحصیلدار یا په بله ژبه ولسو ولسر دار جعفر خان محمد زي‌و، هغه دوروگلوي پر اساس بازجو گیزی‌ته یو خو دیاشتي و رانـدی لاخبر تیاو رکړی‌وه، چې‌غورځه پرنگیان دی‌و ژنی بازوپه‌ځان پرسوي، تیاری‌یې و نیوله، خپله اسپه یې نـه‌وه پر یوه بله‌اسپه‌سپورسو، څه وخت چې مبر ن‌ته‌ورسیده، نو له‌ر وه پرخپله‌اسپه‌سپورسو، خو له‌بده‌سوه، داسپې شاشئي نه‌وه، او له‌بلې‌خوا په‌بازجو گیزی‌پسې دانگر یزانو رساله‌وه په‌دغه‌سابین کې اسپې سلې سبار زتس کې، چې په‌نتیجه کې د هغه‌اد و مغوت‌مات‌سو- په‌دې‌باب فو لکلو ری اشعار جوړسوي‌چې دبیلگې په‌توگه دلته و ړاندې کیږی:

بازدنه‌یو و ړترتېاکه (۱)
پښې دی‌ساتي سه‌بو راکه

پښې دی ساتی‌سه‌خار پایه
«باز» دی‌نه یو و ړتر ځایه

څه‌وخت چې‌دبازجو گیزی‌ورون مات، سونو رساله‌بیرته و گرځیده، البته‌دغلیم‌له‌خوا ایوچاتیکری‌و رواهه

---

۱- تېاک تگ‌دو یش په‌معنا.

ketabton.com - The Digital Library



چې سندې مه‌و اهه راسه - خپل ارمان پوره که »

د دې خبرې په اوریدلو سره د بازچه پاڅ انقلابي سو ، تو پنګچې ته‌یې لاس کې ، چې په نتیجه کې یو سیك سردار او دوې اسپې سرې سوې ، او بازجو ګیزی پخپله په همدغه و ار پخپل کلي‌پورې پر کمکې ډګر باندې په (۱۹۱۹ع) کال کې د پرنګیانو دلاسه په‌حق و رسېد.

بازيې‌سر کې‌سره‌غرسه ده
پر روب پنه‌ه سلیشه ده

د پښتنو دملي استقلال مبارز عسکر بازجو ګیزی پس له سر ینې د «خوسنوب» په‌ادیره کې خاو رو ته‌و سپارل سو.

په‌پای کې د پښتیالې فرزند بازخان‌جو ګیزی په‌باب یو شمیر فولکلو رې‌غاړې چې سادخلکو له‌خو لو څخه راټولې کړې او دلته د کتاب پاڼو ته‌سپارل کیږي:

پر شرع دنبې -

«باز»و « شیر ک »و زنې ګو ر کې
بازيې سر کې سیك په زو ر کې
سپین شیر ک به و لا ت نو ر کې
با زيې سر کې په سیکا ن
زرغون‌یايي و رو رمه دې‌دیوا
چې د با زېر و ینو و رسې
په‌پښ « سخ ماهدخان » ترسی (۱)

---

(۱) تېر سی .

ketabton.com - The Digital Library



با ز یی سر کی لا سې پرې دی
جنګ پر غاړه د ویلې دی

بازتیې دی‌ورو ن یې پرې‌دی
جنګ پر غاړه د لوړې دی

و ړسی راله دسیک سکاڼه
اوس لنډی (۲) کاړه با زخانه

باز دنه ورلی(۳) ته‌ځایه
پښې دی ماتی سه‌چار پایه

دچرګی (۴) کو لمې دپرې کې
بازه لاندی رسا لې کې

وردنه وړی ته‌توپکه
پښې دی‌ولو ړه‌چابکه

غاښې سپین‌خو نکې سرې
دباز په‌رنګ‌نسته جوړې

با زه وله تو پنچې
دو تر دو او ښتئی اوس سرې

بازیې سر کی عمی (۱) کښېنه
اسپل را وړه دروا زې له

---

(۲) تو پنګچه.

(۳) وروړی.

(۴) اسپه.

(۱) دباز خان‌دما ندینې نوم و.

ketabton.com - The Digital Library



خو د بې زاړی ناو کی
تر باز دسر و و زی گو لی»

مأخذ:

پښتو او پښتانه په‌سهیلی‌پښتو نخوا کی د پر و فیسرسیال کا کړ اثر—۳۷۲ مخ.

۱٤۰۵ ـ باز خان بنگښ :

باز محمد مشهو ر په « باز خان » د سر دار محمد مظفر زوی ، پـه‌ختـه بنگښ د پښتو ژ بی شاعر و ، چی په ( ۱۸۳۰ ه ش) کال په تیرا کی زیږ یدلی او په (۱۹۱۷ م ) کال په هنگو کی مړ دی .

دی مجاهد شاعر و ، او په جهاد کی یې بر خه اخیستې و ه ، داشعار و یو دیو ان یې درلو د او دشعر و نو یو ه مجمو عه یې او س هم شته— دابیت دده دی:

باز خان هیڅ‌سیالی دشعر له چانه کا
دی تابع د شاعری له رحمن راغی

مأخذ:

فر هنگ زبان و ادبیات پښتو—۹٦ مخ.

۱٤۰٦ ـ باز خان ننگر هاری :

د پښتو ژ بی او لسی شاعر و ، شعر و نه یې د او لسی آهنگو سـره سم و یل ، او تر ( ۱۳۳۰ ه ق ) کال دمخه دننگر هار په سیمو کی ا و سید .

دیوې بدلی دوه بیتو نه یې دادی :

زخمی‌می‌دزړه سر دی بانه د شاه شتی دی‌نا
اغو ستی یې رنگین دی زلفان یې گو ړگو تی دی‌نا

ketabton.com - The Digital Library



په بند کې دمو زې دې چاپیر ځینې څو کې دی نا
باز خان پسې زهیر دې خوانې یې خاورې کېږي نا

مأخذ:

فرهنګ زبان و ادبیات پښتو—۹۹مخ.

**۱٤۰۷ -باز ر خان خول خېل:**
دسهیلي پښتو نخوا دمر انیو دخول خیلو دتبر یو نو میالي غازي و، چې د«و لوست» په کلي کې او سیداو د پرنګیانو په استعماري دوره کې ئي په سلي مبارزو کې برخه اخیستلې

مأخذ:

پښتو او پښتا نه— دمیال کاکړ— ۱/۳۸۲مخ.

**۱٤۰۸ - باز گل لغماني :** د پښتو ژبې شاعر او د شیخ احمد خان (۱۲۰۰ه ق) شاګرد و، د لغمان په سیمو کې اوسیداو پر او لس وزنو یې شعر ونه ویل. شیخ احمدخان یې دخپلو شاګردانو په کې ډله داسي یادوي:

بل مې باز ګل دې چې مدام کې چپاو ونه
په زړه مې او رې ستا غمونه اسبارونه

مأخذ:

فرهنګ زبان و ادبیات پښتو— ۹۹ مخ.

**۱٤۰۹- بازګل (ملا):** ملا بازګل اخونزاده ددیني علومو عالم او د یوناني طب طبیب او د پښتو ژبې نومیالی ناظم و.
ددیرلسمې هجرې پیړۍ په سر کې په پښتنو نخوا کې اوسیده، اویو کتاب ئي په پخوانی طب کې دشافع الاسراض په نامه په پښتو نظم کړی و، چې دپای دوه

ketabton.com - The Digital Library



بيته يې دا دی :

دانسخه شو له تما مه

در ته و ايم نيکه فرجامه

له دسته د« بازګل »

په همزو کی دی ګل

مأخذ:

فر هنګ ژبان و ادبيات پښتو —٦٩ مخ .

١٤١٠ ـ **باز محمد کاکړ** : دپښتو ژبی شاعر او په ختيه سر دانزی کاکړو ،
د کندهار د ښار دپو پلزو په کوڅه کی ا و سيد .

دينی علوم يې لو ستی و و ، او دقرائت په علم کی ښه معلومات در لو دل، او
په(١٣٠٦ ه ش ) کال يې يوه رساله دتجو يد په علم کی و ليکله .

دده شعر و نه د کندهار په خپر و نو کی خپاره سوی او دا بيت دده دی :

هر صنعت يې نا تمام د ی له بيا نه

ځکه نن باز محمد خو ښ په اختصار دی

مأ خذ :

فر هنګ ژ بان و ادبيات پښتو — ٦٨مخ.

١٤١١ ـ **باز محمد کندهاری** : د پښتو ژ بی شاعر اوپه خطاطی کی د
نو سيالی خطاط غلام جيلانی پيښو ر ی شاګر د و .

په کندهار کی ز يږ يدلی خو په پيښو ر کی او سيد ، اوددير لسمی هجری
پيړی د پای له شاعر انو څخه ګڼل کيد ه .

ketabton.com - The Digital Library



دابیت دده دی:

سره لمبه ده په بازار کی چی بلیږی

هر سړی چی ورنژدي شي دی سوځیږی.

مأخذ:

فرهنگ زبان و ادبیات پښتو — ۶۸ مخ.

**۱۴۱۲ — باز محمد کند هاری** : دپښتو ژبی شاعر اوخطاط و،له کندهاره بنوته او له هغه ځایه بیا پیښور ته تللی و — دخو شنو یسی زده کړه یی د پیښو رپه ښار کی له مولانا غلام جیلانی څخه کړي وه،او په ۱۲۸۷ ه ق کال یي د پیښور په مطبع مصطفی کی کتابت کاوه اوخو کتابه دده په خط په ډبرین چاپ طبع سوی دی.

څه وخت بمبئی ته هم تللی و،او هلته یی پښتو کتابو نه دچاپ دپاره لیکل.

ده په پښتو شعر هم وایه، داشعر دده دی:

سره لمبه ده په بازار کی چی بلیږی
هر سړی چی ورنز دي شی دی سو زیږی
دیرعالم به ور سره اور ته را ارتاو کړی
د هغو په زړه کی سري لمبی بلیږی
هرسړی چی زه پو ښتم دی راته ژاړی
او شهره یي و رځ په و رځ پسی زیاتیږی
په دی وخت کی اوس خبری په پیسو شوي
بي پیسو جواب وچا ته نه ردیږی

ketabton.com - The Digital Library



اوهغه چې بیا کم‌ذات وی په دنیا کې
چې پیسه په لاس و رځي په هوا کېږي
بازمحمده که ایمان دی سلامت شي
په‌عقبې‌بدی‌هم دی‌یوپه‌کا ر یږي

مأخذ:

تېر هېر شاعران — ۳۰۲ مخ .

**۱٤۱۳ - باز (ملا):**

ملاباز په ختهٔ سالارزی دپښتو نخوا په« جندول » سیمه کې اوسید ، او دپښتو ژبې اولسی شاعرو ، او په اولسی اوزانو يې شعرونه ویل . ددینې علوسو په‌سبادیو هم پوهیده او په‌عواسو کې يې په«بازملا»شهرت درلود، او د(۱۳۱۰ هش) کال په‌شاو خوا کې مړ دی، دايې ديوې بدلې سردی

یا ها رستا د گردن دی
یا سر دی یا بر یښنا ده
یا توره د پولاد و
یا سترگه د لیلا ده

مأخذ:

فرهنگ زبان وادبیات پښتو — ٦٧ مخ.

**۱٤۱٤- بازون خول خېل:** ملابازون په ختهٔخول‌خېل درانی‌دسهیلی پښتونخوادهٔ غل کوچنو‌دی او سېدو نکی‌دخپلو ختهٔ بارز شخصیت‌تېر سوی‌دی. څه وخت چې پرنگیانوسرتضی خان اوبه خېل غازی په‌خند کیو و خوړ، نو ده‌رانی‌یوسشرتوب ملا بازون خول خېل ته وسپارل سو. داهغه ورځې وې‌چې‌د پر -

ketabton.com - The Digital Library



نګيانو يرغلګرو د«درازنده»سيمه ترخپلو استعما ری چمبولاندی راوستلي وه.
سلابازون دسرتضی خان سلی سنګر«خوږ بینی »ته ولاړ، او دمرانیوشا زلمیان
يې سره را يوځای کړه ،خوله بده سرغه پرنګيانو دشپې دسلی سجا هدينوپرسنګرراو
ګرځېدل او سلابازونيې و نېو ، او په ولسی سند رو کې د اسی یا دسو:
سرې سترګې د بازدی لنډی ځنې له غوږوسره رالئی سپین بازون لکه زسری له ځنځيروسره
بيا و روسته پرنګيا نو سلا بازون او يوشمېرنورسرانی دجا هدين د« خوږ»
کلاته بوتلل او هلته يې بنديان کړل .

سأخـــذ

پښتو او پښتانه دسيال کاکړ - ۱-۳۷۴ مخ

### ۱٤۱٥ - بازيد :

د پښتنو دبائی زی قبيلی لوسړی نيکه وچی دری زامن بيتون سهيل سليمان
او بابو» يې درلودل ، او ددې دروسر وزامنو په نوسو بېل بېل خپلو نه شهرت لری.

سـأخـذ: حواشي-تواريخ حافظ رحمت خانی -په اردو ۶۳ مخ

### ۱٤۱٦- باز يد خان افغان :

دسېلمان خان زوی په هندستان کی له نوميالیو افغا نانو څخه ؤ ده په ۹۸۰ ه ق
کال کی د پلار تر مړینی وروسته د هند د«بهار» دحکو مت واګی په لاس
کیو اخيستلی او په پا ی کی ديو بل افغان په لاس چی دده مخالف ؤ، و وژل سو

سـاخذ و نـه:

۱-تاريخ بهار-۱۷۲، ۱۷۳، ۱۷۵،۱۹۴، ۱۹۷ مخونه

۲-دهند په تاريخ او مدنيت کی دافغانانو برخه( خطی) - ۸۶ مخ

ketabton.com - The Digital Library



## ۱٤۱۷- باسطی کابلی الاصل:

بنده علی خان باسطی چی سوریې د شیرافگن خان کابلی لوروه په هندکی او سېداو ددری ژبې شاعرو. څنگه چی دده پلار د کابل له غتانو څخه و، نوده هم لوړی « شیرافگن » تخلص کاوه- خوو روسته چی د لکهنو په ښار کی دشیخ عبدالباسط مریدسو، نوخپل تخلص یې په «باسطی» واړاوه،اود «تذکرهٔباسطی »په نامه یې یوه تذکره هم و ایکله، اوپه شعرکی دشیخ محمد علی حزین لاهیجی له شاگردانو څخه گڼل کېده ،او دادوه بیته دده دی:

آن گلرخ شوخ دلستان را آرید — و آن لاله عذار نو جوانرا آرید

یا در قدم او برسانید سرا — یابر سرم آن سرو روان راآرید

مـــــــأخـــــــذ:

۱-ددهخدالغتنامه (ب )۳۲۳ مخ — ۲-قاموس الاعلام ترکی- ۱۱۹۷/۲«

## ۱٤۱۸ - باشانی هروی:

ابوسعید ابراهیم دطهمان خراسانی زوی دهرات دباشان دکلی و اود تابعانو یوه ډله یې لید لې وه چی یو له هغو څخه عمرو بن دینا رو او په (۱۶۳ هـ ق ) کال پهمکه کی مړ دی .

مأخذ:

ددهخدالغتنامه(ب) . ۳۳ مخ

## ۱۳۱۹- باشنانی هروی :

ابو عبدا لله محمد داحمد زوی د عبدالله باشنانی‌نمسی دخپل و خت له

ketabton.com - The Digital Library



مفسر انو څخه و ، او د هرات د باشنانو کلی ته منسوب دی خو دا «باشنان شاید په اصل کی باشان» وی .

ماخذ :

ددهخدا لغتنامه (ب )۳۶ ۳ مخ

**۱٤۲۰ ــ باشهید نیکه :**

په خته ملا زی سنحرخیل کاکړ روحانی سړی و چی د کاکړستان د «هرنائی » په سیمه کی د خوکالی په هدیره کی ښخ دی، او خاص و عام یې زیارت ته ورځی

مأخذ

مزارت دښاغلی سیال کاکړ لیکنه ـ ۵۸ مخ

**۱٤۲۱ ــ باصر حاکم شاه :** دگلزار زوی دپښتو ژبی شاعر و چی په شعر کی یې باصر ، تخلص کاوه په (۱۹۱۹م) کال په (لوارگی ) کی زیږید لی او په (۱۹۵۰م) کال کی مړ دی .

په شعر کی یې روانه طبعه درلوده هم یې پر کلاسیک طرزاو هم یې پر اولسی اوزانو شعرونه ویل ـ دده دیوې پسرلنی بدلی سردادی

نن بیاپه گلستان پسرلی شولو خندان نن بیاپه گلستان .

ماخذ :

فرهنگ زبان وادبیات پښتو ـ ۷۰مخ

**۱٤۲۲ــباطنی بلخی :**

ددری ژبی شاعرو ، په بلخ کی اوسید .

امیر علیشیر نوایی په مجالس النفاس کی لیکی چی باطنی ساده اوفقیر

ketabton.com - The Digital Library



سړی و حج ته هم تللی و دابیت دده دی :

بسکه داری تنګ دل ای غنچه خندان مرا

جان ز دل آمد بتنګ و دل ګرفت ازجان مرا

ماخذونه

۱ ـ مجمع النفایس ـ ۸۲،۲۵۶ مخونه

۲ـ د د هخدالغتنامه (ب) ـ ۶۳۳ مخ

۳ـ قاموس الاعلام ترکی ـ ۱۱۹۹/۲

۴ـ صبح ګلشن ـ ۵۰ مخ

## ۱۴۲۳ ـ باعوف (۱) سیستانی:

دعبدالرحمن زوی او دبزیع نمسی دسیستان دخوارجو نوميالی مشر وچی د(۲۱۵هق) کال په خلرمه خور (جمادی الاخر) کی چی دخوارجو بل مشر ابو اسحاق دخوارجو له مشخه وتښتید نو خوارجو دابا عوف سره بیعت وکی ـ ده هم دسیستان دخپلواکی دساتنی دپاره دعوبودعمالوسره سخت جنګونه وکړه.

ماخذ

تاریخ سیستان ـ ۱۸۰،۱۸۲،۱۸۳ مخونـه .

---

(۱) دانوم یو ځای اباعوف ،هم لیکلی سوی دی،خونور ځایونه دباعوف په شکل راغلی ،مګر ملک الشعراء بهار دتاریخ سیستان دکتاب په فهرست کی ابو عوف ، راوړی دی .

ketabton.com - The Digital Library



### ۱۴۲۴ـ باغون مسه خیل:

د کاګړ و دمسه خیلو یو پیاوړی نو میالی و ، چې دبوړی د تلسیل سیه خیل دمیر دازی په کلی کی اوسید دپلار نوم یې زدون واو د هغه ځای په پښتنی ، غاړو کی یادسوی دی چې وایي :

نا صری یتکی تر سر  باغون د ګړدمسه خیل سر

توپک نه دی ګنج مشین دی  خانه و زنی د باغون دی ،

ماخذ :

پښیواو پښتانه دمیال کاکړ ۱ ـ ۳ م ۳۱ ، خ

### ۱۴۲۵ـ باقر ذوالکمالین هروی:

دمیر علی هروی پلار او دنهمی هجری پېړی لهنو میالیو پوهانو څخه و ، چې د ابو القاسم رفیعی بهر آبادی د«خط وخطاطان»دمؤلف پهقول یې پهعقلیه اوفضلیه علوموکی ساری نه درلود ، او دفضل او کمال پر آسمان یوځلیدو نکی ستوری و . د ښه خط په لیکلو کی دخپل وخت له استاذانو څخه ېلل کېده او په تېره بیا دخط پهقوانینو او ضوابطو کی لوی لاس درلود .

دمیو کتاب دخواجه نصیرالدین طوسی دهغی شرحی پهرد کی لیکلی دی چې هغه دشیخ الرئیس ابوعلی سینا پر اشارات لیکلی وه .

یو وخت له هراته هندوستان ته ولاړ او هلته دلاهور دحکمران جیپال چې د ده په کمالاتو او فضایلو خبر سو ، نو یې ډېر وناز اوه ، او ځینی و غوښتل چې یوه ښکلی مرقع ورته و لیکی ده هم ومنله او ډېره ښکلی او نفیسه مرقع ورته ترتیب او بشپړه جیپال ته یې وړاندی کړه جیپال یې پهلیدو خورا ډېر خوشال سو ،

ketabton.com - The Digital Library



او خلو رزره طلا وی یې و رو بخښلی ، خو د ده لو ړ همت هغه صله و نه منله، اوپه اوو ه اتیا کلنی کی مړ سو .

ماخذ:

۱— پیدایش خط و خطاطان دحاجی میرزاعبدالمحمدخان ایرانی تألیف — ۱۴۵ مخ .

۲—خطو خطاطان— دابو القاسم رفیعی مهر آبادی تألیف —۲۰۲۳ مخ.

۱۴۲۶— **باقر شاه** د پښتوژبی غزل ویونکی شاعراو دمطیع الله پیره خیل معاصرو ، د (۱۲۰۰ ه ش) په شاوخوا کی یی ژوند کاوه.

مأخذ :

فرهنگ زبان و ادبیات پښتو — ۷۰ مخ.

۱۴۲۷— **باقی بالله کابلی**:خواجه باقی با لله کابلی دلسمی هجری پیړی له نومیالیو پوهانو او روحانیو نو څخه و ،چی په (۹۷۱ ه ق) کال دقاضی عبدالسلام له صلبه په کابل کی زیږیدلی دی چی و روسته په طریقت کی دنقشبندی سلسلی له ستر و زبرگانو څخه سو ، او دحضرت مجدد پیر و .

دی د ۱۰۱۲ هق کال دخلرمی خورپه ۲۶ دوشنبی په ورځ مړ او دهند په دهلی کی ښخ دی دخزینة الاصفیاء مؤلف مفتی غلام سرور لاهوری لیکی چی:

«خواجه محمدباقی نقشبندی از بزرگان و قت و مقتدای زمانه واما مان عهدخود بود بکمالات ظاهری و باطنی آراسته و بجذب و عشق وصحبت پیراسته و بزهدو تقوی معروف و باوصاف کریمه موصوف و نسبت اویسی بخواجه بهاءالدین نقشبند و نسبت ظاهر بخواجه امکنگی داشت و از روحانیت خواجه

ketabton.com - The Digital Library.



عبیدالله احرار فایدهٔ وافر گرفت— د راوالپنډۍ از کابل بسمرقند رفت و بعد تحصیل علوم ظاهر کسب علوم باطنی از خواجه احرار ګنګی نمود و صاحب تصانیف و تو الیف شد» .

دده په علمی آثارو کی «سلسلةالاحرار» کتاب شهرت لری او سربیره پر هغه خواجه باقی بالله په دری ژبه شعر و نه هم ویل، خو شعر و نه یی زیاتره عرفانی او تصوفی بڼه لری چی څو بیتونه یی دخزینة الاصفیا مؤلف د «روضةالسلام» له کتابه رااخیستی او هغه دادی:

من نه همینم که وجود من است
جای دگر رقص وجود من است
نقطهٔ محراب جماعت منم
دانهٔ سیراب زراعت منم
ابروی چشمانی من دلکش است
قطرهٔ نیسانی من آتش است
عقل نمك زیر کباب من است
خون جگر نام شراب من است
شخا مه کلید سرانگشت من
گنج دو عالم همه در پشت من

همدارنګه ز سفتی غلام سرور دخزینة الاصفیا مؤلف دده دمړینی نیټه په سوبیوکی داسی راوړی:

ketabton.com - The Digital Library



چو باقی راهی سلک بقشد

باهل دهر گفت هذا فراقی

ندا آمد ز هاتف وقت ترحیل

بجای سلک باقی رفت باقی

۱۰۱۲ ه

یادا:

چو شد از عالم فانی سقیم جنت والا

معلی خواجه عالی شه دارالبقا باقی

بخوان قطب زمان مخدوم باقی

سال ترحیلش اگر طلب زمن شد

والی دارالبقا باقی

مأخذونه:

۱- خزینة الاصفیا ۶۰۵ مخ.

۲- تاریخ افغانستان درعصر گورگانی هند ۲۵ ۲مخ

۳- مکتوبات حضرت مجدد لومړی ټوک.

۱۴۲۸ باقی بلخی : په بلخ کی د دری ژبی شاعر و ،دا بیت دده دی:

چو او را تکیه بر دیوار دیدم مردم از حسرت

که این فرسوده قالب خشت آن دیوار بایستی

مأخذونه:

۱- ددهخدا لغتنامه- د«ب» ردیف- ۸۰۵ مخ.

۲- قاموس الاعلام ترکی ۲/۱۲۰۳ مخ.

ketabton.com - The Digital Library



**۱۴۲۹- باقي مجددي:**

حضرت میاعبدالباقي مجددي ددري ژبې ښه شاعر و، د سراج الاخبار داووم کال په ۷ ګڼه اونهم مخ کې د ده یوه غزل دلنديادونې سره داسې چاپ سوې ده:

«از طبع جناب صاحب کامل ولبيب فاضل واديب آګاه دل، رحيق مکدهٔ فيوضات مجددي راساقي، جناب حضرت میا عبدالباقي صاحب مرحوم.

دوش از کوی خرابات آن سهی قد مست رفت

از پی آن دلربا دیدم که دل از دست رفت سینه شدآماجګاه ناوك مژګان یار

ګفتم ای جان صرفه کن ګفتا که تیر از شست رفت

تکیه بر طول امل داری نمیدانی مګر

بر نفس وابسته هستی تا که ګفتی هست رفت

می توان فهمید مضمون کلام ما زعکس اصل

بهرتحقيق همين معني نګين بنشست رفت «باقيا» قيد تعلق سنګ راسالك است

مرغ زیرك چون زدام و دانه فارغ جست رفت

مأخذ: سراج الاخبار-پورته یاده سوې ګڼه

**۱۴۳۰- باقي هروي:** ددري ژبې له شاعرانو څخه و، او په هرات کې اوسېد دابيت دده دی:

ما وسخن از کشتن من میکند من بهمين خوش که سخن می کند

مأخذونه:

۱- ددهخدا لغتنامه

د «ب» ردیف - ۱۰۵ مخ

۲- قاموس الاعلام ترکي - ۲/۳/۱۲۰۲ مخ

ketabton.com - The Digital Library



۱۴۳۱- **باکور اوغانی:** د کرمان دسیمې د یوافغان امیرنوم دی چې د شاه شجاع مظفری له خوا دخواجه مجدالدین قا قم په سلگری ددو و زرو سپرو سره د شاه شجاع مظفری دزوی ملاتړ ته چې په کرمان کې والي و، استولی سوی و.

دانوم په حبیب السیر کې «امیر تاکور او غانی» لیکلی سوی دی او دتاریخ کرمان مؤلف بیا لیکی چې داامیر باکور اوغانی د«سیورغتمش»دا کازوی او د کرمان دسیمې یو اوغان امیر و.

مأخذونه:

۱- ددهخدالغتنامه (ب) -۹۱۵مخ ۲- تاریخ کرمان۹۰مخ

۳- تاریخ عصر حافظ -۲۱۳مخ

۱۴۳۲- **بالخوازی نیکه:** د کاکړستان د«هرنایی»دسیمې یو روحانی نیکه و، چې د«پی» نوسی کلی په هدیره کې ښخ دی.

په خته«پیخی» و، او په خلکو کې یې په ښه سړیتوب زیات شهرت درلود، چې حتی د کاکړو په یوه غاړه کې یې هم ستاینه سوې ده، چې وایی:

و رسیږی بالخوازی.

کوتان خلاص کې له پیښی

مأخذ:

۱زارات-دسیال کاکړ لیکنه-۹۵مخ.

۱۴۳۳- **بالون اخون:** د بازیدزوی د پښتنو دخضرزی قبیلې مشر لار ښوونکی او د خپل وخت نوسیانی له زبرگانو او شیخانو څخه و.

دخضرزی قبیله دسوات له سیمې څخه د پښتنو نورو سیمو ته خپره سوې ده.

ketabton.com - The Digital Library



دبا لول اخون دری زامن پاته سوی چې دري سره روحاني عالمان وو ، مشر زوی یې ملا ایمل په «اگاری چمله» نومي ځای کې دشیخ ملی ددفتر دويش په اساس پرخپله برخه مځکه اوسېده ، او همهلته مړاو ښخ دی ، او دوهم زوی « کیمل » یې په کالـو خان نومي ځای کې میشته و ، او همهلته مړ دی ، دریم زوی « کلو » ، یې چې په « کا لا با با » مشهور و په «شـیـوه» کې ښخ دی څنگه چې دبالول لقب اخون و نو ځکه د ده اولاده اخونزادگان و ، په نامه یاديږي . داخون بالول يو ورور شیخ حق نومېده.

ماخذ :

حواشی - تواريخ حافظ رحمت خانی - په اردو ۶۲۱ مخ

## ۱۴۳۴ -باليث طبری :

عوفي په خپل کتاب «لباب الالباب» کې دابوالليث طبری په نامه دی دآل سبکتگين دشاعرانو په دشاعرانو په دله کې یاد کړی دی ـ خونوريي هيڅ ده دژوندحالات نه دي راوړي ، يوازي يې دده دو بيته ضبط کړي دي اوهم ځيني نوربيتونه يي په مجمع الفصحا اوترجمان البلاغه کې راوړه سوي او هغه دادي:

سنگر معروف شد بمعرفت تو

هيچ نباشي زکا رسنگرسنگر

گو یی من رب ایمنم که رب رحیمست

خواب تو بینی همی و هم تومعبر

---

چیست این باژگونه طبع فلک

گاه دیو یست زشت وگاه ملک

ketabton.com - The Digital Library



زبس این پرگزافه قسمت او

ازحقیقت دلم کشیده بشک

---

بی‌خبر زونشسته تکیه زده

زیر دیبای زرش وخز و فتک

با خبر را ازو بخورد و بخواب

زبرش آشتی است وزیر خنگ

گوییی او دهر کرده داد و کند

اینچنین دادگی بود ویحک

درک الاسفل است جای امید

بمرج مردکی برسد زدرک

نیک بختی چو آب ومن سمکم

اوزمن دورچون سما زسمک

دیر پابست تاکی این گله زو

بجهان دم مزن زلی وزلک

فلک ازطبع برنگردد و تو

بی تکلف گله مکن زفلک

---

دلم میان دو زلفت نهان شد ای مهروی

زبهر آنکه زچشمت همی بپرهیزد

نبینی آنکه چوتو زلف رابشا نه زنی

سردو زلف تودرشانه می درآویزد

ketabton.com - The Digital Library



دل منست که باشانه کارزار کند
درآن میان که ازوباد مشک می ریزد

همی بترسد کاورابرون برد زمیان
چودید چشمت زورستخیز برخیزد

ازآن قبل همه شب مستمند توبولیث
بهای های همی خون زدیدگان ریزد

وگر بخسبد یک چشم زخم وقت سحر
نسیم زلف تو آن خفته را بر انگیزد

وگر ببیند غماز غمزهٔ تو دلم
هلاک جان بو دارجان ازو بنگریزد

---

ماخذونه:

۱-لباب الالباب-۲،۲۶ مخ
۲-تاریخ ادبیات درایران -۱/۵۹۸ مخ
مجمع الفصحا-۱/۸۲ مخ
۳-ترجمان البلاغه-۹۳ مخ

**۱۴۳۵ -بانو بی بی :**

دبلوخستان د کلات دمشر میر احمد خان لور او دمیر ابراهیم خان نوشیروانی نومیالی او ننگیالی ماندینه وه .

هغه وخت چې د دې پلار د باروزیو د قبیلې سره او ولسمه جگړه کوله نو دې میرمنې هم دنارینه کالی اغوستی او دجگړې په ډگر کی د نارینه په څیر او ړه په اوږه ورسره جنگیدله .

ketabton.com - The Digital Library



پر خپل پلار هم ډیره گرانه وه او ددی بی مشوری یې هیڅ کارنه کاوه
او هم ددی میرمنی دمشوری سره کتو، چی میر احمد خان دپاروزیو
سره په او وه لسمی جګړه کی بریالی سو ، اود پاروزیو دقبیلې
دلښکر سردار سرزا خان کلات ته دمیرا حمد خان دلیدو دپاره ورغی
او معافی یې ځینی وغوښتله اولوړه یې و رسره وکړه .
ماخذ :
هماری جدوجهد په اردو دعبد الرحمن غورلیکنه ۱۶مخ

### ۱۴۳۶ ـ بانو سیستانی :

دسیستان دنو میالی امیر خلف بن احمد اناوه چی خلف دده نو میالی
میرمنی نامه ته منسوب واو «خلف باند» یی هم بالهداخلف
دعمر وبن لیث دلور نمسی و، که څه هم دابشن اثیر په
روایت ځینو دده نسبت دیعقوب نمسی ته هم کړی دی
او بدیع همدانی بیا په لامیه قصیده کی خلف دواړو پاچهانو یعنی یعقوب
او عمر ولیث ته منسوب کړی او مولانا معین الدین اسفزاری بیا
پخپل کتاب تاریخ هرات کی د خلف نسبت داسی راوړی : خلف بن
احمد بن محمد بن خلف بن ابی جعفر بن لیث بن فرقد بن سلمیا ن
دسیستان په تاریخ کی راغلی دی چی بانو دمحمد بن عمر ولور وه او محمد بن
خلف ته یې ورکړی وه اود امیر بو جعفر مور وه او خلف بن احمد
چی خلف بانو بولی خپلی دې اناته منسوب دی .

څو پر چهار مقاله بانډی د قزوینی په تعلیقاتو کی دابانو دعمر وبن

ketabton.com - The Digital Library



الليث صفاری لو ر بللې سوی د ه .

ما خذ و نه :

ا- تاریخ سیستا ن - ۲۷۵ مخ

۲- چهار مقاله نظامی ۱۷۷ مخ

۳- ددهخد الغتنا مه (ب) ۶۰۲ مخ

۴- حبیب السیر - ۲/۳۵۱مخ

۱۴۳۷- بانو کشپ:

دسیستان او زابل دنا متو او تاریخی پهلو ا ن «ر ستم »لو ر وه چی په پهلو انی اوچالا کی کی یې په نا ر ینه و کی هم ساری نه درلو د. دی پیغلی ډیرلوی لوی وا کمن غو ښتو نکی درلو د ل لکه دچین فغفو ر او قیصر او خاقان اودایر ا ن کا وس شا ه ا و د هغه خپلو ا ن ا ونو ر زره وران او رستم ته یې سر کې را لیږ لی خو رستم د د وی له سنخه د کو درز «کشو اد کا ن» زوی «گیو » خو ښ کی او خپله او ر یې هغه ته و ر کړ ه .

ددی زړه وری میر منی په باب کی یو مشهو رداستان د«بانو گشپ نامه » په نا مه ستته چی ظا هر آ دهغه لیکنه په پنځه هجری پیړی پو ری ا ړه لری

ما خذ :

تاریخ ادبیات درایران ۲/۳۶۴مخ

۱۴۳۸ - بانی ځاخی :

دپښتو ژبی اولسی شاعر اودپکتیاد ولایت دځاځیو په گل غو نډی

ketabton.com - The Digital Library



کی اوسید اودخا خپو دتبر په لیو نی ،طایفي پو ری اړه درلو دله .
په (۱۲۵۷هش) کال زیږیدلی اوپه (۱۳۴۷هش) کـا ل کی مـړ دی .
دادده دیوی اولسی بدلی کسر دی :

تا چی ساته کړی خه شیرین گفتا ردی نا یو ځلیراشه صنم زړه نا قرار دی نا

ماخـذ :

فر هنگ زبان وادبیات پښتو - ۷۰ مخ

## ۱٤۳۹ - باوری(اخو ند)

دپښتو ژبی مجلسیشاعر و ، دپښتو نخوا دسوا بی دتحصیل په « پنج پیر » نو می محله کی اوسید ، د(۱۳۰۵هش) کال په شاوخو ا کی مړ دی او دده شعر ونه دذوق دخاوند انو په یاددی ،د ابـیت دده دی :

په مخ باندی دی توری زلفی او یز اندی
گلاب دپر خی دکـدی پکی ایښی اثری دی

ما خذ :

فر هنگ زبان وادبیات پښتو - ۷۱ مخ

## ۱٤٤۰- با یتگین زمینداوری:

دسلطان محمو د غز نوی له خوا دهیلمندپه زمینداور کیوالی و ،په (۴۰۱هق ) کا ل چی سلطا ن محمود غز نو ی دغو رخوا ته ولا ړخپل دوه زامن امیر مسعو داو امیر محمداو خپل ورو راه یر یو سف یې په زمینداو ر کی د همد ی با یتگین په کوږ رکی پر ښوو ل چی د و ا ړه شهزاد-گان څو رلس کلن اویو سف اوو لس کلن و .

ketabton.com - The Digital Library



ابو الفضل بیهقی لیکی چی :

«وایشان راآنجابدان سبب ماند که زمین داور را سبا رک داشتی ، که نخست ولایت که امیرعادل سبکتگین پدر ش رضی الله عنه وی را دادآن ناحیت بود» «۱»

او هم لیکی چی زمینداو ری با یتگین پرسلطان محمود دیرگران واوهغه وقت چی سلطان محمود پر سیستان یرغل وکی او سیستانی «خلف» تهیی ماته ورکره همد ابا یتگین ورسره و ، او تر هغه بری وروسته بایتگین یو سل او دیر ش نر او ښځی طاوسان له سیستانه زمیند اورته راوړه - وایی چی هغو طاوسانو به د کورو په گنبدو کی هگی اچولی او چوچیان به یی ایستل و شهزاده مسعود او شهزاده امیر محمد چی هلکان وو ، پریا سو به په طاوسا نو پسی ځغاستل .

بیهقی لیکی چی زمینداو ری بایتگین یوه ډیره پارساو کار یگره میرمن درلوده چی دسلطان مسعود دشهزادگی په وخت کی یی دهغه سلطان ډیر خدمت کړی و ، او چی سلطان مسعود پاچا سو ، نو دهغی میرمنی یی دخپلی مورپه شان احترام کاوه ، او هغی میرمنی به هم سلطان مسعود ته دده د کو چینوالی کیسی کولی او د سلطان مسعود به هم ډیری خو ښیدلی ،

مأخذ

تاریخ بیهقی - ۱۱۱ ، ۱۱۲ ، ۱۱۳ مخونه

۱۴۴۱ بایتگین غزنوی :

دسلطان محمود غزنوی ددربار دمشر دبیرابو نصر مشکان یو زړو راو باتدبیر سړی و ، چی ابو الفضل بیهقی یی داسی ستایی :

---

«۱» تا ریخ بیهقی - ۱۱۱ مخ

ketabton.com - The Digital Library



«این بایتگین بجای استسردی جلدو کاری و سوار بشوار نیدن همه‌سلاحها استاد، چنانکه همبا زندارد به بازی گوی واسروزسنه احدی و خمسین واربعما ئه‌که تاریخ را بدین جای رسانیدم خدمت خداوندسلطان بزرگ ابوالمظفر ابراهیم انارالله برهانه میکند خدمتی خاص‌تر و آن خدمت چوگان و سلاح و نیزه و تیر انداختن و دیگر ریاضتهاست و آخر فرو شکوه و خشنودی استادم وی را دریافت تاچنین پایهٔ بزرگ‌وی را دریافته آمد.»

همدابایتگین و،چی د سلطان مسعود غزنوی په‌و ختوکی یې دکندوز «مشهور راو غبنتلی باغی علی کندوزی» یې په‌کوزگانان کې‌له غره‌څخه را-کښته کی‌ءاو سلطان‌مسعود ته‌یې‌راو وست(ددې کتاب‌د«ع»په‌ردیف کې‌دی د «علی کندوزی نامه‌ته او یادتاریخ بیهقی ۵٦۱ مخ‌ته‌رجوع وسی)

مأخذ:

تاریخ بیهقی-۵٦۲،۵٦۱ مخونه .

## ۱٤٤۲ بایتوزبستی :

د سلطان محمود غزنوی د پلار سبکتگین په و ختوکی د بست له‌نومیالیو مشرانو څخه‌و، او د بست‌امیر طغا ن ته‌پورته سو، امیر طغان یې وشاړه او دبست دخپلواک والی په‌توگه یې دهغه ولایت دچارو واگی په لاس کی و نیولی، او دده ملگرو او طرفدارانو ته بایتوزیان وویل‌سوه .

امیرطغان غزنی ته‌ولاړ،سبکتگین ته‌یې‌پناه ورووړه اوله هغه‌څخه‌یې‌په‌دی شرطومرسته وغوښتله‌چی که‌سبکتلیگن دبست په‌نیولو کی ددمسره مرسته‌وکړی‌اوبست‌ونیسی‌نو: لومړی په‌غزنی دافغانستان دنوی دولت‌دپایتخت په توگه و پیژنی او د

ketabton.com - The Digital Library



بست مالیات به هر څو سره چې سبکتګین و تاکی هر کال دغزنی خزانې ته ورسوی دو هم هر وخت چې خارجی خطر پېښ سی او یاسبکتګین وغواړو چې پر دیو یر غل و کړی طغان او دهغه سلګری به هیوادساتی او دسبکتګین سلاتړ به کوی دریم هر کال به داسیرطغان یو زوی دغزنی په دربار کی اوسی.

سبکتګین دده غوښتنه و منله او پخپله دیو لوی لښکرسره له غزنی څخه دبست خواته و خوځېد، دبایتوز سره یې جګړه و کړه، بایتو زاو بایتوز یان یې مات کړه، بست یې ونیواو اسیرطغان یې بیا دبست و الی و تاکه، خو څو ورځی وروسته اسیرطغان له خپل تړون څخه غاړه و غړوله او دسبکتګین په مخالفت یې لاس پوری کړ، څو چې یوه ورځ یې پر سبکتګین دتوری وارو کړ، دسبکتګین یو لاس یې ټپی کړی او هغه په دابل لاس طغان په توره ووا هه، ټپی یې کړی او ددواړوخوا و لښکر سره و نښتل او تر سختی جګړې و روسته اسیرطغان مات و کړه، اودبایتوز سره دکرمان خواته و تښتېد، او دبست ولایت دغزنی دپاچهی یو برخه سوه.

مأخذونه:

۱-تاریخ بیهقی ۳۰۲، ۵۰۳ مخونه.

۲-تاریخ سیستان ۳۳۳،۳۲۶، او ۳۳۹ مخونه

۳-ددهخدالغتنامه (ب) ۱۶ ۶ مخ ۳- سلطنت غزنو یان ۷- مخ.

۱٤٤۳ بایخان:

دپښتو یو پخوانی شاعر او دخوشحال خان خټک معاصرګڼل سوی دی.

په پښتانه شعراء کی دمسترراو رتی په حواله لیکی چې بایخان دبونیرو، اود و لاناجاه ی لیلی او مجنون یې په پښتو نظم اړولی دی.

ketabton.com - The Digital Library



دده یو ه غزله شاغلی رفیع د ښلایسته خان له جونګه په خپل کتاب «ادبی ستوری» کی راوړی او هغه داده .

بخره سی فراق شوه چی اشنا له دانه بیل شه — باغ و ، دګلونو پری د هجر آتش بل شه

ماخخه توتی و ، توتی ګشت کاوه په ګلو — او س له ګشته پریوت چی په دواړو خانګو شل شه

باغ و ، دګلونو بلبلانو پری شطرنج کړ — او س یو بلبلی ژاړی چی د ګلو رنګ بدل شه

باغ و ، دګلونو بلبلانو پری چغار کړ — باد د خزان والووت تار په تار د ګل غنچل شه

لاړه د مجلسی یاران له دانه بیا به راشنی — پر بو تل ګلونه په خاروند ملک څنګل شه

شه وایی ناصحه ! چی د صبر نصیحت کړی — او س بی صبر نشی په ما اورد یار بس بل شه

دوردی غر پری «بایخانه» مجلوم تیر شه (۱) — چی لاندی تری د خاوروند لیلی د خیال و ربل شه

او په پښتانه شعرا کی یی دابیت راغلی دی .

مأخذونه :

۱- پښتانه شعرا ۱-۲۵٦/۱ مخ ۲-ادبی ستوری -۷ ٦ مخ

## ۱٤٤٤ بای خان :

د پښتو ژبی شاعرو ، او دده ژوند د (۱۱۰۰ هـ) کال په شاو خواکی اټکل سوی دی .

عبدالرحیم هوتک د کندهار دسیمی د پښتو ژبی شاعر چی د (۱۱۵۰ هـ) کال په شاو خواکی ژوندی و ، په خپل یو ه بیت کی د «بای خان» داسی یادونه کوی :

که سی ناړی د پښتا نېری کړی تر ستونی — پیر کامل به د ختک او د بای خان سم

---

(۱) مجنون پښتانه په عامه اصطلاح کی (مجنون) ته «مجلوم» وایی .

ketabton.com - The Digital Library



مستر راورتی دخپل گرامر مقدمه کی لیکلی چی «بای خان» دبونیرو ، او دمولاناعبدالرحمن جامی لیلی ومجنون یی په پښتونظم روړولي دی‌دا کتاب اوس ورک دی‌او د اسی ښکاری چی نوسوری مستشرق یسی نسخه‌یئ‌ند لسی وه راورتی دخپل گرامرپه پنځوسم مخ دبای خان‌له لیلی اومجنون څخه یو ازی‌دایو بیت راوړی دی چی وایي :

له دی خپلی بدی بخری

چاته ژارم پهچاد اد کړم

نور اشعاریي پهلاس وانغله .

ماخذ ونه :

۱- پښتانه شعرا ۱ ر ۲۵۶ مخ

۲-دراورتی دپښتو گرامر مقدمه د ۱۸۵۶ م دکلکتي‌چاپ .

۱۴۴۵ -بای خان حافظ :

حافظ بای خان دپښتو نستان لهاولسی شاعرا نو څخه و اودکنډ و په سیمه کی اوسید .

شعر ونه‌یي پراولسی طرز باندی ویل اوپه شعر کی دحافظ‌عظیم کنډ اپوری (چی په ۱۳۲۱ ه ش کال کی‌مړ دی)پیر وو .

ماخذ:

فرهنگ زبان وادبیات پښتو ۱ ر ۷۰ مخ

۱۴۴۶- بایزید افغان :

دګو رگانی عالمگیر ددوری لهنومیالیو شیخانو او پوهانو اوزا هد انو

ketabton.com - The Digital Library



څخه وچې په شيخ بايزيد افغان يې شهرت درلود .

دخافي خان په قول په رياضت اونفس وژلو اود بې وزلو او محتاجانو په غم خوړلو کې دوسره مشهو رسوی وچې دزياتر و مسلمانانو او هندوانو اود هر قوم دمحتاجانو سرجع گرځيدلی و او دده دژوند زيات وختونه دمحتاجانو د حاجتو په پوره کو کې تيريده

دی ډيرصريح لهجه سړی و چې غتانو او پاچهانو ته به يې دحق دخبرو تبليغ په ډاگه کاوه .

مثلاً يوه ورځ يې په مسجد جامع کې او رنگزيب پاچاته وويل چې:

((هر گاه سيد کونين (ص) د ختر خو د راکد خدا نمو ده باشند تو که پادشا ايند يار باشي دختر ها را چرا کد خدا نمی نمايی ؟ ))

ماخذونه :

۱- منتخب اللباب -۲/ ۵۵۲ مخ

۲- تاريخ افغانستان

در عصر گورگانی هند - ۲۲۵ مخ

۱۴۴۷ -بايزيد پورانی هروی :

د خپل وخت ښه هنرمند شاعر و نستعليق خط يې دملاظهر پر روش ډير ښه ليکه او دهرات په «پوران کلی کی او سيد بخاراته هم تللی او هند ته يې هم سفر کړی او تر (۹۰۰ ه ق) وروسته د ((تهته)) د ارغونی اميرانو د ر بارته يې لار موندلې وه، او هلته په ډيره درنه سترگه ورته کتل کيدل ، او داکورنۍ په سند کې دثقافت او ادب اوهنر دخپرو-

ketabton.com - The Digital Library



لو زانګو سوه دابیتونه دده دی :

از ره دیر مهمسجد زاهدی ناگاه برد سن نمی رفتم بدانجا او مرا از راه برد

---

نه آن خشتست برهم قبرهای درد مندان را قضا بریکد گرچیده است دفترهای هجران را

وایی چی په ابتدا کی ژوندون چندان نبه نه و، خو وروسته ترهغه چی په سیاحت پیل وکی ده پیر و شتو او سالو خاوندسو، او د نیاشته او اسباب دومره وته یول سول چی دده خرڅ ده پلچهانو له خرڅ سره څه توپیر نه درلود .

ماخذونه :

۱ـ مذکر احباب ـ قلمی ـ ۱۱۸ مخ

۲ـ تاریخ افغانستان در عصر گورگانی هند ـ ۲۲۶ مخ

۳ـ پښتو آریانا دایره المعارف ۳/ ۳۵۸ مخ

## ۱۴۴۸ ـ بایزید پیر روښان :

شیخ سراج الدین بایزید د قاضی عبدالله زوی او د شیخ محمد لمسی په ختیه اورمړ پښتون د خپلو ختلوی د فکر، د تولنی اصلاح کوونکی، د خارجی او پردی تسلط کلک مخالف او داو لسی مبارز و لار ښوونکی او په عین حال کی ستر مذهبی مبلغ و، چی پیروانو یې «پیر روښان» باله، او متعصبو مخالفینو د «پیرتاریک» په نامه یاداوه. مور یې بی بی امینه (۱) نومیدله او د حاجی ابو بکر لور وه، چی د پنجاب په جالند ـ

---

(۱) په ځینو مأخذو کی د بایزید د مور نوم «بیبن» امینه لیکل سوی دی چی بنایی «بیبن» د «بی بی» غندی شکل وی .

ketabton.com - The Digital Library



هر کي او سپدله، او بايزيد هم هلته په (۹۳۱ ه ق-۱۵۲۴ م) کال کي وژ يږيد .
و ايي چي د بايزيد نيکه گا ن له کندهاره د وزير ستان د«کاني کو رم »يا «کاني گرم»
سيمي ته تللي و ، او د بايزيد مسکه نيکه«شيخ محمد»چي دوزيرستان په کاني کورم
کي او سېد ، دوولس زامن درلودل ، او په دي دوولسو زامنو کي«عبدالله»د بايزيد
پلار په فضيلت مشهور و ، او قاضي توب يي کاوه (۱)
دا چي د بايزيد پلار څنگه په جالندهر کي د حاجي ابوبکر لور په نکاح کړه د پښتو فاضل
او محقق ليکوال مولوي محمد عبدالقدوس قاسمي د هغه«خير البيان»په سريزه کي چي د
پېښور د يونيورسټي د پښتو اکېډيمي په ۱۹۶۷ م کال کي چاپ او خپور کړي دي داسي
بيا نوي چي : د بايزيد نيکه شيخ محمد خپل يو بل زوي ته د حاجي ابوبکر جالندهري لور
«بي بي امينه» غوښتي وه ، خو څنگه چي حاجي ابوبکر هم دا يوه لور درلوده نو پر شيخ
محمد يي دا شرط کېښېښو و ه چي د ده زوي به له وزيرستانه جالندهر ته ورځي او د ده لور
به وزيرستان ته نه بيايي ، هغه و ه چي د شيخ محمد زوي هم جالندهر ته ور نغي خو هلته
څو انيمرگ سو ، او بي بي امينه کونډه پاته سوه ، نو د هغه و خت د پښتنو الي دا دود او
دستور و ه چي ديوه پښتون کونډه بايد د کونډي د مېړه ورور او يا نور
و خپلوانو کړي وای ، څکه نو شيخ محمد د خپل مېړه زوي
کونډه«بي بي امينه» خپل فاضل او عالم زوي عبدالله ته ور په نکاح کړه او د دي
دوهم مېړه د پاره هم هغه شرط وه چي بايد جالندهر ته ورسي ، او قاضي عبدالله
سره له دي چي په وزيرستان کي يي بل واده هم کړی و ه چي ساندېته يي«فاطمه»نو

(۱) صراطالتوحيد ۳ مخ

ketabton.com - The Digital Library



سېدله او يو زوی يې هم ځينې درلود چې «يعقوب» نومېده، بيا هم مجبور سو جالندهر ته ولاړ سي، هلته يو دوه کاله پاته سو، خو چې په (۹۳۱ هـ ق ـ ۱۵۲۴ م) کال د بي بي مېنې له نسبه د عبدالله زوی پيدا سو، او نوم يې ور باندې «بايزيد» کښېښود.

تر هغه وروسته ځکه چې عبدالله په وزيرستان کې له يوې خوا د پلار پر ځای ناست، او د بل پلوه د هغې سيمې قاضي باله کېده نو نور يې نه سو ای کولای چې په جالندهر کې پاته سي، او بي بي امينه يې هم په دې راضي کړه چې دا په جالندهر کې د خپل زوی سره پاته سي او پخپله قاضي عبدالله وزيرستان ته ستون سي، او بيا به په کال کې څو مياشتې جالندهر ته هم ورځي. قاضي عبدالله کاني ګرم ته راغی، خو دا هغه وخت و، چې د هند سياسي حالات ورځ په ورځ بدلېدل، د لودي پښتنو پاچهي په هند کې پای ته رسېدلې وه، او د پښتو پر سيمو د ظهير الدين بابر يرغلونه پيل سوي وو.

د قاضي عبدالله زړه په ښځه او زوی پسې کښهاندو، خو جالندهر ته يې د تلو لار پرانيستې نه وه.

دده يو بل ورور «شيخ خداداد» په بيره (خوشاب) کې اوسېده، چې د بابر يرغل هلته ور ورسېد نو هغه له هغه ځايه جالندهر ته ولاړ، او بيا چې د بابر فوځونه جالندهر ته ور غلل نو د هغه ځای پښتانه د «بهار» خواته وکوچېدل مګر هلته هم آرام ژوند د پښتنو په برخه نه سو، ځکه نو شيخ خداداد خپل ټبر، او د بي بي امينې او د بايزيد سره د نهه سوه اووه ديرش (۹۳۷ هـ ق) کال شاوخوا کې له هند کاني ګرم ته راغی او د خپل ورور قاضي عبدالله سره يو ځای سو. خو کوم مشکل چې قاضي عبدالله ته پيدا سو، هغه د دوو ښځو يو ځای ساتل او ګزران کول و، او بي بي امينه چې په خپلواک ژوند عادت وه د فاطمې مشرۍ کې ورته ژوند تېرول ډېر ګران تماميده، نو هغه وچې تر څه موده وروسته

چې لاړی سمې شولې ـ بي بي امینې د قاضي عبدالله څخه ځان خلاص کې او خپلې پلار ګنۍ (جالندهر ته) ولاړه او زوی یې بایزید د رواج او شرع سره سم قاضي عبدالله ته پرېښود. بایزید چې تر دغه وخته د خپلې مور په مهربانه غېږ کې روزل شوی و او یا یې د خپل مهربان تره شیخ خداداد شفقت لیدلی و ، یوازې نامهربانې مېرې او کم لطفه پلار ته پاتې شو، ځکه چې مور یې جالندهر ته ولاړه، او تره یې د دوه ورو میمې ته ـ او دا خو د پښتو متل دی چې: «مور مېره سې پلار پلندر کېږي» نو د قاضي عبدالله په کور کې بایزید د یتیم په څېر ژوند تېراوه ، که څه هم قاضي عبدالله خپل دواړه زامن (بایزید او یعقوب) خپل یو عالم او اعتباري شاګرد «ملا پاینده» ته وسپارل چې د هغه وخت مروج علوم ور وښیي، خو زیاتره به داسې کېدل چې مېرې به خپل زوی زده کړې ته پرېښود او په بایزید به یې د کور کارونه کول، او له دې وخته د ده په درا کو مغزو کې د تبعیض او عدم مساوات سره کرکه پیدا شوه، او چې هر څو مره پوهېده او ځوانېده دا کرکه یې لا زیاتېده، نو چې ځوان سود ، پلار څخه یې د حج اجازت وغوښت او ورته ویل چې هم به حج وکړي او هم به زیار و باسي چې څه علم زده کړي.

خو پلار یې ونه منل او ورته وویل چې: «د حج د پاره توښه ضرور ده ـ ته خپل مال نه لرې او پر ګدا باندې یې حج نه کېږي، پاتې شو علم ـ هغه دلته په کور کې هم کولای شې» د بایزید څخه چې د علم لار نمیګړې پاتې شوه نو د طریقت او تصوف لارې ته یې مخه کړه، شپې به یې په ذکر رڼولې، او کله کله به روحي جذب دومره ور باندې غالب شو، چې د رقص او سرود په مجلس کې به له ډېره شوقه د مجلسیانو سره په ګډا هم سر شو ـ دده د جذب دا کارونه د ده پر پلار چې مشهور عالم او قاضي و ښه نه لګېدل او د ځان بدنامي یې ګڼله، خو څه چاره یې هم نه شوای کولای ، که یې شاړه بدنامېده او که یې سا ته رسوا کېده ، او له بلې خوا د بایزید زړه

ketabton.com - The Digital Library



ورځ په ورځ د ميري د بدی گذاری ا سله له خپله کوره پر يده ،
اولو سړی يی د خپل پلار او خپلی میری د استبداد په مقابل کی سر
پورته کی او پلار ته يې په ډاگه وويل چې: «نور نو زما گذران
دميري سره گران دی ، ما ته د خپل جايداد څخه څه برخه رابيله کړه ،
چی زه په خپله په بو خت سم ، او ځا نته خپل گذران په وکړم »
که څه هم پر پلار يی داخبره ډيره درنه پريو تله خو د زياتی رسوايی
له بيری او د خلکو له شرمه يی د خپل جايداد څخه برخه وربيله کړه
او بايزيد له پلاره بيل سو، او د خپل يو تره «شيخ حسن» لور «بی بی شمسو»
يی په نکاح کړه .
دده او د پلار د خپگان يو بل سبب دا هم و ، چی دده تره شيخ خدا داد
په جا لند هر کی خپله لور د بايزيد په نامه کړی وه خو کوم
وخت چی د قاضی عبد الله وشيخ خدا داد منا سبات سره خړ پړ سوه
نو قاضی عبد الله د شيخ خدا داد لور بايزيد ته ونه غوښتله .
په هر حال بايزيد د يو کال پير په لټون کی سو ، چی دهغه په رهنما يی خپل
باطن صفا او خپل روحانيت تکميل کړی ، خو دده فطرت جدت پسند و ، مقلد
پيران يی نه خوښيدل ، ځکه چی د هغه وخت زيات تره مقلد پيرا-
نو د ځان په اغراضو او د نفسانی خواهشا تو په لوشو کی دوسره ډوب و ،
چی د خلقو خدمت ته يی هيڅ فکر نه و ، حال دا چی بايزيد
غوښته د روحانيت او مذهب له لاری د خوارانو خلقو د هنو نه

تنویر کړی او هغوی د ژوند په حقیقت پوه وی او دا یې خپله انسانی وظیفه بلله‌ ده په وینا: «که یو ځله په پېره داسی کوټه کې بیده وی چې یی له یوی لاری بله لار و نه لری، او کوټه او ر واخلی نو ایا په له هغی ډلی څخه یو سړی بیدار سی نو ایا د دی سړی دا وظیفه نه ده چې هغه نور بیده خلک راو ېښ کړی؟ »

بایزید تر ډېر تلاش و ر وسته د خپلی هیلی سره سم یو جدت پسند پیر پیدا موند، او هغه د ده د تره شیخ خداد اد زوی شیخ اسماعیل و، او نیت یې وکی چې د هغه لاس و نیسی، خو چې پلار یی خبر سو، پر هغه دا خبره هم ډېره بده ولگیده له چې د قاضی عبدالله زوی د شیخ خداداد زوی مریدسی ، او بایزید ته یې مشوره ورکړه چې: د شیخ بهاءالدین زکریا ملتانی له کورنی څخه دی فیض و مومی ـ خو بایزید ته سر بېره پر دی چې دا فرمایشی پیری مریدی د خنداو ر ښکار بده ده توجه یې د کورنیو او تربورگلو یو تضاد و ته هم و اړه وله چې یو تر بل خپل بل تر بور د ځان سیال نه گڼی او حتی د علم او معرفت په لاره کی هم نه غواړی چې د یو بل تأثیر و منی .

بایزید د خپل ژوند ددغی دو ری حالات په خپل کتاب حر اطلا ایتو حید که په دری ژبه مفصل لیکلی چې لنډیز را اخلو ـ دی لیکی :

« ا ز یکک کسی شنیدم که معرفت حق بر آدمی فرض عین است و آن بی پیر کامل حاصل نمی شود ـ چون چنین شنیدم ، پرسش کردم ، دیگر عالمان نیز چنین گفتند که پیر کامل طالب را در ریاضت درسی آورد و بذکر و فکر حق شاغل میگر داند تا با خدای تعالی موحد و یگانه گردد ، و از شرک جلی و خفی خلاصی یابد .

ketabton.com - The Digital Library



چون چنین شنیدم بعده درطلب پیر بر آمدم و پرسش میکردم ، چون کسی از جانب خراسان یا هندوستان یا جانب دیگر می آمد بعضی راپرسش میکردم تامرا کسی ازمرشد کامل خبر دهد ، کسی مرا از مرشد کامل خبر نمی‌داد ، و به ناقصان یقین نمی کردم ...

درین طلب بودم که یک درویشی درآن دیه پیداشد ، دعوی شناختن حق آغاز کرد ، بعضی آدمیان به‌وی اعتبار کردند و بعضی ازوی منکر شدند بعده یقین من‌نیز سوی وی پیدا شد ، که بدست این درویش توبه کنم ، تامرا سوی طاعت و عبادت و ذکر حق درمجاهده و ریاضت دارد ، تا از صفات ذمیمه من چیز بصفات حمیده بدل گردد آن درویش نیز انصاری بود ، و برادرزاده عبدالله قاضی بود ، دران وقت من‌بحد بلوغ رسیده بودم و خودرا گناه گار و بدکارسی شمردم ، یک روزعبدالله را گفتم که : اختیارمن بسوی تو به پیدا شده است ، و یقین من بخواجه اسماعیل اکثر شده است ، که بدست وی توبه کنم ، تا ازوی راه یابم »

عبد الله ریش بدست خود بگرفت وگفت :« ریش من ترا شیده میشود ، و نام من بدمی شود ، اگر بدست وی توبه کنی » ، وعبدالله پسر محمد گفت: «که محمد دوازده پسر داشت ، من درایشان بعلم فاضلتر و بهتر بودم و نام من بلندتر است، اگر بدست وی توبه کنی ، درولایت خبر خواهد شد ، که پسر عبد الله بدست‌پسر خداداد توبه کرد ، باین سبب ریش من ترا شیده و نام من‌بدمی‌شود ، زینهار که بدست وی توبه نکنی ، اگر بکنی درخانه من باشم یا تو، ومن ازتو ناخوشنود باشم »

ketabton.com - The Digital Library



من گفتم: «چون درحالت مراهقی سوی کعبه گذاردن وعلم خواندن رفته بودم، نیز بسر من آمدی ومرا اگر دانیدی، اکنون در حالت جوانی که اختیار توبه کنم نیز مرا سوی پیر نمی گذاری»

وی گفت: «باسلسله شیخ بهاالدین قدس سره درآیم، اگر تو به کنی سوی ملتان برو وبخانواده شیخ بهاالدین توبه کن، توشته راه وشکرانه پیر نیز بدهم تااز توخشنود گردد ازانکه طالبان بعضی آینده ورونده‌اند، بعضی آرنده اندو برنده اند».

من گفتم: «مردمان سوی آن چیزی برده اند، وازنجا کلاه، یا شجره، یاثمر یاکمر بند بایشان دیگر آورده اند، ولیکن ازذکر وفکر، ازشناختن حق خبر ندارند، من مشتاق ذکر وفکر وشناختن حقم، اگر خوب کنی برای الله مرا اجازت کن، تا بدست وی توبه کنم» هر چند که میگفتم، مرا اجازت نمیداد پس دل خود را مفتی کردم، ودل من برمن این فتوی داد که: «قرآن را امام کن» به پیروی آن اقتدأ کن وخواجه اسماعیل یاران خود رابه کم خوردن وکم گفتن وکم خفتن، وبعزلت بودن میفرمود، من نیز اگر این کارتوانم بمقدار خود بکنم، پس کم وخشک خوردن اختیار کردم، چون چندگاه کم خشک میخوردم عبدالله بر من گفت: «چرا کم وخشک میخوری؟... اکنون جوانی بسیار بخور، هرگاه که بحالت پیری برسی کاردین محکم کن!»

من گفتم که: «چه دانم که به پیری برسم یانه رسم؟ تراچه شده است

ketabton.com - The Digital Library



که مرا بکاردین نمی گذاری ؟ اول مرا از راه کعبه باز گردانیدی، دوم آنکه مرا ازمرشد بازگردانیدی، سوم آنکه مرا سوی ریاضت نمی گذاری ! »

پس دردل گفتم که : درقرآن نگاه کنم، هرچه قرآن فرماید آن بکنم - چون درقرآن نگاه کردم، این یت نوشته دیدم (قوله تعالی ! ووصینا الانسان بوالدیه حسنا وان جاهدك لتشرك بی مالیس لك به علم فلا تطعهما ) پس عبد الله راگفتم که : « این سخن تونخوا هم شنید...» پس من درآن اربعین درخواب یکشب دیدم ...» (۱)

نو په دی توگه دبایزید دزلمیتو ب دوره شروع سوه، خو لکه څنگه چی دتبعیض اوعدم مساوات څخه کرکه د سیری د ناوړی رویی له اسله د بایزید سغز وته لارسوندلی وه د پلار دی سمانعت د تربور گلوی په اتضاد هم وپوهاوه، ځکه یې نو د پلار فرمایشی مریدی ته غاړه نه کښیښوو وله او اراده یې وکړه چی دعرفان اوسلوك پهلاره کسی خپله روحانی نیمگړ تیا دریاضتو له لاری بشپړه کړی- شپه اوورځ یې پرځان یوه کړه، چلی یې ویستلی، خوب اوخوراك یې لږ کړی- په دغه وخت کی دی وایی چی: سایو ورځ خواجه خضر په خوب و لیدچی لاس یې راکړ، او زه ساسره یې خپله طریقه شریکه کړه، او زه یې په خپلو سریدانو کی شامل کړم»

---

(۱) د صراط التوحید له ۱-۲ مخو څخه لنډ یز- د پښتو ادبیاتو تاریخ ۳۶۳/۲ مخ

ketabton.com - The Digital Library



دپایز یه روښان پیر وانو د دغه خوب ورځ د خپلی طریقی د اختر وګڼله ، په دغه ورځ یې روژه نیوله او خوښی یې کوله (۱) په دغه توګه پیر کاسل له لتمون څخه هم فارغ سو ، او وی وایې چې : «دا دری مرحلی تیر ، کړی :

اول : کوچینیواله چی داسم القرین دوره وه یعنی داسی اورو یدلی و چی خدای واحد لاشریک دی ، نو سی د خدای په ناسه یقین کړی و .

دوهم : دسرا هقی په وخت کی ،سی لو ستلی وه ، چی خدای واحد لاشریک دی ، او دهر شی هستی د ده له هستی څخه ده ، نو هغه اعتقاد چی پخواو هم او خیال و اوس ،ی په علم الیقین بدل کړ

دریم : چی څوان سوم نوسی داو منله چی بی له خدایه بله هستی یقینی نسته او نوری هستی په هلاکت کی دی ، زسا هستی او د نورو سوجودا تو هستی ، او د نورو ذراتو هستی د خدای له هستی څخه ده ، اودقوله تعالی « قل انما ادعو اربی و لاشرک به احداً » سعنی راته ښکاره شوه ، او دعین الیقین سرتبی ته ورسیدم (۲)

تر هغه وروسته یې کله په خوب کی او کله دالهام په واسطه دسلوک هغه اتیه منازل :

---

(۱) دپښتو داد بیاتو تاریخ ۲/۲۹۷ مخ د پوهاند حبیبی تالیف

(۲) صراط التوحید ۱۰۹ ، ۹ سخونه

ketabton.com - The Digital Library



شریعت ، طریقت، حقیقت، معرفت ، قربت ،وصلت ،وحدت او سکونت(۱) چې ده په خپله ځانله پیدا کړي وو، ټول‌طی کړل‌اوخپل‌ځان‌یې د «بایزید مسکین» په لقب‌یاد کی‌او دایې دسلوك او توحیددمراتبو و روستنی پوړی‌وګڼله، ځکه‌چې د ده په فکر چې یو سالك وصل سی او په دغه و صل کی بیا یګانه سی « نو مسکین سی یعنی دبشر یت له صفاتو څخه خدا یی صفا تو ته‌میل و کی (۲) و ایی چې‌ده پر خپل مهر باندی هم « بایز ید مسکین» کښلی و او دده نو میا لی شاګرد او خلیفه « دو لت » د بایزید په پیر وی د « سکو نت » دمقام او چتو الی او د هغه ا رتباط د مسکین سر ه په دوو بیتو کی داسی بیا نو ی :

سکو نت بلند مقا م‌له‌واړو پاس‌دی نـو رد د ه د پا سه نشـتـه مـقا م و نه

دمسکین‌په‌رضاو اړه چا ری کیږی په هرهریوه کی کاندی‌خپل‌حکموند(۳)

بیا نو دخپل پیر « بایز ید مسکین » په‌باب وا یی :

هرطالب که‌عمل کا،مقصودبه‌موی چې مرید د و ره‌ړ بایز ید مسکین شه

داچې با یز ید پـه دعر فـا ن اوسـلو ك د منـازلو په طـی کـو لو کی خو نی مو ده تیر ه کړی وی په څر ګند ا و یقینی تو ګه ښکاره نه ده، خو دومر ه څر ګند یږی چې په دغه و خت کی بایز ید د تجارت او سیا حت او دعلم دپاره او هم کامل پیر په لټو ن پسی سمر قند تر کستا ن ،هند وستا ن او کند هار ته سفرو نه کړی د ی ،

---

(۱) صر اط التو حید - ۳۷ مخ (۲) صر اط التو حید - ۱۷ مخ

(۳) ددو لت لو انی دیو ان -۳مخ د کابل چاپ

ketabton.com - The Digital Library



دترکستان اسان یې د تجارت د پاره هندوستان ته بیولی، او په هندوستان کی یې د «یوگیانو» عقاید، او د تناسخ او دتجسیم دعقیدې دخاوندانو افکار مطالعه کړی او دهغو پر افکارو یې غور کړی، او همې دملاسلیمان کالنجری سره کتلی او له هغه څخه یې علمی استفاده کړې ده، او د خپل شخصیت دتکمیل دپاره یې زیارونه ایستلی دی . بایزید کندهار ته دخپل یوه سفر داسی یادونه کوی :

«چندماه درخلوت ، روزه و عزلت اختیار کرده بودم ، پس جفت شریعت (زن) مراگفت: که تو اول تجارت و کار میکردی ، نفقهٔ خانه و مهمان از آن حاصل می‌شد- اکنون نیز تجارت و کار کن تابرای نفقه چیزی حاصل شود- چون بسیار میگفت سوی قندهار برای تجار رفتم ، و نیت چنین کردم مگر کسی موحد بیابم تاباوی مشاغل باشم ، کاروان بقندهار رسید، دیگر کاروانیان ازخرید وفروخت وسود وزیان میکردند ، من اول پرسش پیر کامل کردم، درآن ولایت نیز پیرکامل نیافتم ...دران وقت درقندهار یک امیر بود نام او بیرم خان بود، برای کاروان ظلم کرد... پس وارثان بعضی جمع شدند برای فریاد کردن مرانیز باخود روان کردند ...

گفتم :امیران و پادشاهان حق تعالی ازعدل خواهد پرسید، و یک ذره عمل کسی ضایع نگرداند، بروی بنماید که: فمن یعمل مثقال ذرة خیر آیره... پس بیرم خان قبول کرد و گفت، تفحص حال بکنم، و لیکن تفحص نکرده، بر وعده مخالفت شد » (۱)

قندهار ته دبایزید دغه سفر شاید چی د (۹۶۰ ه ق) کال په شاوخوا کی و

---

(۱)صراط التوحید ۱۲ مخ .

ketabton.com - The Digital Library



ځکه چې بیرم خان په دغه وخت کې دهمایون له خوا په کندهار کې حکمران و، او په (۹۶۱ ه ق) کال کې همایون دی له کندهاره دځان سره کابل ته بوت (۱)

په هر صورت دبایزید روښان داسفر گټور نه و، ځکه چې له یوې خوا یې کاسل پیرو نه ؤ ند، او له بلې خوا یې دنیا هم په لاس و رنغله، او داچې یو حاکم ته یې دعذرسر ټیټ کړی او پرزنگنو سوی و، دبیریې ځان شرمنده باله دی وائی چې :«کارو انیانو له ساوغو ښتل چې زه هم له دوی سره دهغه ځای حاکم بیرم خان ته ورسم، دوی چې حاکم، ته ورغلل دتعظیم دپاره زنگنو شول، زه هم مجبور شوم چې په زنگنو ورېرم حاکم وویل چې: زه به بازخواست وکړم، مگر ده خپله وعده په ځای نه کړه، او له دې خفه چې یو حاکم ته سی سر ټیټ کړی و ډېر شرمنده وم »(۲)

او له دې وخته بایزید ته دظالمو حاکمانو سره دمبارزې جذبه راوپار یدله، په تیره بیا هغه وخت چې ده یوه ورځ یوه پښتنه سپرسن ولید له چې ستجاو زوظالمو حاکمانو یې د سر ویښتان دژرندی دپله سره تړلی وو، او چې ژرنده په څرخېد له هغه سظلو سه پښتنه به هم ورسره چورلېدله (۳) د ده وینې په جوش راوستلې او اراده یې وکړه

---

(۱) دپښتو دادبیاتو تاریخ - ۲/۲۷۳مخ دتاریخ فرشته او اکبرنامه په حواله

(۲)دروښان یاد - ۲۱مخ . دخیرنوال روهی څیړنه .

(۳) دپښتودادبیاتو تاریخ -۲/۲۷۱مخ .

ketabton.com - The Digital Library



چې دظالمانو اوزوراورو سره په کلکه ښکاره مبارزه پیل کړی-خوسنګه چې هغه وخت ټولنیزه او خلقي مبارزه یوازی دمذهب په بڼه کی سنځ ته راتلای سوه او خلقي قوتونه یوازی دمذهب په نامه پر یوه مرکز را غونډېدلای سوه‌نو بایزیدهم نیت و کیٔ چه له مذهبي لاری څخه عام خلك دظالمانو، غاصبانو ستمګرانو مبارزی ته را وپارولي او په مذهبي تبلیغاتو کي مظلمو خلکوته دوبهوالی درس و رکړی هغه و،چي له کنده‌اره سترې ستومان او تاوانی کورته ستون‌نو،او بیایې ریاضتوته ملاو تړله .

دحالنامې مصنف لیکي چې : «چون کار و انیان بدیره آمدند ازحضرت عزت بر پیر دستګیر ندا رسید :

یابایزید ! ملوك الدنیا مخلوق-و لاینبغي للموحد ان یخدم المخلوق لاجل شئ من الدنیا -

پس ترا باید چون بخانهٔ خو دبرسی پنج‌سال بیرون نروی ،و باخلق آمیزش نکنی، اګر درین پنج سال بکار دنیا مشغول شدی ترا به غضب خو دمبتلا ګردانم (۱)

بایزید په کورکی په چله ایستلو پیل وکیٔ، تر دې وخته‌دده ټول ریاضتونه دځان دتکمیل دپاره و، ګو یادی کامل سوی‌و، خو مکمل نه‌و-څه کال نیم چي یې چله و یستله نو:

---

(۱) دخیر البیان سریزه-۶سخ د مولوی قاسمي لیکنه-دحالنامې په‌حواله

ketabton.com - The Digital Library



ور ته خدائی الهام وسو، چی: که یو رشتونی طالب درته راسی او په صدق ددې حال (طریقې) طلب در څخه وکړي نو هغه په حال (لار) پوه کړه، چې دیوې دیوې څخه ځو دېوې بلې سی او رونیا په زیاتیدو سی (۱):

تر هغه ورسته یې خلکو ته دخپلې طریقې تلقین شروع کې، او هر څوک چې به یې سریدسو، نو دهغه دپاره یې دااووه صفتونه لازمي ګڼل:

لومړی: له حرام څخه ځان ساتل دوهم: په خوړلو او چښلو کی استراف نه کول.

دریم: په نرمۍ لږ لږ خبرې کول، او له نا وړو خبرو ځان ساتل.

څلرم: لږ خوب، او په ویښه او خوب کې د خدای یادول.

پنځم: د نیکانو سره صحبت کول او له بدانو لیری کیدل.

شپږم: تل او په پټه د خدای یادول.

اووم: دخدای د توحید سملو په لاره کې تل زیار ایستل (۲)

وایی چې بایزید روښان تر ټولو لومړی دخپلې طریقې تلقین خپلې ساندینی ته وکی، او هغه یې په خلوت کې کښېینوله او دسعرفت دلاری دپېژندلو درس یې ور ته ویل کی، بیا دکانی ګرم څو نور کسان همدده سریدان سول، هغو ته یې هم امر وکی چې په خلوت کی کښېنی، خو داخلوت هم دده په کور کی، و، او دوی خدمت به یې دده ساندینی کاوه، دبایزید پلار او کورنی یې په دې ډیر خواشینی سول چی د بایزید څخه دنورو خدمت کوی، او له دې څخه بایزید

---

(۱) دخیر البیان –سریزه–۱ مخ دپېښور چاپ–دمولوی محمدعبدالقدوس قاسمي لیکنه–دحالنامې په حواله.

(۲) صراط التوحید – ۸۴ مخ.

ketabton.com - The Digital Library



ته‌دا انتباه پیداسوه چی شیخو ته باید په اجتماعي چارو کي زیاته برخه ورکړه سي، ځکه نو دده په مریدانو کي نراو شیخي دواړه شاملېدل او بایزید په یوه مجلس کي د شیخو او نرانو ګډون رواج کیء.

اخوند درویزه چی د بایزید روښان سخت مخالف و، دده دا کار داسي غندی:

«سکه بازید یو حکمتی و، ده په بیله آشنایي کړه له عورتو، لکه عورتی شوي ګمراهي، داسردان یې هم همراه شوه د غلطو، دې بازید و بله تول کړه د عورتو د زلمیو مجلسونه، چی راځي سره کښېني، د شیخدای بولیء ذکرونه» (۱)

بایزید روښان د خپل طریقت د پاره شیخو او نرو ته یو راز تبلیغ کاوه، او په دې توګه یې د شیخو د حقوقو د ثبوت د پاره زمینه برابروله او دا هغه وخت یقیناً یو مترقي اجتماعي اقدام و بایزید نه یوازي په مذهبي چارو کي شخو ته د نرو سره د ګډون اجازه ورکړې وه بلکه د هغه وخت د ملایانو د فتوی پر خلاف یې د سرود او سماع په مجلسو کي هم ګډون کاوه او ویل یې چی:

«ما ته الهام شوی دی چی: السماع علی ثلاثة انواع حرام ومباح وحلال من سمع الصوت من شئی بمحبته الدنیا سمع حراماً ومن سمع الصوت بمحبته الجنة فقد سمع مباحاً ومن سمع الصوت من کل الصوت بمحبته الله فقد سمع حلالاً».

یعني سماع (سرود) په دري قسمه دی: حرام، مباح او حلال ـ که چا دیوشي آواز د دنیا په مینه اورو یدو سمع یې حرامه ده، او که چا د جنت په مینه آواز اورو ید سمع یې مباحه ده، او که چا د خدای په مینه آواز اوریدنو سمع یې حلاله ده.

---

۱ـ دروښان یاد ۸۰ مخ د خطي حالنامي (۳۳۱) مخ په حواله.

ketabton.com - The Digital Library



دولوی عبدالقدوس قاسمی ایکی چې: د دې خبرو نتیجه دا شوه چې د بایزید سره د کانی ګرم د علماؤ مخالفت پیداشو - که‌دی د قاضی عبدالله زوی نه‌وی- نو اول به قاضی عبدالله او وروسته نورو په ده پسې هپه کړې‌وه - خو دلویی کورنی په وجه ورته نه‌دنورو لاس رسیدو او نه پرې د پلارداو رځ پیرزو وه چې دی دنورو دلاسه آزارشی- ځکه نوده‌مخالفت‌او رلوګید و خولمبه یی نه کوله .

قاضی عبدالله او دهغه ملګرو او د کانی ګرم نورو خلقو چې هرڅه و یل‌خو بایزید ځان له ورو ورو دوره حلقه پیداکړه چې‌دده پیری پرې‌جوړه شوه- دخپلو مریدانو په‌نظرکی دی د زمانی یو کامل پیرو ،چې دزمانی دهدایت دخلکو دلارښوونی وظیفه یی په‌غاړه اخستی ده: او باطن یې دخدای په‌تجلی روښانه و، او ځکه دحالنامې مصنف وایی چې مریدانو یې د غیب نه‌آواز واوریدو ،چې‌بایزید ته‌ددې دپسه «پیر روښان» وایيء ، او هم ددې الهام په‌وجه بایزید ته دې لقب ملقب شو (۱) .

په‌دی ورځو کی خواجه اسماعیل وفات شو- دهغه وروره محمددپلار پرځای په‌دوړو کی دیره‌و ؛ دوروره په‌غم کی دشریکیدو دپاره کانی ګرم ته‌راغلو اود بایزیدسره یې ملاقات وشو- دبایزید صحبت په هغه هم‌اثروکړو، او هغه دبایزید په‌مریدانو کی شامل شو- بایزید هغه‌ته د نورو مریدانو نه زیاته‌مرتبه ورکړه، اودهغه لقب یې« محمد کمال » کیښود- دهغه‌په‌برکت دبایزیدد پیری

---

(۱) ددې لقب په وجه تسمیه کی نوری قصې هم لیکلی شوی‌دی - خو دا وجه یکښې زیاته موزونه لیده کیږی .

ketabton.com - The Digital Library



حلقه تر دو ړو خوره شوه محمد کمال به په دوو ړو کی خلقو ته اجازې و ورکولې او خلق به یې د پیر روښان په حلقه کی شاملول .

چې د بایزید حلقه خوره شوه حوصله یې زیاته شوه ، محمد کمال یې خپل پلار قاضی عبدالله ته و استولو چې و رته ووایه چې : «بایزید ته خدای د خپل معرفت نعمت ورکړی دی ـ دا نعمت ستا کور ته راغلی دی ـ دا غنیمت وګڼه او دغه په مریدانو کی ته هم شامل شه » .

بایزید او محمد کمال خپل فرض ادا کړل خو په خبرو یې د پلار غوږ څه و نه ګرید و څه نو ده پس بیا د محمد کمال ته وویل چې :

«عبدالله می پلار دی او یعقوب می ورور دی ـ دا حیف راځی چې د حق له پیژند ګلو او د توحید له علمه بې برخی دی ـ باید یو ځل بیا ورشې او ورته ووائې چې : که په دې جهان د حق له پیژندګلوو (معرفت) نه بې برخی شوی ، نو سبا به د قیامت په ورځ د پروردګار له دیداره بې برخی شیء ـ حق تعالی ستا زوی د معرفت او توحید د علم خاوند کړی دی نو حیف دی چې دغه د وجود سره سره تاسی د خدای د معرفت نه بې برخی له دنیا لاړ شیء »

او چې هغوی د محمد کمال خبره وانه وریده (۱) نو بایزید محمد کمال ته وویل چې :

«اې محمد کماله ! دوی په علم او نسب مغرور دی ، هیڅکله به یقین او

---

(۱)— خبره په دې کی پاته وه چې بایزید به ویل چې دی او ل زما سره یدشو بیا به زه د خپل کرامت یوه پته نخښه ورو ښیم ، او پلار یې وویل چې : او ل دی نخښه و ښیي بیا به یې زه مرید شم.

اعتقاد رانه وړی، او دوی دخپل وخت هامانان فرعونان، هامانان او قارونان دی. ملایانو ور پسې دلیې راوسني، مناظرې یې ورسره وکړې، خو بایزید خوله وراو هوښیار و، چا په بحث کې غلی کولی نه شو - او غلی کول یې په دې هم گران و، چې معاشره داجتماعي خرابیو نه ډکه وه او بایزید به دهرچا عیب هغه ته ور مخکې کولو - بل طرف ته دده مریدان اگر که په شمار کم وو، خو په خپل پیرځان قربانولو ته هر وخت تیار وو - دکلي مشرانو هم دانه غوښته چې دد وی په منځ کې دې خونریزي وشي، ځکه نو علما دده په علاج کې ډیر بې وسه وو، یوځل خو یې خلق ور پسې راپاخول چې و یې نیسي، خو چې مریدان یې په مرسته ور ډبر دل نو د کلي مشران ترمیا نځه شول او په دې یې خلاصی وکړ و چې:

«اې دوستانو! په دې ښار کې خو سره هندوان، قلندران، نیکان او بدان سته په دوی کې دې یو لېونی بایزید هم وی - تاسو د هغه سره مه لېونی کېږی ء!»

بایزید چې ځان په حقه لیدو او خپلې حقې لارې ته یې نور خلق په کلکه رابلل نو دده لهجه دهرمنکر په حقله سخته وه - په عالمانو، پیرانو، ملکانو، خانانو، پادشاهانو هرچا باندې دهغه دتنقید توره بې واره چلېدمه دهغه «حق و ینا» دهرچا دپاره ښکاره وه، او په هیڅ چا یې اسره نه کوله - دکلي مشرانو ورته یوځل راغلل چې دعالمانو سره چې ستا کوم بحثونه دې په هغو کې مو څه غرض نشته، خو ستا - دخولې نه څو خبرې ناسناسبې مو نیراو رو، که مهرباني وکړې او داخبرې ونه - کړی - نو په دوی بایزید په جواب کې ورته وویل:

ketabton.com - The Digital Library



«ناحقه‌خبره» نه کوم، خو چې تاسې په‌گمراهی او په‌تیاره‌او په شرک کې و نیم، نو غوارم چې‌دخدای خلق له‌دې‌تیارې او شرک‌څخه راو باسم او ددین گټه‌و رو رسوم »

دبایز یدداسختی تردې حده رسیدلی وه‌چې هر کله چې ځینې کسان و رته کافران او ځینې و رته منافقان ښکار یدل نو چې په لار به‌تلو دوی ته‌به‌یې سلام هم نه اچولو.

دحالناسې مصنف و ایې چې‌یوه و رځ بایز ید دقبرستان طرف ته‌روان‌و، یو سړی‌وفات شوی‌و، خلق‌دهغه قبرته جمع‌وو، بایز ید‌په هغه‌لار تېرشو، سلام و روانه‌چولو-چاو یل لیو نی‌دی، چاو یل گمراه‌دی-بایز یدددوی خبری‌و اوریدی، او دځان سره یې‌جواب‌و رکړو چې :

«ان ربك هواعلم بمن ضل عن سبیله و هو اعلم بالمهتدین» (دالنحل سورة-۱۲۵ آیت) یعنی: (بې شکه‌ستاپرو ردگار‌ښه پوه دی چې څوک‌دهغه له‌لاری‌نه‌گمراه دی او هم هغه‌ښه پوه دی په‌لارسو ندونو باندی)

خو چې لږ شان سخ کې‌لاړنو د و رته‌خدائی‌الهام و شو او ددې‌آیت دمطلب و ر په یادشو چې: سلام قولاًمن رب رحیم(سلام دپرو ردگار مهر بان‌و ینادد- دیسین سورة -۵۸ آیت) او و رته و و یلی شو چې ددې دپسه‌خلقو ته‌سلام‌اچوه او داسې خبری مه کوه چې‌خلق‌درنه‌خفه‌شی-چنانچه دی چې و اپس په هغه‌لاره تیر یدلو نو په لاه‌یې سلام و اچو لو-خلقو ترې تپوس‌و کړو چې‌څو کاله‌راهیسې دی خلقو ته سلام‌نه اچو لو-نن‌څه و جه‌ده چې سلام‌دی و اچو لو-ده‌و ر ته‌جواب ورکړو چې‌نن راته‌دخدای دطرفه دا آو از و شوچې:«خلقوته سلام‌اچوه، او داسې

خبرې مه کوه چې خلق درنه په آزار شي» يو کس ورته وويل چې: «بيانو تا ته په کار دي چې يو څو خبرې پرېږدې: يو دا چې دا دعوا ايه چې ما ته جبريل راځي، بله دا چې دا دعوا ايه چې زه مهدي يم، دريمه دا چې دا دعوا ايه چې خلق منافقان دي»

بايزيد جواب ورکړو چې «زه دا نه وايم چې ما ته جبريل راځي، زه خو وايم چې ما ته الهام کېږي، او زه دا نه وايم چې زه مهدي يم، زه خو وايم چې زه هادي يم (خلقو ته دحق لار ښيم) او دا نه وايم چې ټول مخلوق منافقان او کافران دي، دا وايم چې خداي څوک منافقان کړي دي هغه منافقان دي، او چې خداي څوک کافران کړي دي هغه کافران دي»

بايزيد چې په خپله رويه کې دومره ترميم وکړو، نو د کانيګرم عامه قضاوت ده په حلقه ښه شوه- او خلقو په ده کې ښې خبرې هم ليدلې لکه دا چې د مريدانو خير خيرات به يې نه منلو، او په امامت به يې اجرت نه قبلولو- ددې وجهې ته دده څو ورځې په کانيګرم کې ښې تېرې شوې.

چې له کندهار نه دواپسي او په خلوت کې د کښېناستو څخه پنځه کاله تېر شو د حالنامې په بيان «بايزيد ته الهام وشو چه دې بايد له کوره ووځي او جنګ دې د خداي پېژندنې ته راوبولي او د توحيد علم ورزده کړي ....»

بايزيد چې دخلوت نه راووتو، نو د کانيګرم نه په څو ميله فاصله کې يوه بله آبادي وه «سنګ توي» هلته ولاړ-خو هلته دده او دهغه ځاي د يو بل پير «شيخ اوريا» ترمنځ جوړه رانغله بيرته خپل کور ته ولاړ، او د کلي دخلقو په صلاح يې څو ورځې د پلار سره يو ځاي تيرې کړې، خو دي د خپلو خبرو نه، نه اوړېدو او پلار يې زړه لاړ

ketabton.com - The Digital Library



نه‌پریښوولی. آخر چې یې پلار د پر په تنګه شو، نو ښا راده یې وکړ چې د ده د لاسه کانی ګرم پر پر دی اما بایزید په‌دې پوهېدو چې: «که پلار مې زما د لاسه کوزپرېښود نو بیا زما هم په کانی ګرم کې خیرنشته» ځکه تو ده په خپله کانی ګرم پر ښېښو و، او د ورو ته‌را غلو. د د ورو علاقه د بایزید د دعوت خور بد لو د پارهٔ ځه قدری زرخیزه ثابته شوه. د سړبڼ انوحلقه یې دېره خوره‌شوه. خو بیا ورته په خوب کې دااشاره وشوه چې دوړونه «سړبڼ» ته‌لاړ شی، نوخپل یوخلیفه یې چې هغه هم «بایزید» نومېد تیراته و استولو، او د تیراپه ورکیزو اپریدو باندی دده دعوت ښه اثر وکړو، که‌څه‌هم دده خلیفه په‌ور کزو کې د مغلودلاسه بې‌ګناه و ژلی‌شوخوبایزید‌روښان ته‌یې دو سره‌خبرور کړو چې دا علاقه‌ددعوت دپارهٔ ښه سوزونه ده. نوځه موده پس چې حاجی ګدای نومی یو سړبڼ پښتون د غلورو نورو ملګرو سره دبا یزید روښان لاس نیوی وکړو، او دی‌یې خپلی‌علاقې ته و باله. بایزید هم ددوړونه ډېنګښو په‌لار تیراته ورغی، په ښنګښو کې یې‌هم ددعوت دائره خوره کړه، او دتیرا اورکزی اپریدی او تیراهی خویې داو له دده دخلیفه په واسطه سریدان شوی و و، لکه دحالنامې‌ځا و ندچې لیکی:

«اکثر پیشترا آمده قدم بوسی پیرد ستګیرقد سره کردند و شا دیها نمودند. برهرد ه که میګذشت اکثرزنان آن‌ده سبو از آب پر کرده برسرګرفته از ده برمی آمدند و نقش می خواندند، و در نقش صفت پیردستګیرمی کردند» خوو رځې یې دتیرا په‌ستوره کې تیری کړې، بیا دخیلو علاقې‌ته و لاړ، د «سکك شانې» کرد دېره شو، سلك شانې

ketabton.com - The Digital Library



د خلیلو خان و و ، چې د هغه خاندان دد ه سریدان و و .

په خلیلو سند و اوداؤ دزو کی یې د پیری آو از ه خو ره شوه اوور وو رو چار چا پیر تر گگیا نړ و، یو سفز و ، توی اوصافي قبیلو ورسید ه .

دحالناسي بیان دادی چې:« دبایزید ددعوت په خور پدو دنا قصو پیرانو په زړه کی دحسد اور لمبې و کړې او دوی دخلیلو یوزبل مشرملک حبیب ته په فریاد و رغلل چې دا نوی پیر راغلی دی خان ته سهدی و ایی، که ز ر یې علاج ونه شي او خلق ورسره راغونډشول نوتوره به په لاس کړی او بیا به یې علاج گران شي»

شنگه چې په هغو ر څو کی پېښور په کابل پوری ملحق و ،۲ کبر په هند وستان او محمد حکیم سرزا په کابل کی حکمرانان و و او جانس خان د محمد حکیم سرزا دطرفه په پېښور کی صو به دارو و نو دحالناسی مصنف و ایی چې ملک حبیب جانس خان ته و و یل چې : « ز سونږ نه دو و لس ز ره ر و پی و اخله او داسړی و و ژ نه»

خوجانس خان ددې ر شوت په قبلو لو ر ضانه شو او یل یې چې:« ز ه بیا د محمد حکیم سرزا جواب نه لرم ناسو هغه ته لاړ شئ » ملک حبیب هغه ر و پی کابل ته یوو ړې او د محمد حکیم سرزا په صلاح کار انو یې و و یشلې چې داو فرمان صادر شي چې بایزید دی هم هلته و و ژلی شي خو محمد حکیم سرزا خپلو صلاح کارانو دی ته آماده نه کړی شو او فرمان داو شو چې بایزید کابل ته ر او لی چې حال یې معلوم کړو .

بایز ید په ډېر عزت د یو څو لوستو سر یدانو دار دل سره کابل ته ر و ان شو

ketabton.com - The Digital Library



په‌لاره کې یې‌هم خپل دعوت خورولو — د حالناسي مصنف وایي چې په لارکې دتوې قبیله وه، دهغوی مشر عبدالکریم د ډیرو سلګرو سره دبایزید د ارادت په‌حلقه کې شامل شو — بایزید هغوی ته‌خپل‌یو خلیفه و رپریښو د او په‌خپله کابل‌ته‌لاړ — چې دربارته و رسید محمدحکیم سرزایی ډېر تعظیم وکړ و اوورته یې وویل:

«یاشیخ! خلق ستا په حقله قسم‌قسم‌خبری کوی — ته‌قاضي خان‌ته (یعنی مشر قاضي‌ته) ورشه او دهغه سره علمي خبری اتری وکړه — هغه څه چې هغه ستاپه حقله و و یل په‌هغې به‌زه‌عمل وکړم»

بایزید دقاضي خان ځای ته لاړ — هلته یې‌عزت وکړ و او بیایې تري نه د مسلک تپوس وکړو، که‌دحالناسي په‌بیان اعتبار وکړو (اوپه‌کارده چې وی کړو، ځکه چې اخوند درویزه هم داخبره په‌نیمګړې خوله منلې‌ده)

نو بایزید هلته دخپل مسلک صفائی داسي پیش کړلا چې ان هم سونړدا صفائي دده په‌حقله بنه کافي ګڼل‌سي شو» (۱)

---

(۱) تر دی‌ځایه دسولوی محمدعبدالقدوس قاسمي‌لیکنه وه چې دخیر البیان دپیښور چاپ دسریزی له ۱۲ مخ څخه‌تر ۲۳ مخ پوری راخیستې سوی‌ده — خو په نورو مأخذو کې دبایزید او قاضي خان پوښتنې او جوابونه داسي خلاصه سوی‌دی:

قاضي: ته‌ځان ته مهدی وایې؟

بایزید: زه‌مهدی نه‌یم هادی‌یم. *

ketabton.com - The Digital Library



مولوی محمدعبدالقدوس قاسمی خپلی لیکنې ته داسی ادامه ورکوی :

«الغرض قاضی خان دده صفائی پیش کړه او سرزاحکیم بیاپه ډیرعزت ورا پس کړ و ـ دغه ځایه پیښور ته راغلو، خو په دې پوه شو چې په خپلیلو کسی زما گذران گران دی ـ نو دغه ځایه د هشنغر سهمند زو ته لاړ، او هلته دیره شو.

هلته یو بل پیر «تانی» نو می دیره و، هغه یې هم په اخلاصمنو کی شامل شو دوی دواړو دسرو دشو قیان وو ، په دې وجه یې آوازه نوره هم خوره شوه ددې نه پس بایزید په مهمندزو کې خپلوی وکړی :

دیو خان، پایندهخان زوی علیخان ته خپله لور «کمال خاتون» ورکړه ، دبل خان، بهادرخان لور یې خپل مشر زوی « شیخ عمر » ته وکړه دیو بل سپین روبی « سمه خان» لور یې خپل بل زوی«جلال‌الدین»ته وکړه، او یوه ښځه «دنی» نو می یې سر یده شوه او پر هغې یې په خپله نکاح وتړله...او د مهمند زو په مشرانو کې لانور هم مغز ز شو، خلفأ او ساذ و نان یې په علاقو خواره کړل چې خلقو ته دعوت ورکړی او د پیر کامل په لاس دتوبی کولو تلقین ورته وکړی یو خلیفه یې چې «سودود » نو مید کندهار ته واستولو، هلته یې کاسی ،بړیڅ او څه هم ترینا ن سر ید ان شول ، بیا هغه خلیفه دبلوچستان

---

* قاضی: ته وایی چې پرماوحی نازلیږی؟ بایزید :ماته الهام کیږی

قاضی: ته څه پوهیږی چې دا الهام رحمانی دی که شیطانی ؟

بایزید: کوم الهام چې دقرآن او سنت مطابق وی د منلو وړ دی.

(دروښان یاد ـ دکابل چاپ ـ ۱۰ مخ)

ketabton.com - The Digital Library



په لاړ سند ته راغلو، په سید پور کې یې دیره و نیوله او د بایزید خو تکړه او مخور طرفداران هلته پیدا کړل یو کس د و ته یې خلافت هم و سپارلو.

بایزید خپل یل خلیفه «دولت» ته د صراط التوحید کتاب و رکړه او د اکبر پاچا دربار (هندوستان ته) و لېږلو — د حالنامې بیان داری چې اکبر خلیفه دولت ته داو ویل چې:

« من شیخ را به پیر قبول کردم و هر خدمتی که بفرماید بجاآرم بعد ه چیزی هدیه برای پیر دستگیر فرستاد و خلیفه را نیز خلعت بخشید»

بل خلیفه «یوسف» یې د بدخشان سرزا سلیمان ته و استولو، او «فخر الطالبین» رساله و رکړه چې سرزا ته یې و رسوی. سرزا سلیمان خو عالمان دربار ته و غوښتل د خلیفه سره یې بحث و کړو، او چې تسلي یې و شوه نو د خلیفه په لاس یې یو جوابي کاغذ او یو آس او پوستین تحفه بایزید ته و استول. په کاغذ کې یې دا لیکلي و، چې: « ما په خپلو سریدانو کې شمار کړه او چې څه خدمت رانه اخلې راته و یې سپاره — خپله سي هغه طرف ته د در تلو خیال شته که درغام نو خدمت ته به حاضر شم» خلیفه ته یې هم یو آس و بښلو.

«ارزاني» شاعر هم دده خلیفه و، چې د حالنامې د مؤلف په و ینا بایزید د ی هندوستان ته و لیږلو چې هلته خلقو ته دده د لارې تلقین و کړ.

اخوند درویزه وایي چې په دغو ورځو کې د بایزید یوه دعوت نامه د «پیر بابا» په نامه هم و رسیدله، خو پیر بابا چې هغه و لوسته او درد ځواب یې و رکړه

ketabton.com - The Digital Library



اخوند درویزه وایي چې: پیر باباسره دیوې ډلې ( چې اخوند درویزه هم پکښې و ) وریسي هشنغر ته لاړل — بایزید ورته وویل چې :

«ستاسو په علاقه کې نور گمراه پیران شته — د هغوی علاج ضرور دی ، تاسو هغوی ته هیڅ و نه ویل او په ما پسې راغلي — داولې؟ »

پیر باباورته په جواب کې وویل چې : «هغوی سو په بحث کې لاجوابه کړي دي، او زمونږ فرض ادا شوی دی — و ژلی یې نه شو ، دا د پادشاه کار دي — که ته هم خپله گمراهي سنې نو مونږ د رنه و اپس کیږو ».

اخوند درویزه وایي چې : « بایزید به کله د بحث او کله دچلول خو یې خبرې کولې — خو سا پرې دو سره دسوالو نو جوابو نو باران و کړ و ،چې بنه لا جوا به شو خو نفساني خواهش پرې غالب و ، مسلمان نه شو (۱) .

او بیا اخوند درویزه وایي چې :

«زما استاذ حاجي الحرمین ملا محمد چې په ملازنگي پاپیني مشهور و ، په دې و رځ ددې نوم» پیر تاریک » کېښو د» (۲).

خو ددې و چ تعصب او سخت مخالفت سره سره بیا هم اخونددرویزه د بایزید رو ښان له ذکاوت او هو ښیاری څخه سترگې پټې نه کړای سوې او وویل چې:«بایزید په عقل پروه د دنیا عقل یې ډیرو، وښیاری او زیرکی یې ډیره زده وه ... سکه بازید یو حکمتي و ... (۳)دلته باید داهم وویل سي چې دبایزید روښان

---

۱ - تذکرة الابرار ۱۵۲ - مخ

۲ - دخیر البیان سریزه ۲۷ - مخ دپېښور چاپ .

۳ - مخزن داخوند درویزه .

ketabton.com - The Digital Library



سره داخوند درویزه مخالفت یوازې دمذهبي تعصب پنه نه درلوده، بلکه دپردي شاته د هند دمغولی حکومت داستعماري سیاست پارونو يې هم سلا تړ کاوه، او دخپلو استعماري ګټو دپاره يې په پښتنو کې د مذهبي تعصب اورته لمنی وهلې، او څنګه چې اخوند درویزه دسید علي ترمذی (مشهور په پیر بابا) مرید او خلیفه، و او پیر بابا دوهلی دمغلو لی حکومت سره دوستانه روابط درلودل، او بایزید رو ښان پر پښتنی خاوری باندی د هند د مغولی حکومت د تیری سخت مخالف و، نو ځکه اخوند درویزه دانسته یاندانسته په دې اختلاف کې لوی لاس درلود.

خودې اختلاف دبایزید روښان دمبارزې په عزم کې څه خلل پېښ نه کړای شو، بلکه خپله مبارزه يې لاپسې تیزه کړه او د معنوی تلقین سره يې پښتنی توره هم ترملا کړه، او عملاً يې سیاسی مبارزو ته ملاوتړله او د هند مغولی متجاوز حکومت ته په ډاګه پاڅېد.

لوی استاد پوهاند حبیبی لیکی چې:

«د مغولو له خوا سیدعلي ترمذی او اخوند درویزه دپښتنو په منځ کې هغه خلق وو، چې دوی دمغولو سره قدیمه خپلوی او نژ ادی علاقه هم درلوده، او ددوی دحکومت طرفداران هم وو ـ نو طبعاً داخلق دروښان مقابلی ته وپاڅول شول، او پښتانه ځینی دروښان پرخوا، او بله ډله داخوند درویزه پرخوا ودرېدل، او ددوی په منځ کې داخلی جنګ تودشو. په دې جګړه کې په زرو نو پښتانه مړه شول، او هغه مقصد چې دمغلو حکمدارانو درلود په حاصل شو، علاوه پر هغو مسلحو جګړو چې مغولو دروښان سره کولې، د درویزه او نورو ملایانو له خوا ددوی سره علمی او جدلی مقابلی هم جاری وې، چې داتوله دسید علي ترمذی شاګردانو او وارادتمندانو

ketabton.com - The Digital Library



دمغلو دحاکمانو په لمسون ددې دپاره کولې، چې روښان پښتنو ته په بې دينۍ او الحاد بدنام سي، مګر روښان له دې تورو سره په خپل علمي تبحر او فصيحه ژبه مقابله کړ له، لکه چې دده علمي خېړنې او مناظرې د ملاز کريا سره مشهورې دي، وايي چې ملاز کريا بايزيد روښان ته وويل :

«ته د کشف القلوب او کشف القبور دعوی کوې، نو ز ستا د زړه حال راته ووايه که دې راته و وايه نو زه به دې په يقين سره مريد سم.» روښان ورته وويل: «که ستا په سينه کې زړه وي نو زه به يې حال درته و وايم، خو ستا په سينه کې زړه نشته » .

ملاز کرخلکو ته و ويل: «او لماسر کړي که زما په سينه کې زړه و، نو بايزيد و وژني – او که نه وي، نو دی اوله کړيء (۱) روښان و ويل: «دا زړه چې ته يې يادوې هر خر او پسه او آس يې لري، مګر د مومن زړه بل دی، لکه چې رسول الله صلعم فرمايلي دی: قلب المؤمن اکبر من العرش واوسع من الکرسي، و القلوب مع القلوب يشاهد يعني: د مؤمن زړه تر عرش لوی او تر کرسي پراخ دی، او زړونه د زړو سره وينې» او د کشف القبور په باب بايزيد ملاز کريا ته و ويل چې : « کشف قبور هم داسې کار نه دی چې په ظاهر و حواسو يې ته و وينې بايد په کلو کلو د نفس

---

(۱) دا جمله د استاد حبيبي په ليکنه کې نشته – د استاد خام له ليکنې څخه را اخستل سوې ده .

ketabton.com - The Digital Library



تصفیه وکړي: نو هله به ددې قابل سې ، چې داسې اسرار و لیدلای سې » (۱)

تر هغه وروسته نو بایزید د هند د مغولی حکومت د تجاوز پر خلاف په ښکاره دجنګ اعلان وکړ، او خپلو مریدانو ته یې هدایت ورکړ چې د مغلو له اسارته خانو نه وژغوري ، د مغلو پر سرکاري قافلو یې یرغلونه پیل کړه ، او د قافلو شکایتونه مغلي دربارته ورسېد، مغلي دربار په کابل کې واکوال محسن خان او په پېښور کې خپل حکمرانان معصوم خان ته امر وکړ چې د بایزید پر آزادي غوښتونکو او خپلواکي غوښتونکو باندې لښکري وباسي او بایزید و نیسي - دغه وخت بایزید او ملګري یې په «مهمندزو» کې او سېدل، او چې د مغلو دلښکرو دلوی بر یدخبر یې وارو یدنو له هغه ځایه یو سفز و ته ولاړل او دیوسفزو یې په « کلپانی» کې دیره سول، معصوم خان هلته په پسې ورغی ، بایزید د خپلو ملګرو سره غره ته و خوت ، معصوم خان غر محاصره کې بایزید پوه سو چې بې له جنګه چاره نسته، نو ده او ده آزادي غوښتونکو ملګرو توریله تیکو روو یستلې او ځانونه یې جګړې ته چمتو کړل دحالنامې مصنف ددې جګړې په باب داسې لیکي :

«جمله یاران که آنجا حاضر بودند سه صدو سیزده تن بودند بعده پیر دستګیر قدس سره وضوساخت و دو رکعت نماز خواندو دست بدعا بر داشت و یاران آمین کردند »

مولوي محمد عبدالقدوس قاسمي لیکي چې :

«د مغلو سر ه مخامخ شو او حمله یې وکړه خدا بر یالی کړل، خه مغل ووژلی شو»

---

(۱) دپښتو داد بیاتو تاریخ -۲/۸۳ مخ دائمه تلبیس -دابو لقاسم رفیق دلاوری دتألیف د ۵۸ ۳ مخ په حواله .

نور پېښور ته را و تښتېدل»(۱) او بیا د حالنامې د مصنف له قوله لیکي:
«بعده پیر دستگیر قدس سره آن جنگ جا را «آغاز پور» نام نهاد - یعنی در آن سر زمین آغاز شمشیر گرفتن کرد، و آن یاران که دران جنگ حاضر بودند آنها را «آغاز پوری» لقب کردند، و یک حصه از غنیمت ایشان از یاران دیگر زیاده می یافتند»
وایي چې بایزید تر دې بریالۍ جګړې وروسته د تیرا خواته وخوځېد، افضل خان ختک تیرا ته د بایزید راتګ داسې لیکي:
«بیا له توتي و تیراه ته ورغئ، اپریدي، ورکزي د اعالم یې همه مرید شه - داعیه یې د مغل سره د بدي وشوه، ویل به یې چې مغل ظلم پیشه دی، په دا پښتنو باندې ظلم تر حده زیات کا - په هغه آوان په تیراه کې د یراولس وه - اتمان خیل هم په ځنګه و ځټو رته میشته وه - اول په «چوره» راغئ په هغه وخت وسله په هغه عالم کې کمه وه، د چورې درومې په سختئ مشهوري دی - مریدانو ته یې وویل چې دا درمې پرېږ کوئ، سرونه یې تېروئ - جنګ یې وکړ د مغل سره - نقل کا چې هغو درمو به د نیزو کار کاوه» (۲)
بایزید روښان تیرا ته راغئ او د تیرا ننګیالي اپریدي یې د خان ملګري کړل او هغو ته یې وویل چې: «دا تیراهي قبیله په پټه د مغلو سره لار لري باید دوی له تیرا څخه ونیستل شي» او تیراهیو ته یې وویل چې: «تاسو په باطن د مغلو سره یاستئ - د ما له طریقې مردود الطریقه شوئ - اوس بویه چې دواړه لاسونه پخپله وتړئ، راشئ چې د تاسو توبه هم دغه ده. هغو یا له اعتقاده چې په ده یې وه،

---

(۱) د خیر البیان سریزه - ۳۰ مخ د پېښور چاپ -

(۲) تاریخ مرصع - د پېښور چاپ ۲۳۹ مخ

ketabton.com - The Digital Library



بالەوړی تیرسو کسو لاسونه و تړل و رلره راغلل، تیرسو و ارەیې جداجدا سره کړل۔ یودبل نه خبرنه شول ـ هغه باقي یې تاراج کړل ـ تیرا ه یې لەتیراهي خالي کړه اپریدو و ر کزو و نیو»(۱) تر هغه و روسته بایزید روښان دپرپښتانه پرخان راټول کړه او هغوتەیې وویل:

«تاسي یوقوم واست چي ترډهلي پوري سو پاچهي درلودله ، او سِ دمغلو سریان سواست ، او ددوی ظلمونه گالیء ؟ !

ولاړسی۔او د اغلامی کړی لەغاړوو باسیء ! » (۲)

دېرغ په زرو پښتانه راوپارول او دمتجاوزینو په مقابل کی سربښندنی ته چمتوسول ، او دننگرهار پرخوار او خوښېدلچي لوړي له افغاني خاوری څخه دېرديو مغلوپښي و باسي او بیادهند خواته هغه وکړی ـ لکه اخون درویزه چي دپیر روښان له خولې لیکی :

«لښکری به کړم بنیادی، هندوستان به و نیسمه، آوازیې کړلې گدی ، هر چي آس لری ءراځیء ـآس په ساپوری باسیء !

دا کبر بادشاه تنگيوارہ زسادی ، دوه گونه به در کوم دغه بنادی » (۳)

هغه وچي بایزید روښان لەتیراڅخه د«بړو» سیمی ته راغیء ، هغه سیمه یې ونیوله او هلته د یر ه سو .

په کابل کی دمغلولو واکوال محسن خان چي لاد مخه دبایزید په راڅرګېدو،

---

(۱) تاریخ مرصع-۲۳۹ مخ

(۲) دپښتو د ادبیاتو تاریخ - ۲۸۷/۲

(۳) د اخون درویزه مخزن -۱۳۳ مخ

ketabton.com - The Digital Library



خبر سوی و د خپلو خوښو اړو لښکرو سره له جلال آباد ده د ښینوارو خوا ته د بایزید د مخنیوی د پاره ورووت او د «تورا غه» په سیمه کی د بایزید روښان د لښکر سره مخامخ سو، سخته جګړه ونښتله - په پای کی د بایزیدلښکر ماته وکړه او په خپله بایزید روښان هم مړ سو.

خو پده د مړینی او د مړینی نښتی په باب خو روایتونه سته:

یو داچې بایزید روښان د جګړې په ډګر کې مړ او په اشنغر کې ښخ دی؛ بل داچی په خورا توده هوا کی پلی په غرواو رغو کی له لښکره بیل پاته سو، او په لار کی جل وواهه، چې اشنغرته ورسید په «کلپانی» نومی ځای کی وفات او همهلته په اشنغر کی ښخ کړ سو، او وروسته یی زامنو هډوکی را وایستل په صندوق کی یی دځانه سره ګرزول - وایی چی دیو سفر په جنګ کی یی دغه تابوت اباسینه ته لاهو کړه سو - دریم روایت دادی چی په وزیرستان کی ښخ دی او هلته د ده په نامه قبرښته - څلرم روایت وایی چی بایزید روښان په جنګ کی ټپی سو، نو اشنغرته ولاړ، او په ساسون زی کی چی دا کبرپوري د ګلوزی سره نښتی دی مړ او هلته ښخ کړه سو، او یوه لوړه ګنبده هم پرجوړه کړه سو، چی تراوسه سته - خو زامنو یی دده تابوت له هغه ځایه یووړ، او اټک ته یې لاهو کی - (۱) پوهاندی مؤلف بیا لیکی چی:

---

(۱) تذکرة الاولیا - د میراحمد شاه رضوانی د لاهور چاپ - ۴۰ مخ او: د پښتو ادبیاتو تاریخ - ۲/۲۸۷، ۲۸۸ مخونه - د پوهاند حبیبی تألیف.

ketabton.com - The Digital Library



« دافغانستان دغرو په سلسله کی د«بته پور پرغره دروښان قبردی » (۱)

دحالنامې مصنف بیاوایی چی :

په(۹۸۹ هق)دروښان اخلافوده تابوت په «بته نګر» کی ښخ کړ ، چی دغه ځای له کانی ګورم څخه درې ورځی لار مسافه لری (۲)اواوس په کانی ګورم(وزیرستان) کی یوه مشهوره هدیره د«میان پیرولی»صاحب په نامه مشهوره ده او خلک یې د پیرروښان دخاندان مقبره او یوه کورنی پیران هم هلته سته چی ځانونه روښان ته منسوبوی (۳)

همدارنګه دبایزید روښان د مړینې دنېټې په باب مختلف روایتونه سته :

۱ — ۱۵۸۵ میلادی = ۹۹۳ ه ق کال :—

زیاتره ختیځ پوهان او هغه ښاغلی خبرو نکی چی دهغو پر پله روان دی داکال دبایزید روښان دمړینی کال ګنی ، لکه ډاکترجان لایډن ، جارج ابراهام ګربرسن ، پروفیسر جارج مارګنسترن ، ښاغلی قیام الدین خادم او نور ...

حال داچی د(۹۹۳ هق) کال د میرزا محمد حکیم په مړینه د جلال الدین اکبر دخبر بدلو کال ښوول سوی دی ـ نه دبایزدروښان دمړینی کال (۴)او ددې تېرو تنی سرچینه ددبستان مذاهب غلطه انګریزی ترجمه ده،

---

(۱)ائمه تلبیس-۳۵۶ مخ دپښتو ادبیاتو تاریخ د ۲/۸۸ ۲مخ په حواله

(۲) حالنامه -۱۵۶،۸۳ مخو نه

(۳)دامعلومات پوهاند حبیبی ته له خنید ولوښاغلی عبدالقیوم لیکلی وچی د دغی کورنی یوغړی و . تاریخ ادبیات پښتو ۲۸۸

(۴) پردې موضوع باندی پوهاند عبدالشکور شاد مفصله څیړنه کړې ده ، چی» د روښان یاد»د کتاب په ۲۱۷-۳۴۳ مخ کی ترو ۳۳ رری، خ پواغلې ده، هلته دی رجوع وسی.

ketabton.com - The Digital Library



چې په(۱۸۱۰م=۱۲۲۶هق) کال دې اکترجان لايدن له خوا سوې وه او بيا ورو پسې تعقيب کړې ده .

پوهاند عبدالشکور رشاد ليکي چې:« د پير روښان سرګ په ۱۰۸۵ ع کال بلل يوه داسې تېروتنه ده چې زساد سعلوساتوله سخې اتلس کاله پخواد لرى پښتونخوا د يوپښتانه څېړونکي ښاغلي سولانا حافظ عبدالقدوس قاسمي و رته پام سوى دى او ليکي:«د بايزيد د وفات کال اکثر سضمون نگاران سن ۱۰۸۵ ع (سن ۹۹۳ ه ق ) بيانوى خودا سن غلط دى ، ځکه چې ابو الفضل پخپل کتاب اکبر نامه کې ليکي چې په ۹۸۹ هق کې د اکبر فوځونو د جلال الدين سره د خيبر په غرو نو جنګونه کول ،نو دجلال الدين د جنګونو او د بايزيد د سرګ تر سينځه د شيخ عمر په يوسفزو پادشاهى، بيا سخالفت ،بيا په جنګونو کې د نورو و رونو سرګ او د جلال الدين بياد جلال الدين روښاني اکبر بادشاه ته و رسپارل او بيا دهغه د سلاز ستنه دده را تښتيدل دواقعاتو يوه لويه کړى ده چې په يوه کال کې دننه د ننه دا تول واقعات تقريبا ناسمکن دى،او ددى غلطى اصلي وجه دا ده چې د« دبستان سذاهب» سصنف چې د سيرزا حکيم په دربار کې د بايزيد د حاضرى قصه ليکلې ده نو ستصل يې و رسره دا بيان کړى دى چې د سرزا حکيم د سرګ خبر اکبر ته په ۹۹۳ ه کې را غى (۱) او بيا و رپسې جخت ليکي چې «د بايز يد قبر په بهته پور کې دى، د دې نه د بسا يز يد يو انګر يز سوانح نګار دا غلط فهمي و کړه چې دا د بايزيد د وفات سن دى او نورا کثر سضمون نګار هم د هغه په قدم روان دى . . . . . (۲)»

---

(۱) په دبستان سذاهب کې اربع تسعين و تسعماته را غلى دى.

(۲) د پښتو ر د پښتو سجله – د ۱۳۷۷ ه ق لو سړى ګڼه.

ketabton.com - The Digital Library



واقعه داسې وه چې په (۹۸۹ ه ق) کال چې اکبر بادشاه له کابله بیرته هند ستونېده، بایزید روښان وفات سوی و، او دده او لادې په یوسفزو کې یا چهې جوړه کړې وه.

۲ — د ۹۸۰ ه ق = ۱۵۷۲ م کال: —

دحالنامې د کتاب مصنف چې د بایزید روښان او دده د کورنۍ او خلیفه گا نو حالونه یې لیکلي دي دبایزید روښان د مړینې کال همدا ۹۸۰ ه ق کال بللی دی او داسې لیکي:

«بعد از آغاز نمودن (جنگ) یعنی شمشیر گرفتن پیر دستگیر دو نیم سال، بتاریخ هجری نهصد و هشتاد رسالت پناهي بوصال دوست پیوست» (۱)

پروفیسر ډاکتر محمد شفیع لاهوري هم په «اسلامي دائرة المعارف» کې دبایزید روښان دمړینې کال (۹۸۰ ه ق) ښوولی دی چې دده دغه خبره د پورو ښو نکو مأخذ دی (۲) دغه رازد لاهور په اورنټیل کالج میگزین کې ډاکتر جهانگیر او دوه کې خزانې په دوهم توك کې همېش خلیل دبایزید روښان د مړینې نیټه (۹۸۰ ه = ۱۵۷۲ م) کال بللی دی (۳)

---

(۱) دحالنامې د پنجاب پوهنتون قلمي نسخه — ۳۷۲ مخ.

۲ — داسلامي دائرة المعارف دوهم چاپ لومړی توك ن ۲۳۱ مخ دپوهاند رشاد دلیکنې په حواله.

۳ — دپېښور د پښتو مجله — د ۱۹۵۷ م کال داکتوبر گڼه — ۵ مخ — او د کې خزانه دوهم توك — ۲۱ مخ — دپېښور چاپ.

ketabton.com - The Digital Library



۳— د ۹۸۰ هـ او ۹۸۹ هـ ق کلو ترمنځ :

ځینې خیرونکي د بایزید روښان د سړیني کال ۱۵۸۵ م نه ښی او په تینګه یې ردوي، او هم دحالنامې روایت (۹۸۰ هـ ق) کال ته دشك په سترګه ګوري، چې یو له هغو څخه حافظ محمد عبدالقدوس قاسمي دی، او دی لیکی :

« وایي چې بایزید په ۹۹۳ هـ ق کې وفات شو او د حالنامې مصنف وایي چې دی په کال نه سوه اتیا کې وفات شوی دی ، د صراط التوحید په پای کې لیکي دي چې داکتاب په ۹۷۸ هـ ق کال کې لیکلی دی او بیا هم دحالنامې بیان دی چې د تورې اخستو نه (جنګ آغاز پورته) دوه نیم کاله پس دی وفات شوی دی — داتاریخونه خپلو کې سمون نه خوري.

که بایزید په صراط التوحید په کال ۹۷۸ هـ ق کې لیکلی وي نو روستو دې کتاب کمپرته رسیدل او بیا د خلیفه واپس راتلل ، بیا د ده جنګونه شروع کېدل (داتړل هرڅه په شپږ میاشتې کې) او بیا دوه نیم کاله تیرېدل او په کال (۹۸۰ هـ ق) کې د ده وفات قیاس نه منې . . . .

(اګر که) دحالنامې د مصنف بیان نامنکن خو نه دی، خو ظاهر هم نه دی — هم په دې بنا ماد پښتو په مجله کې داښکلې وو، چې ترڅو چې داخبره ښه وا ضحه نه وي تر هغه سوړ صرف داو یلی شو چې « بایزید » د کال (۹۸۰ هـ) او کال (۹۸۹ هـ ق) ترمنځ څه کال کې وفات شوی دی (۱)

---

(۱) د خیرالبیان سریزه — ۳۱ مخ د پېښور چاپ .

ketabton.com - The Digital Library



پر هاند حبیبی دبایزید روښان دمړینې کال (۹۸۸ ق) کال ګڼلی دی (۱)
تقویم الحق کاکاخیل بیا په خپل اتکل د حالنامې قول ته نژدې دبایزید
روښان دمړینې پېښه په (۹۸۱—۹۸۲ ق) کې بولي (۲) خو پوهاند ژشاد
دخپلې مفصلې او ژورې څېړنې په پای کې دبایزید روښان د مړینې د کال په
باب داسې نتیجه اخلي چې لیکي :

«د پیر روښان دمرګ دنېټې په باب له دغې او دې څېړنې او زیاتو اقتباسو
نو څخه دانتیجه راوزي:

۱— د۱۵۸۵ عیسوي سنه (۹۹۳—۹۹۴ ق کلونه) دروښان دمرګ نېټه
بلل یوه سردوده نظریه ده ، د روایت حکم کوي چې د پیر روښان مرګ باید
هرو مرو تر (۹۸۹ ق) کال پخوا وي.

۲— د۹۸۰ ق سنه دپیر روښان دمرګ کال بلل دحالنامې روایت دی چې
په څو کتابو کې رانقل سوی دی د پیر روښان دحالاتو په باب حالنامه تر ټولو
ثقه مأخذ دی .

څېنې محتاط څېړونکي چې دمراطالتوحیددتألیف (۹۷۸ ق) او په حالنامه
کې دپیر روښان دمړینې کال (۹۸۰ ق) تر منځ د واټن تو دپرېښت ته ګوري
دا بېره ورپیدا کېږي چې نه چې دحالنامې په لاس ته راغلې متن کې تر (نهصد
و هشتاد) وروسته کوم عدد پاته وي له دغه اسله نو دوی دعلمي احتیاط له مخې
دپیر روښان مرګ د (۹۸۰ ق) او (۹۸۹ ق) تر منځ په کوم کال کې بولي ...

---

۱— تاریخ افغانستان درعصر گورگانی هند— د کابل چاپ— ۹۴ مخ .

۲— دروښان یاد ۴۳ مخ ....

ketabton.com - The Digital Library



سگر زما خیال دادی تر څو چې دحالناسي کوسي بلې نسخې (چې له بده مرغه يې ترا و سه پوري څر ک نسته) ددغه عددي اسقاط گمان په باو ر نه وي بدل کړي۔ يا پخپله په حالنامه کې د پیر رو ښان دمرگ د کال په باب د(۹۸۰ هـ ق ) سني کو م نقیض قو ل نه وي پیدا سوی — او یا د رو ښانیانو په باب تر حالناسي بل ثقه ساخذ دحالناسي دغه خبر ه نه وي ساته کړي — دحالناسي دقول د رنسبت پرځای دی( ۱ )

دبایزید رو ښان آثـار : —

دبایزیدرو ښان له هغـو آ ثـار و څخه چې ا و س سته داسي څر گند یږي چې بایزید پـه عـر بي او اسـلاسـي عـلو سـو پوه و ، پـه تفسـیر او حـدیـث او فقه کې یې سطالعه درلو دله او په تصو ف کې یې نظر اً او عملاً لوی لاس درلو د او هم ثابیتږي چې بایزید په څلو رو ژ بو (پښتـو ، فارسي، عر بي او د پنجابي په یوه لهجه ) پو هېد ه، ویلای او لیکـلای یې سو ه د پښتو دپاره یې په پښتو سو ز و- نې خبرې جو ړو لې او پا ړسیانو ته په پاړسو ، او هند یانو ته په هند کو — ددهد لیکلو سو یو آثار و څخه تر او سه دغه آثار سعلو م دي :

۱— د پښتو رسم الخط :

پو هاند حبـیبي لیکي چـې : « د ا سـي ښـکـا ري چـې پـیر رو ښـا ن د پښتو ژ بې ځینې حر و ف چې سخصو ص اصو ات لري ؟ او دعر بي او فا رسي حر و فو له اشکالو څخه هغه اصو ات نه ز ده کیږي په یو ه سخصو صه ر ساله کې تر تیب

---

۱— د رو ښان یاد — ۱۴۳، ۲۴۳سخو نه.

ketabton.com - The Digital Library



اوتوضیح کړل او دهغو دلیکلو شکل یی وتیا کهـ اکه دروښان شاګرد او دپښتو شاعر دولت چی وایی :

افغانی لفظ مشکل ولوست کو ینښ نشته
ورته وشوه کښنده دیارلس حرفونه(۱)

۲ـ صراط التوحید : داکتاب بایزید په(۹۷۸ ه ق ) کال لیکلی او (۱۱۵) چاپی مخونه لری، او دکتاب په پای کی یې کښلی دی : « تصنیف این رساله بایزید مسکین انصاری قدس سره العزیز درسنه ثمان وسبعین وتسعمأ ونامش « صراطالتوحید»نهاد، هر که بخواند وبآن عمل نماید بعلم توحید بهره مندشود و مسعودگردد اگرجای سهوی وخطایی افتاده باشدباید که برای آنکه این مسکین بظاهرعلم (نه)خوانده است (عفوگردد)» دحالنامی مؤلف لیکی چی روښان ددغه کتاب یوه نسخه داکبرپاچادربارته هم استولی وه(نور تفصیل یې«دپښتو ادبیاتو تاریخ» ددوهم ټوك په(۲۹۳) مخ کی تر(۲۹۸) مخ پوری راغلی دی )

۳ـ حالنامه: ددبستان مذاهب مؤلف لیکی چی:« وحالنامه کتابی دارد که درانجا احوال خود راباز گذارده» (۲) خو پخپله له حالنامی څخه چی په دری ژبه ده داسی معلومیږی چی ، اصلی مؤلف یې علی محمد مخلص د ابابکر کندهاری زوی دی،نو ښایی چی دحالنامې لوسرنی برخه روښان لیکلی وی اوبیانو

---

۱ـ ددولت لوانی دیوان ــ او ددې موضوع نور تفصیل « دپښتو ادبیاتو تاریخ»ددوهم ټوك په(۲۹۰) مخ تر (۲۹۳) مخ پوری راغلی دی.

۲ـ دبستان مذاهب ــ ۲۵۱ مخ .

ketabton.com - The Digital Library



علی محمد مخلص و ر پسې بشپړه کړې و ه او دده داو لادې حالات یې پکښې ز یات کړی و ی (۱)

۴- مقصوور المنو منین:

د با یز ید روښان بل اثر دی چې په عر بی یې د خپل مشر ز وی عمر په غو ښتنه لیکلی دی او د ر و ښان د پلی اصول بیانوی. د دې کتاب دوې قلمی نسخې سته یوه په لاهو ر کې د ار واښاد ډا کتر محمد شفیع خیشکی سره و ه او بله د حید ر آباد د کن په آصفیه کتابتون کښې ( نو ر معرفی یې د پښتو اد بیا تو تا ریخ د دوهم ټو ک په (۳۰۰) مخ کې راغلی ده-

۵- فخرا لطالبین:

دا رساله یې د بد خشان د حکمر ان میر ز اسلیمان په نا مه هغه و خت ولیکله او و ر و ېې لیرله چې د دې سیمې زیاترو پاچهانو ته یې د خپل مسلک د تلقین او تبلیغ لیکونه استول د دې اثر یادونه په حالنامه کې سوی ده خو نسخه یې لا تراوسه لاس ته نه ده راغلی ۶- خیر البیان: د با یزید روښان تر ټولو مهم او مشهور کتاب دی چې د پښتو په ادب کې خورا ارزښتنا ک مقام لری. دا کتاب با یزید په څلو روژبو د پښتو عربی فارسی او پنجابی) لیکلی چې فقط یوه نسخه یې تر اوسه په دنیا کې پیدا سوی ده او هغه نسخه یو وار په د ۹۶۷ ۱ م په جون کې د حافظ محمد عبدا القدوس قاسمی د عالمانه تحشیې او سریزې سره په پیښور کې د پښتو اکیډیمی له خوا چاپ سوی ده او بیا په (۱۳۵۳ هـ ش) کال په کابل کې دا د بیا تو او بشری علو مو د پوهنځی له خوا عین نسخه عکاسی سوی او خپره سوی ده نو ددی کتاب د زیاتې پیژندنې د پا ره د ی د دوارو چاپی نسخو سریزو ته رجوع وسی په تیره بیا د پیښور د چاپی نسخې د سریزې (۱ ۵) مخ ته تر (۹۲) مخ پوری

---

۱) نور تفصیل یې «د پښتو اد بیا تو تا ر یخ» د دوهم ټو ک په (۲۹۸) مخ کې راغلی دی

ketabton.com - The Digital Library



۷-د بایزید روښان یوه نوموړ کی رساله :

د کابل د خطی نسخو په کتابتون کی یوه مجموعه ستهچی په جیبی قطع یو څوقلمی رسالی پکښی راغونډی شوی دی، او یوی رسالی خو پانی د بایزید مسکین په نامه ستهچی د عربی اوفارسی لیکنی بڼه یی هم د بایزید روښان نوروتالیفاتو ته ورته ښکاری خو نوم یی معلوم نه دی مګر په یوه پاڼه کی یی: لیکلی شوی دی چی «قال بایزید مسکین» او هم په دی جملو ختمیږی:

«قال بایزید مسکین ابن عبدالله: راحت روح کان وصف الله وعزا به صفة البشریه فکل راحت یهلک عن الانسان بغیر وصف الرحمن . این رساله مختصر کردم تمام عاد لانشی امن یا بند جاودان تمت تمام شد کار من نظام شد ، امید و ارست با لطف باری همدان این شیخ نیعمت ( کزا) مریده یا روښان انصاری... تحریرفی تاریخ ۷ ۱ شهرشوال ۱۴۳ ( ۱۰۴۳ هـ ق ) (۱)

۸- مکتوبات : دا کتر جهانګیر په خپله یوه مقاله کی لیکی: «پیر روښان کی مکتوبات مین هی که ابراهیم دانشمند مدینه کی رهنی والخ تهی (۲) خو خدای ته معلومه ده چی د پیرروښان د امکتوبات د ده دلیکنو د مجموعه ده او که کوم بل اثر دی.

۹- و اجبه د ی ښلوک :

د پنجابی یو منظوم کتاب دی چی «او نکار ناتهه» تر تیب کړی دی او پیښو ر چاپ دخیرا لبیان مصحح او محشی مولانا قاسمی یې یادونه کړې ده او لیکلی چی :

«دغنی خلقود اخیال دی چی دا هم د بایزید دی او د انظمونه د ده دی» (۳) . ۱-د

---

(۱) دخیرالبیان سریزه -(۳۲) مخ کابل چاپ

(۲) اور نیټل کالج مګزین -(۱۹۵۵ فبروری-۹۳ مخ

(۳) دخیر البیان سریزه ۵۰ مخ - د پیښو ر چاپ

ketabton.com - The Digital Library



دبایزیدروښان شعرونه : که څه هم د بایزید روښان پښتو عروضي شعرونه لاتراوسه لاسته نه دي راغلي، خو د ځینو قراینو او شواهدو له مخې ویلای شو، چې بایزید شعرونه ویلي دي. مثلاً اخوند درویزه لیکي :
«و آن...بزبان افغانی شعر سیگفت ... و شعر های لایعنی بافغانان می نمود...» (۱)
پوهاند عبدالحی حبیبي هم د پښتو ادبیاتو په تاریخ کې د « معارف » په حواله لیکلي دي چه :«میرزا محمد حکیم پیر روښان په سیاه چاه کې قید کړی و، مګرپس له څه وخته چې یې وکتل دی هلته ژوندی و، او ډیر اشعار یې په دغه تورزندان کې ویلي وو ... » (۲) د حالنامې مصنف هم په صراحت سره وایي چې :
بایزیدا و لسړي وچې، پښتو قصیدې، غزلې، رباعیات، قطعې او مثنوي یې جوړې کړې دي(۳) په دې توګه نو دبایزیدروښان په اشعارو کې څه شک نه پاته کیږي بلکه ځینې پوهان خبرونکي لادخیرالبیان متن هم یوډول شعربولي او څیړنې یې پرې کړې دي (۴).
۱ ـ دبایزید سرودونه :
دحالنامې دلیکنې له مخې بایزیدروښان دپښتوموسیقۍ په برخه کې هم لوی خدمت کړی دی او هغه داچې په پښتو موسیقۍ کې یې دسلوک او رزم سرودونه جوړ کړل او حالنامې دده له خوا داسې جوړ کړل سرودونه یاد کړي :

---

(۱) مخزن ـ قلمي نسخه
(۲) دپښتوادبیاتو تاریخ ـ ۲/۲۷۲ مخ
(۳) حالنامه ، روښانیان دمغلو تاریکیان ۳۵ ، ۱ مخ ، پښتو مجله ۲ کال ۴ ګڼه ، د روښان یاد ـ ۱۷۲ مخ (۴) دخیرالبیان سریزه ـ ۸۱ مخ دپوهاند رشاد لیکنه

ketabton.com - The Digital Library



«ناسري(دهناسري) پنځه پر دي، خلور پر دي،درې پر دي،دجنګ آهنګ دشهادت مقام »(۱)

دبايزيد روښان اولاد :

دبايزيد روښان درې ماندينې وې:

«بي بي شمسو ،توري ادي،دني »چې له بي بي شمسو څخه يې پنځه زامن :

«شيخ عمر ،نورالدين،خيرالدين، كمال الدين او جلال الدين»درلودل،اوله توري ادي څخه يې يو زوی«دولت» او دمير من دنی څخه يو زوی«الله داد» درلود.

يوه لوريې « كمال خاتون » نوميدله چې دپاينده خان زوی ته يې وركړې وه ، او د نورو لونو په باب يې معلومات نه سو دچي درلودلي يې: كه نه (۲) .

مأخذونه :

۱ـ خيرالبيان ـ دپېښور يونيورستۍ د پښتو اكيډيمۍ چاپ ـ په ۱۹۶۷م كي ـ دحافظ محمدعبدالقدوس قاسمي ترتيب تدوين او حواشي ـ ددېباچې له لومړي مخ څخه تر ۹۲)مخ پوري

۲ـ خيرالبيان ـ دكابل عكسي چاپ په ۱۳۵۳ ه ش كال كي ـ دپوهاند عبدالحی حبيبي سريزه ـ له لومړي مخ څخه تر ۳۴ مخ پوري، او دپوهاند عبدالشكور رشاد ليكنه ـ ۸۱ مخ

---

(۱) دروښان يادـ ۱۷۳ مخ د ښاغلي رفيع ليكنه

(۲)دبايزيد داو لادمفصله شجره او ددوی سياسي موقف دپېښور چاپ دخيرالبيان دـ سريزې په (۳۳)مخ كي تر (۳۸)مخ پوري دمولانا قاسمي په قلم لوستلای سئی .

ketabton.com - The Digital Library



۳- د روښان یاد-د پښتو ټولنې چاپ چې په ۱۳۵۵ ه ش کال د بایزید روښان دنړیوال سمینار دمقالو مجموعه ده .

۴- د پښتو دادبیاتو تاریخ :

د پوهاند حبیبي تألیف چې په ۱۳۴۲ ه ش کال د پښتو ټولنې له خوا چاپ سوی دی دوهم ټوک له ۵۰۲ مخ څخه تر ۳۶۸ مخ پوری .

۵ - حالنامه -دعلي محمد مخلص تألیف،قلمی نسخه -چې د هند دعلیګړ په ختیځ کتابتو ن کې په (۲۹۰/۳۷۰) نو مره خو ندې ده او ۵۲۶ مخو نه لري .

۶-صراطالتوحید :

دبایزید روښان اثر چې په (۹۷۸ هق) کال یې لیکلی او په (۱۹۵۲ م) کال په ۱۱۶ مخو کې په پیښو ر کې چاپ سوی دی .

۷- ددو لت لو انی دیو ان :

چې په ۱۳۵۳ ه ش کال د پښتوټولنې له خوا په کابل کې چاپ سوی دی.

۸- تذ کر ة الابرارو لاشرار :

داخو ندد رو یزه تألیف -چې په (۱۰۲۱ هق) کال یې لیکلی او په (۱۳۰۹) کال په هند و پر یس مطبعه کې چاپ سوی وی .

۹- مخز ن الاسلام:داخو ندد رو یزه مشهو ر تألیف چې قلمی نسخې یې خو ر از یاتې دی .

۱۰-تار یخ مر صع :

دافضل خان خټک تألیف - چې په ۱۹۷۴ م کال د ښاغلي دو ست محمد کامل په مقابله ، تصحیح اوتحشیه په پیښو ر کې چاپ سوی دی .

ketabton.com - The Digital Library



۱۱- تذکرةالاولیا - دمیر احمد شاه رضوانی تألیف-دلاهور چاپ .

۱۲- دبستان مذاهب :

دمحسن فانی کشمیری او یادسو بدشاه زردشتی تألیف .

۱۳- اسلامی دائرةالمعارف دوهم چاپ-لوسری ټوک -۲۳۱۱مخ .

۱۴- پښتو مجله -دپېښور -د۱۹۵۷م کال‌دا کتوبر گڼه- ۵مخ .

۱۵-وږکه خزانه- دښاغلی همیش خلیل - دپېښور چاپ -۲/۱۳مخ ،

۱۶-تاریخ افغانستان در عصر گورگانی هند -دکابل چاپ-۹۴ مخ دپوهاند حبیبی تألیف .

## ۱٤٤۹ بایزید دوری هروی :

د میر نظام زوی چې تخلص یې «دوری »او مشهور په «میر دوری» و ، د خپل وخت له‌نو میالیو خطاطانو او شاعرانو څخه بلل سوی دی .

څنگه چې‌یې خپل ځان د امیرانو له اولادی څخه بالله نو د خپل نامه په سر کی یې د«سلطان »کلمه راوړه او داستاد میرعلی هروی د لوړی درجې له‌شاگردانو څخه وچې دغه استادورته زیاته‌توجه درلوده دلة او دی یې د«فرزند» په خطاب یاداوه اوهم د میر علی د لیک په څېنو ټوټو کی داسی لیکلی سوی دی :

«بجهته فرزند عزتمند مولانا سلطان بایزیدشهیر بدوری» له‌هرا ته هندوستان ته تللی او هلته داکبر پاچا (۹۶۳-۹۳۷ه) په ملازمانو کی شامل سوی وچې د طبقات اکبری مولف یې د اکبر پاچا د ربار له‌شاعرانوڅخه‌گڼی اولیکی‌چې‌ده‌ته‌دا کبرپاچاله‌خوا د «کاتب‌الملک» خطاب‌ورکړه

ketabton.com - The Digital Library



سوی و. د ژوند په پای کی دمحج دپاره سکی ته ولاړ او په (۱۹۶۸)
کال په او بو کسی ډوب او مړ سو .
په نستعلیق لیک کی یې لوی لاس درلو د ، او دهند وستان د کپو ر
دو پلست په کتابتون کی د امیر خسرو ددولر انی او خضر خانی
مثنوی یو ه نسخه دده په جلی ښکلی لیک سته چی په دی جمله تما سیږی
« الفقیر الحقیر المذنب سلطان بایزید بن میر نظام مشهو ر بد و ری بتاریخ شهر
محرم الحرام سنهٔ ۹۷۶ »
یو ه بله سر قعه تو ته دده په ښکلی لیک داستانبول د خزینهٔ او قاف په
کتابتون کی سته چې په پای کی یې داسی لیکلی شوی دی :
« الفقیر المذنب سلطان بایزید دو ری غفر ذو نو به ... »
دده د لیک یو ه بله شکلی ټو ټه یې په مکه کی لیکلې چی د خانسم پر و ین
شیبانی په خصوصی مجموعه کښ سته او پای یې داسی دی :
« العبد کا تب الملک المشتهر بد و ری غفر ذ نو به فی تا ریخ شهر شوا ل
سنهٔ ۹۸۵ هـ تحر یراً فی مکه ا لمشر فه »
مأ خذ :
احوا ل و آثا ر خوشنو یسان - ۱ ر ۹۵ مخ

## ۱۴۵۰ـ با یز ید لو دی :

خو اجه با یز ید لـو دی دسلـطان بهلو ل لو دی زوی و ، چـی مو رې یې
«شمسو» یا « شمسیه » یا « شمسی » نو مید له .
په (۸۵۴ هـ ق) کال نو ی ز لمی و ، چی پلا ر یـې سر هند او دیپالپو ر ته
و لاړ او د ډ هلي نیابـت یې ده او خانجها ن لو دی ته پر یښو د ، بیاچی

ketabton.com - The Digital Library



د «بدایون» سیمه سلطان بهلول ونیوله نو دی یې د هغې سیمې واکمن وټاکه خو چې د سلطان د ژوند په وروستیو کلو کې د خپل نوکر له لاسه ووژه سو .

دده دیوه زوی نوم اعظم همایون په تاریخو کې راوړه سوی دی چې د نیکه په ژوند د کالپې د سیمې واکمن و.او د سلطان بهلول د مړینې په وخت کې ځینې پښتانه امیران دې ته تینګ و، چې دی دې ولیعهد وټاکل سي او د سلطان سکندر په وختو کې د«لکهنوتي» کې واکمن وټاکل سو .

ماخذونه :

۱ـ لودی پښتانه

دپوهاندرشادلیکنه ـ ۱۱۲ مخ

۲ـ مرقع افغان ـ ۷۰ مخ

۳ـ تاریخ سلطانی

**۱۴۵۱ـ بایسنغر میرزا:**

د شاهرخ میرزا دریم زوی او دامیر تیمور ګورګانی نمسی په هرات کې دګورګانی سلاطینو د کهاله ډیر نوميالی هنرمند او هنرپالو نکی اوفاضل شهزاده و ،چې د (۷۹۹) کال د ذیحې دمیاشتی په یوویشتمه د جمعی په شپه (۱) او یا په

---

(۱) حبیب السیر ـ ۳/۳۳ مخ لنت التواریخ

ـ۱۹۱ مخ دیحیی قزوینی تالیف

ketabton.com - The Digital Library



هل روایت په (۸۰۲ ه ق) کال کی (۱) زیږیدلی دی ، او سوریې د افغانستان د نهمی هجری پیړی نومیالی ملکه گوهر شاد بیگمه وه.

ځنگه چی بایسنغر میرزا د گورگانی شهزادگانو په منځ کی د ښه ذکاوت او لوی استعداد خاوند و ، نو په (۸۱۷ ه ق) د خپل پلار شاهرخ میرزا له خوا د طوس او مشهد و اییورد او شملقان او چرسغان او خبوشان او مازندران او استرآباد او شالمان او کبو د جامه د ولایاتو او دجرجان دسیمو حکومت ده ته وسپارل سو او څه موده ووروسته چی شاهرخ میرزا ته دخپل زوی عقلمندی او په کارپوهنه او دخلکو سره ښه رویه لا ښه څرگنده او ثابته سوه ، نو په ( ۸۱۹ ه ق ) کال یی د خپل وزارت چاری وروسپارلی چی رتبه یی د اوسنیو تشکیلاتو له مخي دصدراعظم او رئیس الوزراء درتبی سره سمه وه .

سربیره پر اداری چارو د بایسنغر میرزا ستر امتیاز او صفت دده دهنر پالنه وه دده گورنه یوازی د فضلا وا و هنرمندانو دروزنی او پالنی تاتوبی و بلکی دی پخپله هم لوی هنرمند او درازوراز فضایلو او کمالاتو خاوند و په تیره بیا په ښه خط لیکلو با لخاصه په ثلث خط کی د « پید ایش خط و خطاطان » د مولف په قول «یگانه زمان او نابغه دوران » و ، لکه چی

---

(۱) تذکره دولتشاهی سمرقندی - ۳۵۰مخ

ketabton.com - The Digital Library



ویلی سوی دی چی خلو رتنه د خطو طو د ساتی خلو رستنی وی:
لو مړی بایسنغر دثلث په خط کی ،دوهم سیر عما دد نستعلیق په خط
کی، د ریم میر احمد نیر یزی د نسخ په خط کی او څلورم درویش
عبد المجید تالقا نانی په شکسته خط کی .

د هنر پالنی په باب یې همد ایو ه خبر ه بس د ه چی مو رخا ن لیکی
چی ده په هرات کی یو کتا بتو ن جو ړ کړی و،
چی په هغه کی به تل څلو یښت تنه خو شنو یسا ن دکتابو په
استنسا خ او استکتاب بو خت وو، سر بیر ه پر هغو یو شمیر انځور
گر انو نقاشا نو ، رسا ما نو، تذهیب کا رانو او صحا فا نو به د
کتابو دنقاشی،رسامی تذهیب جدو ل کشی ا و تجلید کار و نه سرته رسول
ده د شاها نه د بد بی او برم ا و جلا ل سره سره هیڅکله د فضل
د خا وند ا نو په باب خپل ا حترا م نه سپما وه ، او په خو را نما
نځنه ا و شا ها نه بخښنو به یی د خط ا و تذ هیب د پسر
نو سیا لی ا ستا دا ن دځان سر ه سا تل ا و هغه به یی حما یه کو ل،
د مثال په تو گه هغه وخت چی احمدلر د هرا ت په مسجد جا مع کی
پر شا هر خ حمله و کړ ه او هغه یې تیپی کسی نو د هغه د ملگری
په تو ر یو نو سیا لی خطاط مولانا معر وف هم تو ر ن مو او نبر دی
وچی اعدام کړ ه سی،خو د همدی بایسنغو میر زا په و ا سطه
له اعدامه و ژغو ر ل مو .

مو لا نا جعفر خو شنو یس دده د کتا بتو ن در ئیس حیثیت در لو د چی

ketabton.com - The Digital Library



دهغه په پاملرنه د خطاو تذهیب نو میا لیو استادانو د بایسنغر میرزا دپاره ډېر ښکلي او نفیس آثار منځ ته راوړل چې او س لاهم د جهان په مشهو رو مو زیمو او لو یو کتابتو نو کې د بایسنغر میرزا د کتابتون دښکلو خطي کتابو نسخې سته .

حافظ ابرو خپل لوی تاریخ د بایسنغر په نامه ولیکه چې په «زبدة التواریخ» مشهور دی او فصیحي خوافي یې «مجمع التواریخ سلطاني» بولي ، چې ظاهراً په (۸۲۹ هـ یا ۸۳۰ هـ) کال بشپړ شوی دی . دده په امر د فردوسي پر شاهنامه باندې یوه مقدمه هم لیکل شوې ده چې ملک الشعرا بهار د خپل کتاب «سبک شناسي» ددریم ټوک په ۱۹۱ مخ کې وربا ندې تنقید کړی لیکي چې : سو رګو هرشاد بیګم په مسجد کې ښخ دی . دولتشاه سمرقندي دده د مړینې پېښه او نېټه داسې لیکلې ده : «شبی ازفرط شراب بفرمان رب الارباب بجوار کران فتا گرفتار شد و سکتهٔ هرات سبب آن وفات راسکته پنداشتند وقوع این واقعه در دارالسلطنه هرات درباغ سپید بود در شهور سنه سبع و ثلاثین و ثمانمائه (۸۳۷ هـ) و عمرا و سی او پنځ دل بوده (۱) »

دهغه وخت یو بل فاضل د بایسنغر میرزا د مړینې نېټه داسې په نظم کړې ده :

سلطان سعید بایسنغر سحرم گفتا که بگو باهل عالم خبرم

«سر تاسر خلاف حقیقت و خلاف منطق و بر ضد تاریخ سی باشد . »

---

(۱) په نورو تذکرو کې یې عمر ۳۸ کاله ګڼلی شوی دی .

ketabton.com - The Digital Library



په هر حال بایسنغرمیرزا په خراسان کې په ښکلي خط د ډېرو ښکلو کتابو د لیکلو باني او مؤسس ګڼل کېدای سي .

سربېره پر دې بایسنغر میرزا دری او ترکي ژبي ښه شاعر هم و، دولتشاه سمرقندی په خپله تذکره کې لیکي :

«جمالي داشت باکمال ... و از سلاطین روزگار بعداز خسرو پرویز چون بایسنقر سلطان کسی به عشرت و تجمل معاش نکرد ، شعر ترکی و فارسی را نیکو گفتی و فهمیدی، و به ښی قلم خط نوشتی.... »

دری ژبي دیوې غزل مطلع یې دا دی :

من رفتم و تاریخ وفاتم اینست «بادابجهان عمر درا ز پدرم» (۸۳۷)

خو امیرشاهي سبزواری په دې غلوریزه کې پر تولو بریالی ښکاری چې و یلي یې دی .

درماتم تو دهر بسی شیون کرد لاله همه خون دیده دردامن کرد

گل چست قبای ارغوانی بدرید قمری نمدسیاه درگردن کرد د

بایسنغر میزا درې زامن پر وخت یې پلار ژوندی و، او دده دری زامن: میرزا رکن الدین علاءالدوله، میرزا سلطان محمد، میرزا ابو القاسم بابر پاته سول.

او دده د دربار مشهور شاعران داو و:

بابا سودائی، مولانا یوسف امیری ،

ندیدم آن دورخ اکنون دو ماهست ولی مهر ، بسی درجان ما هست

او مقطع یې دا دی :

غلام روی او شد بایسنقر غلام روی خوبان پادشاهست

او دا مقطع په بل ځای کی داسی راغلی دی:

ketabton.com - The Digital Library



گدای کوی او شد با یسنغر      گدای کوی خوبان پادشاهست

بایسنغر میرزا دموسیقی سره هم زیاته مینه درلوده، اودده په مجلس کی به نو میالی سندرغاړی لکه خواجه یوسف اندکانی چی پخپل وخت کی بی په مطربی او سندروکی ساری نه درلود او نور حاضر وو، وایی چی د بایسنغر میرزا وور سلطان ابراهیم میرزا چی په شیراز کی و، خوواره له خپل وروړ څخه د خواجه یوسف سندرغاړی غوښتنه وکړه چی شیرا زته یی وروا ستوی خو بایسنغر میرزا دا بیت ورولیږه:

سا یوسف خونمی روشیم      تو سیم سیاه خود نگهدار ...

بایسنغر میرزا سره له دی چی تولو ښو او صافو یو عیاش زلمی و، او څو چی یی کولای سو خپل ژوندیی په عیش او عشرت تیراوه او په عیش او عشرت کی د همغه افراط په نتیجه کی په ځوانه ځوانی کی د (۸۳۷ هق) کال دد ربمی خور (جمادی الاول) په اوومه دسه شنبی په سهار د هرات دښار په «باغ سفید» کی مړسو، او په مشهد کی دخپلی امیر شاهی سبز واری، مولانا کاتبی او امیر الدین نزل آبادی.

ماخذونه

۱- حبیب السیر -۳/۶۲۳ مخ.

۲- مجالس النفائس -۱۲۵ مخ.      ۳- سبک شناسی - ۳/۹۱ مخ.

۴- تذکره دولتشاهی- ۳۵۰ مخ-      ۵- پیدایش خط و خطاطان- ۱۴۲ مخ

۶- ددهخدا لغتنامه (ب) ۶۲۲ مخ      ۷- ازسعدی تا جامی- ۴۳۱ مخ

۸- صورتگران و خوشنویسان هرات درعصر تیموریان -۶۳ مخ.

ketabton.com - The Digital Library



**۱۴۴۵_بایسنغر میرزا عادلی :**

دمحمود زوی ، او د احمد نمسی او د ابوسعید گورگانی کړوسی دی چی له (۸۷۹هق کال څخه بیاتر ۹۰۰ هق کال پوری ) یی په بدخشان کی حکومت کاوه ، دخپل وخت له نومیالیو فاضلانو او خوشنو یسانو څخه و ، چی دفضل او پوهی سره یی دصورت ښکلا هم درلوده ـ شعر یی و ایه او په شعر کی یی « عادلی » تخلص کاوه . ښکلی نستعلیق خط یی لیکه چی دمجالس النفائس دخاوند په وینا سلطانعلی مشهدی خو واره دده نستعلیق خط ستایلی دی .

دده له آثارو څخه یوه یوه توته دبهرام میرزا په مرقع کی د استانبول دخزینه اوقاف په کتابتون کی ستهچی په پای کی یی لیکلی دی :« مشقه العبد بایسنغر »

یا دونه :

---

ددی بایسنغر او د شاهرخ دزوی او امیر تیمور دنمسی بایسنغر میرزا سره باید اشتباه و نه شی ، ځکه چی هغه په ۸۳۷ هق کال کی مړدی

ماخذ :

---

احوال و آثارخو شنو یسان - ۱/۹۶مخ

**۱۴۵۲ بایقرا هروی :**

دسلطان حسین میرزامشهور په « خاقان منصور ، معزالسلطنه او ابوالغازی » دهرات دتیموریانو د وروستی پاچالقب دی چی

ketabton.com - The Digital Library



د ژوند پېښې به يې د «سلطان حسين ميرزا» تر نامه لاندې ددې کتاب د «س» په رديف کې راوړو.

## ۱۴۵۳- بايي خان توخي :

دسلطان ملخي توخي (دمير ويس نيکه ده مورني نيکه) زوی و، چې د پلار تر مړيني وروسته يې پر کلات او د کلات پر نورو سيمو حکمراني کوله، او دا و د ترنک د رود پر غاړه د جختران په کلاکې اوسيد، او په پای کې په کوسه جګړه کې ووژل شو.

ماخذ ونه :

۱- پټه خزانه - تعليقات ۲۵۸ مخ

۲- تاريخ سلطاني - ۶۰ مخ

## ۱۴۵۴- ببر خان سواتی :

د پښتو ژبې يو سواده او اسي شاعر و، شعر و نو يې عوامو اسي بڼه در لوده او پرا ولسي آهنګو يې سم غزلې جوړ ولې. د (۱۳۱۶ ه ق) کال په شا وخوا کې سر دې - او دا سر و کې دده دی :

يو شي مې د ې ليدلی په د نيا کې برادره | نه پښې لري نه سر
چالاک دی بې اندازه سبک ښکاريږي له نظره | په سنده ګرځندی

ماخذ :

فرهنګ زبان وادبيات پښتو -۷۳ مخ

ketabton.com - The Digital Library



## ۱۴۵۵ ـ ببن شاهو خیل لودی :

میابین شاهو خیل لو دی دمیا عطازوی دلو دی پاچهی له امیر انو څخه و، او په هند کی یې د سر هند حکومت د رلو د .

په (۹۳۲ هق) کال د سلطان ابراهیم تر مړ ینی وروسته یې تیت او پرک پښتانه پرڅان راغونډ کړل او «سنبهل» یې کلابند کی، د سنبهل واکمن میا قاسم سنبهلی له ظهیرالدین بابر څخه مرسته وغوښتله بابر هم د بابا قشقه او هندو بیګ تر مشرۍ لاندې لښکری ور واستول د وليږد و لې خو پښتنو ماته ور کړه .

په (۹۳۳ هـ ق) کال چې بابر په «بیانه» کی د سلطان محمو د او را نا سنګا په جګړه بوخت و، میا بین پر لکهنو بریدو کی او د مغولو امیر انو له لاسه یې وکیښ؛ بابر چې د بیانې له جګړی بریالی و زګارسو نو یو لوی لښکر یې د محمد سلطان میرزا تر مشرتابه لاندی د «ببن» د ځبلو لو د پاره وګماره دا لښکر چې تر ګنګا ور پور یو وت د بابر په قول «بین» لکهنو خوشی کړ .

په (۹۳۴ هـ ق) کال چې په هند کی پښتنو امیرانو جرګه وکړه او سلطان محمو د یې پاچا کړ، «بین» هم په د غه جرګه کی ګډون لری وه .

په (۹۳۴ هق) او په (۹۳۵ هـ) کال چې سلطان محمو دلو دی د بابر سره جنګیده، دی یې له لویو حربی ارکانو څخه و؛ د (۹۴۲ هـ ق) کال په شاوخوا کی د پښتون شیر شاه سوری مل سو .

په (۹۴۶ هق) کال لا ژوندی و، او شیر شاه ته یې د تخت کښیناستلو سلا ور کړه

ketabton.com - The Digital Library



ماخذونه:

۱- لودی پښتانه - ۲۹۸مخ
۲- بابر نامه - ۱۷۱ مخ
۳- خورشید جهان - ۱۰۶مخ
۴- شوکت افغان -۳/۲۵۰ مخ

## ۱۴۵۶- ببوجانه:

میرمن حلیمه مشهوره په «ببوجانی» دعتیق الله خان لور ، او د میرواعظ له اولادی څخه وه چې د پلار له خواسیده او د مور له خوا د امیردوست محمدخان لمسۍ وه.

ببو جانه د امیر عبدالرحمن خان میره وه او باندی گر انه ماندینه وه، چې په هوښیاری او ښکلا یې شهرت درلود ،او هم یې له خلکو سره ډیره ښه رویه لرله، سخی او میړه مخې میرمن وه، او تر اوسه په لورو کورنیو کې په ښه نامه یاد یږی .

دی میرمنې کله کله په دری ژبه شعر ونه هم ویل چې د ښځو په مخصوص اخبار «ارشادالنسلو»ان کې چاپ شوی او ماته یې یو ازې داد ری بیته د سر حوم محمد سرور گو یا په واسطه لاس ته راغلی دی چې دلته یې د نمونې په توگه وړاندې کوم .

## استقلال

| | |
|---|---|
| از بر ای خدا بلند کنید | بر سر خود لوای استقلال |
| باد شیرین دهان ملت ما | یا رب از میوه های استقلال |
| سیکشم بعد ازین بدیده خود | سرمه از خاک پای استقلال |

ketabton.com - The Digital Library



وايي چې يو وخت امير عبدالرحمن خان د نرگسو يوه گيډۍ ورته وليږله چې دې ميرمنې دا بيت ورواستاوه:

نرگس صدبرگ ازدست شهنشاهم رسید برسرخود ماندم وبرچشم تر مالیدمش

داهم وايي چې دا ميرمن پر امير عبدالرحمن خان ډېره گرانه وه چې امير وېل: «ماتر اوسه شعر نه دی وېلی خود بېوجانی دپاره يې وايم» او داده پښتو نه يې د هغې په ستاينه کې وويل:

سهدعلیاء،صدرکبری،بی بی عفت شیم زانکه ازعزت شهش خوانده لست عیال محترم

الحق ازمادر نزاده دخترهمزاداو صاحب علم و حیا ماوما په جود وکرم

ماخذ:

---

پښتنې ميرمنې ـ ۵۲ مخ د پښتو ټولنې اثر ـ د کابل چاپ

## ۱۴۵۷ـ ببون منگل:

د پښتو ژبې تېرو کې اوبز مې شاعرو، شعر ونه يې پر اولسي اوزانو وېل.

ده ژوند د (۱۳۰۰ هش) کال پهشاوخوا کې اټکل سوی دی ـ دپکتیا ده منگلو دسیمې په «لژه» کې اوسيده او دده دتو کو اشعار په هغه سیمه کې شهرت لري.

ماخذ:

---

فرهنگ زبان وادبيات پښتو ـ ۷۳ مخ

ketabton.com - The Digital Library



**۱۴۵۸- ببی یا بیبنه :**

دوو سی جان او ولی جان په شفاهی کیسه کی دموسی جان دسینی (گلمکی) خور «ببی» وه چی دسهیلی خان ساندینه وه.

کله چی سهیلی خان دولی جان درځکی په دعوه کی دهغه پر حق تیری وکی، نو ببی ولی جان وتښتوله او خانته یی ماندینه کړه.

دولی جان زوی «میر ولی» چی دسهیلی خان سره په جگړه کی مړی دببی له نسه او دولی جان له ملاتړه و.

دامیر من دبیبنی په نامه هم یاده سوه.

ماخذ :

له «ملی هینداری» څخه ودشاغلی محمد ابراهیم عطائی یاد داشت

**۱۴۵۹- بچلی چارسدی :**

عبد الحنان دپښتو ژبی سبارزشاعرو، او دپښتونستان د«خدایی خدمتگار» دسیاسی تحریک سره ئی اړه درلودله، او خپل اشعارئی زیاتره دخپل وطن دآزادی دپاره ویل، جذابه او له سوزه ډک شعر وته یی ویلی و، په (۱۹۷۷م) کال کی مړ دی او دپښتونستان دچارسدی په سیمه کی او وسیدل دابیت دده دیوی بدلی سر دی :

سری غیرتی پښکاره شوی دگلا نونوپه سرونو کی نښی دپسرلی دی دوطن په سم وغرونو کی

ماخذ :

فرهنگ زبان وادبیات پښتو - ۷۳ مخ

ketabton.com - The Digital Library



## ۱۴۶۰ـ بخت خان «جنرال» :

دنواب عبدالله خان او د هند په سلطنت پورکې نوميالی پښتون او لوړی د پرنګيانو په تو پخانه کې نوکر سو ، او په لږ موده کې داو چتو افسرانو په قطار کې وګمارل سو .

دبخت خان په ځته کې اسلام او پښتو دواړه ښکاره ښکلي راغلي و ، ځکه نو پر ده د پر ګيانو سخ شه نه لګيده عالمانو مجلسو د غزا او جهاد د جرګو د پښتو د تير تاريخ مطالعې او د پښتولۍ نوم بخت خان دې ته تيار کړ ، چې دپرنګي پر نوکري لعنت ووايي . او د ځان لپاره بله لار ه خوښه کړي .

په (۱۸۵۷م - ۱۲۷۳ه ق) کال چې له «ميرت» ښخه تر کلکتې پوري په هندوستان کې د پرنګي خلاف دآزادی جنګ ونښت بخت خان درو هيلکهنډ په «بريلي» ښار کې و ، له خپل پير حضرت سرفراز علي صاحب نه يې اجازت وا خيست او دآزادی په غزا کې شريک سو .

دحافظ رحمت خان نمسی د(نواب خان بهادر خان بړيڅی) د بخت خان په بخت او تدبير پر «بريلي» قبضه وکړه او چا پيره ملک د هغه په اولکه کې راغی ، بخت خان د «بهادرشاه» لقب ورته ورکړ «سو بها رام» يې د يوان (دفتردار) نياز محمد خان يې جرنيل او مدار علي خان يې سپه سالار وټاکه ، لوړی «بدايوان» ونيو بيا تر فرخ آباد تير سو ، په بلب کړ هور و خوت ، دلته دبها در شاه (نواب خان بهادر خان بړيڅی) سکه جاري سوه .

ketabton.com - The Digital Library



خو غدارانو په بله وه، جاگیر او انعام انگریز لره د میدان صفا کړ، نواب خان بهادر خان یې په خپل مقصد کې ناکام کړ او بیا گرفتار او په بریلي کې پانسي سو.

ډهلي دتبولو هنگامو سر کز وه، بخت خان دزمري په شان د(۱۸۵۷م = ۱۲۷۳هق) کال دجولائي په دوهمه ډهلي ته ورسید یوازې نه، بلکه دخورلس زره روهیله فوځ، تو پو او ډېرو وسلو سره جرنیل بخت‌خان په ډهلي ورننوت. دبخت خان او دبریلي غازیانو ډهلي‌ته د رسیدو خبر شهزاده مغل میرزا خپل پلار بهادر شاه ظفر دډهلي پاچاته ور کړ، بهادر شاه ظفر په ډېر اخلاص دجنرال بخت‌خان هر کلي وکه، او د «فرزند» خطاب ئې وروباخښه، یو ښکلي ډال او د جواهرو ډکه توره یې ور عنایت کړه، په‌ټول ډهلي کې اعلان وسو، چې دټول فوځ اعلی افسر جنرال بخت خان وټاکل سو.

جنرال بخت‌خان خپل فوځي دفتر بیل جوړ کړی، او دخپل شخصیت د انتظامي استعداد او قابلیت په‌وجه یې دفوځ په‌حیثیت کې‌ډېر زیاتی‌راووست. دجولائي په‌۹-دجنگا بن په‌۷، جنرال بخت خان دلس زره فوځ سره پر انگریزي فوځ حمله وکړه او په «تیس هزاري» میدان کې‌یې ورته ماته‌ور کړه، آسونه، تو پونه، وسلې او ډېر خیزونه دغازیانو په لاس ورغلل.

بیادغازیانو دفوځ دوې پلټنې دپنځوسو وسپرو، شپږ و توپو او دډېرو جنگي اسبابو سره دجنرال بخت خان په‌حکم «باغپت» ته رواني سوې‌چې انگریز انوته‌دپله‌جوړولو موقع ورنه کړي. سربېره پرهغه یولوی‌فوځ دجنگي ساز او سامان سره «علي‌پوز» ته‌ولېږل سو.

ketabton.com - The Digital Library



دې غازیانو لو یه سوبه وکړه او چې ددې سو بې خبر جنرال بخت خان ته ورسېد په تول ډهلي کې جوش او خروش پیداسو ، او د غازیانو حوصلې لازیاتې سوې .

فوځ ، عالمانو او عام اولس د جنرال بخت خان په مشرۍ دځان او مال قربانی ته لانور هم حاضر سول .

سربېره پر هغو سلو عالمانو چې د جنرال بخت خان سره له «بریلي» او د بریلي له شاو خوا څخه را غلي وو ، نور ډېر عالمان له ټونک ، جیپور ، بهوپال ، هانسي ، حصار او اکري څخه هم راورسېدل ، او د هندوستان په هر ځای کې چې هغه وخت دانگریزانو پر خلاف د آزادۍ چیغه او انقلاب را پورته سو د هغه مشر توب جنرال بخت خان کاوه ، ځکه چې د هندوستان د بېلو بېلو ځایو دانقلابي فوځو سپهسالارانو به له جنرال بخت خان څخه هدایتونه اخیستل .

ډهلي غلو رسیاشتې او غلور ورځې د جنرال بخت خان په لاس کې وه ، خو له بده سرغه چې د جنرال بخت خان په لاره کې لوی خنډ شهزاده مغل میرزا و ، ځکه چې بهادر شاه ظفر خپل زوی « مغل میرزا» ته چې بې تجربې ، بیکاره او د دښمن له چل او فریب څخه بېخبره و ، د ټولو فوځو سپهسالاري ورکړې وه ، او بل داچې د شهزاده مغل میرزا خسر « میرزا الهي بخش » لوی بې ایمانه او ډېر نکی تالی شی و ، نو د هغه په لمسون د هندوانو هغو بنیاگانو چې بخت خان ته یې دده دفوځ د تنخواه دپاره پورورکاوه ، هغه پور یې پر جنرال بخت خان بند کې ، له بلې خوا د غازیانو دبا روتو او د ټولو پکټ د گودامو جوړولو ځای ته (چې د بیگم ثمر کور و) دحکیم احسن الله له خوا دانگریزانو په تحریک اور واچول سو ، چې او سوه سنه گولۍ او باروت او ډېر کاریگر ان پکښې وسوځېدل او دې کار د جنرال بخت خان داو وه و یشتو ز زو سپاهیانو وسلې بیکاره کړې .

ketabton.com - The Digital Library



دپادشاه «بهادرشاه ظفر »خو لالهاو لهزړه ختلیو، او بیانو الهی بخش څه داسی جادو ،ورباندی پوکړچی پادشاه له کلا څخه دهمایون مقبرې ته دپناه وړلو دپاره و تښتید .

نوجنرال بخت خان هم مجبورسو دهلی پریږدی ،او دمخه ترپرېښوولو بې بهادرشاه ظفرته پهدېر تأثرو ویل :

«سره ددی چې پرنگیانو د دهلی ښاروئیو ، خوزموږ دېر څه تاوان سوی نهدی ،ټول هندوستان زموږسره دی ، پادشاه دی بې ترددهلهماسره روانسی ، زه بهپه غروکی داسی سورچیجوړی کړمچیدپرنګی شیطا نانوته بههم د هغهځای پته ونهلګی، دهلی پایتخت دی خوفوځی کلانهده، پهدې جنګ کی لویه خرابی داوه چیشهزاده مغل میرزاد فوځ سپهسالارو ، او دی د جنګ له فنهبې خبره و ،دانهوه ورته معلومهچی بې سرفوځ څنګهپهقابوکی ساتل کیدای سی، کهشهزاده زماپهکاروکی اړو پیچ نهاچولای نو یقیناً چې ددی خودسره فوځ په قوت بههم نوږ انګریزی فوځ ته شکست ورکړیو ، خو اوس همځه تللی نهدی، او بیابیا عرض کوم چی هیڅ تللی نهدی- دهر ریاست دخلکو زړونه زموږ سره دی ، هغوی له پرنګیانو څخه بیزاره دی او د هغوی دایقین دی چی انګریزان پهکراره کراره دهندوستان ټول ریاستونه هضمول غواړی- هرکله کهزموږ پلهلیړ څه درنه سوله نوبیا ټول ریاستونه زموږ سرستی تهراسیږی. دپادشاه پلار او نیکونو دېر شکستونهاو مصیبتونه ګاللیوو ، پربابرشاه او همایون او اکبر باندې تردې زیسات تکلیفونه راغلی وو ، خودوی خپله سعیه پری نهښوو له،خو چې په آخرکی بریالي سول ... »

ketabton.com - The Digital Library



دده دې خبر و پر بهادر شاه ظفر باندې هیڅ اغېزه ونه کړه ، او جنرال بخت خان چې د هندوستان بخت و ېېژلوته راغلی و ، بهادر شاه ظفر له و یېزلو څخه انکار وکی او ده ترانکار وروسته نو جنرال بخت خان د خپل و رپلي فوځ سره له دهلي څخه دلکنهو خواته رهی سو ، او لکنهو ته بیا هند د جلال آباد ضلعی (هردوی) ته ولاړ .

بخت خان و لیده چې غداران هرځای و رته پیداسول ، دین خرڅوونکي ، وطن پلرونکي ، قوم بایلونکي په انګریز پرستۍ کي یوتر بل د مخه کېږي - نو یوه شپه د اسې د اولس له منځه غیب سو چې تراوسه پې نښانه بیامعلومه نه سوه .

مأخذ!

دپښتو قرائت دوولسم ټولګي دپاره د پوهاند عبدالشکور رشاد لیکنه ۱۳۳ مخ .

## ۱۴۶۱ـ بختک هلمندی :

دانوم دعوا سو په یوه افسانه کی راغلی دی چې په هلمند کی ددغې افسانې سره خلک اشنا دی :

وایي چې دسیستان پاچا خپل جنګي سالارته چې «بختک» نوموړ امر وکی ، چې د هلمند او ارغنداو دسیندو دیو ځای کېدو په سیمه کي یوه داسي تینګه کلا جوړه کړی چې ماتېدونکي نه وي دچادلاسه پوره نه وي ، او پاچا ورته وویل چې کلا باید دو نی تینګه وي چې حتی زه یې هم ساته نکړای شم .

بختک راغی ، او دبست کلاي جوړه کړه او کله چې یې کار پای ته ورساوه

نو پاچا ته یې خبر ورکی چې کلا جوړه سوه، خو ددې کلا واکمن او پاچا زه پخپله یم. پاچا ته ډېر قهر ورغیء او دیوه ښکر سره راغی خو هر څه چې یې وکړه کلا وفتح نه سوه - پاچا دوه کاله د کلا د دیوالو شا ته تېر کړل ، او کله چې ناکامه پرشا تیء نو بختک ته یې پیغام واستاوه چې: «دادی زه و لاړم کلا تا ته درپاته ده، خو داپه یادلره چې ته نمک حرامسړی وې»

بیا نو بختک پاچا ته حال ورولیږه چې: «د کلا دروازې دې پرمخ خلاصې دي» کله چې پاچا کلا ته ورننوتیء ، نو وئې لیدل چې بختک خپل سر پریوه کنده ایښی دی او جلاد توره سر ببره پرنیولی ده .

بختک پاچا ته وویل: «دادی ستادا سر سره سم سي داسې کلا جوړه کړه چې حتی تالا هم ساته نه کړای سوای ـ ساداخپل کار عملاً دروښود ، اوس نو که سې ډېر جسارت کړی وی جلاد ته امر وکه چې سر سې پرې کړي» پاچا سمدستي بختک په غېږ کې ونیو او پرمخ یې ښکل کیء او رتبه یې لاوړلوړه کړه .

اوس هم دبست په سیمه کی د«خشکاوې» پر سردار غنداو دروډ پر غاړه دبختک د کلا په نامه دیوې زړې کلا کنډوالې سته چې د« زختر کلا» یې هم بولی او د«بختر کلا» په نامه هم یادیږی .

مأخذ :

---

دښاغلی محمد ابراهیم عطایی یادداښت .

ketabton.com - The Digital Library



## ۱۴۶۲ـ بخت ناك خان خټك :

دخوشحال خان خټك نوسيالي زوی و ، چې پرخوشحال خان ډېرگران و ، او خوشحال يې په خپلو اشعارو کې ياد کړی او ستايلی دی ـ لکه چې وايي :

بخت ناك هغه زلمی دی
نشته بل دده په رنگ

او (په ۱۰۷۹ هـ ق) کال چې بخت ناك خان مړ سو ، نو خوشحال خان يې داسې وير کوی :

مړ کال چې دغواص دی (۱)
په هرلوردی تبجن ډېر
«بخت ناك» په دوه هفتې شه
تر فانی جهانه تېر
ژوندی و ، درويشت کاله
زلمی توب شو باندی زلير
په رنگ د چنبې گل و
چې تري تيل شی داجمير
په خوبی لکه سلك و
په تقوی په طاعت ډېر
دپلار په زړه يې سرگ دی
لکه زخم د شمشير

---

(۱) غواص = ۱۰۹۷ هـ

ketabton.com - The Digital Library



که وېرو، نور غمونه
په دا غم شول واړه هېر

دخدای سره جنګ نه شي
که هرڅو وي څوك دلېر

دخوشحال له نورو اشعارو څخه ښکاري چي بختناك خان دوباپه نساروغي سړ دی لکه چي وايي :

د غواص د کمال و با
خدای يې سه راوله بيا

«بختناك خان» سي پکښي وسړ
سو ر يې ، هم بو تـه قضا

يو هلك يې و ، راپاتو
ورپسي شه ژر فنا

دبختناك خان سوردصاحب خان لور، ديوچه خان نمسی او د ملك باره سهمند زی کړوسی وه ،چي پلاراونيکه يې دپېښور په نوښارکی اوسېدل .

مأخذونه :

(۱)- دخوشحال خان کليات-د کندهار چاپ ۰۳۷۰ ، ۹۵٦ ، ۹۷۳ مخونه

(۲)- تاريخ سرصع - د پېښور چاپ - ۲۵۹ مخ

## ۱۴۶۳ - بدایعی بلخی:

محمد د محمود زوی د سلطان محمود د غزنوی د وخت له نومیالیو شاعرانو څخه و. هدایت د مجمع الفصحا مولف دده یادونه کړی ده او لیکلی یې ده چې ده د نوشیروان پند نامه په نظم ترجمه کړی ده چې دوه سوه بیته دی او اصل یې په پهلوی ژبه و (۱)

د اشعر د ده دی:

| | |
|---|---|
| جهان چون عروس است با رنگ و بو | دریغا که داماد خوار است او |
| چو باشی جوان کار پیری بساز | که اندر جوانی نمانی دراز |
| ز پنجاه چون موی تو شد سپید | مدار از جوان زن، به نیکی امید |
| عروس جوان گفت با پیر شاه | که موی سفید است مارا سیاه |
| همیشه جوان و جوان مرد باش | ز دونی و بی حاصلی فرد باش |
| که نام جوان مرد اندر جهان | بود زنده نزد کهان و مهان |
| جوان مردی کارها بهتر است | جوان مردی از خوی پیغمبر است. |

ماخذونه

۱ - ریحانة الادب - ۱ ر ۲۳۹ مخ

۲ - تاریخ نظم و نثر در ایران - ۱ ر ۳۵

د سعید نفیسی تالیف

---

۱ - مشهوره ترجمه یې ابن سینا ته منسوبه ده د «ظفرنامه» په نامه سعید نفیسی

ketabton.com - The Digital Library



## ۱۴۶۴- بدخشي :

ملک الشعراء و نامحمد دنهمې هجري پيړۍ دډرۍ ژ بي نو ميالې شاعر او د تيمو ر يانو دشهز اده ميرزا الغ بيگ معاصر و ، او ميرزا الغ بيگ و رباندې ډير پير ز و ينه درلو - دله ، د بدخشان په اشکمش کې او سېداو په اشعار و کې يې «بدخشي» تخلص کاوه .

درياض الشعر امؤلف يې نوم حميداو وطن يې کندو ز ښو و لی دی او هم ليکي چی ده خپله علمي زده کړه په کندو ز کې بشپړه کړې وه ، په سعما کې يې اوې لاس درلود او پدې فن کې يې يوه رساله هم ليکلې وه د الغ بيگ ميرزا په ستاينه کې يې ډيرې او ږدې قصيدې و يلې دي چې دا د وه بيتونه له هغو قصيده وخخه دي :

ای زلف شب مثال ترا دربر آفتاب  از شب که ديد سايه که افتد بر آفتاب
زاغی است طره تو همايون که آشيان  بالای سر و دارد و زير پر آفتاب

په لو مړی سر کې بدخشي د الغ بيگ په دربار کې ډير احترام او عزت درلو د خو په پای کې يې کار رندی ته ورسيد او دژوند طر زيې وگرځيد چې په پای بيا پښيمانه سو ، او تو به يې وکښله او په (۸۳۲هق) کال کې مړ دی دا غزله دده ده :

مشاطه آنکه موی ترا شانه ساخته  ارباب عقل راهمه ديوا نه ساخته
از قصه سکندر ودارا مگو له چرخ  بسيار از ان حکايت افسانه ساخته
پيمانه گير و ساغر صهبا طلب که دور  سر هابسی که ساغرو پيمانه ساخته
درسينه خراب چو گنجيست مهر تو  کار امگاه خويش بو يرا نه ساخته
تا ساخته سگ تو سر آشنای خويش  از خويش و آشنا همه بيگانه ساخته
چشم «بدخشي» از پی ايثار مقدمت  هر دم هزار گوهر يکدانه ساخته

ketabton.com - The Digital Library



داپښتو نه هم دده دی:

خیال خنجر ش دردیده بیخواب میگردد
بمثل ماهیی کاندر میان آب میگردد

---

زبر و زیر گر شود عالم
ای بدخشی چه غم که درگذرست
کاین جهان همچو شیشه ساعت
ساعتی زیر و ساعتی زبرست

ماخذونه:

---

۱ - مجالس النفاس - ۹۳،۱۹ مخونه
۲ - اتشکده آذر - ۳۳۵ مخ
۳ - ریحانه الادب ۱ - ۲۴۰ مخ
۴ - الاعلام - د زرکلی ۲/۳ ۱۵ مخ
۵ - صبح گلشن - ۵۶ مخ
۶ - حبیب السیر - ۱۶۱/۳ مخ،
۷ - لغتنامه ب - ۷۳۸ مخ
۸ - پښتو آریانا دایره المعارف ۴ - /۳۷۴ مخ

ketabton.com - The Digital Library



## ۱۴٦۵ـ بدخشي :

ابو اسحق ابراهیم د هارون زوی د حدیثو نوسیالی عالم و، حد پشونه دیسي د عیسی له زوی سلیمان ساگزی څخه لوستلی، چې بیا له ده څخه دسعیدزوی علي روایت کړی دی .

ماخذ :

معجم البلدان – ۲ ر ۹۳ مخ

## ۱۴٦٦ـ بدرالدین غزنوی :

نو میالی شیخ او صالح فقیه بدرالدین غزنوی چې په ډهلی کې او سیدہ چشتیه له ستر و شیخانو څخه وچې په کوچینوالی له غزنی څخه لاهورته تللی او هلته یې ستد او له علوم دهغه ځای له لویو پوهانو څخه لوستلی و و ؛ او هغه وخت چې یې واوریدل چې دده پههیواد کې د تاتاروډ ناتار او فتنې په سبب دده مور او پلار وژلی سوی دی نو له لاهوره ډهلي ته ولاړ او هلته میشته سو ، چې بیا یې نو په طریقت کې د شیخ قطب الدین بختیار کاکي لاس و یو ، او ترڅه مودې وروسته دهغه خلیفه سو، او تر هغه وروسته دډهلي په ښار کې دشیخ قطب الدین بختیار کاکي پر سجاده باندې کښېنوست او شیخ فریدالدین گنج شکر به دده د تذکیر مجلس ته ډېرو رتی‌ـو ایې ـچې دسپین ږیرتوب پهوخت کې هم د سماع شوقي و ، او سازته بهدجذب په حال کې گډیده، ځینو خلکو به د اعتراض گوته ورته یوله چې شیخ په دې سپینه ږیره‌رقصیږی خو ده به د هغو دخبرـ و پر وانه کوله او پهجواب کې به یې ویل :

ketabton.com - The Digital Library



«شیخ نه‌رقصیږی عشق رقصیږی،او هر څای‌چی‌عشق‌وی‌دده رقص به‌هم وی »

هغه وچې په( ٦٥٧ ه ق) کال په دهلي کې مړ سو او د شیخ قطب الدین بختیاردمزار دپښو خوا ته ښخ دی .

دخزینة الاصفیا مولف دده‌دمړینی‌د کال‌په‌باب‌داسی‌وایی :

بدر دین چون بخلدروشن‌شد سال ترحیل آنشه‌حق‌بین

کاشف راز اولیا فرما نیزپیرسعیدبدرالدین

ماخذونه :

۱- خزینة الاصفیا ۲۸۵ مخ

۲- نزهة الخواطر-۱/۹٦ مخ ۳- اخبار الاخیار ۲۰ مخ

## ۱۴٦۷- بدرالدین هروی :

امام بدرالدین د نورالدین هروی زوی دعوفی په قول « نادره‌گیهان » او «زبده فضلاخراسان»و .د عوفی‌سره یې په‌هرات کی لیدلی، او دعلاالملک ابو بکر جاسجی په ستاینه کی شعرونه لري،او دیری‌صلې‌یې‌اخیستې‌دی،

دا غلورېزی دده دی :

گفتي که بگاز غم سرت برگیرم
چون شمع زآتش رخت درگیرم
تا ظن نبري که دل ز تو برگیرم
از تو نبرم ور برم از سر گیرم

ketabton.com - The Digital Library



د ستي دا رم چو کیسه با د تهی
وانگه گو یی مکن مر ا یاد تهی
این پر ده مز ن ورنه کنم ا زدستت
چو ن چنگ دل خو یش بفر یاد تهی

بر روی بتم زباده چو ن رنگ افتاد
زآن روی میان من ودل جنگ افتاد
از چنگ هو ی بازخر یدم د ل را
معشو ق تر ا نـه زن چو درچنگ افتاد

گه تا ب کمند مشگبا ر تـو کشم
گه غصه جزع پر خما ر تـو کشم
بر دل زنهال صبر یک شاخ نما نـد
آ خر بکدام بر گ بار تـو کشم

ما خـذ ونه :

---

۱ - لب الالباب-ا . ۲۰ مخ ۲- لغتنامه - ب - ۷۴۸ مخ

**۱۴۶۸ـ بدر حاجب غز نوی :**

امیر بدر لوی حاجب دسلطان مسعو د غز نوی له خاصو سالاوانو ، او دسر ای له حـا جبا نو څخه و .

په (۴۳۰ ه ق) کال دسرخس او په (۴۳۱ ه ق) کال دخوجان په ډگر و کې د سلجو قیا نو سر ه په جگړ و کې خو را ډ یره مړ انه ښکاره

ketabton.com - The Digital Library



کړه، چی د سلطان مسعود له خوا ډیر خلعتونه ومو ندل .

ماخذ :

---

تاریخ بیهقی ۵۸،-۲۷۵۷۲،۵۸۸،۶۰۳،۶۰۱،۶۱ اونورسخونه -

## ۱۴۶۹- بدرطرخان بامیانی:

بدرطرخان بامیانی د اسد بن عبدالله د خراسان دامیر په وخت کی دختلان خپلو اک حکمران و ، هغه وخت چی په (۱۱۷ ه ق ) کال عاصم د خراسان له امارته مو قوف سو، او د هغه پرځای بیا اسد بن عبدالله کښینو ست،نو یو لښکر ئې د مصعب بن عمر و خزاعی په مشری ختلان ته راولیږه او بدرطرخان یې داماِن ورکولو پهپلمه ځانتهور وغوښت؛ بدرطرخان یو سلیون درهمه پر خپله غاړه وه‌نل،خو اسدورتهوویل چی :«ته یو غریب بامیانی سړی یی له ختلانهووزه! »

بدرطرخان جواب ور کی‌چی :

«ته خراسان ته‌دلسی. کو چنیو او ښانو سره راغلی،او که‌اوس له‌دې ځایه‌و لاړسې نو ستاد‌ال به‌پنځه سوه‌او ښان‌هم یو نسی،او ماچی دخپل زلمیتوب و رځی‌دلته تیری کړی‌او داسال‌سی په‌تو ره‌گټلی‌دی نو څنگه‌په‌تش‌لاس و و زم؟»اسدده‌ددی معقول‌جواب په‌مقابل کی‌په‌خښم‌سو ،او سره له‌دې‌چی‌داسان‌وعده‌یی‌و رسره کړې‌وه بدرطرخان‌یی په(۱۱۹ ه ق) کال کی‌و واژه .

ketabton.com - The Digital Library



مأخذونه :

---

۱-تاریخ طبری- ۵/۳۶۳ مخ ۲-الکامل-۵/۱۰۱ مخ

۳-افغانستان بعداز اسلام-۱/۱۸۵ مخ

## ۱۴۷۰-بدری غزنوی:

اصلنوم یې څرګندنه‌سو-خودپلارنوم یې دعوفی په‌قول «احمد» و، په‌دری ژبه یې په وعظاو تنبیه کې اشعارویل -داررباعی دده‌ده:

زین سرتبت وجلال بردا برد
ایمن منشین زدولت‌گرداگرد

امروزغمان خویش‌خورمردامرد
زآن‌پیش که‌زینجا بروی‌در دادرد

مأخذ:

---

لباب‌الالباب-۲/۶۷مخ

## ۱۴۷۱-بدل خان :

د پښتو ژبې حماسه‌ویونکی اولسی‌شاعرو، دنولسمې عیسوی پیړی په پای او دشلمې‌عیسوی‌پیړی‌په‌سر کې‌دبلوچستان‌په‌سیمو کې‌اوسېده د ده‌په اشعارو کې دانګریزانو د استعمار پر ضددمبارزې روحیه ښه‌څرګنده وه چې دده د پښتنو الې داحساساتو ترجماني یې کوله .

مأ خذ :

---

فرهنګ زبان‌وادبیات پښتو -۷۳ مخ

ketabton.com - The Digital Library



## ۱۴۷۲ـ بدل خان یا بدی خان:

په ختیه بنگښ د صرف او نحو لوی استاد و، په هند کی او سېداو علوم یې له مولوی محمدعیاض دخخه زده کړی و.

فقیر او قانع سړی او پخپله سیمه کی د نامه خاوند و.

مأخذونه:

۱ـ تاریخ بنگښ ـ دمفتی ولی الله تألیف ـ ۳۴۴ مخ ۲ـ نو هته الخواطر ـ ۷/۸.

۳ـ دهند په تاریخ او مدنیت کی د افغانانو برخه ـ قلمی ۱۰۸ مخ

## ۱۴۷۳ـ بدیع الدین جوینی:

بدیع الدین اتابک جوینی دخپل وخت ښه دفضیلت خاوند او ددری ژبی شاعر و. خو تصنیفونه یی درلودل، او دسلطان سنجر په دربار کی دښه اعتبار خښتن و. وایی چی وطواطه دسنجر له غضبه ژغورلی و.

داتو ته یی دنجم الدین محمد په ویرنه کی ویلی وه:

نجم گردون محمد محمود
زیر ابر اجل جمال نهفت

او چو جان بود جان نمیر دو من
زنده را مرثیه ندانم گفت

مأخذ:

دسیستان مخنی پخوانی مشاهیر ـ ۳۴ مخ

ketabton.com - The Digital Library



## ۱۴۷۴- بدیع الزمان خراسانی :

ابو الفضل احمد دحسین زوی، دیحیی نمسی او دسعید کړوسی، مشهور په بدیع الزمان همدانی دخراسان له حفاظو څخه و، په ( ۳۹۸ ه ق ) کال په هرات کی مړ دی. دادوه تصنیفونه ددهٔ دي

۱- رسا ئل مشهورة

۲- المقامات

مأخذ :

---

هدیة العارفین - ۱/۶۹ خ

## ۱۴۷۵- بدیع الزمان میرزا :

دسلطان حسین میرزا بایقرا زوی او په هرات کی دتیموریانو د کهول وروستی پاچاو، چی په (۹۱۱ هق) کال دپلار تر مړینی وروسته په هرات کی دپاچهی پر تخت کښیناست، خو په (۹۱۳ ه) کال داوزبکو پاچاشاهی بیگ له ماوراالنهر څخه خراسان ته راغی او ددهٔ سره یی جگړه وکړه، په جګړه کې بدیع الزمان میرزا مات سو او استرابادته ولاړ او له هغه ځایه یی شاه اسماعیل صفوی ته پناه وروړه، او هغه د تبریز په غازان کی نظر بند کی، او وه کاله په تبریز کی و.

په (۹۲۰ ه ق) کال چی عثمانی سلطان سلیم تبریز ونیو، نو بدیع الزمان دهغه سره اسلامبول ته ولاړ او په همهغه کال (۹۲۰ ه) دوباپه ناروغی په روم کي مړسو، او ددهٔ سړینی سره دتیموړد کهول دپاچهي کمبله هم تو له سو ه .

بدیع الزمان میرزا دخپل پلار او پلار نیکه خپر د پر هنر پالو نکی پاچاو، او هم په خپله

ketabton.com - The Digital Library



یی دمختلفو لیکو په لیکلو کی لوی لاس او ښه مهارت درلود .
حاجی میرزا عبدالمحمد خان پخپل کتاب «پیدایش خط و خطاطان»
کی دده شی باب لیکلی چی :
« در جمیع خطوط متداوله خاصه در خط نستعلیق یگانهٔ زمان بلکه اعجوبهٔ دوران بودی»
ده په دری او ترکی ژبو ښه شعرونه ویل ـ هغه وخت چی دده زوی« محمد مؤمن
میرزا» دشهزاده مظفر سره په جگړه کی ووژل سو دهغه په وېرنه کی یی دابیت وو ایه
وزیدی ای صبا بر هم زدی گلهای رعنا را شکستی ز ان میان شاخ گل نورسته ما را
دابیتونه هم دده دی :
چو رخسار تو از نوشیدن می لاله گون گردد درون من صراحی وار تا لب غرق خون گردد

---

مه من بی گل رویت دلم خون گشته چون لاله جگرهم از غم هجران شده پرکاله پرکاله
مأخذونه :

---

۱ـ پیدایش خطوخطاطان ـ ۱۴۶ مخ
۲ـخطوخطاطان ـ ۶۷ مخ
۳ـ دگلچین معنی ـ ۱۱۴ مخ
۴ـ مجالس النفائس ـ ۱۲۷ مخ
۵ـ قاموس ـ الاعلام ترکی ۲۰ ـ ۱۲۵۷
۶ ـلغتنامه ـ ب ـ ۷۷۴مخ
۷ ـصورتگران وخوشنویسان هرات درعصر تیموریان ـ ۶۶ مخ
۸ ـپشتو آریانا دائرة المعارف ـ ۴ ـ ۲۸۱ مخ

ketabton.com - The Digital Library



## ۱۴۷۶- بدیع الزمان هروی :

احمد د حسین زوی ،دیحیی نمسی ،دسعید کړوسی او دبشر کوسی چی لقب یې «مهذب الدین »او کنیه یې «ابو الفضل»او شهرت یې«بدیع الزمان»و ،دخپل وخت نومیالی ادیب او فاضل او مبدع شاعر او حافظ او منشي تیر سوی دی ـ په اصل کـی دهمدان و،خو په هرات کی او سید،او په هرات کی مړ او ښخ دی.

دعربی په نثر او نظم کی یې ساری نه درلود،او دصاحب بن عبادله ندیمانو څخه و . دریحانه الادب مؤلف لیکی چی :

«شاعری است مبدع نامی ،حافظ کاتب منشی لغوی، از اکابر ادبای اسلام،در نظم و نثر عرَبی بی نظیر.. کلمات او در نهایت فصاحت و بلاغت،در قوهٔ حافظه و بدیهه گوئی یگانه جهان و از اعاجیب دوران بود،قصیده های پنجاه بیتی تا شصت بیتی را بمجرد شنیدن حفظ میکرد و از اول تا آخر بدون تغییر حرفی فرو میخواند،چهار ،پنج ورق از هر کتابی را فقط بایک دیدن حفظ می نمود و عیناً قرائت میکرد ،هرگاه نظم قصیده ای یا انشأر ساله ای را تصمیم میداد در همان دم،بدون تکلف انشا می نمود، بسا بودی،مکتوبی را که نوشتن آن را در نظر میگرفت از سطر آخرش شروع میکرد و بترتیب معکوس می نوشت و باولش می رسانید ... »

ده د «مقامات بدیع الزمان» په نامه یو کتاب لیکلی چی. ډیر شهرت لری ـ و ایی چی په دی موضوع کی دالومړی گام و ، چی اخیستی سوی دی، او نورو پوهانو لکه حریری او نورو دده اقتضا کړی ده ،ځکه نو حریری دخپل کتاب « مقامات حریری» په مقدمه کی دبدیع الزمان دمقامات پرقدامت اعتراف کړی دی .

سربیره پرمقامات یې دشعر یو دیوان هم درلود،او هم دده درسائلو او لیکنو او

ketabton.com - The Digital Library



منشا آتو یوه مجموعه د «رسائل بدیع الزمان» په نامه په یوه ټوک کې خپاره چاپ سوې، او د «الامالي» په نامه هم یو کتاب ده ته منسوب دی او ظاهراً همغه د مقامات کتاب دی.

دابوبکر خوارزمي سره د ده ادبي مشاجرې او په هغو کې د ده بریالیتوب په معجم الادبا او نورو کتابو کې راغلی دی.

دی د (۳۷۸- یا ۳۹۸ هق) کال (۱) دوروستي خور (جمادی الآخر) په یوولسمه د جمعې په ورځ په هرات کې مړ دی، ځوک وایي مسموم سوی او ځوک وایي سکته یې کړې وه او مړ لا نه و، خو چې په قبر کې یې کښېښو وه پرهوښ راغی چیغه یې وکړه خلکو د ده ږغ واورېد، غو ښته یې بېرته یې له قبره راوباسي، خو د ده زهره د قبر له ډېرې وېرې او چاودله، لاس یې پر ږیره نیولی مړ و. د ده معاصرو فاضلانو د ده پر مړینه ډېرې ویرنې ( مرثیې ) ویلې دي.

مأخذ :

ریحانه الادب - ۱/۲۴۳ مخ

## ۱۴۷۷- بدیع اندجاني :

ملا محمد یوسف اندجاني د سلطان حسین میرزا د دربار له فاضلانو څخه و، په معاني، بدیع عروض او قافیه کې یې لوی لاس درلود، په (۸۹۷ ه ق) کال کې مړ، او دا بیت د ده دی.

---

(۱) دا کال د تأمل او څېړنې وړ دی.

( مؤلف )

ketabton.com - The Digital Library



گر باین آب و هوا کو یت بو دسنز لگهم
نی‌زلال خضر بایدنی دم روح اللهم

مأ خـذ :

پښتوآر یانادائر ةالمعارف ـ ۳م/ ۳۸۰ مخ

## ۱۴۷۸- بدیع بلخی :

ابو محمدبدیع دمحمدزوی او دمحمو دبلخی نمسی ددری ژ بی پخو انی شاعراو دمنجیک او دقیقی معاصر و ،چی دڅلرمی هجری‌پېړی په دو همه نیمایی برخه کی یې ژو نـدکاو ه.

هدایت په‌مجمع‌الفصحاً کی دده‌نو م«بدایعی» لیکلی‌او و یلی‌یې‌دی‌چی دسلطان محمو د غز نوی‌دعصر شاعر و ،او دنو شیر و ان«پندنامه«یې‌په‌نظم کړې ده ،خو ـ ډا کتر ذبیح الله‌صفالیکی‌چی شایی«بدیعی» او «بدایعی » دوه تنه‌وی ـ ځکه‌چی‌دنو ـ شیر و ان هغه پندنامه چی بدایعی ته‌منسو بەده‌د پنځمی پېړی اشعارو ته ورته ده ، او باید چی‌ویو نکی یې‌په‌غزنوی‌دو ره کی او سېدلی وی.

هدایت‌دهغی‌منظو مې‌یو ه‌بر خه پخپله تذ کر ه کی را و ړی ده ، اوشـفر هغه‌د « راحة الانسان » په نامه په ( ۹۰۳ ) بیتو کی‌پخپلوفا رسی منتخبا توکی راو ړی ، اوښا غلی سعید نفیسی هم هغه دنو شیر وان دپندنامې دپا رسی تر جمې سره د« سـهـر» په مجله کی را نقل کـړ ی ده .

د ا شعر و نه دده دی :

هوای روی زمین راشد مطرز
بصافی آب دریای بقرمز
نفیر ابر فروردی برآمد
ز بانگ مرغ بانگ رود عاجز
بدان منگر که می منعیست میخور
لوقت الورد شرب الخمر جایز
نگاری باید اکنون خلخی زاد
برخسار مه بت چین را مجاهز
بمیدان نشاط اندر خرامد
نبشته بر قدح هل من مبارز
بیاد سید حران عالم
ابو یحیی الذی یحیی به العز
همیشه نام اورا آفرین جفت
همیشه عرض اورا مال محرز
مگر دای چرخ گردان جز بنیکی
برین رستم دل ماتم جو ایز
همه امرش بکام دل روان باد
همه آهنگ اورا دهر موجز
بقای او بمعنی قول باری
بقای دشمنان چون بیت راجز

ketabton.com - The Digital Library



چه پو شي جو شن غفلت که روزی
تو با شي تير محنت را نشانه
امل باعمرت اندر نه بمعيار
نگه کن تا کجا گرد د زمانه

مأخذونه :

۱- تاریخ ادبيات در ایران -۱/ ۲۲۳ مخ
۲- مجمع الفصحا ۱/۱۷۳ مخ
۳- دمهر مجله -۲ کال -۲، ۳ گڼه

## ۱۴۷۹- بدیعی سجزی :

بدیع الدین بدیعی په ختیه ساگزی په سیستان کی د دری ژبی نوسیالی شاعر و ،چی په شپږمه او اوومه هجری پیړی کی یې ژوند کاوه ، داشعار ودیوان یې درلود چی لهمنځه تللی دی او په اشعارو کی «بدیعی »تخلص کاوه .

دعرفات العاشقین مؤلف تقی اوحدی لیکی چی:

«حکیم بدیع الزمان الترکویی السجزی مولدو منشاوی سجستا نوتر کو حصا ریست که آنرا تر کو هم گو یند» .

د سیستان د تر کو په کلا کی اوسید ، ځکه نو په «بدیع الدین تر کو »هم یادیده او دمکران د حاکم تاج الدین ابو الکارم ستایندوی و ، اود هغه په ستاینه کی یی د یو ی قصیدی دوه لوړی بیتو نه دادی :

ketabton.com - The Digital Library



صبحدم ز خواب مستی چون در آمد آن پری          آن جهان جان افزای و آن کمال دلبری

ز رچنان قدری ندارد این قدر باشد از آن          کز جهان بر داشت جود شاه رسم چاکری

او هم دامیر عمادالدین سیما تگین پهستاینه کی قصید ه لری چی لو مړی بیت یې دا دی:

که دارد چون تو در عالم زخوبان جهان ای جان

دل از خارا خط از مینا رخ از دیبا لب از سرجان

بله قصیده یې دیمین الدوله و الدین بهرامشاه په ستاینه کی وه چی خو بیته یې دادی:

صبح آمد و بکشود ز مشرق در مغلق

دیو ار جهان رخنه زد این سقف معلق

بر سفره اکسون سحر گنبد اطلس

بر داشت ز روی طبق چرخ مطبق

بر تخت افق عالم پیر و زه قا را

گردون کمر کش کلهی داشت مغرق

خیل شه روم از طرف هند رسیدند

افروخته حراقه و افراخته بیرق

زاد از دل شب صبح سبک روح جهانگیر

چون معنی بکر و سره از خاطر احمق

ketabton.com - The Digital Library



تا شیشهٔ افلاک به سنگ سیه شب

بشکست وازوگشت روان راح سروق

چون ظلمت باطل دل شب پنبه شد از صبح

صلاح صفت سهر ندا کرد اناالحق

ای لب شکر پسته دهان بهر صبوحی

بر زن برگ چنگ سر انگشت چو فندق

دریافته ای بت چین وقت نگهدار

چون یافت جهان رونق بستان خورنق

آن پیر کهن سال جوان طبع که دیدست

هم عزت و هم خانه و هم خواری راوق

بی زلف مشوش شده یار درین فصل

آرام نگیرد دل عشاق مشوق

آراست عروسان طوی ساق چمن را

نوروز به پیرایه تو ساعد مرفق

شد حله کحلی بنفشه زنمانو

شد شقه وردی شقایق زصبا شق

بوی‌سمن از خلق خداوند خبرداد

اندوده بدانست‌بکافور مستحق

دارای‌جهان داریمین دول ودین

کز دولت او یافت جهان رتبت‌ورونق

ketabton.com - The Digital Library



بهرام شه عادل غازی که بحق اوست
برسلک زمانه ملک و مالک مطلق

در دعوی سافرندهی و ملک ستائی
از جمله شاهان جهان اوست مصدق

تأئید ازل بوده باقبال تو همراه
امداد ابد گشته بادبقای تو ملحق

بحر از کف راد تو فروشد بخود از رشد
آری نشگفتست اگر هست معمق

برخوان جهان مایدهٔ رزق نیارد
بی سعی تو این کاس سیه کاسه ازرق

درگاه ترا چاکر ثابت قدم آید
دایم فلک ثابته ایست مطبق

بنده زپی شعر عروسان مدیحت
آورده لالی سخنهای مسبق

برعرصهٔ این لعب شهاسانده پیاده
فرزین معانی سخنهای فرزدق

سعدان فلک باتو مه و سال موافق
از بخت موفا وز اقبال موفق

ketabton.com - The Digital Library



دده ژوند له (۶۱۲ ه ق) څخه تر (۶۱۸ ه ق) پوري يقيني دي .
داخلو رسيزه هم دده ده:

گل را چودم باد صبا خوار نهاد
از پوست برون آمدو بر خاک فتاد
بلبل چوبديد گفتش اي حورنژاد
بد کردي تو که تکيه کردي بر باد

مأخذونه:

---

۱- لب الالباب- ۹۳ مخ
۲- آريانامجله - د ۱۳۵۰ هش کال ۳ گڼه ۳۵ مخ

## ۱۴۸۰- بديع هروي:

بديع الزمان ميرزا دسلطان ميرزا خلف او دخپل پلار سارو نوميالو څخه و، او په (۹۲۰ ه ق) کال دو باپه نارو غي مړ سو. په دري ژبه يي شعر هم و ايه دالاندي بيتو نه نه دادي :

سر اازجوانان شيرين شمائل
بجان منت است آنچه کردند بادل
کندمنع ماشيخ شهر از جوانان
چگو ئيم اورا که پيريست جاهل

مأخذ:

---

پښتو آريانا دائره المعارف ۳/۳۸۱ مخ

ketabton.com - The Digital Library



## ۱۴۸۱ـ بدیعی هروی :

مولانا یوسف بدیعی اصلاً د سرخس او د دری ژبی شاعر و ـ که څه هم په لومړی سرکی یی دسن د کمو الی په سبب په شعر کی خامی درلوده، خو هغه وخت چی هرات ته راغی او د مولانا صفائی سره او سید شعر یی ډیر پوخ سو، په شعر کی یی بدیعی تخلص کاوه، او شوخ طبعا نو په دده د حجب له کبله یو سف صفایی باله، او دی به له دی خبری څخه سوراوشین کیده په عروضو او شعری صنعت هم ښه پوهید ـ په سرخس کی د ۍ او د شیخ لقمان په خانقاه کی ښخ دی. په معما کی یی هم یوه رساله لیکلی وه، او په دی فن کی یی ډیر کار کړی و دا معمایی د ( منصور ) په نامه ویلی وه :

مرا زان شد منور خانه چشم    که آمد دوست در کاشانه چشم

دا بیت هم دده دی :

دری مقصود جو یان مجمع البحرین شد صوفی

که بحری در برست از چشمه هر چشم گریانش

مأخذ :

---

مجالس النفائس ـ ۸۳ مخ

## ۱۴۸۲ـ بدیل ابو بکر هروی :

د احمد زوی او د محمد نمسی د حدیثو نو سیالی عالم و، له هراته بغداد ته تللی او هلته یی حدیثونه له ابی العباس الاصم نیشاپوری، او د حسن له زوی منصور دینوری او د عبدالرحیم قناد له زوی علی څخه لوستلی وو .

مأ خذ :

---

تاریخ بغداد ـ ۱۳۵/۷ مخ

ketabton.com - The Digital Library



## ۱۴۸۳ - برامت :

دپښتوژبې اولسي شاعر و،چې نوسيالي مستشرق داړمستيتريې په خپل کتاب د «پښتنخوا دشعرهاروبهار» کې يادونه کړې ده،اوداسې اټکل کيدايي سي چې د(۱۲۵۰ ه ق)کال په شاوخوا کې ژوندی و .داېد له دده ده :

د سپينې خولې دې شم قربان

پورته کړه چشمان

---

سخ دې آفتاب دمهتاب په شان بليږي

بل دې په سوزه سور پيزوان

پورته کړه چشمان

---

زما دلبره شمس و قمره

په مخ را پريږده تور زلفان

پورته کړه چشمان

---

زه «برامت» چې زخور پروت يم کړيږم

که يو ځل راشې خپل چانان

-پورته کړه چشمان

---

البته دا بدله پراولسي وزن ويل سوې ده چې په مجلسو کې داولسي آهنګ سره يو غږ کيږي .

ketabton.com - The Digital Library



ماخذ :

۱- دپښتنو اد شعرهار و بها ۳۰ ،مخ دکابل چاپ

۲- پښتانه شعرا -۵۵۲ =

**۱۴۸۴- براهیم :**

دپښتو ژبی شاعر و،چی یو ازی یا دری هیوز پخپل کتاب « کلید افغان »

کی دده یوه غزله راوړی‌ده، خونو راشعار یی لاس‌ته رانغله - هغه‌غزله‌داده:

چی دعشق سوداپه سر کړم کله سردیم

سر پریکړی‌په‌میدان کی دعشق یزدیم

دعشق‌نوم‌ځکه په ماباندی صحیح شه

وچی‌شونډی لمدی سترګی ګونه‌زردیم

دیاداشت بهره به بیا موسم اسیددی

لکه نن‌چی‌مشغول شوی‌په‌یاد ګردیم

که می سروسال دیار په‌سینه‌لاړ شی

خدای‌دی‌نه‌کاچی پری‌ګرم‌یاپری سردیم

تعلق هستی می دواړه پسی‌شا کړل

جریده دعشق په لارکی روان فردیم

دامن واخله چی‌په ګرد آلوده نشی

خسته پروت دستاپه‌درکی لکه ګردیم

بی درد دان دعشق‌له سوزه خبرنه شول

براهیم ځکه منت بار د اهل دردیم

ketabton.com - The Digital Library



ماخذ :

---

کلید افغانی-۳۸۹ مخ د کابل چاپ -

**۱۴۸۵ـ برت نیکه :**

سیدبرت‌نیکه په‌ختۀ‌شین غری سیداو په‌پښتنو کې‌دلوی اوښه‌ناه‌ه‌ښتن و . د کو یټې دعبدالله‌خان‌دسیمې په‌لویه‌هدیره کې‌ښخ دی،اوسزارته‌یې‌عام‌وخاص‌ورځي،په‌زیاته بیا ښځې ډېره عقیده‌و رسره‌لري .

دده‌زیارت د«دیبسرۍ»په زیارت‌هم مشهور ردی،دعامو خلکو داعقیده‌ده‌چې دده زیارت دنزلي دپاره یک په یک دی .

مأخذ :

---

دښاغلي سیال - سزارات - ۲۰ مخ

**۱۴۸۶ـ برخوردار پاشمولی :**

برخوردار په ختۀترین د پښتو ژبې اولسي شاعر و اود کندهار دپنجـوایي دولسوالي دپاشمول‌په کلي کې‌اوسید،اود(۱۳۰۰ ه)کال‌په‌شاوخوا کې‌یې‌ژوندکاوه.

قلندر،شربه‌فقیرسړی‌و،او ډیرخوږ او زړه‌و رونکی آوازیې درلود، خوږې له سوزه ډ کې‌بدلي ویلې، دده دشعراوعشق داستانو نه دهغه ځای په عوامو کې شهرت‌لري - دابدله دده د کلام نمونه ده :

د یار د غمه سې پر زړه باندې پرهاردې وای

دیهان‌په‌و ینو داسې‌رنګ‌لکه‌انار دې وای

ketabton.com - The Digital Library



دیاردغمه د ققنس ناری وهمه ـ وای

ترخولی‌به و باسم شین دو دلمبه به سمه ـ وای

کړه به‌دخدای وی زه به‌ستادلاسه‌سرمه وای

آسان یی سه‌بوله‌داداسی مشکل کاردی وای

---

دیاردغمه‌شپه اوورځ وهم فکرونه ـ وای

اوربه پسی کړم‌ددنیا په روزګارونه ـ وای

زړه راته وایی چه‌ښځو نیسه‌پر غرونه ـ وای

چی‌ستاو صال‌وی هغه‌غر ساته ګلزار دی ـ وای

---

دیاردغمه‌به ناری کمه په زوره ـ وای

که‌څوک‌توست‌راباندی وای‌لورترلوره ـ وای

لکه پتنګ‌چی چاره نه لری بی‌اوره ـ وای

که ځان په سل کاله ساتم‌پای سی‌انګاردی ـ وای

---

ژوندون یی‌سه‌بوله چی تیرسوبی له یاره ـ وای

له‌دی ژوند و یارانو بس‌که برخوردار ـ وای

حاجت دی پر یږده د بی نیازو دروزګاره وای

هغه‌یار غواړه چی‌دی پس‌له سرګه یاردی ـ وای

---

برخوردار په‌پا شمول کی‌سړاوهم‌هلته ښخ دی .

ماخذ :

---

پښتانه شعرا ـ ۲ ـ ۲۰۰/۶۵ ـ مخ

ketabton.com - The Digital Library



## ۱۴۸۷- برخوردار خان اڅکزی :

داحمدشاه بابا د دربار له مخورواو نوميااليو درباريانو څخه و، چې لوړی «دقابوچي باشي» منصب درلود، اود رباری تشريفاتو په دااله درلودله، خوورو سته دتولو محروسه هيوادو دباقياتو تحصيل هم ده ته وسپارل سو، پر احمدشاه بابا باندی دېرګران واود ګنا هکارانو په باب يې دده شفاعت منانه. د(تاريخ احمدشاهی) مولف محمودالحسيني دی په داسی القابو يادوی(عاليجاه رفيع جايګاه رکن الدوله العليه العاليه موتمن السلطنت البهيته القاآينه، مقرب الخاقان برخوردارخان) اوداحمدشا بابا سره په ټولوعزاګانو کی ملګری، اود احمدشاه بابا د مړينی په کال هم ژوندی و، او احمدشاه بابا چی ناروغه سو، نو ده مشوره او رکړه چی داستراحت دپاره دتوبی غره ته ولاړ سی .

محمود الحسيني بل ځای دی :

« رفيع جايګاه معتمد درګاه خلافت پناه و مخلص بلااشتباه مقرب الخاقان برخودار خان» په عنوان ليکی .

بل ځای چی ديو چاشفاعت کوی او شفاعت يی منل کيږی په« تاريخ احمدشاهی» کی داسی راغلی دی :

«مراحم شاهنشاهی بپاس جانب خان سعادت نشان که از فدو يان خاص حضرت ظل الهی است ملتمس او رابعز قبول موصول ساخته لشکر را از ستيز و آويز منع فرمودند ...»

مأخذ :

---

تاريخ احمد شاهی- دمسکو عکسی چاپ- ۱۲۱ / ۷۱،۳۳۷،۳۳۲،۵۳۸،۵۸۶،۵۸۶

۱۲۷۲ مخونه .

ketabton.com - The Digital Library



## ۱۴۸۸ـ برخوردار فراهی :

میرزا برخوردار دمحمود ترکمان فراهی زوی دخپل وخت لیکوال و ، یو کتاب یې د «محبوب القلوب» په نامه دخپلو مسافرتو په باب لیکلی دی، او له هغه څخه ـ څرگندیږی چی ده داتلسمی پیړی په پای یادنو لسمی پیړی په سر کی ژوندکاوه .
دفراه د«پښتو» په کلی کی اوس هم دیوې کلا کنډوا له لیده کیږی د میرزا برخوردار په نامه یادیږی ـ پدری ژبه یې شعر هم وایه ـ دابیتونه دده دی :

الهی بزرگی وحشمت تراست
سرافرازی وملک و شوکت تراست

توئی روشنی بخش جسم وحیات
توئی ناظم کشور کائنات

توئی بانی بارگاه سپهر
فروزنده مشعل ماه ومهر

تراسی سزد شاهی وسروری
سزاوار ذاتت بود برتری

مأخذ:

---

دسیستان ځینی پخوانی مشاهیر ـ ۷۴ مخ

## ۱۴۸۹ـ برکت خان :

ددانو زوی دپښتو ژبی او لسی شاعر و ، او دځاځی میدان په هاشم خیلو کې اوسید .
شعرونه یې پر او لسی وزن داولسی آهنگو سره سم جوړول چی په عوامو کی یې شهرت درلود . د(۱۳۳۰ هـ) کال په شاوخوا کی سړ دی ـ اودادده دیوې بدلی کسردی:

ketabton.com - The Digital Library



تو ری دی‌و ر یخی سپینه تنده‌دی‌میدان‌د ی لیلا

وی ار مان‌ار مان دی لیلا

مأ خـذ :

فر هنگ‌ز بان و ادبیات پښتو - ۷۳ مخ

## ۱۴۹۰ـ برم خر ا سا نی :

یو سف دابر اهیم ز وی مشهو ر په «بر م» خلیفه محمدمهدی‌ته پو ر ته‌سو ، دېر خـلک و ر باندی ر اټو ل‌سو ه،مر و الر و د،تالقان ،جو ز جان او پو شنګ یې و نیو ل .
خلیفه مهدی دمز ید شیبا نی ز وی‌یز ید ددده‌مر ه‌دجګړې‌دپا ر ه‌ر او لیږ ه،یز ید‌بریالی سو ، بر م‌یې بندی‌مهدی‌ته‌و لیږ ه، او په (۱۶۰ هـ ق) کال‌دخپلو ملګر و سر ه‌ددجله پر جسر په دار و ځـړ ول ســو .

مأخذو نه :

۱ـ الاعلام‌ـ دز ر کلی ـ ۹/۲۸۰ مخ

۲ـ لغتنامه ـ بـ‌ـ ۹۵۵ مخ

## ۱۴۹۱ـ بر مک بلخی :

دهارو ن ر شید خلیفه دمشهو ر و ز یر یحیی بن‌خالدبر مکی‌نو میالی نیکه و ، چی دده اولادی ته‌په تا ر یخ کی«بر مکیان» یا«برامکه» و ایی .
بر مک دبلخ یو دېر ز ړ ور او نو میالی‌مشر و ،چی‌دعبدالملک مرو ا ن خدمت ته و رغئی او دلوی ندیم په‌تو ګه‌یې‌دېر اعتبار و مو نداو دعبدالملک‌هشام په‌وخت کـی مسلمـان سو ؛ بیـایـې نسل‌دېـر سو ، چـی دمـجمل التـو ار یـخ

ketabton.com - The Digital Library



دمؤلف په قول « همه خداوندان عقل وکفایت بودند »
دبرمکیانو دکورنی دنیکه گانو عنوان په اصل کی هغه عنوان او لقب و،
چی دبلخ د«بهار» دبودایی بودتون روحانی مشر ته ورکول کېده.
دانو سیالی برمک دخالد پلار او دهارون رشید خلیفه دمشهور وزیر یحیی
نیکه و.

مأخذ :

---

لغتنامه - ب - ۱۰۹۶ مخ

## ۱۴۹۳ - برمکی :

ابو اسحاق ابراهیم دعمر زوی ، داحمد لمسی، دابراهیم کړوسی، داسماعیل
کوسی او دبهران کودی مشهور په «برمکی» دحدیثو لوی عالم و ،او د بغداد
په «برامکه» محله کی اوسېد
حدیث یې دمالک قطیعی له زوی ابابکر ، دماسی له زوی اباسحمد، او دابراهیم
زیبی له زوی عبدالله، او له ابا الفتح ازدی موصلی، او دسعدنسوی له زوی اسحاق
څخه اروېدلی، او په فقه کی د امام احمدبن حنبل دمذهب پیرو و.
دی د(۱۰۳۶ هق) کال دروژی په ۹ ددوشنبی په شپه زېږېدلی، او د(۴۴۵
هق) کال دذی الحجی په اتمه دیکشنبی په ورځ په مکه کی مړ او دباب حرب
په هدیره کی ښخ دی

مأخذ :

---

تاریخ بغداد - ۶/ ۱۳۹ مخ

ketabton.com - The Digital Library



## ۱۴۹۲ـ پرورده بلخي:

ابو محمدعبدالله دمحمدزوی مشهور په پرورده بلخي ددری ژبی شاعرو، او دغزنویانو پهوخت کي يې ژوند کاوه

عوفي يي داسي ستاييي :

«ازمعارف بلخ وصدورخراسان بوده است ودرنوبت دولت آل ناصر بتنعم روزگارگذرانيده واورايکيک فرداست که درنفس خودتمام است واگر تمام کنداز ذوق دوراقتدو از لطف بي بهره ماند» دابيتونه دده دي :

گر بر کشم اين فروشده پای از گل
هرگزنند هم بهيچ نامردم دل

بي خوابي را بديده بر بستستم
واز ديدن خواب بيهده رستستم

لولو داری ميان ياقوت اندر
ای زنده کني مرده تابوت اندر

ای خورد گل نيک ندانسته ز بد
چندان گرهت ز مشک برلاله که زد

گويندمرا که خواجگي هست کريم
يک برگ کرم به که چنو شست کريم

مأخذ :

---

لباب الالباب ـ ۲/۳٦ مخ

ketabton.com - The Digital Library



## ۱۴۹۳ـ برهاتگین :

علامه بیرونی په خپل کتاب الهند کې لیکي چې برهاتگین دتگینانو اوړی پاچاو، چې دیونانیانوتر سقوط وروسته یې په شرق کې دهغوی ځای ونیو، او دتخاراوکندوزپه سیموکې یې حکمرانی درلودله، او یې یاد ده کورنی دهندوکش جنوبي سیموته راغله اودسیلادی اتمی پهوروستی دوهمه برخه کې یې په گندهاراکې یوکوچنی امارت جوړکړ

علامه بیرونی لیکي چې دبرهاتگین له نسله ترشپیتو تنو پوری حکمرانان تیرسوی دی -

دتگین له کلمې څخه داهم اتکل کېدای سی چې دغزنویانو دسلسلې دمؤسس سبکتگین اسلاف لکه بلکاتگین او الپتگین او نورهم دبرهاتگین دکهاله پایخوروی

مأخذونه :

---

۱ـ افغانستان بعدازاسلام ـ ۱/۹۰ ۱مخ . ۲ـ کتاب الهند البیرونی ـ ۹ ۳ مخ

## ۱۴۹۴ـ برهان الدین :

د پښتو ژبې اولسی شاعر و، او پراولسی او زانو یې جذاب شعرونه ویل دابیت دده دی :

برهان الدینه سروسال دی د جانان دی
که هر هم جانان خپل ځان له تانه ژغوری

مأخذ :

---

فرهنگ زبان و ادبیات پښتو ـ ۵ ـ ۷۵ مخ .

ketabton.com - The Digital Library



## ۱۴۹۵ـ برهان الدین ابوالحسن غزنوی:

امام برهان‌الدین ابولحسن علی د ناصر غزنوی زوی ملقب په «بریانگر» دخپل وخت له نومیالیو امامانو څخه و، په بغداد کې اوسېد او دحضرت سنایی غزنوی نږدې دوست و.

هغه‌وخت چې دغزنی ظاهر بینو او متعصبو ملایانو دحضرت سنایی پر «حدیقته الحقیقته و شریعته الطریقته» کتاب باندې چې «الهی‌نامه» یې هم بولي اعتراضونه وکړه نو سنایی مجبور سو خپل کتاب یې خپل دې‌لوی عالم دوست «بریانگر» ته ولېږه او له هغه څخه یې وغوښته چې هغه کتاب ددارالسلام پوهانو ته وښیي او سنایی‌دطاعنانو له‌طعنه وژغوري

هغه‌اشعار چې‌حضرت سنایی دخپل کتاب سره امام برهان الدین‌ته‌لېږلي‌وو، څو بیتونه یې دا دي:

تو ببغداد شاد و من ناشاد — خود نگویی‌و را رسم‌فر یاد
سال و مه‌تر سناک و اندهگین — مانده محبوس تر بت‌غزنین
این کتابی که گفته‌ام در پند — چون رخ حورد لبرو دلبند
گرچه بسیار دیده تا لیف — هیچ دیدی بدین صفت تصنیف
هرچه‌دانسته‌ام‌ز نوع‌علوم — کرده‌ام جمله خلق‌را معلوم
آنچه‌نص‌است‌وآنچه‌اخبارست — وز مشایخ هر آنچه آثارست
اندرین‌نامه جملگی جمعست — مجلس روح را یکی شمعست

ketabton.com - The Digital Library



یک سخن زین وعالمی دانش      همچو قرآن پارسی خوانش

این سخن راه طالعت فردای      نیک و بد در جواب با زنمای

جاهلان جمله نا پسند کنند      و ز سر جهل ریشخند کنند

وانکه باشد سخن شناس وحکیم      همچو قرآن نهد و را تعظیم.

ما خذ :

---

تاریخ ادبیات در ایران - ۵۶۱/۲ مخ

## ۱۴۹۶- بر هان الدین بلخی :

شیخ برهان الدین محمود دابی الخیراسعد بلخی زوی دخپل وخت له سترو پوهانو څخه و، او د سلطان غیاث الدین بلبن په پاچهی کی یی په هند کی ژوندکاوه .

دشیخ عبدالحق محدث دهلوی په قول « بوفو رعلم و دانش و و جدو سماع جامع بود میان علوم شریعت و طریقت »

په دری ژبه یی صوفیانه شعر و نه هم و یل - دابیت دده دی :

گر کرست عام شد رفت زبرهان عذاب      ور بعمل حکم شدوه که چها دیدنیست

دشمسی حوض شرقی پلوته شخ دی او دده دقبر د پښو خاوری یی دخوردی په توگه په کوچنیا نو خوری چی علم ته یې ذهنونه پرانیستل سی

ماخذ :

---

اخبار الاخیارفی اسرار الابرار - ۴۶ مخ

ketabton.com - The Digital Library



## ۱۴۹۷ - برهان الدین خلاوند شاه بلخی :

د سید کمال الدین محمود زوی دخپل وخت نوسیالی روحانی عالم و. د پلار تر -
مړینی ورو سته یې په بلخ کی دعلوموزده کړی تمامه کړه او په لږ وخت کی لوی
عالم شو، او بیایی د تصوف او سلوک لاره ونیوله، له بلخه هرات ته ولاړ او
د هغه ځای د مشایخو سره یې صحبتونه وکړه، په تیره بیا شیخ بهاالدین عمر و رسره تر
دی حده مینه پیدا کړه چی د مړینی پر وخت یې وصیت وکی چی زما د جنازی لمونځ
دی دی وکړی. د شیخ بهاالدین عمر تر مړینی وروسته سید برهان الدین خاوندشاه
بیرته له هراته بلخ ته راغی او په بلخ کی مړ شو، چی د سلطان احمد خضرویه په
هدیره کی ښخ دی .

دده دری زامن پاته شو، چی امیرخواند محمد، او سیدنظام الدین سلطان احمد ،
اوسید نعمت الله نومیدل .

ماخذ

رجال کتاب حبیب السیر - ۳۰۰ مخ

## ۱۴۹۸ - برهان الدین عطاالله هروی :

مولانا برهان الدین عطاالله رازی د هرات د زبرگانو له اولادی څخه
و، چی د سلطان حسین بایقرا په وختو کی یې ژوند کاوه او د امیر علی -
شیر نوایی ملگری و، او د هغه وخت له نوسیالیو فاضلانو او
شاعرانو څخه گڼل کیده ، او د هرات د شاهرخ میرزا په مدرسه کی
په تدریس بوخت و، وایی چی دده په ادبی پالنه کی امیر علی -
شیر نوایی لوی لاس درلود، او دده هم د امیرعلی شیرنوایی په

ketabton.com - The Digital Library



ستاینه کی د یری قصیدی ویلی دی .

هغه وخت چی پاچا امیر علی شیر ته دولتی مهر ورکی نو مولانا برهان الدین یی نیته داسی منظومه کړه :

سپهر فلک جناب علی شیر کزشرف | عاجز بود ز حد کمالات او خرد
دیوان نشست خرشعبان بداد عدل | از لطف شاه عادل و الحق چنین سزد
چون مهر زد بدولت سلطان روزگار | تاریخ شد همینکه «علی شیر مهر زد»

او دا پیښه د (۸۷۶ ﻫ) کال د برات په میاشت کی وه، خو عجیبه اتفاق دا سی پیښ سو چی لس کاله وروسته چی امیر علی شیر ورور امیر درویش علی ته دولتی مهر ورکړه سو هم مولانا د هغی پیښی د نیتی په باب دا ترکیب جوړ کی :

« درویش علی مهر زده »

بیا یې امیرعلی‌شیر د امارت نیته (۸۹۲ ﻫ) داسی منظومه کړی ده :

آن میر علی شیر که دارد | اوصاف برون ز حد تقریر
چون کرد قبول با امارت | تاریخ شود « امارت امیر »

امیرعلی شیر هم په خپله تذکره (مجالس النفایس) کی مولانا ښه ستا یلی دی.
مولانا د بابر میرزا په نامه هم د معما یوه رساله چی «جواهر الاسماء» نومید له لیکلې وه، چې له هغې رسالې څخه یې دا معمایي بیت د «شاه بابر» په نامه ویلی دی:

ketabton.com - The Digital Library



پس از بهار جوانی کشیم آه بحسرت

خزان عمر چو آخر رسید از پی غارت

د «جوانی» له کلمې څخه بې« شباب »اخیستې او د شباب بهار (ش) دی چې ورو سته «آه »ورسره سوه نو« شاه »ځینې جوړ سو، او د «خزن عمر » آخر «ر» ده چې دشباب له «باب » سره یو ځای سوه « بابر » سو )

مولانا برهان الدین عطاءالله رازي په (۹۰۲ ه ق) کال کې مړ دی.

ماخذونه :

---

۱- مجالس النفائس - ۹۱ مخ

۲- پښتو آریانا دایرهالمعارف -۳/۵۰۴مخ

**۱۴۹۹ برهان الدین لاغر بدخشي :**

په خپل وخت کې د بدخشان له نومیالیو پوهانو او شاعرانو څخه و، پلاریې میر یوسف علي خان شهید او نیکه یې میر میرزای کلان نومید ل .

پر شعر و یلو سربیره یې په نورو مستظرفه صنایعو کې لکه نقاشي، حکاکي، زرگری او رنګمالی کې لوی لاس درلود ، او په تیره بیا دوربینمین کاغذ په جوړولو کې دمهارت خاوندؤ ، اوداآثار یې هم لیکلي وو :

ketabton.com - The Digital Library



۱-آئینهٔ سکندری تفسیر

۲- روضتهٔ النور

۳- جام جم

۴- اخوان المجالس

۵- داشعار ودیوان

په (۱۲۹۱هق) کال کی مړ دی .

ماخذ :

---

پښتو آریانا دایرةالمعارف -۴/۷۰۶مخ

۱۵۰۰-برهان الدین محمود بلخی :

شیخ برهان الدین محمود دبلخی دابی الخیر اسعد بلخی زوی او د سلطان غیاث الدین بلبن په وختو کی په هند کی اوسید .

ښه لوی عالم و، هم په شریعت او هم په طریقت کی مشهور و.

د مولانا برهان الدین سرغینانی دهدایې خاوندسره یې لیدلی و، په (۸۸۷هق) کال کی مړ اوقبر یې په ډهلی کې د حوض شمس ختیزی خواته دی، اوعوام ورته ښه عقیده لری .

ماخذ :

---

تذکرهٔ علمای هند - ۳۲ مخ

ketabton.com - The Digital Library



**۱۵۰۱ـ برهان الدین هروی :**

برهان الدین حیدر هروی د محمد زوی د ملا سعد تفتا زانی له نومیالیو شاگردانو څخه و، چې دخپل استاد پر «شرح کشاف» او «ایضاح المعانی»، او «فرائض سراجیه» یې حاشیې لیکلې دی، او په (۸۳۰هق) کال کې مړ دی.

ماخذ :

---

ریحانة الادب - ۲۵۶/۱ مخ

**۱۵۰۲ـ برهان بلخي :**

علي د حسین (یا حسن) زوی او د محمد نمسی د خپل وخت له نومیالیو پوهانو او لویو حنفي فقها وڅخه و، چې ډیر شهرت یې درلود، او په «برهان بلخي» معروف و.

فقه یې په بخارا کې د عمر له زوی برهان الدین عبد العزیز څخه زده کړې وه، او په فقه او اصول کې یې لوی لاس درلود، وروسته یې بیا په دمشق کې تدریس کاوه او په (۵۴۸هق) کال کې مړ سو.

ماخذونه :

---

۱ـ ریحانة الادب - ۱/ ۲۵۴مخ

۲ـ فوائد البهیة - ۱۲۰ مخ

۳ـ لغتنامه ـ ب ـ ۲۳۸مخ

ketabton.com - The Digital Library



**۱۵۰۳ـ برهان خان:**

د نادر زوی دپښتو ردهز اره دضلع د « بغي » اوسید ونکی د پښتو ژ بې اولسي شاعر او داعلیحضر ت احمدشاه بابا معا صر و.

په (۱۱۷۴هق) کال چې لوی احمدشاه بابا د پانې پت پر ډگر سر هیتاـ نو ته تاریخي ماته ورکړه نو داسي ښکار یږی چې بر هان خان هم د غا زیانو په ډله کې و ، ځکه چې د هغې تـاریخي جگړې قصه یې داسي په نظم کړې ده لکه دی چې خپل د ستر گـو لیدلی حـا ل بیانوی که دا اتکل سم وی نو دده ژوند هم تر ۱۱۷۴هق کال پو رې یقیني د ی .

دده اشعار و په عو امو کې شهر ت درلو د ، اوفر انسوی ختیځ پو هاند «جم ډار مستتر » دپښتو نخوا په « ایبټ آ با د » کې دده اولسي بد لې مو ندلې او په خپل کتاب «دپښتونخو ادشعر هاروبهار » کې یې ر انقل کړې دی او هم لیکې چې بر ها ن خا ن دخو اص خان ا و ا فضل خان ختټک جگړ ه او د آدم خان ا و د رخانې قصه هم په پښتو نظم کړې ده چې دهغو نظمو نمو نې یې هم پخپل کتاب کې راوړې دی . دلته دلوی احمدشاه بابا دغزا په باب دده خو بیتونه دده د کلام دنمونې په توگه ددار مستتر کتاب را اخلو :

احمدشاه باد شاه په جار دا وویله
د غزا په نیت ووزمه له کابله

پښتنې مغلې لاندې کړې کفا رو
داخبره سې په زړه وگرځید له

ketabton.com - The Digital Library



یا به‌قتل کړم کفار په هندوستان کی
یا به پرې کړ مه کله پرې باندی خپله(۱)

امیران وزیران وارہ‌تری چا پیروو
د غزا په سهم خو بش شوی پو بله

یو دپر شو رځی یې نیته‌په سینځ کی یبنوه
په ورو نبی ورځ یې پیشخانه وویستله

چی‌دپر شمه ورځ پو ره‌شوه‌بادشاه‌سو رشه
په ډ پر واو بنو یی خزانه ولیږد وله

دبا دشاه‌دری‌لکه لښکر همه سواره‌وو
دهندو ستان‌په‌لاری تله واړه‌خو ش‌د له

با د شاه‌خو ورځی مقام په‌پیښور شه
داخون په زیارت پر وت‌دعاغوښتله

او لیا وُپرې غږ وکه رو انیږه
ستاعرضی شوله دخد ای په در قبوله

با د شاه لاړ په‌خو کتو باندی‌ډ یره شه
د سیان عمر صاحب پو ښتنه‌یې کوله

---

(۱)دابیت په‌پښتانه‌شعر اعداسی راغلی :
یا به ننگ د پښتانه ییر ته‌پر ځای کړم
یا به بایلم ککری پرې‌باندی خپله

ketabton.com - The Digital Library



میان عمر صاحب پرې ډېر ډېر مهربان شه
بادشاه سو رپوه مدعا ددی وګټله

د پېښې راولیاو اړه درسره شوه
ډېر کټ جنده‌دی پورته و ختله

بادشاه کوچ له‌خوکنو وکړروانشه
دده له و یری سمه ټول ولړ زېدله

دا ټک پەسیند یې دوه پوله‌تیار کړل
بادشاه‌پوریوت پەمانجه‌یی میشته کړ له

هر سپاهی یی له‌بړیخو نه کم نه و
درو تاس قلعه یی‌بی جنګ و اخستله

احمد شاه‌بادشاه‌غازی او هم‌سخی و
ټول‌جسه یی‌لکه شمع بلید له

د باهو نه‌لکه فوځ و رپسی راغئی
شپه اوورځ یې خالی‌نه‌وه له‌مز له

باهو و وی‌پښتون زما‌دجواب‌نه‌دی
دده زړه‌کی لو یی‌ډېره‌تېر ېدله

سخاسخ شو جنګ‌یی‌جوړ کړ په‌میدان کی
دوروخیی تو پخانه و چلوله

سمندرخان‌مؤمن‌خان دواړه شهیدان شو
د احمدشاه دزړګی ستن و نړید له

ketabton.com - The Digital Library



اووه‌و رڅی‌وه تیاره بیارنایی‌شوه　　　دباهو تنه په زمکه لغړید له

سر اتی په لو ردغم ناری سو ری شوی

پښتانه تو ره یی هاله وسله

باد شاه جنګ وګټه هر څو ک پری خو شحا ل شو

بیابر هان یی مدا م ستا یی له غز له

ما خذ ونه :

---

۱ـد پښتنخوادشعر ها روبهار ۱۰۶۱، ۱۰۶، مخو نه

۲ـ پښتانه شعر ا ـ ۱/ ۳۵۵ مخ

## ۱۵۰۴ـ بر یا نګر غز نوی :

دحضرت‌سنایی‌غزنوی‌نژد ی دو ست او د خپل و ختـله‌نو میا لیوا ماما نوځخه‌و. (په همدی رد یف کی د ی د(برها ن الد ین ابو الحسن غز نوی نامه ته ر جو ع وسی )

## ۱۵۰۵ـ بر یم خا ن :

دپښتو ژبی ناظم و او یو ه منظو مه یې دآدم خا ن او در خا نی په کیسه کی چی مسعو دبن‌عبدا لله‌لیکلې را غلې‌ده ، او بر یم خا ن یې دلسمی‌هجری پیړي ناظم شو ولی دی ـ او په هغه کیسه کی‌داد ده یو ه‌ناره ده :

خانه آدم‌خانه غلامان‌دی میړ نی‌دی　　　یو تر بله ګړ ند ی د ی

پـلو لیـری کـه لـه مخــــه　　　دغه‌ستا دبلوستر ګی دخو نی د ی

ما خذ :

---

فر هنګ ز بان و اد بیات پښتو ـ ۷۵ مخ

ketabton.com - The Digital Library



### ۱۵۰۶- برمکو-موسی جان :

دکاکړستان محلی روایت دی چی برمکو اوموسی جان‌دوه سینان تیر سوی دی- په ختهه سپین تر ینان اوقبر ونه یې د هر نایی په سیمه کی خو کی نوسی کلی ته نژ دی سته- خنګ پر خنګ سخ دی، او زیات شمیر خلکک ورته عقیده لری .

ماخذ :

مزارات - د ښاغلی‌سیال کاکړ لیکنه -۹۰ مخ

### ۱۵۰۷- بزرجمهر قاینی :

ابو منصور قسیم د ابراهیم زوی دسبکتګین اوسلطان محمود د غزنوی دوختو له نوسیا لیو امیرانو اواد یبا نو اوشا عرانو څخه و ، په عربی اودری شعر کی استاد ګڼل کیده .

تعا لی یې خو عربی شعر و نه راوړی دی .

ماخذ ونه :

۱- لباب الالباب- ۳۳/۱ مخ

۲- لغتنامه- ب -۳۰۰۱مخ

### ۱۵۰۸ بزرګ‌خواجه بدخشی :

دسید علی خواجه مهجور زوی د بدخشان له نوسیا لیو پوهانو اوشاعرانو څخه و.په دری ژبه یی ښه شعرونه ویل ، اودژوند په پای کی په بخارا کې اوسید ،خو چی په ( ۱۳۳۹ه ق ) کال دبخارا

ketabton.com - The Digital Library



په انقلاب کی د «قبته الاسلام» څخه د دفاع په و خت کی و وژل سو .
په اشعارو کی یې مظلوم تخلص کا وه .
ما خذ :

پښتو آریانا دائرة المعارف -۳/۱۳۳ مخ

**۱۵۰۹- بزگرعلی محمد:**

د محمد عثمان زوی د پښتو ژبې معاصر شاعرو، چې په (۱۹۰۰م) کال
دگلستان په لاجو رکی زیږ یدلی او په (۱۹۶۶م) کال کی مړ دی.
په اشعارو کی یې «بزگر» تخلص کا وه، په اوو ژبو پوهیده، په ملی
او اجتماعی موضوعاتو کی یې شعرونه ویل، اود اشعارو
یو دیوان یې سته - دابیت دده دی :

پښتانه ځوانان دی و پالی پښتو      پښتنی دی کړی دغو ږوالی پښتو

ما خذ :

فرهنگ زبان وادبیات پښتو -۷۶ مخ

**۱۵۱۰- بزرگ (میا)**

مولانا میا بزرگ دد وولسمی هجری پیړی له نو میالیو پوهانو او
لیکوالو څخه و - دباجوړ په «شوو» کی او سید، دد ینی علومو
تدریس یې کاوه، په پښتو، عربی او دری پوهیده، او په (۱۱۸۲هق)
کال یې دیوسف زلیخا کیسه له پارسی څخه په پښتو واړوله او لویه
شرح یې باندی ولیکله چې د درسی متن بڼه یې غوره کړی وه

ketabton.com - The Digital Library



او د هغې سیمې په د ینې مدر سو کې تدریس کید له .

ما خذ :

فر هنگ زبان و اد بیات پښتو -۷۵ مخ

## ۱۵۱۱ـ بز م کا بلی :

دامیر عبد ا لر حمن خان دوختو شاعر و، چې له هند و ستا نـه دامیر عبد ا لرحمن خا ن د بیر ته راتللو په با ب کې یې و یلی و :

دو ش دید م که یک مه تا بان
د ر بز م آ مد ست جلو ه کنا ن

ما خذ :

پښتو آ ریا نا دائر ۃ المعارف - ۳/۸۱۸ مخ

## ۱۵۱۲ـ بز می خر ا سا نی :

ملا شاه حسین بز مي د خر ا سا ن له شا عر ا نو څخه و ، او « بز مي » يې تخلص کا و ه ، په د ری ژ به کې يې ښه طبع د رلو دلـه .دا بیت دد ه دی :

خشک سال هجر را باو ر ا گر مید اشتم
تخم مهر دلبر ان درسینه کی میکاشتم

ما خذ و نه :

۱- مجالس النفائس -۱۶۲مخ
۲- لغتنامه ب - ۱۰۳۷مخ

ketabton.com - The Digital Library



## ۱۵۱۳- بزمی کندهاری :

مولانا بزمی ددری ژبی شاعر اصلاً د کندهار او دادای قلی خان له شاعرانو څخه و .

په طریقت کی یې شیخ نظام تاینېږی ته عقیده درلو دله .

په شعر کی یې دسلمان ساوجی دقصیدې په څېر یوه قصیده پیل کړې وه اودلاندی

بیتو نسبت ده ته سوی دی چې وایي:

گر افتادم ز پا در عشق آشوب جنونم هست
همان داغ جهان افروز واشک لاله گونم هست

ز سیدان شهادت زخم تیغی بر دهام بیرون
که داسان کفی تاحشر در گرداب خونم هست

دو چشم اندر رهش دارم بییک نقش قدم بزمی
که جذب شوق با صد دل بکویش رهنمونم هست

بزمی هند ته تللی و ، او هلته یې دطالب او کلیم سره مشاعرې کړې وې، اوچې بیرته راغی

داستر خانی دین محمدخان دفتر حاتو نظم کو لوته وگمارل سو ، او هغه ئې بشپړ کړه.

داغلو ریز ه هم دده ده:

دلا گر هوشیاری همچو بلبل مست افغان باش
نشاط غنچه گر خواهی اسیر خار مژگان باش

چو لاله در بهار حسن او در خون نشین بزمی
دور زخم داغی سیکش و باخاک یکسان باش

ماخذ :

---

پښتو آریانا دائرة المعارف م/۸ ۱ م مخ

ketabton.com - The Digital Library



## ۱۵۱۴- بسالمی غزنوی :

دسطان مسعودغزنوي دوختواسیراو نوسیالی‌ادیب‌و . عبدالغفارفاخر چی دغزنوی دربارله پخولیکوالوڅخه‌ؤ، دخپل‌ز لمیتو ب دو ختوپه حالاتو کی لیکلی چی :

« بدبیر ستان قرآن خو ندن رفتمی‌و خدمتی کردمی چنانکه کو دکان کنند ، و باز گشتمی- دتاچنان شد که ادیب‌خویش‌راکه‌اورابسالمی»گفتندی اسیرمسعود گفت: عبدالغفار را ازادب‌چیزی‌بباید‌آموخت،وی قصیده‌دوسه ازدیوان‌متنبی‌وقفانبک(۱) سرا بیاموخت و بدین سبب گستاخ تر شد م .... »

مأ خذ :

تاریخ بیهقی- باهتمام داکتـر غنی‌وداکترفیاض - ۱۲ ، مخ

## ۱۵۱۵- بسام سیستانی :

دسیستان له نوسیالیو امیرانو څخه و ، په تاریخ سیستان کی‌را غلـی‌چی :

« وا برا هیم بـن جبر یل را و لایت د ا د و بـر سیستا ن ( فضل بن یحیی ) و ابراهیم - بسام‌بن زیادرا اینجا (بسیستان) فرستاد و بسام‌اندرآمد روز دو شنبه‌سه‌رو زگذشته‌ازسفر سنه‌تسع و سبعین »

۱- تا ریخ سیستان - ۱۵۴ مخ

۲- لغات نامه - ب - ۱۲ مخ

---

(۱) سراد دامر القیس معلقه ده

ketabton.com - The Digital Library



## ۱۵۱۶ـ بسام کورد خارجی :

دیعقوب بن‌اللیث دّو ختو ادیب او د دری ژبی‌شاعر ، او له هغو خوارجو څخه و ، چې‌دیعقوب بن‌اللیث سره یې روغه کړې‌وه ، او دهغو په ستاینه کی یې ترسحمد بن‌وصیف وروسته شعرونه ویلی وو ،چی یو شعر یې دیعقوب د یری او دعمار خارجي دوژلو (۲۵۱هق)په‌یادونه کی‌داو :

هر که نبود او بدل متهم
بر اثر دعوت تو کرد نعم

عمر زعمار بدان شد بری
کاوی خلاف آورد تالاجرم

دید بلا بر تن و بر جان خویش
گشت بعالم تن او در الم

مکه حرم کرد عرب راخدای
عهد تراکرد حرم در عجم

هر که در آمد همه باقی شدند
باز فنا شد که بدید این حرم

مأخذ :

---

تاریخ سیستان - ۲۱۱ مخ

ketabton.com - The Digital Library



## ۱۵۱۷ـ بستان بړیځ:

شیخ بستان دمحمداکرم زوی په ختهٔ بړیځ دپښتو ژبې یو نومیالی عارف شاعرو، چې دپټې خزانې مؤلف محمدهوتک دده په باب‌داسې لیکي:

«زماپلار علیه الرحمه‌له قدماڅخه‌روایت کا: چې‌شیخ بستان په‌قوم بړیځ و، په‌ښوراوک یې کورو، دده‌پلار محمداکرم رحمته‌الله‌علیه‌هم دخدای‌ولی و، او دښوراوکه‌راغی، دهلمندپر غاړه په‌یوه کوډله کې‌او سېدی‌ءاو دخالق په‌عبادت بوخت و، نقل کا: شیخ بستان له‌پلاره ډېر فیض وموند، او په ځوانی ولاړ، هندوستان ته، او هلته به‌ښار په‌ښار گرځېدیء او آثار دقدرت به‌یې‌تماشا کول، او هغه‌وقت‌چې‌وطن‌ته‌راغیء په‌سنه(۹۹۸) هجري یې‌داولیاءالله‌په‌بیان کتاب د«بستان الاولیاء» وکښلاو زماپلار رحمة الله علیه دغه کتاب په‌ښوراوک کې‌دحسن خان بړیځ په‌کورکې لیدلی‌و، چې په‌دې کتاب کې‌شیخ بستان علیه‌الرحمه دډېرو پښتنو اولیأ حالونه او کرامتونه‌او خوارق دعادات کښلي‌وو، او ډېر ډېر اشعار یې‌هم رانقل کړي و، له‌نورو شاعرانو او خپلو شعروڅخه‌دغه‌شعر ما دخپل‌پلار له‌خولې واورېدی چې‌دشیخ بستان‌رحمته‌الله علیه‌دی:

شعر چې‌بدله‌یې‌بولي

او ښکې‌مې‌ځاځې‌پرگرېوان یووار نظر که‌پرما

راسه گذر که‌پرما

---

دمینې‌اوردې زمازړکې‌و زیت‌په‌انگار کې نا

ښې تاو نار کې‌ء نا

ketabton.com - The Digital Library



خو دبه‌و یلبیږم چی‌می‌زړه نامفتون کی‌ء نا
خا ن‌می‌زبو ن کی‌ء نا
او ښکی‌می‌خاځی پرگریوان یوو ارنظر که‌پرما
راسه گذر که پرما

* * *

وکه نظر زما پرحال چی پروت رنځوریمه تل
په‌و یر ناسور یمه‌تل
له‌زړه می‌خاځی و ینی سو ر په‌و ینو خپل یمه تل
په‌او رجلبل یمه‌تـل
او ښکی می‌خاځی‌پرگر یوان یوو ارنظر که پرما
راسه گذرکه‌پر ما

* * *

له دردده سوزه تل نارې او غلبلې و همه
کړ یې سورې و همه
یو آن‌می‌چیری نه‌آرام نه‌تپکاو نه و ینم
نه‌راحت کړ نه‌و ینم
او ښکی می‌خاځی‌پرگر یو ان یوو ارنظر که پرما
راسه گذرکه‌پرما

* * *

دخو یو زړو له‌حاله ته‌یې‌ای باداره آگاه
بی دبی‌و زلو همراه

ketabton.com - The Digital Library



دخپل عزت په روی «بستان» ته کړه دمهر بند ل
کړې له گناهه گواښل
او ښکی سی خاخی پر گر پو ان یو و ار نظر کـه پر ما
راسه گذ ر که پر ما

* * *

پوهاند عبدالحی حبیبی دپټی خزانی په پایخوړکی دمحزن «افغانی» دمؤلف نعمت الله هروی چې دشیخ بستان معاصر دی هغه لیکنه چې دشیخ بستان په باب یې کړې ده داسی رااخلی: «آن احسن عبادالله، وآن سوخته نار الله دردریای وحدت، وگوهر کان معرفت شیخ بستان بړیڅ، در ابتدا جوانـی ازروه بهندوستان آمد، در قصبه سمانه سکونت اختیار کرد، وخود را در لباس تجارت مخفی میداشت وباندک دست مایه بیع وشرا میکرد، وسود وجه حلال را در ضروریات خود صرف میکرد، صاحب درد بود، وچشمان شریفش هرگز از اشک خشک نبود، وهر ساعت آه دردناک بر آوردی، باوجود این همه درد وسوز پانزده سیپاره هر روز ختم کردی، واکثر اوقات اشعار پښتو را بصورت حزین دردناک که سنگ رابگیریه آرد میخواند، وآخرشب وضو تازه ساخته، بحق مشغول می بود، وبر پنج وقت نماز وضو تازه می ساخت، وکمترین محرر این تاریخ در سفر دریا که کرده رفته بود، درخدمت ایشان رفیق بود، شب وروز اکثر خوارق بنظر در آمد؛ شبی در دریای شور طوفان شروع شد، چنانچه خلایق کشتی نشین دست از جان شستند، و هرکس بدعا و تضرع وزاری بدرگاه حق مشغول شدند چون فقیر رابه خدمت ایشان رابطهٔ اخلاص

ketabton.com - The Digital Library



تمام بود، درآن حالت بخدمت ایشان عرض کردم، که وقت مدداست ، تبسم فرموده گفتند که خاطر جمعدار یه ، دغدغه نیست، بمجرد این سخن طوفان فرو نشست، و باد مرادو زیدن گرفت،و جهاز از آن مهلکه بر آمد. چو مراجعت نموده به احمد آباد گجرات رسیدند، روز بمن فرمودند که وقت من به آخر رسید، و بیماری اسهال عارض شد، بتجهیز و تکفین خواهی پرداخت ،بالرأس والعین قبول نمودیم ،بعده بتاریخ شهر ربیع الثانی، روز جمعه سنه هزار دو ، بعداز نماز ظهر بمحبوب اصلی و اصل شد » (۱)

مأخذونه :

---

۱- پته خزانه - له۳۶مخ څخه تر ۶۷مخ پوری .

۲- مخزن افغان - ۲۰۵مخ .

## ۱۵۱۸- بستان خان پوپلزی :

د احمدشاه بابا په پاچهی مستوفی الممالک و ،چی په ځینو غزا گانو کی یې داحمدشاه بابا سره گډون هم درلود، او لوسری ځل چی احمدشاه بابا د پنجاب خواته تراټک پوری یووت احمدشاه بابا دلښکر قراولی هم ورسپارلې وه ، خو په( ۱۱۶۵ هق) کال چی احمدشاه بابا په پیښور کی و،اوله هغه ځایه یې غوښته چی د ترکستان خواته ولاړسی خبرورته راورسیدچی په کندهار کی داحمدشاه بابا وراره لقمان دځینو مفسدانو په پارونه شهزاده تیمورشاه ته پاخیدلی اوهغه د آل اوعیال سره بندی کړی اوخزانی یې چور کړی دی-اود برخوردارخان ورور روشندل خان یې وژلی دی ،احمدشاه بابا شاه پسندخان میراخورباشی دیوه فوج سره هغې خواته وګماره،مگر په دی وخت کی معلومه سوه چی بستان خان پوپلزی مستوفی الممالک هم په پټه دخپل ورور مقرب خان په واسطه

ketabton.com - The Digital Library



دلقمان خان لاردلودله اوورته لیکل یی چی خان تینگ کړی، ځکه نواحمدشاه با باهغه بندی کی او خه وخت و روسته یی وو اژه ( د دې کتاب په دریم ټوک کی دی د«احمدشاه بابانا»سه ته رجوع وسی)

ماخـذ :

تاریخ احمدشاهی ـ دمسکوچاپ ـ ۱/۹۶، ۳۳۸، ۵۰۲م مخونه

**۱۵۱۹ـ بستی :**

ابومحمداسحاق دابراهیم زوی، داسماعیل نمسی دبست قاضی اودحدیثو لوی عالم و ، حدیثونه یی له هشام بن عمار ، او هشام بن خالد ازرق، اوقتیبه بن سعید څخه اوریدلی وو، چی بیا له ده څخه ابوجعفر محمد بن حیان او ابوحاتم احمد بن عبدالله بن سهل بن هشام بستی روایت کړی او په (۳۰۷ هق) کال کی مړدی.

مأخذ:

دد هخدالغتنامه ـ ب ـ ۳۷ مخ

**۱۵۲۰ـ بستی :**

شمس الدین حاجی بچه دبست له خلکو او دعراق له افاضلو څخه و، په دری شعر کی یی لطیفه طبع یی درلودله ؛ په نثراونظم کی ماهر و ، اوتدریس په وخت کی به یې هغه څه چی په نثرویل په نظم کی یې هم راوړل .دا بیتونه دده دی :

گو یندز زرترا بود خرسندی       خرسند شوی چون دل از و بر کندی
از کندهٔ کان و بیوفای دهرست       بر کنده بی وفا چرا دل بندی

گر هیچ بسیب زنخش با ز رسی       باری بپرس که نرخ شفتا لوچیست؟

ماخذونه:

۱ـ لباب الالباب ـ ۱/۳۸۷مخ       ۲ـ لغتنامه ـ ب ـ ۳۷ـ

ketabton.com - The Digital Library



**۱۵۲۱ـ بسطامی بلخی :**

ابو شجاع عمر بسطامی دمحمد زوی او دعبدالله نمسی دبلخ له ادیبانو ، شاعرانو او دحدیثو له حافظانو څخه و.د(۵۷۰هق) کال په شاوخوا کی یی ژوند کاوه، دده له تالیفاتو څخه دا دوه کتابونه مشهور دی :

۱ـ لقاطات العقول ۲ـ من الفا العزلته

مأخذونه :

۱ـ الاعلام ـ دزرکلی ـ ۵/۲۲۳مخ ۲ـ مرآة الزمان ـ۸/۳۳۰ـ مخ .

**۱۵۲۲ـ بسکی :**

مسعود دعبدالله زوی د آدم خان او درخانی په مشهوره کیسه دبسکی له خولی پراولسی و زن څینی ناری راوړی دی او «بسکی» یی دآدم خان دعمه لور بللی ده ، چی ژوند یی دلسمی هجری په شاوخوا کی اټکل سوی دی .

مأخذ :

فرهنگ زبان وادبیات پښتو ـ۷٦ـ مخ

**۱۵۲۳ـ بسمچی هروی :**

مولانا بسمچی دهرات ددری ژبی شاعر او دامیر علیشیرنوایی معاصرو ، لومړی کسب یی بسمه کاری وه ؛ خو وروسته په رسالی بوخت سو ، دیر اشعار یی ویلی او داسطلع دده دی :

سدام خانه چشمم ز آب دیده خرابست خراب چون نشود خانه که برسر آبست

مأخزونه :

۱ـ مجالس النفاس ـ۱٦٦ـ مخ. ۲ـ لغتنامه ـ ب ـ ٦۷/ مخ

ketabton.com - The Digital Library



## ۱۵۲۴ـ بسمل بدخشي :

میر محمد یوسف خان بسمل د میر امام زوی د دری ژبی شاعر او د بدخشان له سخوروخخه و د هند د حیدرآباد د ناظم مبارزخان سره په ښه عزت او سید او هغه وخت چی مبارزخان د نواب آصف جاه سره مخالف او په جگړه اخته سو نو بسمل د ( ۱۱۳۷ ه ق ) کال د محرم په د رو یشمته په هغه جگړه کی ووژل سو دا بیتونه دده دي

دل به تیغش هوسی داشت نمی دانستم
آه « بسمل » نفسی داشت نمی دانستم

---

ازگردش نگاهی شدنیم کشته « بسمل »
گردسر تو گردم یک غمزه بار دیگر

---

دل رو شن نمی خواهد زکس امداد سامانی
نهان دارم بخاک خود چو آخگر لعل تابانی

---

حیرت زده چون صورت دیوار نشستیم
با یار نشستیم و چه بیکار نشستیم
ما قیمت اسلام خود از کفر فزودیم
در دانه تسبیح چو زنار نشستیم

---

زاهد تو صبح و شام عبث شور میکنی
الله اکبر ست ز الله اکبرت

---

ketabton.com - The Digital Library



شوخي نخچیر بر هم میز ندیکـه امرا

تا نبود ابتر دل من 'زلف او ابتر نشد

مأخذونه :

۱-تذکرهٔ بی نظیر. ۵ مخ　　۲-صبح گلشن -

۳-لغتنامه - ب- ۶۶　　۴-قاموس الاعلام ترکی -۲/ -

## ۱۵۲۵-بسمل جلال آبادی (۱) :

علاالدین د حافظ عصمة الله جلال آبادی زوی ددري ژبی شا عرو په دهلی کی اوسید په نظم نثر عروض او قوافی یی ښه استعداد در لود دبهو پال په ریاست کی څو ارلس کاله ملازم او د بهوپال د رئیس د مېره سلطان الدوله میان احمدعلی خان په تعلیم اخته و 'دبا تألیف او نورو چارو ته وگمارل سو دشعر ویلو مشوره یی د حافظ خان محمد مشهور په افتخارالشعراء سره کوله 'او د دیرلسمی هجری پیړی په پای (۱۲۹۷ ه) کی ژوندی و.

دااشعار دده دی :

بوسه ازلب بخش و درمان کن مرا

زنده جاوید جانان کن مرا

چند بر رو بر قع زلف سیاه

ساعتی بر گیر و حیران کن مرا

---

۱)دهلی ته نژدی هم دیو ځای نوم جلال آباد دی خو ښکه چی عبدالحکیم رستاقی په سکینه الفضلاد بهار ( افغانی ) دا نوسیالی په افغانی رجالو کی راوړی نود لته هم راوړه سو

ketabton.com - The Digital Library



بگسل ای «بسمل» زماو من بیا
رستگا ر ا ز بند ز ندا ن کن مرا

بو دگنگ وچمن جوی زبحرچشم زار ما
چه طو فانی بپادار ددوعین اشکبار ما
برای عالم جان راست میگویم که ایمانست
جمال عالم آرا ی بت زیبا نگا ر ما
ملاحت می تراود «بسمل» ازسوزبیان تو
که شورصد نمکدان زدبزخم دلفگار ما

اگر بهشت بر ینم به غیرجلوه تست
حرام بادبه من که خودست ز ندا نم
زترک چشم تو«بسمل»غرامتی دار م
که بر دبا نگهی نقددین و ا یما نم

منم نشانهٔ تیری بلا ی دورا نی
منم مجسم اندوه و یا س و حیرا نی

مأخزو نه :

۱-روزروشن -۹۷مخ ۲-سکینته الفضلا- ۵۷ مخ

ketabton.com - The Digital Library



## ۱۵۲۶ـ بسملی سبزواری :

د دري ژبې شاعر و، څنګه چې يې په قزوين کې د کله پزۍ دکان درلود، نو ځکه خينو تذکره ليکونکو سهواً قزويني هم ليکلی دی .

تراويا کالو ژوندوروسته په (۹۵۵ هق) کال کې مړاودابيت دده دی :

دلا درعشقبازی همدم غم ساختی ما را    بی نظارهٔ رسوای عالم ساختی ما را

ماخذ :

---

پښتوآريانا دائرةالمعارف ۳/ ۳۲۳مخ

## ۱۵۲۷ـ بشار بستی :

دبست دسيمې يو نوميالی شعرو، چې د تاريخ سيستان د مولف په قول يې په سيستان کې داحمد بن ابراهيم القوسی سره ډېرې جګړې کړې وې، هغه يې مات کړی و .

مأخذونه :

---

۱ـ تاريخ سيستان ۱۹۲مخ ۲ـ لغتنامه ـ ب ـ ۸۷/

## ۱۵۲۸ـ بشار تخاری (۱) :

ابو معاذ د برد زوی او دبرجوخ تخاري لمسی دامو ی او عباسي ددو رې له سترو شاعرانو، نوميالیو خطيبانو او لو يو ليکو نکو څخه و، چې پلار يې په تخارستان کې دعربی مهلب بن ابی صفره په لاس کښېوو ت اود(۷۹هـ ق)او (۸۲هق) کلو تر منځ دبنديانو په ډله کې بصری ته بو تله سو، او هلته دعقليې په ولاء کې اوسېد ـ خوچې په (۹۵ هـ ق - ۷۱۳م)

---

(۱)دادژوند پېښه دپوهاند حبيبي لهليکنی ترجمه سوې ده

ketabton.com - The Digital Library



کـال بـشار په بصره کي وزيږيد ، خو له بد. مرغه چې
دزيږيدو له وخته په ستر گـوړ وو ، په بصره کي يې وده وموندله او بيا له هغه
ځايه بغدادته ولاړ، او هلته په حيران کي د سليمان بن هشام بن عبد الملك
حضور ته يې لاروموندله ، د ځينو اموی اميرانو ستاينه يې وکړه بشار
تخارستاني د خپلو نيکه گانو دين (مجوسيت) ستايه،او ريې مقدس باله او سپيڅلی او
خالص شعوبی و ، چې په خپلو عربی اشعاروکي يې په خپل خراسانی او آريايی اصل او
نسب ویاړل او په دې يې افتخار کاوه چې د تخارستان له شهزادگانو څخه و
په زلميتوب کي دا عتزال د مذهب د موسس «و اصل بن عطا» سره يو ځای
سو ، او هغه وخت چې د عبدالله زوی ابراهيم په بصره کي عباسيانو ته پاڅيد،
نو بشار په خپله يوه سيمیه قصيده کي د هغه ستاينه وکړه ، خو هغه وخت چې
ابراهيم ماته وکړه نو بشار د خپلې قصيدې عنوان د منصور په نامه وگرځاوه
او د منصور ستاينه يې پکښې وويله :

بشار تخاری يو زړور رنداو هجو و يونکی شاعر و ، چې نور شاعران يې
غندل او له دې امله يې ډېر مخالفان درلودل ، خو څنگه چې يې دالمهدی
خليفه ستاينه وکړه ، نو هغه ته ورنژدې سو

د. په خپلو اشعاروکي په ښځو او د پېغلو په ستاينه تشبيب کاوه ، او دده د
غزل او تشبيب سحر په ښځو کي فتنې پارولې،ځکه نو المهدی دی د ښځو سره
له مغازلې څخه منع کیء، او له دې سببه ابن رشيق دی د محدثينو د طبقې امرؤ
القيس بللی دی؟ او وايي چې د ښځو په ستاينه او تشبيب کي دده ښکلو او خوږو
شعرونه په ټول عراق کي دوسره شهرت وموند چې د بصرې د ټولو پېغلو

ketabton.com - The Digital Library



سندرغاړو او ښکلیو په سندرو کې بوللې، او ښځې به یې کورته ورتللې او شعرونه به یې ځینې اخیستل، او دغه وخت زاهد «مالک بن دینار» به ویل: «د بصرې د خلکو دپاره د فسق خواته ددې ړانده شاعر تر شعر بل هیڅ شی ور کښونکی نسته» او واصل بن عطا به ویل: «ددې ملحد ړانده خبرې د شیطان له خبرو زیاتو غولوونکو او اغوا کوونکو تېزوېرو څخه دي »

بشار د شعر په فنونو کې تصرف کاوه، او د اشعارو دپاره یې داسې نوي قالبونه جوړول چې تر هغه د مخه جوړ شوي نه وو، او له نورو څخه یې هیڅ نه اخیستل او د هغې خاصې قوې په سرسته چې د لیدلو د حاسې د نشتوالي له امله ده د اورېدلو او بویولو پر قوو زیاته شوې وه د شعري مطالبو په تصویر یې خوله پورې کول، او د «جاحظ» په قول دی راجز شاعر، او وینا وال سجاع او د منثورو او مزدوجو خبرو او معروفو رسالو خاوند و.

خو بشار په عقایدو کې فتور درلود، او د اور په نمانځلو کې یې چې د ده د نیکه ګانو دین و، غلو کوله، لکه چې ویل به یې:

الارض مظلمة و النار مشرقة و النار معبودة مذ كانت النار (۱) او حتی په ځینو اشعارو کې یې شیطان چې له اوره پیدا شوی پر انسان چې له خاوره دی ښه بللی دی لکه چې وایي:

ابلیس خیر من ابیکم آدم — و تنبهوا یا معشر الفجار
ابلیس من نار و آدم طینة — و الارض لا یسمو سمو النار (۲)

---

(۱)(۲) دا بیتونه د استاد حبیبي په لیکنه کې نه وو، ما د «تاریخ ادبیات در ایران» له کتاب څخه راواخیستل ـ (ب)

ketabton.com - The Digital Library



شاعر چې هغه ددا الحاد او زندقه عقایدو او دده دادبی جرئت او په هجوکی دتیزی ژبی او دشخو سره دمغازلی په اثرو ،چې خلیفه المهدی دی او یا(۷۰) درې وواهه او په (۱۶۷هق =۷۸۳م ) کال دخلیفه دجلادانو ترو هلو لاندی مړ، او په بصره کی ښخ کړه سو.

داددهداشعارو څو نمـو نې دی :

و غادة سـوداء بـراقـة

کالماء فی طیب و فی لین

کأنها صیغت لمن نالها

من عنبر بالمسک معجـو ن

یعنی: «هغه تو ره پیغله چې ځلیږی، په ښه و الیاو نرمی کی داوبو په څېرده گواکی سینانو ته بې داله عنبرو څخه معجون پـه مشکو جوړه کړې ده »

په لاندی شعر کی یې خپل ړوندوالی په عشق او دوستی کی په او ریدلو او سماع جبیره کړیدی چې له نو یو معاینو څخه ګټل سوی دی :

| | |
|---|---|
| یاقوم اذنی لبعض الحی عاشقة | و الاذن تعشق قبل العین احیانا |
| قالوا بمن لاتری تهذی فقلت لهم | الاذن کالعین توفی القلب ما کانا |

یعنی : ای خلکو ! زما غوږ دقبیلې پرچا مـین د ی او کله غوږ تر سترگو د مخه مین کیږ ی ـو یې و یل : و لی چې یا ت و ا یې ؟ و می و یل: غوږ لکه سترگی، زړه هغه ته چې غواړی یې رسوی » .

هغه وخت چې المهدی، بشارد ښځو سره له مغازلې څخه منع کی دنوده د خپل حال سره سم د ا سی و و یل :

| | |
|---|---|
| قدعشت بین الریحان و الراح | و المزهر فی ظل مجلس حسن |
| و قد مـلاءت البلاد ما بین | فغفو ر الی القیرو ان فالیمن |

ketabton.com - The Digital Library



شعراً تصلي لـه العواتـق — و الثيب، صلاة الغواة للمو ثن
ثم نهاني المهـدی فانصرفت — نفسي ضيع الموفـق اللقن
فـالحـمدلله لا شريـك لـه — ليس بباق شيء على الزمن

یعنی: ما دښکلا دمجلس پهسیوری او د خوښی او خوشالی او دعو ددسرود په سنخ کیژوندو کیء، او زما شعر دچین او قیروان او یمن پهټولو هیواد و کی خپور سوی دی، او پیغلی یيدبت پرستانو پهخیر چيبت نمانځی، ستایی۔ خو ځنگه چيالمهدی زه ځینی منع کړم، ما هم دزیرکو او چالاکو نر انو غوندی خپل نفس بند کی له شریکه خدای ته دی شکروی چی هیڅ شیء پهزمانه کیتلنهپاتیږی»

تردي ځایه دپوهاند حبیبی دلیکنی ترجمه وهچی دده له کتاب «افغانستان بعداز اسلام» پهپښتو راوړلي سويدهـ سربیره پرهغه «زرکلی» پهخپل «الاعلام» کیلیکلیچی: بشار په۱۶۸ ه کال پهسیاط کیمړ او پهبصره کیښخ دی دخبرو او شعرو یلو پهوخت کیدده داخوی و، چيلو سړی بهیی مخ ښیخوا او بیاگیڼی خواته گرځاوه، او یو و رغوی بهیي پربل و رغویواهه او بیابه یي پهشعرو یلو او یاپه خبرو پیل کاوه.

دده په ځینو لیکوالو کتابونه هم لیکلی دی لکه ابراهیم عبدالقادر المازنی چی د«بشار بنبرد» پهنامه یي یو کتاب لیکلی او چاپ سوی دی ـ همدارنگه احمدحسینمنصور، حسنین القرنی، محمدالطنطاوی، حنانمر او عمرفروخ دده د ژوند پهباب کتابونه لیکلی دي؛ او هم دده ځینی اشعار ددیوان په شکل چاپ سوی دی او جاحظ دده په باب داسی لیکلی دی:

ketabton.com - The Digital Library



«کان شاعراً رجزاً، سجاعاً، خطیباً، صاحب منثور و مزدوج، و له رسائل معروفة»

ابن ندیم لیکي چي: «دده اشعار یو ځای راغونډ سوی نه دي، خو سانز دي ز ر پاڼې دده اشعار لیدلې دي »

ابن خلکان وایي چي: «هغو کسانو چي دده داشعار و منتخبات راغونډ کړي دي، دی یې هم په تفصیل سره معرفي کړی دی او وایي چي د «اغاني» خاوند دده شپاړس پښته یاد کړي چي دټولو نمونه فـارسي دی» د بشار تخارستانـــی لـــــه اشعار و څـخه ګند پـري. چـــي تر هـــر څه پر ده باندی سلبي احساسات غالب وو، او څنګه چي عرب وو دده پر هیواد خراسان باندی تیری کړی وو، او دده اولس یې تر پښو لاندی کړی و، نو بشار که څه هم په عربو کی لوی سوی و، بیا هم د عربو د تسلط او تفوق سخت مخالف و، او په خپلو اشعارو کی یې د عربو سختي غندنې کړی دی او په دې باب کـــی یې او بده شعرونه و یلي دي چي څو بیته یې دا دي:

ساخبر فاخر الاعراب عني
وعنه حين تاذن بالفخار

احين كسيت بعد العرى خزاً
و نادمت الكرام على العقار؟

تفاخر يا ابن راعية و راع
بني الاحرار حسبكا ن خسار

و كنت اذا ظلمت الى قراح
شركت الكلب في ولغ الاطار

ketabton.com - The Digital Library



یعنی:«فخر کوونکو عربانو ته بهٔ دخپل ځان د افتخار دخرگندو لو په وخت وو ایم چی: تربرېنډ تیاو روسته دیخزاغو ستی دیـاو یادغتانو سره په شرابو کی هم کاسه‌وی یې؟اې دچو پان زو یه چو پانه ! که دآزادگانو د زامنو سره مفاخره کوې ،نو همدانیمگړ تیادی بس دهچی‌ته‌تږی سې‌دسږی‌سره‌په یوه‌گردی لوښی کی اوبه‌چښې (۱)

مأخذونه :

۱-افغانستان‌بعداز‌اسلام- لوسړی‌تو‌کـ-۶۱۸مخ‌داستا دپوهاند حبیبی -چی‌دی لاندی کتابوته حواله‌ورکړې ده:

الف -الاغانی-۳/۵۶ مخ

ب : البیان والتبیین -۱/۹۳مخ

ج : د بشار دیوان - ۷۳،۸۱مخ

د : ضحی الاسلام -۱/۱۸۴مخ

ه : عصر المأمون -۱/۱۸۷مخ

و : قراضة الزهب -۱۶//

ز : مراجعات فی‌الادب والفنون - ۱۳۳ مخ

۲-ابن‌خلکان -۱/۸۸مخ

---

(۱)دااشعارپه «الاغانی» راغلی،چی‌پاته برخه‌یی« تاریخ ادبیات‌درایـران » دلومړی ټوکـ په ۳۲ مخ کی ستته.

ketabton.com - The Digital Library



۳ - ابن ندیم - ۲۷۷ مخ          ۴ - عیون الاخبار - ۱/۲، ۳ مخ
۵ - الاعلام - دزرکلی - ۲/۲۵ مخ          ٦ - وفیات الاعیان - ۱/۸۸ مخ
۷ - تاریخ بغداد - ۷/۱۱۲ مخ          ۸ - تاریخ ادبیات در ایران - ۱/۴۲ مخ
۹ - چراغ انجمن - ۲۱//

## ۱۵۲۹ـ بشارت سنځر خیل :

د انګریزي استعمار په وخت کی د سهیلی پښتونخوا د سنځرخېلو د ټبر ریو باتور مجاهد و، چی د پرنګیانو د تېری په مقابل کی پاڅېدلی و، او د پرنګسره یې ډېری و هلی وې بشارت د پښتنی احساساتو خښتن و، او تل یې په دی احساس د اغیارو سره جنګونه کړی دی، خو چی په پای کی د (۱۸۸۴م) په نومبر کی تر ډېر مقاومت وروسته پرنګیانو د هندو باغ په سیمه کی ونیو، او هغه کلابې ورتالا کړه چی د ده په نامه یې شهرت درلود د کاکړو د غه نومیالی مجاهد نه یوازی دا چی د جګړی په ډګر کی یې مهارت درلود بلکه په خپله اولسی ټولنه کی هم یو ډېر ژبور او د پښتنی وراشی خاوند و. د ژوب د کاکړ - و زیاتره شخړی او پېچلی لانجی به ده خلاصولی .

دی د ژوب د هندو باغ په سیمه کی په « کبره » ، نومی کلی کی اوسېد، چی تر اوسه پوری یی د کلانخښې پاته دی .

د ده نوم د هغه ځای په پښتنی غاړو کی یاد سوی دی او د ژوب ګزېټیر په لومړی ټوک کی د ده یادونه سوې ده .

مأخذ :

---

پښتانه و پښتانه - د سیال کاکړ - ۱/۲۰۷ مخ

ketabton.com - The Digital Library



## ۱۵۳۰ـ بشار مرغزی (۱) :

ددری ژبې له پخوانيو شاعرانو څخه و .

د مجمع الفصحا مؤلف ليکې په پارسي او عربي ېې شعر وايه او بيا په بصره کې بندي سو ؛ خو ډاکتر ذبيح الله صفا په خپل «تاريخ ادبيات در ايران» کې ليکي چې دده په گمان د مجمع الفصحا مؤلف د بشار مرغزي او د بشار بن برد تخارستانى ترمنځ اشتباه کړی ده چې په بصره کې بندي سو ی او په ( ۱۶۷ هـ ق ) کال کې مړدی .

دا قصيده د بشار مر غزی ده :

ازرا خدای از قبل شادی آ فريد شادی و خرمی همه از رز بود پديد

از جوهر لطافت محض آفريد رز آنکو جهان وخلق جهان را بيافريد

از رز بود طعام وهم از رز بوه شراب ازرز بود تنقل وهم از رز بود نبيد

شادی فروخت خرمی آنکس که از رز فروخت شادی خريد و خرمی آنکس که از رز خريد

---

(۱) مرغز : د يوځای نوم دی چې په دری سيمو کې شهرت لری :

الف د غور او هرات په شاو خوا کې يو ځای دی چې حکيم سنايي داسې يادوی :

ابلهی مرغزی بشهر هری سوی بازار برد لاشه خری

او هم ناصر خسرو ويلی دی :

همچنين د ايم نخوا هد ماند برگشت زما ن

سوی جعد ششتری وروی خوبت مرغزی

(فرهنگ آنند راج ـ ۶/۶ م ۳۹ مخ)

ب ـ په غزنی کې هم يو مرغز سته

ج : په پښتونخوا کې هم سته چې د پښتو شاعر حافظ مرغزی ورته منسوب دی

ketabton.com - The Digital Library



انگو روتا ک اونگر و و صف اوشنو | و صف تمام گفت زمن بایدت شنید
آن خوشه بین فتاده بر اوبرگهای سبز | هم دیدنش خجسته وهم خوردنش لذیز
دیدم سیاهروی عروسان سبزپوش | کز غم دلم بدیدن ایشان بیارمید
گفتی که شاه زنگ یکی سبز چادری | برد ختران خویش بعمد ابگستریه
آگه نبودم ایچ که دهقان سرازدور | باآن بزرگوار عروسان همی بدید
آن گردن لطیف عروسان همی گرفت | پیوندشان به تیغ برنده همی برید
زیر لگد بجمله همی کشتشان بزور | چونان که پوست برتن ایشان همی درید
اندر میان سنگ نهان کرد خونشان | دهقان لب زخشم به دندان همی گزید
تا پنج ماه یاد نکرد ایچگونه زو | ازروی زیرکی وخرد همچنین سزید
چون نوبهار باغ بیاراست چون بهشت | ازسوسن سپید وگل سرخ و شنبلید
اندر میان سبزه بدشت و بکوهسار | مشکین بنفشه وسمن ولاله بردمید
برزد شعاع زهره وبوی گلاب ازاو | ازبوی اوگل طرب ولهو بشکفید
دانا کلید قفل غمش نام کرد ازآنک روز | جزمی ندید قفل غم ورنج راکلید
زین است مهرمن بمی سرخ برکزو | شد خرمی پدید ورخ غم بپژمرید

مأخذونه:

---

۱- تاریخ ادبیات درایران- ۱/۱۵۳ مخ

۲- مجمع الفصحا- ۱/۱۰۷ مخ

ketabton.com - The Digital Library



## ۱۵۳۱ ـ بشاری پوشنگی :

احمد د محمد زوی ، د اسماعیل نمسی او د ابراهیم کړوسی مکتی
په ابوبکردفقه توسیالی عالم و، اوفقه یې له ابوبکر چاچی شافعی څخه لوستلی وه .
د ( ۵۴۳ ه ق )کال روژې په اوولسمه په نیشاپور کې مړ د ی .
مأخذونه :

۱- لباب الالباب -۱/۱۲۵مخ ۲- دده خدالغتنامه -ب-۰۹ مخ

## ۱۵۳۲ ـ بشیر بلخی :

دزیادبلخی زوی دخپل وخت دحدیثو عالم و چی له بلخه بغداد ته تللی ، اوهلته یې
حدیثونه دسعید له زوی عبدالله څخه لوستی وو ، اوبیاله ده څخه دایوب زوی
یحیی عابد دحدیثو روایت کړی دی .
مأخذ :

تاریخ بغداد - ۱۳۱/۷ مخ

## ۱۵۳۳ ـ بصیر سیستانی :

قاضی بصیرد مشهور شاعر قاضی لاغرسیستانی ورور او ددره ژبی شاعر و .
دهخدالیکلی چی : « بصیرخبیر است بلطایف ونکات سخن سنجی وخوش بیانی »
داځلوریزه دده ده

خورشیدوش من که فدایش گردم پیوسته چوزره درهو ایش گردم
پااز سر من دریغ میدارد و من دارم سر آنکه خاک پایش گردم

مأخذونه :

۱- صبح گلشن -۶۶، ۶۷ مخونه ۲- لغتنامه -ب-۱۳۰ مخ

ketabton.com - The Digital Library



## ١٥٣٤ـ بصیر مکرم :

د پښتو ژبې حماسي شاعر او د آزادو قبایلو په سیمو کې اوسېده، د (١٩٠٩ م) کال د ملي مبارزو پېښې یې په نظم کړې او مېړانه یې شعرونه ویل، دا بیت د ده دی :

صفت د سو منانو
شاو کړ پساسعانو
مولادی مکرم بصیر تېر کې له صراطه ملا وتړی تېراته

مأخذ :

---

فرهنګ زبان و ادبیات پښتو ـ ٧٧ مخ

## ١٥٣٥ـ بغراجق :

بغراجق ـ یا ـ بغرجوک د سلطان محمود غزنوي اکا و، چې د هغه سلطان له خوا د هرات و پوشنګ حکومت و ریاست ورته سپارلی سوی و، او په هغه جګړه کې چې د ده او د خلف د زوی طاهر تر منځ وسوه، د طاهر په لاس ووژل سو، او د ده سر یې قهستان ته یووړ

مأخذونه :

---

١ـ د دهخدا لغتنامه ـ ب ـ ١٧٢ مخ

٢ ـ تاریخ سیستان

## ١٥٣٦ـ بغوی (١) :

ابو القاسم عبدالله د محمد زوی او د عبدالعزیز لمسی په عراق کې له نومیالیو محدثانو ـ

---

(١) بغوی ـ د بغشور هغه ښار ته منسوب دی چې د هرات او سرخس تر منځ پروت ـ او د خراسان یو و دان ښار ؤ.

ketabton.com - The Digital Library



شخه و ، او له احمد بن حنبل او ابن المدینی او د مسلم او بخاری له مشایخو شخه یې روایتونه کړی دی .

د المسند کتاب، او د معجم صغیر کتاب، او د معجم کبیر کتاب ، او د السنن کتاب دده له تألیفاتو شخه دی او په (۳۱۷ هـ) کال په یوسل او دریو کلنۍ کې مړ دی

مأخذ :

---

لغتنامه ـ ب ـ ۱۷۷ مخ

## ۱۵۳۷ ـ بغوی :

ابو محمد حسین فراء د مسعود زوی او د محمد بغوی نمسی شافعی لوی عالم و ، په فقه، تفسیر حدیثو ، رجالو او ادبیاتو کې یې لوی لاس درلود، او د خراسان د «بغ» یا «بغشور» په هغه ښار کې زیږېدلی دی چې د هرات او سرخس او مرو تر منځ پروت دی په «فراء» او «محی الدین» او «محی السنته» هم ملقب و .

دا تألیفونه دده دی:

۱ ـ تفسیر القرآن

۲ ـ التهذیب ـ په شافعی فقه کې

۳ ـ الجمع بین الصحیحین

۴ ـ شرح السنه

۵ ـ معالم التنزیل ـ په تفسیر کې، او ظاهرا د کتاب د «تفسیر القرآن» شخه بېل کتاب دی

۶ ـ مصابیح السنته ـ په حدیثو کې ـ دا کتاب د ابن ابو یه صدوق د «من لایحضره الفقیه» کتاب ته ورته دی، چې د اخبار اسنادیې حذف کړی، او خبر

ketabton.com - The Digital Library



اصل را وی ته منسو بوی .

نو موړی تفسیر مټو سطدی اودصحابه تر هغوورووستوتابیعانوله تفسیر وځخه یې رانقل کړی ، او تاج الدین ابو نصر عبدالو هاب بن محمدحسینی (چې په ۸۷۵ هـ ق کې مړ دی) هغه تلخیص کړی دی .

دابغوی دغز الی معاصر و،او په( ۵۱۰- یا-۵۱۱-یا -۵۱۶هـ ق)کال په مرو رود کې مړدی.

مأ خذ :

---

د دهخدا لغتنامه -ب-۱۷۷ مخ

## ۱۵۳۸ - بقای بدخشی :

په خته سیداودری ژ بی شاعرو ، خوځنګه چې د بر وخت په تبریز کې اوسېدلی و،نوځینو دی مړوا تبریزی بللی دی.داځو بیته یې د تبریزد زلزلې په باب کې ویلی دی،

| | |
|---|---|
| چه پیش آمد زمین و آسمان را | که بدمی بینم او ضاع جهان را |
| حوادث باهم از هر گو شه جستند | طلسم خاک را در هم شکستند |
| سو اد دلنشین ملک تبر یــز | شد از فرط تز لز ل و حشت انگیز |
| زوحشت لر زه باسردم در آو یخت | که ر نگ سرمه ازچشم بتان ر یخت |
| بتان از لر زه نو عی ایستادند | که از طاق دل عاشق فتادنــد |

تر پا یه .......

مأ خذ :

---

پښتو آریانا دائرة المعارف-۳/ ۳۰۰ مخ

ketabton.com - The Digital Library



## ۱۵۳۹ ـ بقایی :

معروف په مولانابقایی کمانگر ددری ژبی شاعروپه هرات کی او سیداودا بیتونه دده دي :

لب بدندان چه گزی از پی خاموشی من ... ناله ام را چوسبب آن لب و دندان شده است

تا بزلف تو سرد ر آورد م ... سر بسد یوانگی بر آورد م

مأخذونه:

---

۱ ـ لغتنامه ـ ب ـ ۱۸۴ بخ

۲ ـ مجالس النفائس

۳ ـ صبح گلشن ـ

## ۱۵۴۰ ـ بقایی هروی :

په هرات کی ددری ژبی شاعر، او دامیرعلی شیرنوایی مصاحب و ، په شعر کی یی ظرافت هم لید ه کیده لکه چی یو وخت یی دخپلی ساندینی په باب دار باعی و یلی وه :

یاران ستم پیر زنی کشت مرا ... کا و اک شده چونی ازو پشت مرا

گر پشت به سوی اودم خواب کنم ... بیدار کند بضرب انگشت مرا

و ایی چی دده ساند ینه هم ظریفه شاعره وه او دپورتنی رباعی په جواب کی یی دا رباعی وویله:

همخوابکی سست رگی کشت مرا ... روزی نبودا زو بجز پشت مرا

قوت نچنانکه پاتواند بر داشت ... بهتر بود از پست دوصد مشت مرا

دده اصلی نوم میرزا ابوا لبقاو ، چی په شعر کی یی « بقایی » تخلص

ketabton.com - The Digital Library



کاوه ، او په (۹۵۳ ه) کال په هرات کې شهید سوی دی چې د شهادت نیټه یې له دې جملې څخه راوزي :

« شمع مجمع العلما سرده » دا بیتونه په « ریاض الشعرا » کې دده په نامه راوړه سوي دي :

نمی آیی بیا بگذر زفکر جستجوي من
که روی من در آئینه نمی ماند برروی من

مگر خاصیت اشک است سیلاب بهارم را
که می روید نهال سرخ بید ا زطرف جوي من

در ین معنی که دل چشمست شک نیست
سویدا ی دل است این مردمک نیست

کاشانه ما روشنی شمع چه داند
در خانه اگر بود چرغ دل ما بود

مأخزونه :

---

۱- مشاهیر لنسوان -۳۱ مخ ۲ - پښتنې میرمنې ۱۸ مخ
۳- پښتوآریانادائره المعارف -۴/۰۴۳مخ

## ۱۵۴۱ ـ بکتاش بلخی :

د حارث بن کعب قزداری مریی و ،چې د کعب نومیالی لور «رابعهٔ بلخي» د دری ژبې مشهوره شاعره او عارفې ورسره مینه پیدا سوې وه ـ او حارث د رابعې ورور چې د بلخ والي و څخه خورد هغې مینې پرجرم ووژله ،چې بیا همدې بکتاش د رابعې په قصاص

حارث واژه، او تر هغه وروسته یې پخپله هم د رابعې پر قبر ځان په خنجر ووهه او مړ
سو. دا حکایت په مجمل ډول د شیخ عطار په «الهی نامه» کې په نظم راوړه سوی، او د
«انجمن آرا» خاوند هدایت هم دا قصه مفصله په نظم کړې او نوم یې ور باندې
«بکتاش نامه» او «گلستان ارم» ایښی دی.

مأخذونه

۱- دده‌خدا لغتنامه -ب- ۱۹۸ مخ ۲- پښتنې میرمنې -

## ۱۵۴۲ - بکتغدی غزنوی:

دسلطان محمود غزنوي د دربار له نومیالیو حاجبانو او سالارانو څخه و، چې دسلطان محمود تر مړینې وروسته یې دعلي قریب او یوسف سبکتگین او نورو مشرانو په سلا دسلطان محمود زوی امیر محمد په غزني کې د پاچهۍ پر تخت کښېناوه. دی دسلطان محمود په وخت کې کې دسرایي مریانو نومیالی سالار و، او دسلطان مسعود په وخت کې یې هم دلوی حاجب او سالار په حیث ډېر اعتبار درلود، او سلطان مسعود به په ټولو محمود دولتي چارو کې دنورو سالارانو په ګډون ددهٔ سره سلا او مشوره کوله، خو دابوالفضل بیهقي له لیکنې څخه څرګندیږي چې لیک او لوست یې نه سو کولای او چې به د لیک ضرورت سو، نو ابونصر مشکان به ورته لیکه په زیاترو جګړو کې دسلطان مسعود سره ملګری و، او په (۴۲۸ ه ق) کال سلطان مسعود د مرو ولایت ده ته وسپاره او هم یې دده لور خپل دیرلس کلن زوی امیر مردانشاه ته وغوښتله او په (۴۳۰ ه ق) کال یې واده کړه (چې دواده مراسم یې د تاریخ بیهقي په ۵۲۵ او ۵۲۶

ketabton.com - The Digital Library



مخو کی راوړه سوی دی، او ددې کتاب د «میم» په ردیف کې به د «مردانشا ه » ترنامه لاندې راوړه سي) څه وخت هم په سیستان کې امیرو، او په خپل نامه یې خطبه ویلې وه .

مأخزونه :

۱ـ تاریخ بیهقی ـ ۱، ۸۲، ۲۹۳، ۵۲۶، ۸۱۳ تر ۸۵۳ پوری او ۶۱۸ تر ۶۲۲ پوری اونور مخونه ۲ـ تاریخ سیستان ـ ۳۶۳ مخ ۳ـ لغتنامه ـ ب ـ ۱۹۸ مخ

## ۱۵۴۳ـ بکتگین چوگانی :

د سلطان محمود او سلطان مسعود غزنوی له نومیالیو سالارانو ا و حاجبانو څخه و ، او دهغه وخت په زیاتو جگړو کې یې گډون کړی و ، په تیره بیا په هغه جگړه کې یې د پره سړانه ښکاره کړی وه چې د سلطان مسعود په وختو کې د آلتونتاش خوار زمشاه او علي تگین ترمنځ په ماورا النهر کې سوی وه .

ابوالفضل بیهقي ددهٔ په باب لیکي چې: «وی مردی مبارز وشهم بودوسالار یها کرده »

او هغه وخت چې سلطان محمود دخوارزم خو اته یې همدا بکتگین چوگانـ ندا ربې وگماره چې د آسو پرسیندیې پـل جوړ کې ، او څه وخت هم د ترمذ کوتوال او تر (۴۳۳ هق) کال پوری ژوندی و

مأ خذ

تاریخ بیهقي ـ ۲۴۲، ۳۴۶، ۳۴۷، ۳۵۰، ۳۵۴، ۵۶۳، ۶۵۱ مخو نه

ketabton.com - The Digital Library



## ۱۵۴۴ ـ بکتگین حاجب :

دسلطان محمود غزنوی له زړه و رو اونوسیالیو حاجبانواوسالارانو څخه و ، چی سلطان محمود ته یی ستر خدمتونه کړی وو ، او تر سلطا ن محمودوروسته دسلطان مسعودپه وختو کی هم سپه سالار اودترمز کوتوال و .

د( ۴۲۶ هق) کال دمحرم په میاشت په هغه جګړه کی ووژل سو چی دشبرغان په شاوخوا کی یې د تر کمنا نوسره کړی وه« دهغی جګړې تفصیل دتاریخ بیهقی په ۹۳۴ مخ کی راغلی دی »

مأخذ

تاریخ بیهقی -۹۳۴مخ

## ۱۵۴۵ ـ بکیر خرا سا نی :

بکیردساج تمیمی زوی دمروان په وختو کی دخراسان له زړ ورو اومجربو امیرانو څخه و ، چی دامیته بن عبدالله «دخراسان دامیر »له خوادتخارستان والی و تپا کل سو ، خو څنګه چی امیته ورڅخه ډاډه نوځکه یی دتخارستان له تګ څخه بیرته راوګرز او ه ، او دماورا النهرجګړی ته یې ولیږه ، خو بیاهم امیته له دی بیری چی ده ته پورته نه سی بیرته راو غوښت اودمرووالي یی وټا که ، هلته یې دخپلوا کی اعلان وکې او دامیته سره یې په جګړه لاس پوری کی ، خو بیرته یی روغه سره وکړه ، خه موده بیا ورته پورته سو . هغه و ، چی په لاس کښېوتې اوپه خراسان کی ووژل سو .

مأخذونه

۱ـ الاعلام دزرکلی -۲/۳۸مخ ۲ـ ابن اثیر -۳/۱۷۲ مخ ۳ـ طبری -۷/۲۷۵مخ

ketabton.com - The Digital Library



## ۱۵۴۶ـ بگل :

د پښتو ژبې اولسي شاعرو ، او د پکتيا د مقبلو د سيمې په «ستو کلي» کې اوسېد . شعرې پر اولسي وزن باندې وايه او دده شعرونه زياتره حماسي، مذهبي او عشقي دي.

د (۱۳۲۳ هق) کال په شاوخوا کې په دېرش کلنۍ عمر مړ دی . او دا بيت دده د يوې بدلي سر دی :

نرې آواز دې چې پادشاه کابل ته ځينه سنګ زلمي يې يرغمل نيولي دينه

مأخذ :

فرهنګ زبان وادبيات پښتو ۷۷ مخ

## ۱۵۴۷ـ بګې خان بامېزی :

د اشرف الوزرا «شاه ولي خان بامېزي» د احمدشاه بابا د دربار د نوميالي اولوی وزير اصلي نوم و ، چې وروسته بيا «شاه ولي خان» وباله سو .

(ددې کتاب د «ش» په رديف کې دې «دشاه ولي خان» نامه ته رجوع وسي)

## ۱۵۴۸ـ بلال بن ازهر سيستاني :

ابو معاذ بلال د ازهر زوی د يعقوب بن ليث له سالارانو او د عمرو بن ليث له اميرانو څخه و، او په (۲۶۳ هـ) کال چې يعقوب «جندي شاپور» ته ولاړ دی يې د لښکر مخکښ يعنې مقدمة الجيش و ، او هم په (۲۷۰ هـ) کې د نيشاپور خلکو دده په واسطه عمرو بن ليث طاعت وسانه ، او په (۲۷۵ هـ) کال د عمرو بن ليث له خوا د پارس والي و، تر کال سو ، او په (۲۸۰ هـ) کال کې چې عمرو ليث د خراسان خواته ولاړ بلال بن ازهر يې د محمد بن رويدی سره د جګړې د پاره قهستان ته ولېږه ، محمد بن رويدی غره ته وتښتېد ، او بلال ټول

ketabton.com - The Digital Library



قهستان چور کي ـ بيا بلال د عمرولیث له خوا د نیشاپور اسیروتیا کل سو' او هغه وخت چي عمرولیث په خوارزم کي بندي و ، بلال د عمر و لیث د نمسي طاهر له خوا په شیر از کي حکمران و ، او په دې وخت کي يې د فارس نیمه مالیه دده او نیمه مالیه د صفار یانو د بل سالار «سبکری» و مـخو بيا دده او سبکری تر منځ اختلاف پیداسو او طاهر بلال ته قرـمان ورلېږه چي سیستان ته ولاړ سي ،،دی هم دخپل آل او مال او سر یانو او لښکرسره د سیستان خوا ته رهي سو ، خو چي د پارس اصطخر ته و رسید طاهر خپل بل سالار یوسف بن یعقوب النقیب پسي و استاوه او هلته يې دی د محمد بن واصل په کلا کي بندي او مال يې ټول ضبط کیء او بـلال هلته و وژل سو .

مأخذ :

---

تاریخ سیستان ـ له ۲۳۰ مخ څخه تر ۲۳۱ مخ پوري .

**۱۵۴۹ ـ بلبل :**

د پښتو ژبې نوميالي شاعر و ، او د پښتو رد «پکلي» په سیمه کي او سید ، هم يې پر ـ عروضي دولو او هم يې پر او لسي وزن شعر و نه و يل ، دده شعر و نه زیاتره په سرـ حدي خپرونو کي خپاره سوي دي ، او د (۱۳۲۰ ش) په شاو خوا کي مړاوداییت دده دی :

جهالت به له سر حدنه اوس و رکیږی

په څراغ دعلم ټول به رو ښانیږی

مأخذ :

---

فرهنگ زبان و ادبیات پښتو ـ ۷۷ مخ

ketabton.com - The Digital Library



## ۱۵۵۰ ـ بلبل کابلی :

سیدکاظم دشاه‌بقازوی ددری‌ژبی شاعرو ،چی‌په(۱۳۱۱ ق)کال‌په‌سنگلاخ کی زیږیدلی‌اوپه کوچنیوالی دخپل کهول سره‌کابل‌ته‌راغلی‌دی،دینی‌علوم یې‌دلته‌ولوستل او بیا دعلمی‌زده‌کړ و د بشپړ و لو دپاره‌ایران‌ته‌و لاړ،او تر تحصیل‌و ر وسته داسیرحبیب الله په‌وختو کی بیر ته خپل هیوادته‌راغی او په‌تدر یس‌یې‌خوله پوری کړه .

په ادبې علو سو کی‌هم دښو سعلو ماتواو دېری‌مطالعی‌خاو ندو ،په‌شعر کی‌یې روانه‌طبع درلو دله او داشعارو دیو ان یې‌شلو ز رو بیتونه رسیده،چی‌قلمی‌نسخه یې دبیر ته پاتو کسانو سره موجو ده وه .

دی‌په(۱۳۶۳ ه ق) کال‌په‌کابل کی‌مړ دی او یوه‌غزله یې‌داده:

تو ای سرو سهی قامت که‌از نسر ین‌بدن‌داری
زگل ناز کتری‌یارب که ازگل‌پیر هن داری

نسیم‌صبح‌صادق‌را اسیرزلف‌خود کردی.
مگر درخطه‌نا فه مشک ختن داری

عجب بدرشب قدری که ازانظا ر پنمهانی
گهی‌در دیده میگر دی‌گهی‌در دل‌و طن‌داری

بهار است و به‌گلشن بلبل‌و گل‌انجمن‌دارد
قدم کن رنجه‌گر میل تماشای‌چمن داری

ketabton.com - The Digital Library



بهر جشنی که بنشینی قیامت ها بپا سازی
بهر قرنی که بر خیزی دو صدو یس قرن داری

شبی باغمزه بد مست شوخ فتنهٔ گفتا
مگر ای شوخ شهر آشوب قصد جان من داری

بصد ناز و اداشو خې نمو دو گفت ای «بلبل»
مهیا تختهو تابوت و کافو رو کفن داری

مأ خذ :

---

پښتو آر یانا دائرة المعارف ۳/۳۵۳ مخ

## ۱۵۵۱ ـ بلکا تگین غز نوی :

دغز نی خپلو اک و اکمن و ،چی دالپتگین دزوی ابو اسحاق ابر اهیم تر مړ ینی و روسته د(۳۵۵ هق) کال د ذی قعدې په میاشت دغز نی داما رت پر مسند کښېنو ست او په(۳۵۹ هق) کال یې په غز نی کې په خپل نامه سکه و و هله.

بلکا تگین دالپتگین دسا تو نکو گار دقو ماندان او دهته و رنژ دې سړیی و ،څنگه چې دالپتگین دزوی تر مړینې و روسته دالپتگین له کو رنی څخه څو ک پا ته نه و ،نو دغز نی سپین رو بو او مخو روسته رانو بلکا تگین چی زړ و رقو ماندانو ،او په عسکر و کې یې ښه نوم او شهر ت در لو د دغزنی په امار ت و ما نه او دهغه په و اکمنی کې یې هو ساژ و ند تېراو بلکا تگین دمخه ترهغه چی دالپتگین سره یو ځای سی د (۳۲۳ ق) کال په شاوخا کې څه مو ده دسامانیانو له خو ادبلخ والي و، اوده په نامه داسی سکې هم سته چې په (۳۲۵ ق )په بلخ کې و هلې سوی دی .

ketabton.com - The Digital Library



بلکاتگین په‌غزنی کی‌لس‌کاله و اکمنی و کړه‌او په (۴۳۶ ه ق )کال‌چی‌د گردیز۔
په کلابندی بوخت و،وو ژل سو.

بلکاد«کاف» په‌زبر په ترکی ژبه کی دپوه او حکیم او هوښیار په‌معناد ی
منهاج سراج په طبقات ناصری کی «ملکاتگین » لیکلی دی او زیاتوی‌چی :
« اوسرد عادل و متقي بودازمبارزان جهان »

مأخذونه :

۱ـطبقات ناصری- ۲۲۷/۱ مخ
او ۲/۳۲۳ مخ
۲- سلطنت غزنو یان -۳ مخ
۳- ددهخدالغتنامه -ب-۳۰۵ مخ

## ۱۵۵۴-بلکا تگین غزنوی :

دسلطان مسعودغزنوی په‌وخت کی دمسعودی‌دربار دحاجبانومشر سالارو،
چی د (۴۲۲ ه ق) کال دصفری د میاشتی په یوولسمه د یکشنبي په ورځ
یې د سلطان مسعودله‌خوا دلوی حاجبی خلعت وا غوستلو ،او ابوالفضل بیهقی
دهغه‌خلعت اغوستلو تفصیل په‌خپل کتاب‌تاریخ‌بیهقی کی‌داسی‌لیکلی‌دی :
« روز یکشنبه یازدهم صفر خلعتی سخت بزرگ فاخر راست کرده بودند
حاجب بزرگ را ، از کوس و علامتهای فراخ و منجوق
وغلامان وبدرهای درم وجامهای نابریدود یگر چیزهاهم بر آن نسخت که
حاجب‌علی قریب راداده بودند بدر گرگان .
چون‌باربگسست امیرفرمودتاحاجب‌بلکا تگین‌رابجامه‌خانه بردندوخلعت پوشانیدند

ketabton.com - The Digital Library



وکوس‌براشتران وعلامتهابردر سرای بداشته‌بودند، وسنجوق وغلاساق وبدرهای سیم‌وتخت های جامه درمیان باغ بداشته بودند، و پیش آمدباخلعت قبای سیاه وکلاه دو شاخ وکمر ز ر،وبحضر ارفت و رسم خدمت بجا آورد، امیراورابنواخت، وباز گشت‌به‌دیوان‌خواجه آمدوخواجه‌وی رابسیار نیکویی گفت‌،وبخانه‌باز رفت وبز رگان‌و اعیان‌راور اسخت نیکوحق گزاردند، وحاجب بزرگی نیزقرار گرفت برین محتشم ،وسردی بود که از وی را دتر و فراخ کندوری تر و جوانمرد ترکم‌دیدند. اما تیرگی قوی‌بروی مستولی بود »

مأ خذ :

---

تاریخ بیهقی - ۱۶۰ مخ

## ۱۵۵۳ـ بلند خان سدوزی :

داحمدشاه‌بابا‌له‌خواد کشمیروا کوال( صوبه‌دار)تیا کلی‌سوی‌و،اوهم هغه‌وخت‌چی احمدشاه‌بابادپنجاب، دجیلم‌پرغاړه‌اړولی‌وه ،بلندخان‌سدوزی یی‌دشاهزاده‌سکندرپه وکالت‌وټاکه ده په‌پنجاب کی دسیکانو سره ډیری جګړی‌وکړی خوپه‌پای کی دسترګود کمزورتیاپه سبب‌دکفاروپه لاس کښېوت.

مأخذ:

---

تاریخ احمدشاهی ـ د مسکو چاپ ـ

۱۲۱۷،۱۲۱۳،۱۰۸۹/۲ مخونه

ketabton.com - The Digital Library



## ۱۵۵۴ـ بلوخان :

د آدمخان او درخانی په کیسه کی یی ډېرنوم یادسوی دی ' اوژوند یې د لسمې هجری پیړی په شاوخوا کی اتکل کاوه کېږی .

دعبدالله‌زوی مسعودد آدم خان اودرخانی په کیسه‌دبلوخان له خولې ځینی ناری راوړی چی یوه یی دا ده :

که ملی نن زما زړګوتی ملی
چی آدم خان غلبه ګډه کړه په کلی

په عزت سره کوزېږی دغه دو ولس
اوس به‌جوړکړم ددرغلیو د سرځلی

مأخذ :

فرهنګ زبان و ادبیات پښتو - ۷۷ مخ

## ۱۵۵۵ـ بلوخ خان اڅکزی :

دشاه‌شجاع په‌وخت کی‌دخپل ټبرلوی‌خان اومشرو'اوهغه‌وخت چی‌شاه‌شجاع دسنددامیرانو سره‌په‌ښکارپور کی ددوستی تړون‌وتاړه اوبیایی‌هلته دمنظم‌لښکرپه جوړولولاس‌پوری کی' نودپښتوځینی خانان هم دخپلوسپرواوپلو سره دشاه‌شجاع دلښکر سره یوځای سو ل 'چی یوهم پکښی دابلوخ‌خان داڅکزودټبر مشرو .

مأخذ :

نوای‌معارک -۱۱۵ مخ
( دکراچی چاپ )

ketabton.com - The Digital Library



## ۱۵۵٦ـ بلوڅ خان خدرزی :

دسهیلی پښتونخوادسرانیبودخدزیودتبر یوغازی اوسبارزه‌شرو، چی دخپلوسلګرو سره دپرنګیانوسره‌جنګیدلی و، اودهغه وخت‌په‌اولسی سندروکی یاد سوی‌دی :

توربلوڅ‌چی چاړه وځکوله پر کلایی‌توره شپه ولګوله (۱)

مأخذ :

پښتواوپښتانه ـ دسیال کاکړ ـ ۳۷۹/۱ مخ

## ۱۵۵۷ـ بلوڅ خان کاکړ :

دندرخان‌حمزه زی زوی‌په‌ختپه کاکړد کاکړستان هغه‌نوسیالی‌مجاهدو، چی دژوندزیاته برخه‌یی پرنګیانو سره په‌مبارزه‌و کی‌تیرکړی دی ـ کله‌به‌فراره اوکله‌به په‌جیل کی‌وـ په تیره‌بیادوهاری په«ځیرکی» نومی‌غره کی‌یې چی‌خپل‌ورونه‌هم ورسره‌وو، دپرنګیانوسره سخت‌اوزبردسته جنګ کړی‌و.

پروفیسرسیال کاکړ په‌خپل کتاب «پښتو اوپښتانه» کی لیکلی چی :

« په‌بوری کی د پرنګیانوسترسلکی‌منصب‌دار شربت‌خان‌اپریدی‌دبلوڅ‌خان‌د کورټول ساسانونه‌بوری‌ته‌راوړل، اود بلوڅ‌خان باتوره اونوسیالی سورچی «جنته‌انا»نومیده تورتیکریی پرسراوتوپنچه په‌غاړه دشربت‌خان‌په حکم‌بوری‌ته‌راغله، شربت‌خان‌له جنتی‌اناسره قرآن وکی، چی«ته خپلوز اسنوته وو‌ایه‌چی دوی له سنګره دباندی راووزی»خوجنته‌انادپرنګی‌په سیاست‌خبره وه، شربت‌خان‌ته‌یی وویل‌چی :

«داستاغوندی دیرخریلی زمازامن نسی‌نیولای.، دوی‌سابی‌ندره نه‌دی‌پیدا کړی»

---

(۱) له کلاځخه مراد«دومانده کلا»ده.

ketabton.com - The Digital Library



شربت‌خان بیا پرجنتی اناړبر فشار واچاوه چی‌په‌نتیجه کی هغی ورته وویل‌چی :
«د کاکړو پلانی سخوردی له‌ماسره‌بول وکی، زه‌به‌خپل زاسن دخپر کی‌له‌سنگر شخه
راکښته کم» بیاد کاکړیوه سپین‌روبی له‌جنتی‌اناسره قرآن‌وکړ، جنته‌انادا ده‌سوه
-خپل‌توریالی زاسن‌ی په‌له سنگر شخه راکوزکړه -جنته‌انا بالاخره پر خپلی
پښتوپښیمانه اودهغی‌سجا هدزاسن پرنگیانود بچ زندان‌ته واستول .

بلوخ‌خان چی‌څه‌وخت له‌زندانه رایله‌سو، نویوځل یی‌بیاد پرنگیانو په‌ضدسبارزی
پیل کړی- او بالاخره پس‌له اوږدوسبارزواو ستوسانه ژوندون‌بلوخ خان‌په‌افغانی
خاوره کی له‌بده‌سرغه ساروخوړ، اودهمهغه ساردلاسه دخپل کلی«وهاری» شخه
لیری‌دافغانی «دساروپ»په‌سیمه کی‌د«سرخاب» درود پرغاړه‌سړاودرشیدد کلا په
هدیره کی خاوروته وسپارل سو :

وزیر خان یا یی زسا ارسا ن

له سا ره سړ دی بلوخ خان

دبلوخ‌خان‌سبارزې د پښتو په‌فولکلوری‌اشعاروکی‌خوندی‌سوی‌اودهغه‌سړانه دشعر
په‌اولسی‌ژبه‌بیان‌سوېده- داهم‌دنوسیالی پښتون‌بلوخ‌خان په‌باب‌یوشمیراولسی‌غاړی:

« دجنتی » په زویان کی (۱)

زسا نظرپه بلوخ خان کی

تر سا ښه د سچ کید یا ن (۲)

په سیان کی ناست دی بلوخ خان

---

(۱) دبلوخ خان دسورنوم «جنته»و .

(۲)سچ دیو سشهور زندان نوم دی .

ketabton.com - The Digital Library



تو ر پټکی شنه کا ړ تو سا ن
«له کړو» را توسو بلوڅ خان(۱)

سرګ یې و ، په سا ر
په ګولی نه سری بلوڅ خان

بې پر وا دی بلو څ خا ن
دخولې پرګای ولی ګور کیان

رون توپک رون کارتو سان
له غرورا کوز سو بلوڅ خان

په سچ کی و ه کید یا ن
په غروکی ګرځی بلوڅ خا ن

بې یر وا د ی بلو څ خا ن
ولات په ر نګ کی په ګو ر کیا ن

په سچ کی دو ه کید یا ن
یو لال سا سد بل بلوڅ خان

لا ت به نه وی په آ را م .
په غروکی ګرځی بلوڅ خان»

مأ خذ :

---

پښتواوپښتانه ـ ۱/۲۳۱ مخ

---

(۱) کړو ـ د بوری په سیمه کی دیوه غره نوم .

ketabton.com - The Digital Library



## ۱۵۵۸ـ بلو صوفي :

صوفي بلو په خټه اترزی کاکړ کویتی دسیمی نوسیالی صوفي ؤ چی د کچلاغ دسیمی په قاسم نوسی کلی کی ښخ دی .

د پېريانانونا روغانيې سزارته ورولی . اويوزيات شمېرخلک ورته عقيده لری .

مأخذ :

---

سزارات ـ ۷ ، مخ دښاغلی سیال کاکړ ـ

## ۱۵۵۹ـ بله نسته کندهاری :

داسپړ سن د کندها ر دهیلمندد زمیند او ر په گر دی باغرا ن کی او سید له داغامحمدخان لوراود پښتوژبی شاعروه، اود ( ۱۳۰۰ هق ) کال په شاوخوا کی یې ژوند کاوه.

په زلمتیوب کی له د نیا تللی وه ـ وا یی

چی د شلو کا لو په عمرد « غیرې » کو تل ته په لر گو پسی ختلې وه او هلته له یوه پا نه لو ید لې او سره سوې وه .

ددی دیوه شعرخوبیته سادیوه سپین ږیری له خولی آوریدلی او یادداشت کړی او هغه دادی :

بیا پر سا د بیلتانه را غله غمو نه نن بیا
چی یې کښېښنه و ل په زړه راته دا غو نه نن بیا

سلا لی زړ کی گرزې چی په غر و کی
پخپله خو ښه ا لـو زی شـيلو کـی
سا خو هم د ر سره واخله په چمبو کی
چی وگو ر م د لو یو غرو سرو نه نن بیا

مأخذ :

---

پښتني مېر منې ـ ۲ ٦ مخ

ketabton.com - The Digital Library



**۱۵۶۰ بم نیکه :**

د محلي روایاتو له مخې دغه دپښتو نیکه پهخته‌بابړ او روحاني سړي تیرسوی‌دی د کو یتې په سیمه کې یې زیارت زیات‌شهرت‌لري،او دسرانانو د کښته تالاوسر دلو یې غونډې پرسر پنځ دی .

مأخذ :

مزارات -۲۲مخ دپاغلي‌سیال کاکړ لیکنه -

**۱۵۶۱ بنارس :**

دپښتوژبې شاعرو، ژوند یې‌پهدوولسمه پیړی کې اتکل‌سوی‌دی- یو شعر یې دملا شایسته خان پهجو نګ کې‌راغلي او هغه‌دادی:

خو به حیات گرځی‌ای‌زماتو تې نفسه
خلاص به ځنې نشې‌ته اسیریې د قفسه
عمر خو هغه‌دی‌چې‌له‌یار سره تېر یږی
تېر شه‌عمر تېر شه‌ښادی‌نشته‌له‌دی‌پسه

واردګلاب تیرشه ، همګی‌په‌زمکه‌زیرشه
یو سی‌په‌سر نه کړستا دمینی له هو سه
وخت دسحر خیز دی‌تیاری کوی‌سفرته
دفراق‌نعره‌سی‌و او ربده‌په‌غوږ و له‌جرسه
وخت‌دصبحدم‌دی‌خلک‌و اره‌دم په‌دم‌دی
دپر حکایت‌سه کړه ژ به‌بند کړه«بنارسه»

مأخذ :

ادبی ستوری -۷۳مخ

ketabton.com - The Digital Library



## ۱۵۶۲- بنائی کابلی :

ددریژبی شاعراو دکابل په کوهستان کی اوسېد، بیادهمایون پاچاپه‌وختو
کی هندوستان ته تللی‌و، او دابیت دده‌دی :

بی سه‌رو پتو کارسن‌بیمار بدست
وه که‌بیمار غم‌عشق تر اکار بدست

مأخذ:

---

سکینته الفضلا- ۵۶ مخ

## ۱۵۶۳- بنائی هروی :

شیرعلی‌ملقب په« کمال‌الدین»اومتخلص په بنائی» دافغانستان‌د دری‌ادب‌له لویواد -
یبانو،نومیالیوفاضلانو اومشهورو شاعرانو څخه وچی‌په هرات کی‌یی دامیرعلی‌شیر
نوایی‌په‌وختو کی ژوند کاوه .

پلاریی«محمد»نومېدچی‌هم‌دده استاداوهم‌د «عجائب‌لطبقات»دمؤلف‌په قول‌دسلطان
حسین‌بایقر اله‌مهد سانو څخه و ، چی په‌بلخ کی‌یې دحضرت‌علی‌دروضی‌په‌ودانو-
لو کی‌بر خه‌اخیستی وه،او له‌همدی‌جهته ده‌ځانته«بنائی » تخلّص غوره کړی‌و.

د بنایی د زیږېدو نیټه معلومه نه‌ده خودومره اټکل کیدای سی چی د نهمی
هجری پیړی په دوهمه برخه‌کی په‌هرات کی زیږېدلی دی .

تر سلطان حسین بایقرادمخه یې‌څه شهرت نه‌درلود، که‌څه‌هم دده د پلار
کسب بنائی وه، خو ده‌دعلم دزده کړی‌خواته میلان درلود، دهغه وخت‌متداولو له
علوم یې‌څه له‌خپله پلاره او څه‌له نورو استادانو څخه و لوستل او په تېره‌بیا
بیاپه خوشنویسی او هم په‌موسیقی کی‌لوی لاس‌درلود.

ketabton.com - The Digital Library



عبدالحسین نوائی پخپل کتاب رجال کتاب حبیب السیر کی بنائی داسی ستایی:

«جناب زبدة الفضلائی که بانی مبانی فصاحت بود، و درفضای سخن آرائی، به چوگان نظم و نثر تفوق از شعران زمان می ربود ...»

دشمع انجمن دتذکرې مؤلف بیا لیکي چې: «معمار طبیعت او بنای سخن بلند ساخته، ومهندس اندیشهٔ اوطرح معنی ودلپسند انداخته، ملای شعراء وشاعر ملایان است»

بنائی په شعر او شاعرئ کی تر عبدالرحمن جامی و روسته په ټولو همزولو او معاصرینو کی ممتاز ګڼلی سوی دی، او هم په خوشنو یسی کی دده شهرت تردې حده و، چی قاضی صفی الدین عیسی په خپله یوه قصیده کی دده ثلث، نستعلیق، تعلیق، نسخ او ریحان لیک داسی ستایی:

شد محقق که کسی ثلث تو در نستعلیق نیست

این اظهر من شمس بود در اذهان

طی کند نامهٔ تعلیق تو تاج از تعلیق

نسخ یاقوت نمانی چو نو یسی ریحان

په موسیقی کی یې هم لوی لاس درلود، او دامیر علیشیر نوائی په تشویق یې دې فن ته ملاتړلی وه.

په لومړ یو وختو کی امیر علیشیر نوائی ته نېږدې و، خو وروسته دتوکو او مسخرو له کبله چی دده خوی و، دده او امیر علی شیر ترمنځ خپګان پیدا سو مثلاً یوه ورځ دیوه مشهور پالان ګنډونکی دکان ته ورغی چی د سلطان حسین بایقرا او امیر علی شیر نوائی وزیر د پاره سامان جوړاوه او ور ته و یویل: «دامیر علیشیر پالانه غواړم» داخبره وروروړو دامیر علیشیر غوږ

ketabton.com - The Digital Library



ته‌و رسیدله، او بنائی مجبو رسو له هراته دعراق عجم خواته و لاړ، او دامیر یعقوب ترکمان په‌دربارکی ډیر مقرب سو، او هلته یې خپل دبهرام‌او بهروز مثنوی دهغه امیر په‌نامه ولیکه، امیر یعقوب ډیر خپنی خو ښ سو، ښې جائزې یې ورکړلې او دامیرعلی شیرخخه یې دده بخښنه و غوښتله، امیرعلی شیر هم‌دی و باخښه او بنائی بیرته هراتته راغی‌ـ‌دی خپله پردیسی داسی بیانوی:

وطن‌من که خیراوطان بود
صدرروی‌زمین خراسان بود

دلم ازشرحاسدان سفیه
حافرالبسرفی‌طریق‌اخیه

هرطرف از وطن گریختمی
همچوجان ازبدن گریختمی

خوخو موده لا تیره‌نه‌وه چی‌بنائی بیاخپلی شوخی شروع کړلې، او داوار تاچاره سو سمرقند ته‌و لاړ او دهغه ځای حکمران سلطان علی‌دسلطان بایقراء دخور لمسی چی‌هغه‌هم یو علم‌دوست او ادب‌پالونکی سړی و، بنائی‌ته‌په‌درنه سترگه و کتل‌او ښه‌یې‌ونازاوه.

هغه‌و چی‌په(۹۰۶ ه ق) کال محمدخان شیبانی پرسمرقند یرغل‌وکی، دجگړی په‌پای کی‌چی‌سلطان علی‌ماته‌و کړه، دنورو او لجوسره‌بنائی هم د محمدخان شیبانی دلښکرپه لاس کښېوت.

که‌څه‌هم شیبانی دعلم او ادب سره‌چندانی علاقه نه‌درلوده مگر دبنائی شهرت پرده اغېزه‌وکړه، هغه‌یې‌تر خپلی‌حمایې لاندی و نیو، او دملک‌الشعرائی

لقب يې ورکړی، او هم يې دخپلو عسکرو قضاو رو سپارله، ځکه نو بنائی سره له دې چې هر وخت يې زړه غوښته چې خپل وطن هرات ته ولاړ سي مجبور سو په سمرقند کې واوسي- څو چې د(۹۱۸ ه ق) کال په شاوخوا کې شاه اسمعيل صفوی دامير يار احمد اصفهاني په مشري يو لوی لښکر د بخارا او سمرقند خواته ولېږه، په دې وخت کې بنائی د قرشي د حاکم شيخم ميرزا سره و، نو چې صفوی لښکرو هغه سيمه وړانه کړه او په يوه خونړۍ جګړه کې يې پنځلس زره تنه ووژل ، بنائی هم په هغه جګړه کې ووژل سو. بنائی د ژوند په پای کې له هجو کولو او ټوکو څخه لاس و اخيست او د حافظ او سعدی داشعارو په استقبال به يې شعرونه ويل او په داسې شعرو کې به يې «حالي» تخلص کاوه .

د بنائی د اشعارو ديوان شپږو زرو بيتو ته رسېده او دده مشهور آثار دادي :

۱- د بهرام او بهروز مثنوی: چې په «گلستان» يا «باغ ارم» باندې مشهور دی او په عراق عجم کې دامير يعقوب ترکمان په نامه يې نظم کړی دی، وزن يې د سنائي د حديقې په څېر دی او د تاشکند په ښار کې چاپ سوی دی .

۲- د بنائی دوه ديوانه: وايي چې بنائی دوه ديوانه ترتيب کړي وو، يو يې د خپل ژوند په وروستيو وختو کې د حافظ پر سبک په سمرقند کې ويلی او تدوين کړی و، او په هغه کې يې خپل تخلص «حالی» ښوولی و، څو نسخه لاس ته نه ده راغلې.

۳- شيباني نامه: چې د شيباني محمد خان په نامه يې ليکلې ده .

ketabton.com - The Digital Library



دده کلام څو نمونې دا دی :

-۱-

لاله‌رخ بنمود عالم راگلستان کرد باز
کوه رادامن پر ازلعل بدخشان کرد باز
غنچهٔ گل برگریبان تکمهٔ یا قوت داشت
گل بناخن‌های رنگینش گریبان کرد باز
باعصای سبز آمد سبزه براطراف جوی
خضر پنداری هوای آب حیوان کرد باز
غنچهٔ نرگس زتاب گل نظر بربست وگفت
دررخ خورشیدرخشان‌دیده نتوان کرد باز
شاخ گل شد تیر بهر صید مرغان چمن
باد صبح آن تیر راازغنچهٔ پیکان کرد باز
جام رزمانده است برسیمین طبق نرگس مگر
خویش را ازساقیان بزم سلطان کرد باز

-۲-

ازخوردن می‌منع کنندم که‌بنائی‌حرامست
چیزیکه درین شهرحلال است کدامست
مینوش که قسمت نشود ناقص وزاید
درذات تو نقصانی اگرنیست تمامست
آن همدم بی غش که ازوبوی وفائی
آید بمشام تو می غالیه فامست

ketabton.com - The Digital Library



-۳-

دختر انی که فکر بکر مننند    هریکی را بشوهری بدهم
هر که کابین ندادو عنین بود    زوستانم بد یگری بدهم

-۴-

یو وخت بې امیر علی‌شیر نوایی ته دا بیت ویلی و :

عمارت دل من کن‌وگر نه ازگل‌و خشت
هزار مدرسه آباد می‌توان کردن

دابیتونه هم دده دی :    -۵-

تر انه تکمهٔ لعل است بر لباس حریر    شده ست قطرهٔ خون منت گریبان گیر
زاهد بره کعبه رود کین ره دین است    خوش می‌رودامار ه مقصودنه این است
درچمن گریه کنان بی گل رویت بودم    مانده درسینه چو گل ناخن خون آلودم
بسرمه هر که سیه کردچشم یار مرا    چو چشم یار سیه کرد روزگار مرا
میکنم جامهٔ خود در ره میخانه گرو    که مرا جام می کهنه به از جامهٔ نو

مأخذونه :

۱- ریحانه‌الادب - ۱/۲۸۲ مخ.    ۲- شمع انجمن - ۷۸ مخ .
۳- پیدایش خطو خطاطان-۱۴۸ «    ۴- حبیب‌السیر -۳/۳۴۳ «
۵-رجال کتاب حبیب‌السیر-۱۹۶ «    ۶- خط و خطاطان- ۹۶ «
۷- مجالس النفائس - ۶۰ «    ۸-نتایج الافکار- ۹۹ «
۹- آریانادائرةالمعارف (پښتو) ۴/۴۷۵ مخ
۱۰-صورتگران و خوشنویسان هرات درعصر تیموریان ۶۶ مخ

## ۱۵۶۴- بندر شاه :

د پښتو يو نوم ورکی شاعرو، چې د(۱۳۰۰ هش) کال په شاوخوا کې يې شيخ
آزاد خان سا پې د پښتو ديو شاعر په توګه دده نوم ياد کړی دی۔

مأخذ:

---

فرهنګ زبان و ادبيات پښتو -۷۸ مخ .

## ۱۵۶۵- بنګل خان کاکړ :

دنوميالي مجاهددوست محمدخان کاکړزوی اودسرشي لمسی په ختهجوګيزی کاکړ
، په ژوب کې د کاکړودټبرنو ميالي اوبا توره مشرو، چې پروفيسر سيال کاکړ
په خپل کتاب «پښتواوپښتانه» کې دملي شخصيت په حيث معرفي کړی دی اوليکلي:
«بنګل خان دکاکړوهغه توريالي قهرمان دی، چې دپښتونخواد کاکړستان په
سيمه کې يې دحريت اوآزادۍ ډيوه بله کړی وه ـ دخپلې خاورې دساتنې په غرض دغه
مجاهد پښتون له پرنګ سره راخيستی وه ـ ده دخپل پلار سره دژوب اوبورې په ډېرو
جنګونوکې برخه اخيستې وه، خو په خپلو کلاسيف الله ، بابې، کنې سرغني اودتاني
شپې جنګونو ي ده ته منسوب دي . دخپلوا کې نوميالي پښتنګ بنګل خان
کاکړ دانګلستان له استعمارچيانو سره په ډېره مړانه اوپښتنې استقامت وجنګيد
موږدتاريخي شواهد وله رويه ويلای شو چې د کاکړو نوميالي مبارز بنګل خان له
(۱۸۸۴ عيسوی کال څخه) بياد(۱۸۹۳ عيسوی کال) ترنيمايي پورې دخپلو ښمنانو
سره په مړانه جنګېدلی دی، اوتر(۱۸۸۴ عيسوی) کال دمخه يې هم دپرنګ پرضد
په څېنو مبارزو کې برخه اخيستې وه

زموږدغه توریالی فرزندله انګریزانو سره اوږدې مبارزې کړې، خوبالاخره زماپه عقیده دخپلوله لاسه پاته راغی۔ موږد تاریخ په پاڼوکې وینو، چې پرکاکړو باندې داستعمار۔ چیانوله لاسه خپل لرغونی ټاټوبی کاکړستان سوراورسو، نو بنګل خان آخر مجبوره سو، چې کاکړستان پریږدی او په افغانی خاوره کې خپلو مبارزوته دوام ورکی .

(بنګل خان د۱۸۹۳عیسوی) کال په شروع کې دافغانی خاورې په جبار نومې کلاکې دتوخوسره ژوند کاوه، خوبیاهم پرنګیان دافغانی خاورې په «جبار کلا» کې له نومیالی مجاهد بنګل خان کاکړ څخه په ډا روو، ځکه چې هغه له خپلې مبارزې څخه لاس نه و، اخیستی .

پرنګ دامیرعبدالرحمن خان سره د ډیورند لاین خبرې پیل کړې، او پرنوموړي امیرېې فشارواچاوه، چې بنګل له خپلې خاورې څخه وباسی۔ امیرعبدالرحمن خان بنګل خان ته حال ورکی چې یاخو کابل ته راسه اویابیا ترتېک واوړه، کابل ته د تګ په صورت کې د سهیلی پښتونخوا محلی روایات داسې وایې چې :

امیرعبدالرحمن خان دبنګل خان کاکړسره داپښتوو کړه چې دشاجوې ویاله به هغه ته د لوښې سپلمستیا په توګه ورکوی ۔ خو بنګل خا ن په مات زړه دکابل پر ځای کاکړستان ته راغی سو ږ د تا ر یخی شواهدوله رو یه و ینو چې د تور امیرله لاسه د بنګل خا ن کا کړ څخه خپله ملی مبا رزه نیمګړې پاته سوه، او په بنګل خان کاکړ هغه د پارسوپه مصداق «نه جای ماندن نه پای رفتن» کانه وسوه۔ بالاخره دغه مبارزپښتون او دهغه تورزنو ملګرود امیرعبدالرحمن خان له لاسه پرنګ ته ځانونه په ګونوورکو۔ اود(۱۸۹۳عیسوی)

کال د جون په ۲۳ په هندوباغ کې لفټننټ مکموهن ته ورغلل، او د پرنګ سره یې روغه وکړه، او پرنګیانو هم ترڅه مودې وروسته پر بنګل خان باندې باور وکې او هغه ته یې د وفادارۍ په بدل کې Allowance ور مقرر کې او له غمه خلاصي شوکې یې له ورکړې او د ۱۸۹۳ ع کال په جنورۍ پرنګیانو بنګل خان د یوشمېر نورو مخورو سره د سیل په غرض د هند لویو لویو ښارو ته لکه لاهور، کلکته، بمبې او کراچۍ ته بوتلې او د خپل مغرضانه سیاست په اوبو یې د دې سپیڅلي پښتني دماغ ور پرېمنځې .

بیا وروسته بنګل د پرنګیانو د نماینده «هنري مکموهن» سره په (۱۸۹۴-۹۵ عیسوی) کال کې په هغه کمیسیون کې شامل کړه شو چې د افغان او بلوڅ د سرحدي خط د ټاکلو د پاره تعیین شوی و، او په دغه نارواو غیر ملي کار کې بنګل د انګریزانو په اصطلاح Did good cervice په نامه یاد شو ( یعنې ښه خدمت یې وکې ) او یا په (۱۹۰۵ عیسوی) کال کې د سیستان په سیمه کې د وېش د ټاکلو په کمیسیون کې د سرهنري مکموهن سره ملګری و .

څه وخت چې بنګل خان په سیستان کې اوسېد، نو هلته یې ډېره موده وشوه، چې په کاکړې غاړه کې داسې یاد شو :

لیا سیښان په وریښم جوړ کې ‌ ‌ ‌ ‌ لیا نازک بیرته راکوږ کې
چه بنګل پر سیستان اوسي ‌ ‌ ‌ ‌ درختي ګل وکې بیا توسي

بیا پرنګ راولاړ شو، په (۱۸۹۷ ع) کال کې یې د ادغرو نوباز «سردار بهادر» کې او په (۱۹۰۶ ع ) کال کې یې پسې « نواب » کې ـ خوله بده مرغه د هغې کال د مې برشپږمه نیټه نواب بنګل خان په کلاسیف الله کې «د باران» نوسي له خوا ووژل شو، او د ده مړینه په یوه کاکړې غاړه کې داسې یاده شوه :

ketabton.com - The Digital Library



بنگل سردار يې سړ کې په گولی

شاو خواده باندی تولہ کچاری »

( دبنگل خان دمړینې سبب او کیسه د پروفیسرسیال کاکړ د« پښتو او پښتانه » د کتاب په ۱۹۵، ۱۹۶ مخونو کې راغلی ده ) دبنگل خان مړی دسیف الله د کلا په « مانکی » کې خاوروته وسپارل شو، او دده مزار په خلکو کې د بنگل په شامی شهرت لری او تر اوسه یې جاېې او هډونه په شاسی کې پراته دی - پرمزار یې کښته ولاړه ده او خلک يې زیارت ته ورځی .

پروفیسرسیال کاکړ په پای کې لیکلی :

« لنډه دا چې بنگل خان کاکړ یو ملی مبارز، ریښتینی مسلمان او پیاوړی سیاستمدار و هغه دچاخبره : « سل دی و سره یودی سه سره » په مصداق دبنگل خان مړینه په حقیقت کې دټولو پښتنو مړینه وه .

مادخپل لوسړی فولکلوری تالیف « غاړی » پر ۷۹-۸۰ مخونباندی دمجاهد پښتون نواب بنگل خان په باره کې یو لړاو لسی غاړی خوندی کړی چې تکراريې دلته عبث دی، البته لاندی غاړی نوی لاس ته راغلی ، چې په دی ډول دی :

دبنگل د سپر کې خوپ دی

د ډیوان کار کولا نسی

بنگل سپرکې و ډرکی ء

زه دولی و هلی نسم

یو وارلاړ سه خان بنگل که

په د ډیوان کې ښامار سړ که

ketabton.com - The Digital Library



مادنواب ښنګل خان په باره کې دلوسړي ځل دپاره داتن دوې ښکلې ناري چې د کاکړو په فولکلوري اصطلاح د«اسی»بدلې بلل کیږي، دږوب دیوه سنځره خیل ښاغلي لونګ دخولې څخه لیکلې ، چې دلته ستاسې حضور ته وړاندې کیږي :

که‌او وردې دتسیل پرسراو وردې      ښنګل سرداریې سړکې‌ء

اوس دې واخې زریپ خان که‌زوروردې‌ء

---

دښنګل سلنډاهي سترګې تورولې

چې تکک د تـو پنچې سوی

سولائی یې تر کلاو غورځولې

دښنګل خان په‌تېر کې‌داوخت‌دهغه‌پرسېنه‌ښاغلي نواب محمدخان جوګيزی پاته دي‌چې دده په باب‌يوه‌لرغوني فولکلوري غاړه وړاندې کیږي :

د ښنګل سردار په کورکې

خدای دې د سپین مامدخان لوی کې»

دښنګل خان په‌باب داځلو رغاړې دښاغلي‌محمد ابراهیم عطا یی له یادا ښتو څخه را اخیستې سوی دي :

ښنګل‌سري ارمان‌يې‌ډېر دي      يا کاکـړ له غموسپر دي

ښنګل‌سړ تول يې دغره دي      ګړ د کاکړ بې په نامه‌دي

ښنګل سړ کاکړ خبر سو      په ږوب تند ربـرابرسو

ketabton.com - The Digital Library



بنگل مه مینځی پـردړو          بنګـل پیردی دکـاکـړو

ماخذ :

۱ - پښتوا و پښتانـه پـه سهیل پښتونخـوا کـی د پـروفیسر کاکړ اثر- ۱۸۷/۱ مخ          ۲ - دښاغلی عطایی یاداښت

## ۱۵٦٦- بنگی الینگاری :

بنگی‌شاه مشهور په‌بنگی‌د پښتو ژ بی‌اسی شاعر دلغمان په‌الینگار کی او سېده او دتوری جوړو لو کسب‌یې کاوه په اشعار و کی

یې کله‌د«بنگی» او کله‌د«بنگی‌شاه»په‌نامه خان یاد کړی .

اشعار یې بر اولسی او زانو و یلی‌او شاگردان یې‌هم درلودل چی‌دده‌په پیروی یې‌شعر و نه و یل :

یو شعر یې دغازی محمدجان خان و ردگ‌په‌ستاینه کی(د۱۲۹٦هق) کال دملی جهاد دپیښو په‌باب و یلی‌دی چی له‌هغه ځخه څرگندیږی چی«بنگی» تر هغه وخته‌ژ وندی و دغازی محمدجان خان دستاینی سر بی‌دادی :

رحمت‌دی وی یارانو په غازمحمدجان‌خان

یو دی و ، له سر د انو

ولاړ لکه زمری، وپیر نگی ته په میدان

قـاتـل د کـافرانو

مأ خذ :

فرهنگ زبان و ادبیات پښتو - ۷۸ مخ

ketabton.com - The Digital Library



## ۱۵۶۷- بو لعجب کابلی:

شیخ بو العجب ددری ژ بی‌لەظر یفو شاعرانو څخەو ، چی«بوالعجب »یې‌هم دظرافت له‌مخی خانته تخلص ټاکلی‌و ، بیاهم درویش مشر به‌سړی و وایی‌چی پر ډنگر آس به‌سپور ، تیر کبن‌به‌یې له‌غشو ډ ک تر ملاتړلی‌او ماته‌لیندی به‌یې پر اوږه، دکابل په‌بازاراو کوڅو کی‌به گرزیده، او په همدې ډول به‌یې‌خلګنو او نورو کو روته ورتی‌ء

د(۹۷۵هق)په‌شاوخواکی په کابل کی‌مړدی دخواجه عنبر ناظر په باب یې دا بیتونه ویلی وو:

آن‌خواجۀ عنبری که‌دنبر واری
افتد بزمین مثال زنبر واری

هرجاکه برفت رفتم ازدنبالش
هرگه‌که‌براند را ندم العزواری

هرگاه که گیرداو عنان شانم
درخدمت شه‌ستاده قنبرواری

مأخذونه:

---

۱-سکینة الفضلاء-۷۵مخ

۲ - تاریخ افغانستان درعصرگورگانی هند - ۲۲۹ مخ

۳ - آریانا مجله - ۲ کال ۱۱ گڼه - ۵۰ مخ

ketabton.com - The Digital Library



## ۱٥٦۸ـ بو سعید کابلی :

خواجه‌میر سعید الدین دخواجه میر سعدالله‌زوی او ددری ژبی شاعرو په په(۱۱۹۸ هـ ق ) کال‌د کابل د«تنگی‌سیدان» په سیمه کی زیږ یدلی،او خپله لو مړنی علمی زده کړه‌یې په‌هغه سیمه کی پای‌ته و رسوله ، او بیاد کابل ښار ته راغی‌ء او ددې ښار دعاشقان او عارفان په‌محله کی‌او سېداو دیو ه‌جومات امام و ، روسته بیاهندته‌ولاړ ، او پس له یو څه و خته بیرته کابل‌ته راغی‌ء او په‌تصوف کی‌دطر یقت‌یو سالک‌سو ، او په (۱۲۸۳ هش) کال کی‌بو سعیدد پنځه اتیاو کلو په‌عمر په کابل کی‌مړ سو ، او دخواجه‌صفادغره په‌لمنه کی ښخ دی .

بو سعید په‌خپلو غزلو کی کله‌د «بو سعد» کله«دسعدالدین» او زیا تره‌د «بو سعید»په‌نامه ځان یادوی .

دده د اشعارو دیو ان تقر یباً پنځه‌زره بیتو نه‌لری او یوه قلمی نسخه یې د اطلاعاتو او کلتو ر په عامه کتابخانه کی سته ، او بله نسخه یې د کابل دمشهورشاعر او عالم مرحوم هاشم شایق په‌کتابتون کی‌وه .

دا غزله دده ده :

ساقی بیا رباده که کارم ز دست رفت

دردهٔقدح قدم که عیش‌بهارم ز دست‌رفت

واقف شوی اگر زدلم جای رحمت

دستم بده که دامن یارم زدست رفت

از عقل و علم و دین و دل ما خبر مپرس

بیچاره‌ام اکنون که چهارم زدست‌رفت

ketabton.com - The Digital Library



از اشک خون چو خط بنگارم بهر زمین
برجاس زانکه پای نگارم زدست رفت
در انتظار روی تو خشک است چشم من
آن دولتی که بد بکنارم زدست رفت
بودم بصید خویش که ناگاه تیر عشق
بنمود صولتی که شکارم زدست رفت
گر ناله بشنوی زمن ایندم عجب مدار
ای «بوسعید» که صبر و قرارم زدست رفت

---

او دا هم دده یوه غلور یزه :

ای چشم تو غارتگر دین و دل من
خال تو نشسته در کمین دل من
از گلشن روی تو بیرون شد خط سبز
جز مهر نروید ز زمین دل من

مأخذ :

---

پښتو آریانا دائره المعارف ـ م/۵۲۲ مخ.

## ۱۵۶۹ـ بوعلی شاه :

دپښتو ژبې شاعر و، او په (۱۲۸۳ ه ق) کال یې یو کتاب د«فرعون دقصې په محفل پوری) په پښتو نظم کړی دی .

مأخذ :

---

پښتو آریانا دائرة المعارف ـ م/۵۲۶ مخ

## ۱۵۷۰ـ بوعلي هروي:

د دري ژبې شاعر، او د امیر علیشیر نوائي معاصر و،
امیر علیشیر لیکي چې: «لېوني غوندې ګرزي: که لېوني نه وي بوعلي
به یې تخلص نه کاوه»
داهم سړی د رلو دچه بوعلي غوندي سړي خو لیوني سو، خپل ځان ئې د زمانې یګانه
سړی باله ـ دا بیت ددهٔ دی:

خلقی براه عشق تو آسوده می روند      عاشق منم دگر همه بیهوده می روند

مأخذ:

---

مجالس النفائس ـ ۸۰، ۲۵۵ مخ.

## ۱۵۷۱ـ بلوک نیکه:

د خپل وخت نومیالی روحاني عالم او په خته نورزی او د کندهار د سپین بولدک کې
درباط په کلي اوسید او همهلته مړاوښخ دی
د پرعوام یې زیارت ته ورځي، په تېره بیا د لېوني سړي دارلي نا روغان یې له زیارته سرسته غواړي
اصلي نوم یې معلوم نسو، اونه یې د ژوند نېټه لاس ته راغله ـ یوازي د کندهار د پنجوائي
د تلوکان اوسېدونکي د پښتو او دري ژبې پښتو خواني صوفي شاعر ملاحسن اخون په خپل
یو غزل کې «درباط» بوټي داسې یاد کړي دی:

سپینې پښې «درباط» پر بوټي وسوې      خپل آشنا په تش نظر نه را ته ګوري
ماوېل زه به لادید ن کړم دیارانو      یاران تللي سپینې پاتې تشي توري

له دې بیتو څخه داسې اټکل کېدای سي چې بولک نیکه دی د ملاحسن آخون ملګری وی او
څنګه چې ملاحسن اخون په (۱۲۳۵ هق) کال کې مړ دی نو د بولک نیکه ژوند د(۱۲۰۰ هـ)

ketabton.com - The Digital Library



کال په‌شا وخوا کی اتکلولای سو-خود پښتانه‌شعرا دوهم ټوک ۷۹۳ مخ کی لیکلی سوی دی چی ملاحسن آخون د پوټی میا نور محمد ته‌عقیده درلوده‌نوښایی چی په‌پورته بیت کی له«پوټی» څخه همغه«پوټی»مقصدوی چی میانور محمد پکښی‌اوسید.

په‌هرحال په سپین بولدک کی د«بولک‌نیکه» په‌نامه‌زیات مشهور دی.

مأخذ:

---

شخصی یاد داښت

## ۱۵۷۲-بولی بلند:

نومیالی پښتون‌تیرسوی دی،چی‌د کویټی‌د کچلاغ نومی‌سیمی‌ته نژدې‌دغره‌پرسر ښخ دی،دده‌زیارت‌ته زیات‌خلک ورځی‌او‌ډیرعقید تمندان‌لری.

مأخذ

---

مزارات-دشاغلی میا ل کاکړ -۱۶ مخ

## ۱۵۷۳- بهاالدین بلخی:

مولانا بهاالدین دبلخ له‌نومیالیو پوهانواو عالانوڅخه‌وچی یو کتاب‌یی د«تاریخ الا- کبرفی‌طبقات العلماواخبارهم» په‌نامه تالیف کړی‌دی‌او یوه‌نسخه‌یی‌دانګلستا ن داکسفوردپه کتابتون کی سته.

پلاریی‌محمد نومیده‌او اونیکه‌یی برمکی ابن‌خلکان‌و.

په(۶۸۳هق) کال کی مړدی.

ماخذ

---

پښتوآ ریانادایرة‌المعا رف. ۹۹۳۵مخ

ketabton.com - The Digital Library



## ۱۵۷۴ - بهاالدین سام غوري :

په دې نامه د رتنودال شنسب له پاچهانو او اميرانو څخه په غور او تخارستان کې حکومت کړی دی: لومړی سړی په (۵۴۴ هق) کال پر امارات کښېنوست، او دوهم سړی په (۵۸۸ هق) کال اميرسو، او دريم په ديرلس کلنۍ کې امارت ته ورسېد.

دغوريانو په کورنۍ کې دري پاچهان وو، چې دری سره د «بهاالدين سام» په نامه ياد بدل :

يو بهاالدين سام بن عزالدين حسين دسلطان علاالدين غزنوی ورور (۵۴۴-۵۴۵ هق)

او دوهم بهاالدين سام دغياث الدين محمودزوی (۶۰۷ هق) او دريم بهاالدين سام دشمس الدين محمد باسيان له سلوکو څخه (د ۵۹۰-۶۰۲ هق په شاوخوا کې) و.

ماخذونه :

---

۱- لباب الالباب ۵۷۴ مخ ۲- لغتنامه ب ۳۹۶ مخ

## ۱۵۷۵ - بهاالدین عمر هروی :

شيخ بهاءالدين عمر چغاره دهرات له نوميالیو عارفانو او شيخانو څخه دی. دفراهی شيخ محمد خورېي او مريد و، او څيني تذکره ليکو نکي يې دشيخ رکن الدين مريد بولي او ليکي چې: « از وتا شيخ رکن الدين علاالدوله مثل او کسی باين سلسله برسجاده تقوی نشسته» ( ۱ )

په فراه کې زيږېدلی او په هرات کې يې وده موندلې او زده کړه يې کړې ده، په کوچينوالی کې جذبه پر راغلی وه او دژوند تر پايه په جذبه کې و، حتی د نمانځه پروخت به يې يو څوك دځانه سره کشينا وه چې د ې در کعتو په شمېر خبری کړي. دهغه وخت پاچا او اميران به يې خدمت ته ورتله او ده به هم هغوته دعدالت او احسان توصيه کوله او زيار به يې يوست چې دظالم لاس دمظلوم له گريوانه لنډ کړي.

---

(۱) آريانا مجله - ۳ کال - ۷ گڼه - ۵۵ مخ

ketabton.com - The Digital Library



خواند میردحبیب السیر مؤلف لیکی چی یوکال په هرات کی و باراغله دهرات خلک شیخ بهاؤالدین عمرته ورغلل اوخپنی وی څوښته چی دعاوکړی ، شیخ ورته وویل چی : «منتقم جبارد قهر په داسی سرتبه کی دی چی هرڅوک چی د دعا دپاره لاس پورته کړ لاس یې وباوهی او که څوله دشفاعت دپاره پرانیزی ژبه یې وچیږی » وایې چی خلک شیخ زین الدین ته ورغلل هغه دعاوکړه ، ژبه یې و باو وهله اوله هغه څخه مړ سو .

شیخ بهاؤالدین په تل روژه ود چاتحفه اوهدیه یې نه منله پرخپلې روزی قانع و .

مولاناجامی دده په باره کی لیکلی چی :

« هغه وخت چی به یې فقیران د حقیقی مطلوب خواته متوجه کول او ترغیبول دا بیت به یې وایه :

دلارامیکه داری دل درو بند

دگر چشم از همه عالم فرو بند

دعمر په پای کی دنو رو دیرو مخو رواو علماولکه مولاناسعدالدین کاشغری (چی په ۸۶۰ هق کی مړ دی) او مولاناشمس الدین محمداسد (چی په ۸۴۲ هق کی مړ دی) او مولانا سعدالدین فرخ ، او خواجه زین الدین خوافی ، او مولاناقطب الدین ظهیری او مولانا شریف الدین عبدالقهار ، او مولانا تاج الدین حسن ، او خواجه شهاب الدین اسماعیل حصاری او نورو سره دشاهرخ میرزا په وخت کی له هراته دحجاز خواته ولاړ ، او دمکې تر حج ومدینی تر زیارت و روسته بیر ته راغی او د (۸۵۷ هق ) کال دلو مړی خور ( ربیع الاول) په ۷ دسه شنبی په ورو رخ مړ ، او دهرات دمختار دغره په لمنه کی د هرات دعیدگاه شمال ته ښخ کړه سو .

ketabton.com - The Digital Library



وايي چي ميرزا ابوالقاسم بابر دشيخ له كلي «چغاره» څخه دده جنازه پرخپلو اوږو اوچته کړه، او دده خلف الصدق شيخ نورالدين ته يې پاتاور کړه .

مولانا شريف الدين عبدالقهار دده په وپرنه کې دا بيتونه وويل :

قدوة العارفين امام بحـق

قطب الاقطاب عصر شيخ عمر

در ربيع نخست وفصل ربيع

سوی فردوس کرد عزم سفر

در سموات غلغلی افتـاد

چون بکر و بيان رسيد خبر

پر تر از سدره بارگاه زدند

که شهی ميرسد ز ملک بشر

عقل ميخواست نام و تاريخش

«گفتمش قطب اهل کشف عمر»

- ۸۵۷ ه ق -

بيا نو ميرزا ابوالقاسم بابر دده پر قبر باندی په خپلو ډېر وشخصي پيسو دانی ودانه کړه .

مأخذ :

---

آريانا مجله - ۳ کال - ۷ گڼه - ۵۵ مخ

د ښاغلي محمد ابراهيم خليل ليکنه -

ketabton.com - The Digital Library



## ۱۵۷۶ ـ بهاءُ الدین (ملا):

ملابهاءالدین پهختهساگزیدپښتوژبی پوخ لیکوال دکندهاردښار دبرو پهبازار کی اوسېده پهدری او عربی هم پوهېده، او دکندهاردادبی انجمن غړی و، ددلیکنی دهغهانجمن په پښتوسجله کی چاپسوی دی. دی تر (۱۳۳۴ ه ش) کال ورووستهمړدی.

فرهنگ زبان و ادبیات پښتو - ۸۰ مخ

## ۱۵۷۷ ـ بهاءُ الدین نوربخش:

شاه بهاء الدین نوربخش دشاهقاسم نوربخش فاضل او لاد، او دخپل وختنو سیالی عالم و، دعلم سره یې زهد هم درلود، او دسلطان حسین میرزا پهوروستیو وختو کی له عراقه هرات ته راغئی، او دخواجه افضل الدین محمد کرمانی پهخانقا کی یې چی دعراق تر ورهدباندیوه و اړول، اوسلطان حسین میرزاورتهپهدرنه سترگه کتل، او هغه وخت چی سلطان حسین مړ سو، او په خراسان کی دنفاق او پریشانی اوربل سو، نو شاه بهاءالدین آذربایجان ته ولاړ او هلته مړ سو.

مأخذ:

---

حبیب السیر - ۱۱۵/۳ مخ

## ۱۵۷۸ـ بهادر خان:

دشاه حسین هوتک دعسکری قواو نوسیالی سپهسالار و، چی په (۱۱۳۸ ه ق) کال یې د «شال» او «ږوب» سیمی فتح کړې دېرېیې هم ونیولې او شاه حسین ورته د «ورور» خطاب کاوه، او عواسو «امیر لامراء» باله، او دپټی خزانې مئولف یې دشاه حسین هوتک بازو بولی او د «صدر اکابر دوران» او «خان عالیمکان» او «صدر الزمان» په القابو یادوی

ketabton.com - The Digital Library



بهادرخان دمیرویس نیکه په وختو کی هم دآزادۍ غوښتونکو په لومړیو ډله‌کی و لاړو، او په هغه اولسی جرگه کی یې دخپل تبر دمشر په توگه گډون کړی و، چې د میرویس نیکه له خوا دپردیو متجاوزینو پر خلاف جوړه سوی وه

دپټې خزانې مؤلف محمدهوتک یې داسی ستایی :

«په دې دوران په کندهار کی مشهور دی، په بهادرۍ او په تور یالیو الی معروف، دپادشاه ظل‌الله یاز و دی، او دلښکرو سالار، شال او ږوب کلاوی یې فتح کا، او ډیرې یې ضبط کا، دبری سمند یې هری خواته چې مخ کا، هغه ځای اخلی، او بری یې له ازله په برخه دی؛ په کندهار کې ټول خلق پېژنی، او محتاجان او فقرا یې په کرم او سخاوت ماړه دی، دجود لاس یې زر بخش دی، او هر کله دغریبانو دستگیری کا، پادشاه عالم پناه شاه حسین یې په «ورور» خطاب کا، او عوام یې په «امیر الامراء» یادکا؛ خان عالیمکان په علومو کی عالم دی، او په اشعارو بی نظیر، شعرا او علمأ په لاس د کرم پالی، او هیڅکله یې مجلس له دی طایفو خالی نه وی، او په صله کی په دوران طاق دی، او په بښندنه علمأ ته حاتم دی - چې له سفره راسی علمأ او شعرا سپلمه کا او دوی ته بښندنی وکا خالق تعالی دی دا کریم دوران او حاتم زمان تر ډیره ژوندی وستاتی آمین یا رب العالمین» .

دمحمدهوتک له لیکنی څرگند یږی چې بهادرخان سربیره پر هغه چې یو نومیالی سپه سالار و، دشعر او ادب او علماؤ سره یې هم دزړه مینه درلوده او په خپله هم د پښتو ژبې شاعر و او اشعار به یې پر اولسی وزن ویل، او د پښتو ژبې دآثارو په راغونډولو کی یې زیار یوست - لکه محمدهوتک چې دعبدالقادرخان ختک حدیقه په خپله دناظم په قلم د بهادرخان سره لیدلې وه، دی دعبدالقادر په باب لیکی:

ketabton.com - The Digital Library



« په سنه (۱۱۱۵ ﻫ) یې یو بل کتاب نظم کاچې نو م یې ( حدیقه ختک ) دغه کتاب ما په سنه (۱۲۰۳ ﻫ) له صدر الزمان بهادر خان سره ولیدلچې د مؤلف په دسخط و د بهادر خان دامت شوکته (۱) همې روایت کاچې په دیره ما دغه کتاب وسو ندچې دیوختک په ضبط کې و . »

محمد هو تک د بهادر خان یو ه بدله چې پر اولسی و زن یې و یلې وه هم په پته خزانه کې راوړی ده او لیکلی یې دی چې :

« همی و ایی کاتب الحروف محمد هوتک غفر الله ذنوبه و ستر عیوبه ، چې خان عالی مکان ددی کتاب دپاره له خپلو اشعار و خخه ماته یو ه بدله راکړه چې دلته یې ثبت کوم ، چې کتاب له ذکر خیر ددی حاتم زمان خالي نه وي ، او هر څوک چې یې و لولي دعا و رته وکا ، هغه بدله دا ده :

بیلتون په زوردی تر لیمو سی سهانم څاڅی

لکه شبنم څاڅی

داسره یاقوت می په لمن کی ستا په غم څاڅی

په غم الم څاڅی

گوره لیلی باران داو بوستا په چم څاڅی

خنسگه پر چم څاڅی

* * *

راغله لیلی په شیتکی خال نخاپه گلو کوی

په سرو منگلو کوی

---

(۱) دیره : مقصد دیره اسماعیل خان او یاد یره غازیخان ده

ketabton.com - The Digital Library



سهار چې و زی سیل کا ، بڼ غ د بلبلو کوی

گل په او بلو کوی

ملا لی ستر گی کاسیه په و یر ژلو کوی

ز یب په کجلو کوی

دڅ و بل ز ړه و ینی په هر گړی هر دم خاخی

لکه شبنم خاخی

* * *

ښکلې نجلی! دباغ په لو ر مه څه نخا مکوه

عاشق رسوا مکوه

و ر یت سوی ز ړه سی دی سین یو ری خندا مکوه

را شه جفا مکوه

زه یم پتنگ ته یی ډیوه ماجلبلا مه کوه

نو ر ظلم بیامکوه

یم ستاله عشقه لیو نی پر ما ، ماتم خی

غم او الم خاخی

مـا خذ :

پټه خزانه - ۱۱۱ ، ۱۲۱ ، ۱۲۵ مخو نه

د کابل - لوسړی چاپ

ketabton.com - The Digital Library



## ۱۵۷۹- بهادر بدخشي :

دسعيد بدخشي زوی دهندداکبر پاچاپه وختو کی دتربت دسیمي واکوال و او هغه وخت چی د«بهار» دصوبې امیران اکبرپاچاته پورته سول اودده پلار سعیدهم دیاغی امیرانو سره یوځای سو،نوبهادرهم د خپلو اکی اعلان وکی او په خپل نامه یې سکه ووهله اوخطبه یې وویله چی پرسکه باندی دابیت کیندلی سوی و :

بهادرابن سلطان بن سعید ابن شه سلطان

پسر سلطا ن پدر سلطان زهی سلطان بن سلطان

بیا چی دده پلار دمعصوم خان کابلی په وینا خپل زوی بها د رته ورغی بهادر بندی کی ؛ هغه وچی داکبرپاچا له خوا صادق خان دیوه لوی لښکرسره دبهادرمقابلی ته ورووت اودسختی جګړې په پای کی بهادرووژل سو .

دده دوژلو کال ( ۹۸۸ ه ق =۱۵۸۰م ) کال و .

مأخذونه:

---

۱ - مأثرالامیرا- ۳۹۰/۱ مخ ، ۲ - اکبر نامه -۳/۳۸۳- مخ

## ۱۵۸۰- بهادر خان روهیله :

ددر یاخان داودزی پښتون زوی او په هندکی د شاهجهان پاچاله نومیالیو سالارانو او امیرانوڅخه و .

هغه وخت چی شاهجهان لا شهزاده و، بهادرخان دخپل پلارپه واسطه دهغه سره آشنا سوی و،اوبیا چی شاهجهان د پاچهی پرتخت کښېنوست دده یې د څلورو زرو پلیواو دوو زرو سپیروسنصب ورکی اود« کالپی »دسیمي جاګیر اودهغی سیمي دسرکښانو سرکوټل یې هم ورو سپارل .

دې هم د شاهجهان د پر تخت کښېناستلو په لومړي کال د عبدالله خان فیروز جنګ
په مله ګرۍ د کالپي خواته رهي سو. خو چې د «جهجهار» د سیمې یاغیان ایل کړي،
او تر سختې جګړې وروسته یې پر دښمن بري وموند او د دغه بري له امله د شاجهان
له خوا «نغاره» ور کړه سو.

تر هغه وروسته د دکن د ناظم اعظم خان په مله ګرۍ د خانجهان لودي استیصال
ته ورګمارل سو.

خو خانجهان لودي په ډېره مېړانه ور سره جنګېد او بهادرخان دوه ځایه ټپي سو.
پر مځکه ولوېد د خانجهان جګړنو غوښته چې سر یې پرې کړي خو خانجهان
پرې نه ښوول او بهادرخان ژوندی پاته سو.

د شاهجهان د جلوس په شلم کال د عادل خاني لښکر و سره په جګړه کې هم ټپي او بې هوښه
شو چې بیجا پورته یې بندي بوت او د شاهجهان د جلوس په پنځم کال د عادلشاه له خوا ایله
کړه سو، او شاهجهان ډېر و نازاوه منصب یې ور لوړ کړ او وبیرته دا کاپي او قونوچ
جاګیر ور و سپاره او د «ملکوسه» د سیمې د سر کښناو سر کوټلو ته یې وګماره د ډېري
وو ژل او کورونه یې وروران کړه، او د زړو رتوبانګازي یې هر لورته
خپرې سوې. تر هغه وروسته بهادرخان په راجا جهار سنګه بندیله پسې
ولاړ او هغه ته یې هم ماته ور کړه.

په دې توګه بهادرخان روهیله د شاهجهان پاچاد وخت په زیاتو جګړو کې خپله
توره ځلولې او مېړانه ښکاره کړې وه چې تفصیل یې د «مآثرالامرا» د
کتاب په لومړي ټوک کې راوړه سوی دی.

هغه وخت چې شهزاده مراد بخش د بلخ خواته راغی هم دا بهادرخان ور سره و، او کله

چې شهزاده مراد بخش له بلخه کابل ته راوګرځېد د بلخ صوبه داري او د هغه ولایت انتظام یې اصالت خان په اتفاق بهادرخان ته وسپاره[۱] او بیا چې شاهزاده محمد اورنګ زیب د بلخ ولایت ته راغی نو بهادرخان یې د ازبکانو سره جګړې ته وګماره. که څه هم بهادرخان په جګړه کې ډېر زیار ویوست خو د ده رقیبانو شاهجهان ته داسې ورسوله چې ګوا کې بهادرخان په خپل کار کې سستي کړې ده ځکه یې نو ده د کال پې او فو نوج جاګیر ضبط کې او د ده زړه هم ماتسو خوچه، (۱۰۵۹ هـ ق) (۱۶۴۹ م) کال د رجب د میاشتې په نولسمه او دجولای په نولسمه په داسې حال کې چې د شهزاده محمد اورنګ زیب په ملګري کې یې د قندهار قلعه محاصره کړې وه د ساه‌لنډۍ له ناروغۍ څخه مړ سو. او نواب غلام حسین دده د مړینې نېټه په دوو بیتو کې داسې وویله:

فخر هندوستان بهادرخان که جهان قائل شجاعت اوست

مردوداغ فراق رابگذاشت داغ جان درسین رحلت اوست

د هند په (یوپي) کې «د شاهجهانپور» ښار د شاهجهان په نامه همده ودان کړی دی.

ماخذ:

۱- مأثر الامرا - ۱/۴۱۲ مخ تر ۴۲۰ مخ پورې - په اردو ژبه

۲- پادشاهنامه - ۱/۱۰٦ مخ

## ۱۵۸۱- بهادرخان لواڼی :

د محمدشاه په نوم یې له (۹۲۳ هـ ق څخه تر ۹۳۷ هـ ق پورې) د هند پر « بهادر « بهار » حکومت کړی او ددر یا خان لواني زوی و.

طبقات اکبري لیکي چې د غه افغان په خپل نامه خطبه جاري کړه[۱] او سکه یې ووهله او ده هم د په وخت کې بابر پر بهار باندې یرغل وکی[۲].

مأخذونه :

---

۱- طبقات اکبري - ۲- د هند په تاریخ او مدنیت کې د افغانانو برخه - قلمي - ۸٦ مخ

ketabton.com - The Digital Library



## ۱۵۸۴ـ بهادرخان لودی :

توریالی بهادرخان دخانجهان لودی وراره او د محمدخان لودی زوی و، د هند دمغلو په دربار کی یې یوزری منصب درلود ، څلور سوه یې سپاره وو .

د «راجوري» په جګړه کی چی په (۱۰۳۹ ه ق) کال کی پیښه سوې وه دده توریالیتوب او سپرانه غلیما نولاهم منلی وو .

خافی خان لیکی : «بهادرخان توریالی» د راجوړي» په جګړه کی ښې توره ووهلې پای ته د ډیرو تېوله کبله غوزا رسو، له ډېره غیرته بیرته راوغورځېد، توره یې و کښله او په خوزا سپړانه یې پرغلیم بریدوکړ ، آخر دغلیم په تو پک وویشته سو، اوولوېد، پای ته «پرسرام» نومی راجپوت چی د راجا بهارسنګ له ډلی و، پرراوغځستل ، غوښته یې چی ددې سپړنی زمری ککری غوڅه کړی ، خو هغه زمریالی پښتانه په دغه حال کی جمدر له سلار او کیښی او هغه راجپورت یې پرو راته وویشت او د «پرسرام» جمدرد بهادرخان پرغاړه برابر سو، ککری یې ځینی پریکړه ، او دلاس دګوتمی آس ، توری اوسپر سره یې خان اعظم ته وروړه ، خان اعظم د توریالی بهادرخان ککری د «بیر» د کلاپه وره وځړوله او دلاس ګوتمی یې چی دده نوم پرلیکلی و ، شاه جهان لره « بر هانپور » ته ویږله او شاه جهان مغول ډیر په خوښ شو .

مأخذونه :

---


۱ـ لودي پښتانه ـ دپوهاندرشا دتالیف ـ ۳۳۸ مخ

۲ـ پادشاهنامه ـ ۲۷٦/۱ مخ

۳ـ سیر المتاخرین ۲۵۷ مخ

ketabton.com - The Digital Library



**۱۵۸۳ـ بهادر سیستانی :**

بهادرخان دسیستانی خانزمان وورور درے ژبی شاعرو ، ښه طبع یې درلودله او دا بیتونه دده دی :

آن شیخ چه پیشه دل سنگ گرفته ‌ ‌ ‌ گویا بمن خسته ره جنگ گرفته

بنشسته بمسن برسر مسند خوبی ‌ ‌ ‌ شاهی است که جا برسر اورنگ گرفته

مأخذ :

---

پښتو آریانا دایرة المعارف ۳ - ۵۴۵ مخ

**۱۵۸۴ـ بهادر خراسانی :**

محمد سلیم بهادر محمد اکبر خراسانی زوی ددری ژبی شاعرو ، او په شعر کی سلیسه او روانه طبع درلوده له خراسانه هندته تللی و ، او دسند په شاوخوا کی مړدی .

دا بیت دده دی :

شده مائل بتان دل عاشق مزاج من

غیر از وصال هیچ نباشد علاج من

مأخذ :

---

پښتو آریانا دائرة المعارف - ۳/۵۴۷ مخ

**۱۵۸۵ـ بهادر کوهاټی :**

شیخ عبدالله معروف په حاجی بهادر د خپل وخت نومیالی عالم اولیکوال و . په (۹۸۹ هـ ق) کال په اګره کی زیږیدلی او په (۱۰۹۹ هـ ق) کال په کوهاټ کی مړ او هملته ښخ دی .

ketabton.com - The Digital Library



دهپه تصوف کی هم لاس درلود اودمشهور آدم بنوری لهخلیفه گانوڅخه و .

د کریمداد پرالفنامه باندی یې په دری ژبه لویه شرحه لیکلې ده چې « مفتاح الدقایق » نومیږی .

مأخذ :

---

فرهنگ زبان‌وادبیات پښتو-۸۰ مخ

## ۱۵۸۶- بها گل :

د وزیر فتح‌خان مشهور په اشرف الو زراسنکوحه ماندینه‌او د سربلندخان او شاه‌پسندخان مور وه .

دنو ای معارک د مولف د لیکنې سره سم‌دبهاگل ، دکشمیرداروباب شاه ( ندیانو)څخه .و ه چې په نوای معارک کې یې داسې یادونه راغلې ده :

«خسروقلم شرین رقم، فرها دوارکندن‌بیستون این‌مدعا، چنین بیان‌می‌نماید : که‌اشرف الوزرا وزیرفتح خان از کمال تعشق‌مسمات « بها گل »از ارباب نشا ط کشمیر درسلک ا زدواج خود آورده بود ، با و بسیا ر صحبت و د لبری داشت ، و ازدو فرزند متولد گردیده ، یکی مسمی به سر بلند خان‌ودیگرشاه‌پسندخان،ازقضاً کردگار درحین تولدشاه‌پسند خان مسماة مذکور سرحیات درنقاب تراب کشیده، اشرف‌الوزرأ ازسوزوگداز مفارقت‌اوبجنون‌وارصحرا نوردلیلی جمال حیرانی‌اوبوده بعد روزچندایام تدارک همبستری‌سوفو ره داشت درسنه یکهزارو دوصدو سی‌ویک هجری در ایام زمستان باتفاق شاه‌محمود خان از کابل برآمده ، رونق افزای پشاور گردیده ، در انجا دختری جمیله که خورشید خاوری از حسن دلاویزش ، اقتباس نور نماید ، و قمر

ketabton.com - The Digital Library



باین همه دلبری، مستفاداز جمال بلا انگیز اوشود از دو دمان قاضی خیلان که از قدیم بارباب دول قرب ومنزل دارند ، بدست آورده درشب اول گوهر ناسفته اش ، بسوزن الماس جفاسفته ،وآب وتاب ازغنچه بکارتش از گلبن وجودش ریخته ،باز بخانه فرستاد ، وبمنزله سرو او را از بهر جهان آزادی بخشید .

وباز دران روزها ، ارباب نشاط از کشمیر دختری آورده نه دختری بل ماه آسمان خوبی ، وخورشید اوج محبوبی ، وشرین باین همه حسن که داشت چون سها پیش آفتاب متصور ، و لیلی باین شورش جمال ،چون لیل پیش نهار همانا گلدسته ایکه از بس لطافتش آب از چهره گل رفته ،وازنهایت نزاکتش شاخ گلبن ،خارخار حسرت شده .

اشرف الوزرا نادیده به مقتضا :

نه تنها عشق از دیدار خیزد　　　بسا کاین دولت از گفتار خیزد

شیفته جمال با کمال اوشده وبزور اورادر مشکوی اقبال برده ،صاحب خانه ساخته ، گلهای عیش و عشرت زبوستان محبت اوسی چید ، وهر روزه مجلس آرای ، و شمع نای ونوش ،وتماشای لولیان روشن بوده . میراسماعیل شاه وکیل ناظمان حیدر آباد و خالویم شیرمحمد خان وکیل والیان خیر پور ، بجهت مبارکبادی نزداشرف الوزرارفتند ، وهدیه سنگینی پیشکش نمودند ،اشرف الوزرانهایت خوش شده وتماشای لولیان بوکلای مذکور ،معه اکل وشرب عطانمود وهم خلا فاخره عوض مبارکبادی مرحمت فرمود »

مأخذ :

---

نوای معارک - تا لیف منشی عطا محمد شکار پوری -

چاپ کراچی -۲۰۴ مخ

ketabton.com - The Digital Library



## ۱۵۸۷ـ بهاول خان:

دپښتوژبې شاعرو، اود «بنو» په سیمه کې یې ژوند کاوه ـ په یوناني طب کې هم لوی کې لاس درلود ، او پلار یې شادی خان نومېد.

ده دزیتون جنگنامه په پښتو نظم ترجمه کړې ده، او ژوند یې ددیرلسمې هجرې پېړۍ په پای اټکل سوی دی. دا بیت دده دی:

بهاوله تل گویا په دې گفتار شه
د نبي د پس روانو خدمتگار شه

مأخذ:

فرهنگ زبان و ادبیات پښتو - ۸۰ مخ

## ۱۵۸۸ـ بهادر (ملا):

په پښتوژبه ددیني او مذهبي موضوعاتو له ناظمانو څخه و، داوسني پېړۍ په سر کې دپښتوستان په سیمو کې اوسېد. دده څو مناجاتونه اومنظومې خطبې سته دابیت دده دی: دبهادرویل به هلته درپه کار شي په لحد کې چې شي سوال رباني

مأخذ:

فرهنگ زبان وادبیات پښتو ـ ۹۷ مخ

## ۱۵۸۹ـ بهاول خان:

دپښتو ژبې شاعر و، او دپښتو ز د بنو په سیمه کې یې د یوناني طب طبابت کاوه. د پلار نوم یې حکیم شادی خان و.

« دجنگنامه زیتون » په نامه یې یوه قصه په پښتو مثنوي ددهکنې ژبې له یوه کتاب څخه په ۱۲۸۵ ه ق کال کې ترجمه کړې وه.

ketabton.com - The Digital Library



څه موده په سوات کې اوسېد ، اودسوات «باباجي صاحب » ته يې عقيد درلودله « د جنګنامې » د سر بيت د داسې دی :

د کونينو خاوند ته يې ای سبحانه
هم خالق رازق د هر چا ذوالمنانه

او د کتاب د نظمولو سبب داسې بيانوی :

بهاول تل ګويا په دا ګفتار شه
د نبي د پس روانو خدمتګار شه
اوس سبب دديې کتاب واوره له ما نه
په د هکنی زبان رقم و ، زما جانه
مشتهر وه په قصه د زيتون ګوره
عجائب د محمد حنيفه روره
مخيل شوم په خپل زړه کې دا کتاب
افغاني ژبه روان کړم په شتاب
په پښتو مې کړه بدل هندی زبان
چې عجب وه حنيفه زيتون بيان

د کتاب په پای کې وايي :

له فساده شه آباد داکل جهان
فتنې پورته شوی بې حده دا زمان
پلار او زوی بې اتفاق شول وئې ګوره
محبت شه بر طرف درور له روره

ketabton.com - The Digital Library



استادان او شاگردان‌صاحب عناد شول

دازمان کی‌بیخ کندو نکی‌دبنیا دشول

عزت نه‌گو ری دنیاوته یې مخ دی

څوک‌چی‌ترک که‌داخصلت‌دهغه سخ دی

بهاوله ! ته‌گویا په‌استغفار شه

لـه فساده لـه عناده تو به گار شه

یې‌غریب عاجز مسکینا وبی‌نصیب

په‌داملک کی‌یې‌مشهوره‌په طبیب

قصه‌تم شوه اې زما یاره دلداره

لاڤی‌نه‌کړم خبردار شه‌اې هوښیاره

شین اونون وبی‌اوهی له‌ایامه (۱).

دغه‌حال‌وه ویې‌گوره صاحب‌نامه

وۀ تاریخ یو و یشتم‌د دویم خو ر

سن هجری«غرفه»(۲) کی‌گوره‌په هرطور

بی‌اوهی‌الف اولام کړه نورتمام (۳)

که‌هوښیار یې‌فکر وکړه دا ده نام

شین الف او دال او یا و خاو نون (۴)

زما پلار دی دا مصرع کی ذوفنون

---

(۱) یعنی « شنبه » (۲) ۱۲۷۵ ه ۱

(۳) بها ول (۴) شا د ی خا ن

ketabton.com - The Digital Library



دا مشهور په حاو کاف و یا و میم (۱)

که ته هوش کړی نوربه ز رشی پری فهیم

د ل رنجه شو په اتمام د دې بیا ن

آخرکار دی تا سف ا و دی ارما ن

مأخذ :

تپرهپرشاعران ـ ۲۰۷مخ

## ۱۵۹۰ـ بهاءولد بلخی :

سلطان العلما بهاالدین محمد دحسین خطیبی بلخی زوی معروف په «بهاولد» دشپږمې هجری پیړی په پای اوداوومې هجری پیړی په سرکې له سترو نومیالیو صوفیانو او عارفانو څخه تېرسوی دی، اودشرق د اسلام نړی دسترصوفی او نومیالی شاعر مولانا جلال الدین بلخی پلار و .

دبهاولد پلارحسین داحمد خطیبی زوی هم دخپل وخت له زبرګانو څخه ګڼل کېده او درضی الدین نیشاپوری مشهور شاعر استادو اومورېې دخوار زمشاها نوشاهی کورنۍ ته منسوبه وه ، اودخطیبی د کهول نسبت بیاابوبکر صدیق ته رسېده .

بهاولد په طریقت کې د شیخ نجم الدین کبری لاس نیوی کړی نو د هغه له خلیفه ګا نو څخه و .

دزیاتی پوهۍ له امله یې خورا اغیزه ناک اوله تاثیره ډک مجلس درلود ، ځکه نو خورا ډیروګړی پرراغونډېدل اوله همدی سببه خوارزمشاه رو ځینې دارېدو ، خوچې بهاو

---

(۱) یعنی « حکیم »

ketabton.com - The Digital Library



يې دبلخ اوخراسان په پرېښودلو مجبور کړی ء، اوپه دې مجبورۍ کې د امام فخر رازي سره دبهاولد دنظر اختلاف هم بې اغیزې نه و، نو ځکه بهاولد په خپل کتاب «المعارف» کې پرمحمد خوارزمشاه اوامام فخر رازي باندې حملې کړې دي، او دوې د واړه په مبتدعه ډله کې راوړي اودخپل کتاب په يو ځای کې ليکل چې :

« فخر ر ا زی و زین کیشی و خوا ر زمشا ه را و چند ین مبتد ع دیگر بودند ، گفتم تمام صدهزار دلهای با راحت و شکوفها و دولتها را رها کرده اید ، و در ین دوسه تا ریخ گریخته اید ، و چندین معجزا ت وبراهین را مانده اید و بنزد دوسه خیال رفته اید، این چندین روشنایی آن مدد نکرد که این دوسه تاریکی عالم رابرشما تاریک دارد؟ واین غلبه بهراز آنست که نفس غالب است وشمارابی کار می دارد ، وسعی می کند بدی وچون بی کارباشید همه بدی کرده شود وتاریک ووسوسه وخیال وسوداهای فاسده وضلالت پدید آید ، از آنک عقل غریبست ونفس در ملکت خودست، وآن مملکت ازآن شیاطین است ، و این دنیاست که ماحضرست و حجابست از در غیب ... (۱).

په يو بل ځای کې هم د امام فخر رازي په نسبت دخوارزمشاه تينګ ارادت ته اشاره کوي او وايي چې :

« ده خپل يو مقرب ته ويلي دي چې هرځای چې دامام وعظ کوي «باکمر زرو کلاه مغرق بر پایهای منبروی نشیند » او بيايي نو امام مبتدع بللی او د کلام الله شخه یې دده تأ ويلونه اشاره کړې د ه او ويلي يې دي :

«... اسباب نزو ل آیات و نحوها وحکمتها واشعار وامثال می گوید...

---

(۱) کتاب المعارف - د ۱۳۳۳ د تهران چاپ - ۱-۸۲ مخ

ketabton.com - The Digital Library



و محمد علی حکیم ر ا سلطان او لیا سیگفت او ، جهو دا ن بنز دوی نور یته سی خو اند ند من چو ن بشنید م این نوع سخن ، و خود را بهیچ نوعی سوازنه ندیدم نه تصورسوازنه یافتم گفتم من همچون یکی آحادی ام اندر جهان بیان ، تاسلامتی آن جهان طلبم ، اکنون چنگ از گفت و خلقان بدارم و هیچ مر تبه و جاهی نجویم بـا هیچ خلقی ، هـر کجا افتادم ، افتـادم وهر کجا برخاستم برخاستم ، اگر چه خلقی نظار ه گرمن باشند التفات خود ر ا ازخلقان پا ک کنم واصغای ایشان واپیش خودنیارم واز هیچ فضیحتی احترازنکنم ، همان انگارم که کلوخی ام ، الله مرا از حال بیحالی می گرداند تامرا کجارساند وکجا اندازد وبچند صفتم گرداند ، اذاوقعت الواقعته برخواندم ، خودراچودیواری دانستم که فرو افتادم تا کدام اجزام را خفض کندو کدام رارفع کند ...» په دی خبرو کی په صراحت بهاء ولداسام فخر رازی او دحکمت او کلام نو ر و پو هانو ته مبتدعه ویلی دی ، خوشنگه چی هغوی دخوارزمشاه له خواحمایه کیدل نوبهاولدخپل خان ددوی په موازنه کی نه موندہ اووطن پریښوولوته چمتوسو ، اوډقراینوڅخه څرګند یږی چی د( ۶۱۰ هق) په شا وخوا کی یی له بلخه هجرت کړی دی ، ځکه چی دده دهجرت په وخت کی دده زوی مولانا جلال ا لدین بلخی شپږ کلن و ، اوځنګه چی مولانا په (۶۰۳ هق) کی زیږیدلی نودده هجرت بایدد ( ۶۱۰ ه ق) کال په شاوخوا کی و .

دا کتر ذبیح الله صفا په « تاریخ ادبیات در ایران » کی لیکلی چی دده په نظر د بهاء و لد مهاجرت په مطلق ډو ل د مغو لو د حملی له ډاره نه و ، ځکه چی دمغو لو د حملی ډار تردې پیښی دری څلو ر کاله و ر و سته پیدا سو ه او شپږ کا له پس عملی سو ه .

ketabton.com - The Digital Library



بهاءولد د هجرت په لار کې نیشاپورته ورغی او د شیخ عطار سره یې وکتل او شیخ عطار د «اسرارنامه» کتاب ده ته زوی جلال الدین ته (چې وروسته مولانا جلال الدین شو ) ده ډیر په توګه ورکې ـ بانو بهاء ولد له نیشاپوره بغداد ته اوله هغه ځایه مکې ته ولاړ، او بیا له هغه ځایه د شام اوروم لوری ته رهی شو او خو کاله یې د ارزنجان او ملطیه او لا-رنده په ښار وکې تیر کړه او تر هغه وروسته د علاالدین کیقباد د سلجوقي په بلنه «قونیه» ته ولاړ او هملته پاته شو، په وعظ او ارشاد یې خوله پورې کړه ، ډیر شاګردان او مریدان یې وموندل، خو چې د افلاکي په روایت د( ۶۲۸ هـ ق) په دوهمه خور، او د دولتشاه سمرقندي په روایت په ( ۶۳۱ هـ ق) کال په داسې حال کې مړ شو چې دنیا ته یې یو خوراستر معنوي شخصیت لکه مولانا جلال الدین بلخي روزلی پریښود .
سربېره پر هغه یې یو کتاب «دالمعارف» په نامه خپل یوازنی اثر پریښی دی چې د ده د شلو مجلس او مواعظو یوه ګټوره مجموعه ده چې په خپله یې د کتاب په شکل ترتیب کړې وه. داکتر صفا ددې کتاب په باب لکلي چې :

« درین کتاب حقایق عرفان ودین وتفاسیر وتأویلاتی از آیات قرآنی بابیانی شیو اودل انگیز و بافصاحتی کم نظیر مورد بحث قرار گرفته است وسخن گوینده چنان شیرین ودلپزیر است که در بسیاری از موارد در لطافت بشعر میرسد و در عین حال شامل بسیاری از لغات وتعبیرات وترکیبات نادر پارسی است که مسلما تحت تاثیر زبان تخاطب بلخ بوجود آمده است .

هر بحثی یا هر مجلسی با بیان هرحالتی ازاحوال که بهاولد آنها راموضوع گفتار یانگارش قرار داده یا عنوان فصل ذکر شده و بدین ترتیب کتاب المعارف

ketabton.com - The Digital Library



که خود کتابی عظیم است از عدهٔ بسیار فصول ترتیب یافته است - »

مأخذونه :

۱- تاریخ ادبیات در ایران -۲/۱۰۱۹ مخ

۲- المعارف - ۱/۲۴۵ مخ

**۱۵۹۱- بهرام :**

د پېښوردسیمو د پښتوژبې اولسی شاعرو اود(۱۲۵۰ ه ق) په شاوخوا کې یې ژوند کاوه یوه بدله یې د «جم هٔ وار مستتر» په کتاب» د پښتنخواد «شعرها ربهار» کې راغلی او هغه داده :

معمور نه شوم زه په وصال د دلبر
شوګیرې کړم مدام پسې زه شوم اوتر

سپین مخ دې ګلزار توری زلفې سنبل
مروارید دې دندان دواړه لب دی سره زر

ستا مقام دی په ښار خبر دارشه ښارو
زه مین په تا ډیر که ته وکړې باور

سپین مخ دی آیین (۱) زنخدان دی ګبین
تول صورت دی سیمین تجلی کا دنمر

---

(۱) د هنداری په معنا

ketabton.com - The Digital Library



سپین مخ دی چراغ څما ره شه پري داغ
ما نیولی دلبار ستا په وخت د سحر

چي عاشق دی «بهرام» ستا صفت یې کلام
په سلام دی مدام که ته ورکړی سلام

مأخذونه:

۱ - پښتانه شعرا - ۲/۵۵۱ مخ
۲ - د پښتنخوا هارو بهار - ۱۳۳ مخ

## ۱۵۹۴- بهرام تګاوی:

د پښتو ژبي شاعر اود (۱۲۳۹ ه ق) کال په شاو خوا کي د تګاو په سیمه کي زیږیدلی، وسا په ولسی اوز انویی هم شعرونه ویل چي پښتني سندرغاړو به په خپلو سند- رو کي ږغول دده په اشعارو کي د مینی دردپټ دی اودا ده دده د کلام نمونی

په هر بڼ کي چي بلبل وهي نا ري
حواله کړي په غمجن زړګي اری

هغه وریځ را باندي تپره شي په غم کي
چي دی وګورم په مخ زلفي خوری

د زړه داغ می پسی لاهسی بتر شي
چي دری کړی په داسپین تندی سوري

په لیمو به یې قبول کرم کبرنه کړم
ستا د درخس وخاشاک سپیري ایري

ketabton.com - The Digital Library



د هغو په زړه کې هـوش او طاقت ورک شي
څو ک چې اوري «د بهرام» د خولې مسرې

نه وينم په ستر گو د خپل يار بشر عالمه
ما لره را نغې چې را تلو ته يې وم په تمه
و سوزې نصيبه دا په تا خه اپت پروت دی
و سومه په سينه کې د يار لکه داشمه

زه شورو فرياد کړم سلامت نه يم سين بم
کله آه او سوز کوی له سينې نه بېغمه
نه وينم راحت بې له زحمته په خپل عمر
نه سی شي بې ياره په دا نورو شکايودمه

وبه سرې «بهرامه» عاقبت په دی سود اکې
تا چې ځان د سينې اورته وراندې کړو يکدمه

ماخذ :

پښتانه شعراء ۷۰۶ مخ

**۱۵۹۳ـ بهرام پېښوری :**

د پښتو ژبې شاعر و، او د( ۱۲۵۰ هق) کال په شاو خوا کې پېښو ر په سيمو کې او ـ سېده، او هم هلته زېږېدلی دی.

دارمستتر مستشرق دده نو م او شعر ضبط کړی دی، او دا بدله يې «د پښتو نخوا ـ هار و بهار» کې راغلې ده :

ketabton.com - The Digital Library



معمور نه شوم زه په وصال ددلبر
شوگیرې کړم مدام پسې زه شوم او تر

سپین مخ دی گزار تور ی زلفی سنبل
سرو اریددی دندان دو اړه لب دی سره زر

ستا مقام دی په ښار خبر دار شه ښارو
زه سپین په تاچیر که ته و کړې باور

سپین مخ دی آیین زنخدان دی گبین
تول صورت دی سیمین تجلی کا دلبر

سپین مخ دی چراغ زما زړه شه پری داغ
ما نیولی د لبار ستا په وقت دسحر

چی عاشق دی «بهرام» ستا صفت یې کلام
په سلام دی مدام که ته ور کړې سلام

مأخذونه :

---

۱- د پښتنخوا هار و بهار- د کابل چاپ - ۳۴ مخ

۲- پښتانه شعرا - ۲/ ۵۵۱ مخ

## ۱۵۹۴- بهرام خان ختک :

دخوشحال خان ختک هغه ناا هله زوی و ، چی دخپل ستر پلار په مقابل کی پاخېد او دخپلو شخصی غرض او خود خواهی د پاره یې دخپل پلار دملی مبارزو به لاره خنډونه اچول .

ketabton.com - The Digital Library



بهرام د(۱۰۵۳هق-۱۶۴۳م) کال په‌لوسړی‌خور زیږیدلی و ،چی پلار یې دده دزیږیدو نیټه پرنیکمرغه نیولې وه ،او دزیږیدو کال یې د «بخت باباآمد» له‌جملې څخه را ایستلی‌و ، لکه چې ویلی یې دی :

دریا والف ماه ربیع‌الاول

بهرام‌آمدبروی‌رخشنده چوماه

تاریخش « بخت بابا آمد »

زین‌جمله‌شودجیم هزارو پینځاه(۱)

خو له بده مرغه دباباد بدبختی سبب سو ، او چې خوشحال‌خان سړ کېده‌نو خپله فرزندانوته‌یې وصیت‌وکئی چې :« که‌سو بهرام و ړاندی‌و روستو په لاس کښېوزی سریې کړی، نیمایی یې‌دماسرته ،نیمایی یې‌دما پښو ته وسبځی؟، هاله‌به‌دماروح تاسو خوشنو دشی»(۲) بهرام‌له‌یوی خواپه‌خپله دقوم‌دسرداری او خانی لیونی‌ؤ اوله‌بلی خوادهندمغولی‌حکمران سهابت‌خان‌دبهرام‌خان‌له‌دې‌خو دخواهی‌څخه استفاده‌وکړه‌او دی‌یې‌دخپل پلار«خوشحال‌خان» په‌مقابل کې‌و باراوه،نوځکه بهرام هم‌دخپل پلاراو هم دخپل‌ورو راشرف‌خان هجری‌چې‌دواړه‌دهنددمغلو دتسلط پرضد مبارزه‌کوله مخالف‌سو- د اشرف‌خان ځکه مخالف‌و ، چې د خوشحال خان دبند یگرت په وخت د اولس سرداری اشرف خان ته‌سپارلې سوی‌وه او خوشحال خان هم هغه دمشرتوب وړباله .

---

(۱) تاریخ سرصع- دپېښور چاپ -۵۸ ۲مخ

(۲) تاریخ سرصع-دپېښور چاپ- ۱۸۳مخ

ketabton.com - The Digital Library



بهرام خان مهابت خان ته ورغئ او هغه ته یې ورو کې چې دخپل پلار پر خلاف دده هر حکم ته چمتو دی او مهابت خان هم له خپلې خوا د مرستې ورو کې هغه و چې د (۱۰۸۳ هق=۱۶۷۳ م) کال د ذیقعدې او مارچ په پای کې دخوشحال خان او بهرام خان ترمنځ وړې وړې جگړې پیل سوې او همدا راز د (۱۰۸۴ هق ۱۶۷۳ م) په محرم کې بیا د پلار او زوی ترمنځ جنگونه وسول چې په دې جنگو کې خوشحال خان بری وموند او وروسته دا سې وړې جگړې او شخړې د بهرام او دده د پلار خوشحال خان ترمنځ پیښې سوې دي چې تفصیل یې په خپله دخوشحال خان په «کلیات» او دافضل خان ختک په «تاریخ مرصع» او د استاد دوست محمد کامل په «خوشحال خان ختک - سوانح حیات او ادبي آثار پر تبصره» کتاب کې راغلې دی.

خو دلته دنمونې په توگه دخوشحال خان له کلیات څخه د بهرام په باب کمې څو شعرونه راخلو خوشحال وايي:

دبهرام له حاله څه وایم و چا ته
حال د خپل زوی په ښکاره دی و باباته

هم فضول هم مزور هم مذبذب دی
هم یکرنگ و یل به نه کاندی و چاته

په یوه ذره کې پاسه په اسمان شي
په یوه ذره کې ځي تحت الثری ته

دخپل خوی په گرداب ونو کې غوټه خوري
دا عادت به یې رد نشي ترمرگ ته

ketabton.com - The Digital Library



تا هنر دسر داري نه زده بهرامه
سر داري دي په خپل دو ر کړه بدنامه

هم تمامي خپلخاني لره بلاشوي
هم خپل خان لره بلاشوي بدفرجامه

تاطاهر د کم عقلي په جرګو سړ کړ
او س فارغ شوي دطاهر له انتقامه

تاخپل خان لره دمرګ رخنه پيدا کړه
خپلخانه دي په بدخوي کړه بي آرامه

په داهسي بدخويي بي بخته نه يي
چي لانه يې دخوني هاتي تر زامه

مشر و رو ر دي په زندان کړ ته خاني کړې
داخاني دي شه په خان پوري حرامه

چي خاني ته دي هوس د زړه په زور کړ
لاځايي وه ستادزړه انديښنه خامه

نو ر دي نو م دما دزو يو په شمارمه شه
د خوشحال ختيک و ينا په داتمامه

بهرام بچه دي بد رنګـــد
رنګا رنګ زيور پري پوري

که زيورو رځني واخلې
نور به نه پوري په توري

ketabton.com - The Digital Library



که احمق په دولت ښه شي
کټه تري و لاړ شي خو د به ګوري

الله و يښت لرم زويه
نغښته يو د بل په رنګ

بهرام هغه خنزير دی
چې لايق دی د تفنګ

خو که بهرام غوندی منحوس بدبخت بخيل شي
په شامت يې خپلخانه شي تار په تار

منافق لئيم ، مردود د زماني شي
دخپل پلار سره آغاز کاندی کارزار

ابلهی بدګماني ترهسی حده
ترنظر يې له وسوسه ښه هم بده

بدګوی خست بد نيت تردا پوهورته
سکه و رونه يې پردی کړل له حسابه

که به نيت که ښه خلقت که سخاوت دی
دايي واړه له زړه لاړله خولې له يده

په مجلس يې پرآمد له منځه تللی
بل منه کور يکښې خطابي خو شامده

چې په ملک د پلار غايم هغه يې ستر ګی
په دوستانو يې د پلار کينه بې عده

ketabton.com - The Digital Library



کەدباغ انگو ر يې ډېر وی‌و خپل پلار ته
مگر درست ژ نـکو ری و رکا له سبده

دژ و ند يو دز ړه‌ر نځ دی‌دسـړ و شر م
په ژ و ندون دبابا و رشه تر لحده

دخو شحال‌عقل‌خطانه‌و ،نو ر خه‌و
چې‌خانې‌يې‌په‌بهر ام کړ له نامز ده

دخو شحال‌دپو رتنی‌شعر له‌و رو ستی بيت‌څخه‌داسی‌څر گنديږی‌چې‌خو شحال‌خان په لو سړی سر کې بهرام ته هم خوشبينه و ، او خا نی يې دده په نامه کړې‌وه‌بلکه ‌هيوه بله‌پغزل کی‌يې دخانی‌چل‌اوچلند‌هم ورښوولی‌ؤلکه‌چې‌وايې:

زمازړه‌له‌چانه روغ‌نه‌دی بهرامه
دهرچاسره‌سی‌زيست‌دی له‌نا کامه

نوکری څوانی‌دا دواړه لکه‌بام‌دي
په پيری کی له لاړل دواړه پا مه

اوس دادواړه‌بامه‌ستاد ی ننداره کړه
غافل‌مه‌شه‌يو زمان ترصبح وشامه

په‌دا اوښی باندي چې‌ستا کجاوه ا يښې
رسوه يې چې پری نوزی تر مقامه

څودای دا ننداره شی شکروکاړه
په‌چانه‌وي دا خو ښی علی‌الدوامه

تو لاتبـر ا بو يه په‌اسلام کی
چې‌يې‌نه‌وی هغه‌نه‌دی‌له‌اسلامه

ketabton.com - The Digital Library



اهل شرته دشاهین سنگل پیدا کره
اهل خیروته حلیم شه ترحمامه

خودی توان توفیق رسیږی بیرون مشد
په هردم دپښتانه ننگ و ناموس

ته دچاو جام ته هیله امید مکړه
حریفان دی باده نوش وی ستاله جامه

دگنگاش د پرخاش به ځوانان پیدا کړه
چی پری چارد ملک و مال شی انتظامه

خوره خوروه ، گټه ساته د کارد پاره
کامرانی شی د دنیاله سرانجامه

په سر دا رو ته دنوم خزانه بویه
که نور هیڅ ور څخه نه وی بی له نامه

ورکول، تو ری وهل دادوار ه بویه
چی پری چارد سرداری شی انصرامه

یا تکیه دیوه خدای ده یا د توری
په جرگو مرکو نشی کار تمامه

که سردار د خلقو زړ لری هنره
بندوبست دعالم نشی بی صمصامه

رخنه گرد ملک په خو نه ماران دی
چی ماران دخونی شته خو بی کدامه

ketabton.com - The Digital Library



که دی نقش د توری کښېنې راته غوړ کړه
کامرو ا به شي هاله له هره کامه

رعایت له رعیته سره ښه دی
دا هاله چې بېرون نه وی له احکامه

محوجفادخپلو و ړی هو نبره به ښادشی
که د خپلو جفا سخته وی مدامه

ښه محوانان به خپل هو د پرې نږدي له لاسه
که یې سرشی دخونی مزری تر زامه

کته ل توری غشی خوری ساتی د جنګ ورې
مردبه سو ر نشی به زره له انتقامه

کلیله دمنه بهسو کړې راشه ګوره
چې څه درسی درته توی کړه د کلامه

چې دی زره هغه ګوهر به پکښې مومې
که پرې يوه شي له آغازه تر انجامه(۱)

خو له هغو اشعارو څخه چې تردی شعر دمخه را وړه سوه معلو مېږي چې بهرام د خپل پلار دا نصحیت منلی نه و، بلکه بالعکس یې د هغه سره مخالفت پیل کړې و، څو چې دوسره په تنګه کړی و چې په پای کې یې

---

(۱) داقصیده او پر ده وه دلته یې خوپېته را واخستل سول .

ketabton.com - The Digital Library



هاق هم کې لکه چې پخپله خوشحال خان وایي :

په دا هونبره قباحت اشرف عاشق نشو
چې بهرام دا هسې عاق شوخه حکمت دی

چې وعقل ته ددو اړو نظر وکړې
پروت ددواړو په وجود کې حماقت دی

د بهرام تېرې په دادې په بـدې کې
چې لړلی ددنیا په محبت دی

خدای د ې داعلت نصیب دهیچا نه کا
ددنیـا محبت سر د هـر علت د ی

لکه نیت د بهرام خه و ، هسې و شو
د سړ ی دچارې کل مدار په نیت دی

په داهسې وخت چې دوردفسا ددی
پلار ناحقه د فرزند په تربیت دي

چې خپل پلار شړی په تو ر و په لښکرو
په داهسې زويو سل ځلې لعنت دي

که څوك شته چې په داچارو نظرو کا
ځا ی د پند دنصیحت ځا ی دعبرت دی

زوی له پلار نه ویزارشي پلار له زویه
قباحت د ی، قباحت د ي قباحت د ي

سره له د ی تولوبدیو چې بهرام خان درلودلې بیاهم څنګه چې دفضل او

ketabton.com - The Digital Library



ادب د کورنې غړی و ، د ادب سره یې مینه د زړلو دله ـپه تېره بیا په خوشنویسی کې د یر ماهر وه چې حتی په خپله هغه‌پلاره چې دده له لاسه یې د بری ناخوالی لیدلی وی دبهرام د اکمال داسی ستایی :

عطار ددی نور قلم له‌لاسه کښېږدی

چې په داخوبی بهرام انشا اسلاکه

مأخذونه :

---

دخوشحال خان‌ختک کلیات ـ د کندهار چاپ ـ ۲۱۵ ـ ۵۸۶ ـ ۶۲۷ ـ ۹۷۲ ـ ۹۷۸ ، ۹۸۴ ـ ۱۰۳۴ ، او نور مخو نه

۲ ـ تاریخ مرصع د پېښو رچاپ ـ له۲۷۲ مخ څخه تر۳۸۱ مخ پوری

۳ ـ خوشحال خان ختک ـ سو انح حیا ت او د ادبی آثار پرتپ صره ـ له ۱۴۷ مخ څخه‌تر ۲۰۸ مخ پوورې‌داستاد دوست محمد کامل لیکنه .

## ۱۵۹۵ـ بهر امشاه غز نوی :

دمسعودزوی ، د ابراهیم نمسی ، دمسعود کړوسی اودسلطان محمودغزنوی کړوسی دغزنی له نوسیالیو پاچهانو څخه و .

هغه وخت چې بهر امشاه خپل ورور ارسلانشاه چې‌د( ۵۱۰ ه ق) کال د کوچنی اختر د میاشتې په شلمه دسلطان سنجر سره په‌جګړه کې ی‌ماته کړی‌وه و واژه ـنو پخپله‌دسلجوقیانو په‌مرسته‌په ( ۵۱۲ ه ق ) کال‌په غزنی کې‌دپاچهی پرتخت کښېنوست ۱ و دالوس‌ړې ځل و ، چې دده په‌وخت سلجوقیان غزنی‌ته‌راغلل.

سید حسن غزنوی دهغه‌وخت نامتو شاعردده دجلوس په‌باب‌یوه قصیده وو ۲ه

ketabton.com - The Digital Library



چی یو بیت یی دا دی :

سنادی بر آمد ز هفت آسما ن          که بهر امشا هست شاه جها ن

خو په‌حقیقت کی د ده خو په‌د جلوس ورځ د غزنی د امپراتوری دد سقوط

د پیل اود آل‌ناصر د بدمرغی ورځ وه.ځکه‌نود غزنی ستر حکیم ابوالمجد مجدود

سنایی د بهرام شاه د پردیو د سلطی خطرته داشان ملتفت کاوه او ورته‌ویل یی :

ملک چون بوستان نخندد خوش

تا نگرید سنان چون آتش

بکن از خون دشمن آلوده

تیغ های نیام فرسوده

من نگویم که تیغ بردون زن

گردن گرد نان گردون زن

خصم خود را به‌تیغ بردر پوست

که دو سر در یکی کله نه نکوست

تنگ باشد یکی جهان ودو شاه

عیب باشد یکی سپهر ودو ماه

همدا دسلجوقیانو راوستل وو،چی‌دغورامیران یی پر بهرامشاه باندی

په قهر کړه او دغزنی ښکلی ښار یی وران کیء .

په‌هرصورت،بهرام شاه‌په‌غزنی کی له (۵۱۲ ه‌ ق) کال‌څخه‌تر (۵۵۲ ه‌ ق) کال

پوری پاچهی وکړه‌چی‌زباته‌مودهٔیی په آرامی‌تیره‌سوی ده.دده‌القاب‌مورخینو‌داسی

راوړی دی «السلطان الاعظم یمین الدولة وامین الملة ابو المظفر بهرامشاه» او کتب‌ت

ketabton.com - The Digital Library



هغه القاب دي چې سترسلطان محمود غزنوي ځانته ټاکلي وو .

د بهرامشاه د پاچهۍ په وخت کې دوې پېښې زیات اهمیت لري او د یادولو وړ دي : یوه پر هندوستان باندې یرغل او بل دغور د امیرانو سره جګړه ، چې ددې دواړو پېښو لنډیز داده ول دي :

محمد باهلیم چې دارسلانشاه غزنوي په وختو کې دهندوستان سپه سالارو ، د بهرامشاه د پاچهۍ په وخت کې یې دده له حکمه سرو غړاوه ، بهرامشاه په (۵۱۲ هـ ق) کال لاهور ته لښکر ویوست او باهلیم یې ونیو ، خو تر ګناه یې وړتیرسو ، او بیرته یې دهندوستان سالاري ورکړه او پخپله غزني ته راوګرځېد .

څه موده وروسته باهلیم د « سوالک د » ولایت « د بیره » په سیمه د « ناګور » په نامه یوه ټینګه کلا ودانه کړه او بیا یې بغاوت ته ملا وتړله ، چې بهرامشاه یې مجبور کې چې د باهندوستان ته لښکري وباسي ؛ هغه ، چې بهرامشاه دلسوز روسپرو سره په ملتان کې د باهلیم د دوو سوو زرو جګړنو سره مخامخ سو ، او باهلیم په جګړه کې دخپلو دو زامنو سره په هغه خندق کې ډوب سو ، چې دوی د بهرامشاه او د بهرامشاه د لښکر د ډوبېدو لو د پاره کیندلی و ، او بهرامشاه بیرته بریالی غزني ته راستون سو ، او دابراهیم علوي زوي حسین یې دهند په سالاري وټاکه .

څه موده وروسته ددوهمې ناوړې پېښې سره مخامخ سو ، او هغه داوه چې ملک الجبال قطب الدین محمد غوري د حسین زوی له خپلو ورونو څخه خواشینی سو ، اوله غوره څخه غزني ته ولاړ ، څنګه چې ډېر ځوانمرده ، سخي او ښکلی زلمی و ، ډېر ژر یې دغزني په خلکو کې محبوبیت پیدا کې ، او ډېر خلک ور باندې راغونډ سول ځکه نو بهرامشاه له هغه څخه و بېرېده او په پټه یې دچا په لاس زهرورکړه وې یې واژه . سلطان سیف الدین سوري

ketabton.com - The Digital Library



د غور پاچاچې د خپل ورور له وژلو خبر سو ، د غزنی خواته یې لښکر ویوست بهرامشاهانې و کړه د هند خواته و تښتید، خوشګه چې له یوی خوا سلطان سیف الدین خپل غوری لښکر غورته رخصت کړه او له بلی خواژ می‌را ورسېدا و د غور او غزنی ترمنځ لاری واوروبندی کړې نو د غزنی خلکو بهرامشاه احوال ولېږه چې سیف الدین په غزنی کی بې لښکره پاته دی د راتګ وخت د غه دی. بهرامشاه په تلوار غزنی ته ځان راورساوه، سیف الدین سوری د غورخواته وخوځېد خو بهرامشاه لښکر ورپسی واستاوه او تر یوی سختی جګړې وروسته چې د سلطان سیف الدین په تیر کېن کی یو غشی هم پاته نسو، نو سیف الدین سوری د بهرامشاه د لښکر په لاس کښېووت او بیرته یې غزنی ته راووستاو په غزنی کی د بهرامشاه په امر په ډېری ناسردی او رسوایی د خپل وزیر سید مجدالدین موسوی سره د «طاق» پر پله په غرغره وځړول سو ، بیا یې سر ځینی پر یکړ او بغداد ته یې سنجر ته ولېږه .

قاضی منهاج سراج جوزجانی په طبقات ناصری کی د سیف الدین سوری دوژلو صحنه داسی ښیی :

«سوری با خواص خود که از غور بود ند ، و با وزیر سید مجدالدین موسوی بیرون شده و راه غور گرفت، سواران بهرامشاهی او را تعاقب نمودند تادر حدود سنگ سوراخ او را در یافتند. سلطان سوری با تنی چند معدود که بود، با سواران بهرامشاهی بجنگ پیوست، تا ممکن بود سوار قتال میکرد، چون پیاده شد، پناه بکوه برد، او و وزیر و خواص او تا تیر در کیش داشتند، هیچکس را امجال آن نبود که پیرامن او گشتی. چون در تیر کش او تیر نماند او را بعهد و دست راست بگرفتند و بدست آوردند، چون بدر شهر غزنین رسید دواشتر بیاوردند، بریکی سلطان سوری

را برنشاندند، وبیا یکی وزیر او سید مجد الدین موسوی را گرد شهر غزنین تشهیر کردند واز بالای خانه ها خاکستر و خاشاک ونجاست در سر مبارک ایشان می ریختند تا بسر پل طاق غزنین رسیدند ـ سلطان سوری ووزیر او سید مجد الدین موسوی هردو را صلب کردند وازپل بیاویختند، وچنین ظلمی و فضیحتی بران پادشاه خوبروی ستوده سیرت عادل وشجاع بکردند، حق تعالی سلطان علاءالدین حسین را که برادر سلطان سوری بود نصرت بخشید تا آن حرکت و فضیحت را انتقام کرد (۱)»

دا ناوړه خبر د برېښنا په څېر دغور په غرو کې خپور شو او د تالندې په شان یې آزانګه وکړه، او دغور پاچا سلطان بهاالدین د مخه تر هغه چې د خپل وژلي سوي ورور د پاتا پر کسبله کښېني دغور، گرمسیر او غرجستان څخه یې خو را لوی لښکر سره راغونډ او پر غزني یې د یرغل تکل وکې، خو چې د گیلان سیمې ته ورسېد له ډېره غیظه نا روغه او مړ سو.

دده پر ځای یې ورور سلطان علاءالدین کښېنوست او هغه هم دلوی لشکر سره دغزني پر خوا رارهی سو، له دی خوا بهرامشاه د خپل لښکر سره زمیندا ور ته ځان ورورساوه، او علاءالدین ته یې پیغام ولېږه چې: «بازگرد بجانب غور، و مملکت اسلاف خود قرار گیر! که ترا طاقت مقاومت حشم من نباشد، که من پیل می آرم (۲)»

علاءالدین جواب ورولېږه چې: «اگر تو پیل می آری، من خرپیل می آرم، مگر ترا غلط می افتد که، برادران مرا هلاک کرده یی ـ و من هیچکس ترا هلاک نکرده ام،

---

(۱) طبقات ناصری - ۱/۳۹۳ مخ

(۲) طبقات ناصری ۱/۳۴۱ مخ

ketabton.com - The Digital Library



مگر نشنیده یی: که حق تعالی(ج) میفرماید و من قتل مظلوماً فقد جعلنا لولیه سلطاناً فلا یسرف فی القتل انه کان منصورا(۱) سلطان علاء الدین خپل دوه نامتو پهلوانان وروغوښتل چې یو حسین او بل خرمیل سام بنجی نومېدل او د غور د لښکر زړورسالاران وو، اودوی ته یې وویل چې: «بهرامشاه ساته پیغام رالېږلی و، چې (زه پیل راولم) اوما جواب ورولېږه چې: که ته پیل راولې زه خرمیل راولم- نو نن ستاسی ورځ ده چې یو یو پیل چپه کی» هغه وچې جنګ ونښت چې دهاخوا پیلان راغله اوله دی خوا خرمیلان ورغله

قاضی منهاج سراج د پیلانو او خرمیلانو دجګړې صحنه داسی ښيي :

«گویند هردو لښکر را مصاف شد در وقت مصاف هردو پهلوانان پیاده شدند، و دامنها زره در میان باز زدند، و بمصاف در آمدند . چون پیلان بهرامشاهی حمله آوردند هریک ازآن پهلوانان بریک پیل درآمدند و در زیر برگستوان پیل رفتند و به دشنه شکم پیل برد ریدند - خرمیل سام بنجی در زیر پیل بماند و پیل بروی افتاد، او با پیل هلاک شد و خرمیل سام حسین پیل را بینداخت و بسلامت بیرون آمد»

تردرو جنګوو روسته چې په زمینداور او تکین آباد او غزنی و سوه علاالدین د غزنی پاچهی و نیوله او دغزنی ښار ته یې اور واچاوه (چې داور آچولو او نورو پیښو تفصیل به ددی کتاب د«ع» په ردیف کی دعلاالدین جهانسوز» ترنامه لاندی راورسی ) او( ۵۴۵ هـ ق ) یا ( ۵۴۶ هـ ق ) کال و، چې بهرامشاه د وروستی ځل د پاره د هندوستان خوا ته وتښتید او پرلاری مړسو، خو د طبقات ناصري مولف ایکي چې وروسته هغه وخت چې سلطان

(۱) طبقات ناصری ۱/۳۳۱ مخ

ketabton.com - The Digital Library



سنجرسلجوقي ،سلطان علاالدين ته‌ماتي و رکړه بهرامشاه،بیرته غزني ته‌راغی‌ء او دلته مړ سو، او دده د پاچهی دوره یو خلویښت کاله ګڼي ( ۱ )

سګر حمدالله مستوفي لیکي چي بهرامشاه غزني ته د عـلاءالدين تر رسيد و او دغزني دښار تر ورانولو د مخه په (۵۴۳ ه ق )کال کی مړ دی .

خواند میر بیا په دی عقیده دی چي بهرامشاه غزنی د علاالدوله تر رسیدو د مخه په ( ۵۴۷ ه ق کال) کی مړ دی.

ابو القاسم فرشته بیا لیکی هغه وخت چي دبهرام شاه زلمی زوی دولت‌شاه‌چي دده دلښکرسپهسالار و ، دسلطان‌علاالدين سره په جګړه ووژل سو،دبهرامشاه زړه ولو یدء معنویات‌یي بایلول او د هندوستان خواته‌ولاړ اوپرلاری دخپل زوی له ویره په (۵۴۷ ه ق) کال‌کی مړ سو .

لکه‌چي‌مورخین لیکي‌بهرامشاه یوعلم‌دوسته‌او ادب‌پالونکی پاچاو،دده‌دربارو دپوهانو او ادیبانو تاتوبی‌ؤ.دهغه‌وخت‌لو یوپوهانواوشاعرانودده‌په‌نامه کتابونه و لیکل چي‌دهغو له‌جملی‌څخه‌دحکیم سنایی‌حدیقه اوبهرامشاهی کلیله ودمنه دیادولوور‌ډی، اوهم‌حکیم‌سنایی‌اوسعودسعد سلما ن دده‌په دربارکی‌ژوند کاوه.

مأخذونه :

۱ـطبقات ناصري ،۱/۳۴۱، ۳۴۳، ۳۹۴ مخونه ۲ـسلطنت‌غزنويان ،۲۶۰ مخ

۳ـتاریخ دیالمه‌وغزنويان ،۳۶۱ مخ

۴ـپښتواریاناداثرةالمعارف۴/۵۵۵ // ۵ـتاریخ فرشته .

---

( ۱) طبقات ناصري ،۱/۳۴۲ مخ

ketabton.com - The Digital Library



## ۱۵۹۶ـ بهرام لودی :

دسلطان بهلول لودي نومیالی نیکه و ،چی دفیروزشاه باربک په وختو کی ملتان ته تللی او هلته میشته سوی و .

دخورشید جهان‌سولف‌یې د«ملک‌بهرام» په‌نامه‌یادوی اولیکی :

« آورده‌اند که‌درعهد فیروزشاه با ربک ملک بهرام جدملک بهلول بملتا ن آمده» ده‌پنځه زامن درلودل‌چی‌یوملک اسلام‌خان‌چی‌وروسته‌په«سلطان‌شاه»مخاطب‌سو،اوبل ملک کالا د سلطان بهلول لودي پلار،اودرییم‌ملک‌فیروز،اوڅلرم ملک محمداوپنځم‌ملک خواجه نومیدل .

ماخذ :

خو رشید جهان-۳۰۷مخ

## ۱۵۹۷ـ بهرامی سرخسی :

ابوالحسن دبهرامی‌دناصر الدین‌سبکتگین‌دوختودرپېژ بی‌شاعرؤ ، او یوه رسا له یې د «خجسته» په نامه دعروض په‌علم کی لیکلې‌وه .

په( . . ٥هق) کی مړدی ـدادوه‌بیته دده‌دي :

نگا ر من آن چون قمر بر صنوبر نه‌سانی چنو کر د صورت ،نه آذر
دو خدش‌بسانِد و دو ماه منقش دوجعدبسان دو شسام معنبـر

مأخذ .

ریحانیه‌الادب-۱/۲۹۷ مخ

ketabton.com - The Digital Library



## ۱۵۹۸- بهره مند خوگیانی :

دپښتو ژبې اولسي اوبې سواده شاعرو، دننګرهار دخوګیانو دسیمې په «بربیار» کې زیږ-
پدلی پښته خو ګیانی او د (۱۲۵۶ هش) کال په شاو خوا کې یې ژوند کاوه .
پدلی یې پر اولسي اوزانو ویلي او ځینې قصې یې هم په پښتو نظم کړې وې چې دعو امو
سندر غاړو په خولو کې جارې وې - یوه نمونه یې د «سوال او جواب» په شکل دا ده .

توری سترګې، تور اوربل، په مخ را ځمله ګل نګاره
عالمو نه به کړې دل، سمه نه دروسې خونکاره

---

توری سترګې شین دی خال، را شکاره که په دا بروکې
د سرو تیکک دی که سمبال، دجبین به کنارو کې
په سر کړی دی دیشال، قدم اخلې په ورووروکې
یو ګړی وکړه معطل، په اور وسوم رب دپاره
ځان دی مه سپڅه په اور، رستا په سینه یم قا بله
ما وژلی درې خلور، زما نوم دی شمایله
خبرو ې سې خله سور، رویباران دی دې جا هله
ککری به دی کړي غوڅه لکه، غل تر ما سه راځه هشیاره

---

هشیاري وه دلقمان، عاقبت دد نیا تېر شو
سرسې ایښې په جانان، چې یې غم را ته بر سیر شو
لکه توره دی پیرزوان، اندرون ته خما تېر شو
په زړګریې که صیقل، رودسې دروسې له پرهاره
برهاردې، د ملهم سري شونډې آبداري
ناقرار ار شو کل عالم په دیدن دی ګل نګاري

ketabton.com - The Digital Library



دیاری ښکوه غم، په تحقیق سره می یاری

«بهرمنده» کړه توکل، څه نورد رومه له بهاره

یوه بله چاربیته یې هم په پښتانه شعرا او (۱۳۲۱ هـ ش) کال د کابل په مجله کې خپره شوې ده.

مأخذ:

پښتانه شعرا- ۲-/۰،۸۰ مخ

## ۱۵۹۹- بهری درواوزی:

مولانا نورالحق بهری د مولانا عبدالحی زوی او د مولانا عبدالقهار نمسی په (۱۲۷۷ هـ ق) کال د درواز په سنگیون کې زیږیدلی، او په (۱۳۳۴ هـ ق) کال کې مړدی.

مولانا بهری د درواز له نومیالیو پوهانو او شاعرانو څخه و، چې شهرت یې تر بخارا پوری رسیدلی و.

منداول علوم یې په درواز کې له «مخد و اعلم» چې ډیر مشهور عالم و، لوستی وو، بیا د زیاتی زده کړې دپاره په (۱۲۹۹ هـ ق) کال بخاراته ولاړ، او هلته یې لس کاله د کو کلتاش په مدرسه کې زده کړه وکړه، او علمی شهرت یې دو نی خپور سو، چې ډیر معاندان یې پیدا کړه. نو ځکه په (۱۳۰۹ هـ ق) کال کې بیرته درواز ته راغیء، او دلته یې یوه ښکلې مدرسه ودانه کړه، او په تدریس یې خوله پوری کړه، ډیر شاگردان یې علمی کمال ته ورسول.

په دری ژبه یې شعر هم وایه چې یوه غزله یې دا ده:

دل دیوانه با مشکین خطی تا آشنا کردم

سراپای وجودم لاله سان داغ جفا کردم

ketabton.com - The Digital Library



محبت داردم دو راز شکوهٔ غیرت آمیزی
جبین سجد فرسا در رهش چون نقش پا کردم

جنون ایجاد بودم ؟ ز نگاه رقت انگیزیش
زشور طالع اکنون کار مجنون ابتدا کردم

دلم خون شد ز استغنای آن نامهربان یا رب
که دشنامی ندادم آنقدر او را دعا کردم

بیا د عارض گلگشت شوخ بیوفا دیشب
چو بلبل در گلستان از فراقش ناله ها کردم

رموز عشقبازی شیوهٔ عشرت نمیداند
زخون دل فراش بستر خود بوریا کردم

ندارد اقتدار وطاقت د گر دل «بهری»
مکن زینسان تظلم ور نه باحق دادها کردم

مأخذ :

یادی از رفتگان - از مولانا خسته مرحوم

## ۱۶۰۰ـ بهزاد کابلی :

مولانا بهزاد د کابل د دری ژبی له شاعرانو څخه و. هندته تللی او هلته یې خپل روزگار په سپاهي توب تیراوه. یو څل یې د خان خانان دربار ته لاروموندله او د هغه په ستاینه کې شعرونه وویل. وروسته یې د صفوی خواجه بیگ میرزا سره ژوند تیراوه. دا څو بیته د دهغه د هغې قصیدې څخه دی چې ده د عبدالرحیم خان خانان په ستاینه ویلې وه :

ketabton.com - The Digital Library



صبح است مژده ظفر از آسمان رسید
یعنی خدا یگان زمین و زمان رسید
آمد ملوک نامور ملک عدل و داد
نواب خان خانان کشورستان رسید
بر مقتضی وقت درین روز گار
خورشید بر تکاور آتش فشان رسید

ماخذ:

پښتو آریانا دائرة المعارف - ۳ - ۵۵۷ مخ

## ۱۶۰۱ - بهزاد هروی :

استاد کمال الدین بهزاد د افغانستان له ستر و اونو میالیو هنرمندانو او د نقاشی او مصورۍ له مشهورو استادانو څخه وه چې دده د هنر انګازې په شرق او غرب کې خپرې سوې دی او پوله هغو نیکمرغو هنرمندانو څخه دی چې په خپل ژوندۍ د خپل هنر قدر لېدلی او د خپل عصر د پوهانو له خوا ستایلی سوی دی .

استاد بهزاد د هرات په ښار کې زېږېدلی، خو د زېږېدو په کال کې یې لږ اختلاف سته :

قاضی احمد قمی د استاد بهزاد تر مړینې پنځوس کاله وروسته ژوندی و ، په خپل کتاب « گلستان هنر » کې دده د زېږېدنې کال ( ۸۵۴ هـ ق - ۱۴۵۰ م ) کال بولی ( ۱ ) خو محمد عبد الله چغتا یې نی د « کمال الدین بهزاد مصور » مؤلف ، او کریم طاهر زاده د « سر آمدان هنر » لیکوال ، او پرمیسما یکس « د افغانستان د تاریخ » لیکونکی ، او د اکتر من د یمانډ

---

( ۱ ) گلستان هنر - ۱۳۳ مخ - « د هنر عهد تیموریان » د پوهاند حبیبی د تالیف په حواله - ۵۲ مخ

ketabton.com - The Digital Library



د « رهنمای صنایع اسلامی » مولف بیا د استاد بهزاد زیږ بدته په (٨٨٠ م =٨٤٤ ه ق) کال کی ګڼی (١) او دا کټرعیسی بهنام یی په (٨٦٠ ه ق) کال کی ښیی (٢) او ښاغلی محمد انور نیر هروی دافغانستان او سنی لیکوال د پورتنیو نیټو ترمقابلی او تطبیق وروسته (١٤٤٠ م=٨٤٤ ه ق) کال سرجح ګڼی (٣)

داستاد بهزاد د ژوند لو مړ نی حالات لاس ته رانغله، یوازی د ګلستان هنر « دمؤلف قاضی احمدقمی له‌لیکنی څخه څرګند یږی چی استاد بهزاد یه کوچینوالی کی بی پلا راو بی موره پاته سوی او د سلطان حسین میرزا با یقرا کتابدار استادمیرک (٤) ترخپلی رو زنی‌لاندی ونیواوپه لږه موده کی دوسری پرمخ ولاړ چی دقاضی احمدپه قول « همچو اومصوری کسی در این روزګار ندیده » (٥)

په ځینو مأخذو کی استاد بهزاد د پیرسیداحمد تبریزی شاګرد هم بللی سوی

---

(١) کمال‌الدین بهزاد مصور دچغتایی رساله ب - تاریخ افغانستان په انګرزی ١/٢٧٣ مخ ج : سرآمدان هنرد برلین چاپ - ٦ مخ د : راهنمای صنایع اسلامی ٥٨//

(٢) مجله هنر و مردم ٦٦ ګڼه ٧//

(٣) آریانا مجله، ٢٧٩ ګڼه ١٤، د ١٣٤٧ کال د قوس او جدی د میاشتو

(٤) دسید میرک نوم سیدروح الله او دهغه وخت دهرات ستر نقاشوچی په مختلفو مأخذ وکی دسید میرک خواجه میرک او میرک نقاش په القابو یاد سوی دی

(٥) ګلستان هنر - ١٣٢ مخ

ketabton.com - The Digital Library



چې د هغه وخت نوميالي نقاش او مذهب و (۱)

خو ناستاد بهزاد شهرت له هغه وخته پيل کيږي چې د هرات دعلم دوست او هنر پالونکي سلطان حسين بايقرادربارته يې لاروموندله اود هغه دربار دنوميالي او پوهيالي وزيرامير علي شير نوايي دپالنې او قدرداني پهسيوري کې وروزل سو.

هغه لومړی تاريخ چې د استاد بهزاد يادونه کوي او ليکونکی يې دبهزاد دوست اومعاصرهم و ، حبيب السير د خواند مير تاليف دی چې دده په باب داسې ليکلي :

« استاد کمال الدين بهزاد مظهر بدايع صور است و مظهر نوادر هنر ، قلم ماني رقمش ناسخ آثار مصوران عالم وبنان معجزشيمش ماحی تصويرات هنروران بنی

آدم - بيت : موی قلمش ز اوستادی

جان داده بصورت جمادی

و جناب استادی بيمن تربيت وحسن رعايت امير نظام الدين عليشيربه اين مرتبه ترقی نموده وحضرت خاقان منصور را نيزبا آن جناب التفات وعنايت بسيار بود وحالا نيز آن نادرا لعصر صافی اعتقاد منظو رنظر مرحمت سلاطين انام است و مشمول عاطفت بی نهايت حکام اسلام - ع - بی شبه هميشه اينچنين خواهد بود «۲»

استاد بهزادتر (۹۱٦ ه ق= ۱۵۱۰ م) کال پورې چې پر هرات باندې دشاه اسماعيل صفوي د يرغل کال و ، په هرات کې اوسيد ، او وروسته ترهغه چې خپل صنعت يې د کمال پوړۍ ته ورساوه او ډيرشاگردان يې وروزل په دې هغه کې سو ، چې په هرات کې دنقاشۍ يوه اکاډمي جوړه کړي او هغه يې د هغه وخت داستادانو لکه

---

(۱) سرآمدان هنر - ٦ مخ حاشيه

(۲) حبيب السيردريم توک دريم جز - ۳٦۲ مخ

ketabton.com - The Digital Library



خواجه غیاث الدین هروی، سلطان ابراهیم میرزا هروی، امیرشاهي سبزواری، مرکز هروي، بالجهد هروی، سلطان علي، سلطان محمد خندان او نورو په مرسته د هرات په ښار کې تاسیس کړه، او په دې توګه یې نه یوازې په هرات کې د نقاشۍ هنر او ځانته هنري اسلوب خپور کړی او پرمخ یې بوت بلکه له دغه تاریخي ښاره یې د نقاشۍ او مینا کاري ډېره داسې لوی مرکز جوړ کی چې د دنیا نورو ښارو هم له هغه څخه فیض وموند .

د سلطان حسین میرزا تر مړینې وروسته ( ۹۱۲ هـ ق = ۱۵۰۶ م ) چې د هغه زامنو بدیع الزمان او مظفر الدین حسین د پاچهی د تاج او تخت د نیولو د پاره په خپل منځ کې رقابت شروع کی نو د هرات د هنري اکادمۍ کار لږ سست سو، خو بیا هم استاد بهزاد په هرات کې و، خو چې محمد خان شیباني پر هرات یرغل وکی او د نورو اولجو سره بهزاد هم د شیباني په لاس کښېووت شیباني که څه هم د علم او هنر سره څه ډېره علاقه نه درلودله، خو د بهزاد هنر ته یې درنه سترګه وکتل، مګر د غه دروزلو وخت یې ونه موند، ځکه چې په ( ۹۱۶ هـ ق) کال شاه اسماعیل صفوي پر هغه بری وموند او هغه یې وواژه او پر هرات یې یرغل وکی، او د هرات تر نیولو وروسته یې بهزاد د هرات د یو شمېر نورو صنعتګرانو سره تبریز ته بوت، او هلته یې د سلطنتي کتابتون د چارو اداره چې د صنایعو په شاهکاریو پوري یې اړه د دله بهزاد ته وسپارله، او هم یې خپل زوی شاه طهماسپ د ده شاګرد کی په دې توګه نو استاد بهزاد خپلې هنري پنګالی هنرچې د هرات په تاریخي ښار کې یې بنسټ ایښی و، تبریز ته هم یووړ او د ده د هنر پلوشې له هراته تر تبریزه خپرې سولې په هرات کې د بهزاد شاګردانو د خپل ستر استاد سبک تعقیباوه او په تبریز کې پخپله استا د بهزاد د صفوي دورې د نقاشۍ د مکتب مړګانه سو، او حتی د بخارا د نقاشۍ په هنر هم د بهزاد د هنر سبک اغېزه وکړه، او

هنره داسې و، چې د محمد خان شيباني په دوره کې يو زيات شمېر نقاشان او خوشنو-
يسان بخارا ته ولاړل چې هلته يې د هرات د هنري مکتب پر اسلوب او په تېره
بيا د بهزاد پر سبک کار کاوه ، نو په دې توګه هغه وخت د هرات ، تبريز او
بخارا د نقاشۍ مکتبونه له يوه چيني څخه او بېدل او له يوې منبع څخه يې الهام
اخيست چې «هغه بهزاد» و : او د بغداد او تبريز زاړه سبکونه له منځه ولاړل .

استاد بهزاد تر سپين ږيرتوبه په تبريز کې په خپل هنر بوخت و ، او د (۹۲۸ هـ ق) کال د د-
ريمي خور (جمادي الاول) په ۲۷ شاه اسماعيل صفوي دا لاندې فرمان
داستاد بهزاد په نامه صادر کې او دی يې د شاهي کتابتون او هنري کارو مشر
وټاکه ، د فرمان متن داسې و :

« چون ارادت مصور کارخانه ايجاد و تکوين مشيت محرر نگار خانه
آسمان و زمين که برطبق کلمه وصورکم نقش وجود غرابت نمود، بنی نوع
بشر درا حسن صوربر صفحه امکان پرداخته قلم قدرت اووتصوير صورت
تفصيل ( تفضل ) افراد انسان بر ساير مخلوقات و بانی بمقتضای و فضلنا هم
علی کثير ممن خلقنا تحرير کرده ا تا مثل حکمت ا و منشور انا جعلناک
خليفة في الارض را برصحه بقه حل کاری خورشيد بخامه عطارد بنام همايون اتسام
ما امضاء نموده و اوراق سپهر لاجوردی را جهت کتابت روزنامچه آثار فتح و نصرت
ما بافشان نقره کوب کواکب وجدول شنجرف گون شفق منقش و مزين فرموده لايق
آن و مناسب چنان می نمايد که لوح ضمير الهام پذير همايون که مظهر اشعه انوار
الهی و مظهر صور آثار خيرخواهی است بدين صورت مصور باشد که هر سهم از کرايم
مهمات سرکار کامرانی و هر اسرار عظايم امور کارخانه جهانبانی بهره مندی داناو
کاردانی فضيلت انتما که بطراحی ذهن باريک ابين و رنگ آميزی طبع ظرافت آين

ketabton.com - The Digital Library



طرح ابداع انواع کفایت و نقش اختراع اصناف فراست برآیخته و جود ظاهر تواند نمود و نقاب حجاب از چهرهٔ مطلوب و مقصود تواند کشود مفرض و متعلق باشد بناء علی هذا درین ولا نادر العصر قدوه المصورین و اسوة المذهبین استاد کمال الدین بهزاد را که از قلم چهره کشایش جان مانی خجل شده و از کلک صورت آرایش لوح ارتنگ منفعل گشته و پیوسته قلم و اوسر برخط فرمان واجب الاذعان نهاده و پرکار مثال پای در مرکز ملازمت آستان خلافت آشیان استوار کرده مشمول الطاف خسروانه و اعطاف پادشاهانه ساخته حکم فرمودیم که منصب استیفا و کلانتری مردم کتابخانه همایون و کاتبان و نقاشان و مذهبان وجدول کشان وحل کاران و زرکوبان و لاجوردشویان و سایر جماعتیکه باموور مذکوره منسوب باشند در ممالک محروسه مفوض ومتعلق بدو باشد، سبیل امرأ روشن ضمیر و وزرای بی شبه و نظیر و نواب درگاه عالم پناه و ایلچیان بارگاه سپهر اشتباه و مباشران امور سلطانی و متصدیان سهام دیوانی عموماً و اهالی کتابخانه همایونی وجماعه مذکوره خصوصاً آنکه استاد مشار الیه را مستوفی و متعهد کلانتری دانسته کارهای کتابخانه را باستیفا دبر آورد او رسانند و آنچه برآورد کند بمهر وثبت او معتبر دانند و از سخن و صوابدید او که در باب ضبط و ربط امور کتابخانه همایون گزید عدول و تجاوز ننمایند و آنچه از لوازم امور مذکور است مخصوص بدو شناسند و مشار الیه نیز باید که صورت امانت و چهرهٔ دیانت برلوح خاطر و صفحه ضمیر منیر مصور و مرتسم گردانیده بطریقهٔ راستی درین امر مشروع نماید واز میل و مداهنه مجتنب و محترز بوده از جادهٔ صدق و صواب انحراف و اجتناب از جوانب برین جمله بروند و چون این حکم همایون بنقش توقیع اشرف اعلی منقش و مشرف و محلی گرنکند اعتماد ننمایند.

ketabton.com - The Digital Library



تحر یر ا فی ۲۷ جمادی‌الاولی سنه ۹۲۸ » (۱)

ددې فرمان له‌متن څخه پرشاه‌اسماعیل باندی‌داستاد بهزادگرانښت ډېر ښه څرگند یږی، او دډا کتر کریستی و یلسن په‌قول استاد بهزاد پرشاه اسمعیل‌دونی‌گران‌و، چی هغه یې په خپل نیم‌سه‌اکت‌نه الیشاوه (۲) اویاهغه‌وخت چی‌شاه‌اسماعیل په‌یوه جگړه کی‌له سلطان‌سلیم‌عثمانی پاچاڅخه ماتی‌وکړه، او تبریزد عثمانیانولاس‌ته ورغی شاه اسماعیل هرڅه‌د مخه د هنرمندانودژوندی ساتلوپه‌فکرکی‌و ، په‌تېره بیاد استاد بهزاد اوشاه محمود نیشاپوری خطاط په‌باب یی‌امروکی‌چی‌په‌یوه غار کی یی پټ کړی (۳)

په (۹۳۰ ﻫ ق) کال‌شاه‌اسماعیل صفوی‌مړ سواودهغه‌زوی‌شاه طهماسپ‌یی پرځای کښېنوست شاه‌طهماسپ هم دشاهی کتابتون مشرتوب استاد بهزاد ته‌وسپاره

---

(۱) دقزو ینی بیست مقاله بشپړ دو ر مـلوسړی او دو هم ټوک ـ۲۷۲ ، ۲۷۳ مخو نه

ب : سر آ مدان هنرـ۹، ۱۰ مخو نه

ج : گلستان هنرـد ۱۳۵ مخ حاشیه

د : آر یانامجله ـ۲۷۹ گڼه ـ ۱۷ مخ د ۱۳۴۷ کال دقوس او جدی

نوټ : په‌پورتنی فرمان کی فا رسی توری‌لکه‌چ، گ، په‌عربی شکل ج او ك لیکلی سوی دی .

(۲) تاریخ صنایع ایران ـ دعبدالله‌فریار ترجمه ـ ۱۹۴ مخ

(۳) راهنمای‌صنایع اسلامی ـ۸۰ مخ‌سر آمدا ن‌هنرـ د ۶ مخ ۴ حاشیه

ketabton.com - The Digital Library



اواستاد بهزاد د شاه طهماسپ په وخت کی هم په خپلو هنری ابتکاراتو بوخت و، او ډیر شاګردان یې وروزل چې یو له هغو څخه آقامیرک دسلطان له نژدي دوستانو څخه و. او هم شیخ زاده خراسانی، میرمصوروسلطانیه او مظفرعلی دده له نوسیالیو شاګردانو څخه، ګڼل کېدل چې مظفرعلی بیا وروسته دچهل ستون دمانۍ دانځور او منقش کاری وظیفه دارسو .

پردي سربیره استادبهزاد دنهمي پېړی دزیاتو هنر مندانو او شاعرانو او عارفانو لکه حضرت مولاناجامی ، هاتفی ، سلطان علی ، سلطان محمد او نورو سره ددوستی رابطه سانله او همکاری یې ورسره درلو دله .

استاد فکری سلجوقی لیکی چې :

«بهزاد دخپل ژوند په پای کی دخپل خوریی رستم علی »دلیدو دپاره له تبریزه هرات ته راغی، خوله بده مرغه دده خوریي د ده تر راتګ یوه میاشت دمخه مړسوی و، اوبهزاد هم ترخه مودی وروسته ناروغه سو، او په همهغه کال (۹۴۲ هق) چې رستم علی مړو، بهزاد هم په هرات کی وفات او دکوه مختار په لمنه کی دخپل خوریی « رستم علی » خنګ ته ښخ کړه سو (۱) » د استاد فکری سلجوقی د ا خبره د قاضی احمدقمی په « ګلستان هنر » کی هم راغلی ده چې بهزاد په هرات کی مړدی اود کوه مختار په شاوخوا کی « در حضیره پرنقش ونگار مدفون شد» (۲) خنګه چې

(۱) خیابان- دانجمن جامی له خپرونو څخه -د۱۳۴۳ کال د کابل چاپ-۸مخ د مباغلی نیرهروی دلیکنی په حواله مجلی په ۲۷۹ گڼه کی خپره سوي ده

۲ ګلستان هنرسم ۱۳ مخ د «هنرعهدتیموریان» دحوالي له مخی ۲۰۵ مخ

ketabton.com - The Digital Library



قاضي احمد دبهزاد تر مړيني پنځوس کاله وروسته ژوند کاوه نو داستاد فکري سلجوقي خبره لا په تائيديږي او دا اتکل ټينګيږي چي بهزاد لکه په هرات کي چي زيږيدلي په هرات کي مړ او ښخ هم دی . که څه هم « د ګلستان هنر » محشي او ناشر احمد سهيلي د هغه کتاب په حاشيه کي ليکلي دي چي بهزاد په تبريز کي مړ او د شيخ کمال په باغ کي ښخ دی او پر قبر باندي يي يوه لوحه هم سته چي د بهزاد د مړيني نيټه په نظم پر ليکلي سوي ده؛

دکتر عيسی بهنام او دوست محمد کتابدار هم د استاد بهزاد مړينه په تبريز کي بولي (۱)

په هر حال استاد بهزاد که په هرات کي مړ وي يا په تبريز کي مسقط الرأس او د ودې او روزني ځای يي بيا هم هرات دی او په تاريخو کي بهزاد هروي په نامه ياديږي نه د بهزاد تبريزي په نامه .

بهزاد د ليکوالو او مور خينو په نظر کي :

د مخه سو د بهزاد د نبږ دی د وست او نامتو مورخ خواندميرله «حبيب السير» څخه دده په باب يوڅه ستاينه را اقتباس کړه ، او س به د خواند ميرله يو بل اثره او هم به د ځينو نورو ليکوالو او مو رخينو لنډ لنډ نظرياب دلته ولاندي کړو :

خواندمير په « نامی » کي ليکلي چي :

«از جمله مصوران کامل و هنروران فاضل جامع ومرتب اين اوراق مرقع (موقع مظهر بدايع صور و مظهر نوادر هنر نادر العصر صافي اعتقاد سالک مسالک محبت و وداد استاد کمال الدين بهزاد است ؛

---

(۱) الف: مجله هنر و مردم ۵۰ ګڼه ۷ مخ ب: حالات هنروران ۹ ۲ مخ

مثنوی :

مانی قلم خجسته آثار　　نیکو شیم حمیده اطوار
استاد هنروران عالم　　در فن هنروری مسلم
بهزاد یگانه زمانه　　مانی بزمان او فسانه
موی قلمش ز اوستادی　　جان داده بصورت جمادی
در وقت طبع موشکافست　　وینحرف نه از سر گزافست
تکمیل مهارتش درین فن　　باور اگر نیاید از من
بگشای نظر از روی انصاف　　بنگر صور بدیع اوصاف
کاراست جمال این صحایف　　افزود کمال این ظرایف
در صورت خط و حسن تصویر　　زینسان ورقی نیافت تحریر

وبی شایبه تکلف و غایله تصلف تا صفحه خوبان گلعزار از ریحان خط مشکین آثار آرایش یافته مشابه به خطوط که درین مرقع مرقوم است قلم بر صفحه کاغذ ننهاده و تا مرقع سپهر بصورت نور افشان ماه و مهر مصور گشته پرتو شعور هیچ مهندس مبصر برا مثال صوریکه این اوراق را مزین دارد نیفتاده هر قطره که غواص قلم گوهربار از نیچه دوات بساحل این اوراق رسانیده دریست گرانبها و هر صورت که مصور خاطر غرا بتأثر از لوح دل بر صحایف این کتاب نقل نموده حوریست روح افزا.

قطعه :

هر گوهر مراد که در بحر خوشدلی　　پرورده اند جمله درین بحر حاصلست

ketabton.com - The Digital Library



همچون جمال مشعله افروز دیده هاست همچون وصال خرمی اند وزهره لست
وچون تعریف لطا فت آن در رتمبن و توصیف نفا ست آن صو ر بدا یع
آیین پایه هر بیمایه و پیشه هربی توشه نیست قلم مشکین رقم باایرا د
ربا عییکه د ر مدح جناب استا دی گفته شده اختصار می نماید وهی هذاه :

سری قلمت تا بجهان چهره کشاد بـر چهره مـانی رقم نسخ نهـا د
بس طبع که صورت نکو زاد ازو طبع توولی از همه آنها بهزاد (۱)

قاضی احمدچی دبهزاد معاصروپه خپلو رساله «خوش نویسان ونقاشان » کی دادوه
شعره د بهـزاد په ستاینه کی راوړی :

استادزمانه حضرت بهزاداست کزداد هنروری بعالم دا داست
کم زادبسان مانی از مادر دهر البته که بهزاد ازو بهزاد است

نگا ر ز غا لش بجا بک روی بهاست از قلم گیری مانوی
ا گر ما نی ا زوی خبرد اشتی از ا و طرح اندازه بردا شتی
بود صو رت مرغ او د لپذ یر چو مرغ مسیحاشده روحگیر (۲)

ظهیرالدین بابر پخپله (بابرنامه) کی دبهزاد په باب داسی لیکی
«ازمصوران بهزاد بود کارمصوری رابسیارنازک میکرده ، اماچهره آرای بی ریش رابد

(۱) الف: بیست مقاله قزوینی -۹۸ ۲، ۲۷۲ مخونه
ب: صورتگران وخوشنویسان هرات درعصرتیموریان- ۲۰ ، ۲۱ مخونه
(۲) صورتگران وخوشنویسان هرات درعصرتیموریان ۱۷ مخ
اود ۱۳۱۷ کال د کابل سالنامه -۹۳ مخ

ketabton.com - The Digital Library



میکشاد... غبغب اورابسیار کلان میکشیده آدم ریشدارراخوب چهره کشای میکرده» (۱) دعالم آرای عباسی خاوند دبهزاد داسی ستاینه کوی:

«درآن حین اوراق زمانه بوجودایشان ازتزهیب وتزیین داشت شعر:

نگارنده نقاش بهزاد دست

صریرسخن راچنین نقش بست »

بیالیکلی:

«...استاد بهزاد و استاد سلطان محمد درین فن شریف (نقاشی) طاقندودرنزاکت قلم شهره آفاق»(۲)

حاجی میرزاعبد المحمد خان «دچهره نما» دجریدی چلوونکی په خپل کتاب «پیدایش خطوخطاطان» کی داستاد بهزاد په باب داسی لیکلی:

«استاد بهزاد یکی ازمفاخرقرن نهم بوده که دیده روزگار مانندش ندیده وما درد هرهمچون فرزندی حاوی کمالات وعدیده وهنرهای پسندیده تا کنون نپرورده نقاشی بودبی بدیل ومذهب کاری بی عدیل...(۳)

د «حالات هنروران» په رساله کی (۴) استاد بهزاد په دی القابو ستایلی سوی دی:

«افضل المتاخرین فی فن التصویر، قدوة المتقدمین فی التهذیب والتحریر، نادرالعصر استاد کمال الدین بهزاد»

---

(۱) بابرنامه-فارسی ترجمه ۱۱۵ مخ

(۲) عالم آرای عباسی-۱۲۷ مخ (۳) پیدا یش خطوخطاطا ن-۱۳۷/مخ

(۴) دارساله یوازی یوه دیباچه ده چی دبهرام میرزاصفوی کتابدار مولانادوست محمد په ۹۵۲ ه کال د نوسوری شهزاده پریوه مرقع لیکلی وه.

ketabton.com - The Digital Library



پښتو آریانا دائرة المعارف داستاد بهزاد په باره کی داسی لیکلی :

«دی دلسمی هجری پیړی سترنقاش او هنرمندو چی کت مټ یی د رنسانس په دوره یعنی په هغه پیړی کی چی په اور پا کی مستظرفه صنایع د ترقی اوج ته رسیدلی و ده په هرات کی د نقاشی صنعت د کمال پایی ته ورساوه او لکه «لیورنا ردونچی» او« رافائل یی» اعجاب انگیزه آثار په یادگار پریښوول اوځان ته بی جاویدان نوم و گاټه(۱)»

غربی پوهانو هم داستاد بهزاد هنراو دده په هنر کی ابتکار ستایلی دی چی مشهور یی داپوهان دی :

فرانسوی رنه گروسه، آلمانی د کتور کتل ، فرانسوی موسیو هوارت د پاریس د شرقی ژبو په مدرسه کی دفارسی ښوونکی ، موسیو بلوشه د پاریس دملی کتابتون کتابدار او فرانسوی موسیو مارتن استاد بهزاد داسی ستایی :

« که څه هم کمال الدین بهزاد په یوبل محیط او په یوبل وخت کی ژوند کاوه خو بیا هم دده مقام دفرنگ دناستونقا شانو لکه « ژان فوکه» او «مملنگ» اونورو له مقام څخه کښته نه دی .

استاد بهزاد چی تقریبا په ۱۵۲۷ م کال کی مړدی په خپل هیواد کی دهغه پا چا په خوار د رنه ستر گه ورته کتل او پرده ورپر مهربانه وه لکه رفا ئیل چی په روم کی ایتا لویا نوله خوا د احترام مورد واونمانځل کیده بهزاد هم په خپل وطن کی دوطنوالوزړونه ورتپرواو د ده دسړ یتی په ورځ د صنعت پېژند ونکو ویراو تاثر دومره زیات چی ساری یی ډیرلږ لیدلی شوی دی

---

(۱) پښتو آریانا دائرة - المعارف اووم توک ـ ۸۴ مخ

ketabton.com - The Digital Library



د بهزاد قلمی تصویرونه د «فوکه» د هغو تصویروپه خنګ کی چی په شانتلی کی دی او د «کریمان» د هغو تصویروپه خنګ کی چی په «وینز» کی دی او یاد «رنه دانژو» د هغی مشهوری خطی نسخی په خنګ کی چه دوین امپراتوری په کتابتون کی ده ایښودل کېد ای سی .

دا چی د فرنګی استادانو د آثارو روحی اغیزې سمکنه دی له څینو جهتو څخه پر مودېزیاتی او قیمتی وی خوا په دی سبب دی چی د هغو د موضوع او مفهوم درک زموږ د دماغ د پاره آسانه دی او د هغو نقشه او په انځور زموږ د احساساتو سره سم او زموږ ز رو ته نژدی دی، که نه وی د صنعت کاری له نظره او په تیره بیاد تزئین او شکلا له مخی او د رنګو د ګډو ن او استعما ل او د مینا تورود کار د بشپړ وا لی له کبله کټ مټ د نوسړو استادانو آثار و په څېر او بلکه تر هغو زیات دی »(۱)

د کترج، کریستی ویلسن هم لیکلی چی :

«بهزاد (دده شاګردان او سعاصران) د زمان اعجوبه او د خپل عصر استاد بولی خو به له دی جهته چی په میناتور جوړولو کی یې نوی سبک ایجاد کړی بلکه له دی سببه چی د صنعت د هغه د تولو جزئیاتو سره بشپړ کړی دی »(۲)

د کیرس، دیماند هم بهزاد د هغه د عصر له عجائبو څخه ګڼی (۳)

---

(۱) صورتګران و خوشنویسان هرات در عصر تیموریان - ۲۰ مخ

(۲) تاریخ صنایع ایران - ۱۷۱ مخ

(۳) د رآریانا مجله - ۲۷۹ ګڼه - ۲۰ مخ

## د بهزاد د سبک مهم خصوصیتونه :

لکه کنر کیسټي ویلسن چې ویلي و بهزاد یوازې لەدې جهته د زمان اعجوبه او د خپل عصر استاد نه و چې په ښکلو تورکي یې سبک ایجاد کړي، بلکه لەدې سببه هم و، چې ده د خپل وخت صنعت د هغه د ټولو جزئیاتو سره د کمال د پای پوړی ته رسولی و بشپړ کړی و، او دده په هری آثارو کې دا څو مهم خصوصیتونه څرګند شوولی سوی دی :

لومړی: د تصویرونو په لیکو او خطوکې بشپړ دقت او سمون.

دوهم: د رنګو د ټولونو د ګډون او ترکیب په وسیله په شګفت انګیزه توګه د اشخاصو بڼې، قیافې او څهرې د وضع ښوول .

دریم: د تصویر په اشاراتو او حرکاتو پوهېدل :

څلرم : د ونو، ګلانو، منظرو او ریځو او د لمر د وړانګو په انځورولو کې ظرافت او ښکلا.

پنځم: رازرازه بېرو رنګو ترمنځ توافق راوستل لکه سرمه‌تي شین فیروزه‌یي، سور، زیتوني، ژیړ قهوه یي او نور چې سره زر او سپین زر هم پکښې کارېدل .

شپږم: د مغولي بڼې، اروځړاو ستر ګو پرځای د خراساني څهره او بڼه ایستل، چې د هرات هنري مکتب یې د چیني د هنر له اغېزو څخه آزاد کړ، او خپل هېوادني رنګ یې ور کړېدي .

اووم : د ودانیو او دیوالو، فرشو او ګلانو او د مجلسو د تزئیناتو او د راز راز کالو د ښکلا په ترسیم کې خاصې رنګه ریزه کارۍ انځور ول او نور ...

په دې توګه د استاد بهزاد سبک د هغه ځانګړیو خصوصیتو سره د ده په ژوند او تر ده وروسته

ketabton.com - The Digital Library



دوسره شهرت وموندچې د هرات د هنري مکتب پرځای «دبهزادهنري مکتب» وباله سو (۱)

د بهزاد هنري آثار :

د استاد بهزاد هنري آثار دجهان په زیاتو موزیمو کې ستره چې مشهوره یې دا دي:

۱- دبهزاد زیات آثار دافغانستان په موزیم کې وه خوله بده مرغه د کورنیو شخړ و او اغتشاشاتو له کبله دهغوی ډیره برخه له منځه تللي ور کسوی او یا تر هیواد دباندې وړل سوي دي چې یوله هغوي څخه دمولانا جامي «سلامان وابسال» وچې دسلطان علي خوشنویس له خوا استنساخ سوی او نقاشي او انځورونه او د متن مینا تورونه او دخندو او حواشیو زرنګاري یې داستاد بهزاد په لاس کښل سوي وه ، او بل ښکلي اثر «مرقعات» «یا بهارستان بهزاد» وچې دهرات د سلطان د مجلسونه یې په راز راز صورتو او مینا تورو په ډیر ښکلي توګه ترسیم کړي وددی ښکلي اثری څلوېښت مرقعه چې پریوه خوایې داستاد بهزاد ښکلي او نفیس کار او پر بله خوایې دهغه وخت دنوسیالیو خطاطانو دخطاطي او خوشنویسي صنعت وه او دافغانستان د نائب السلطنه په کتابتون یې اره درلود له دفرانسوي موسیو فوشه په لاس ورغلی او دیاګ ړي په توګه یې د پاریس دلوور Louvre موزیم ته ۱۹۱۵ کې ړي دی.

۲ - دتیمور دظفر نامې د کتاب انځور او تذهیب ، چې دشرف الدين یزدي په قلم لیکلی سوي او استاد د بهزاد د له خوا انځور او تذهیب سوي د ه خپنی سو ر خان و ا یی چې د ا کتاب همغه د اکبر نامی کتاب د ی

---

(۱) دهرات د هنري مکتب د تحول او په تیره بیا داستاد بهزاد د هنري مکتب دشهرت او په نژدې هیوادو کې دهغه داغیزو په باب دخیړنو او تفصیل د پاره دې د ۱۳۴۷ هش کال د آریانا مجلې ۲۸۰، ۲۸۱ ګڼو کې دښاغلی نیرهروي لیکنې ته رجوع وسي

ketabton.com - The Digital Library



چې د بېر د زوې همايون پاچاهي کتابتون يې اره درلوده . د اروپا متخصصين د دې کتاب دا ر ز ښت په باب ليکلي چې د دنيا له ډېر و ا ز ښتنا کو کتابو څخه د ی چې په ۱۴۵۳ م بشپړ سوی دی .

۳- باغ بهشت هرات: چې د استاد بهزاد ډېر وقدر او ستاينې وړ اثر ګڼل سوی دی.

۴- د امير خسرو دهلوی د خمسه کتاب: يو ټوک چې په ۱۴۹۶ م کې ليکلی سوی او د استاد بهزاد د لاس ۳۳ مينا تورې لري.

۵- د ضحاک د تصوير :- د بهزاد له شهکاروڅخه بلل سوی ، چې په ۱۵۳۷ م کال يوتن کاظم نامي د صنعت ګر انو د بديعه آثارو په ترڅ کې صفوی شاه طهماسب ته وړاندې کړی و.

۶- مرقع تاريخ تيمور:- چې په ۱۴۶۷ م کال بشپړ سوی او تصويرونه د بهزاد له ډېرو ښکلواو مشهورو آثاروڅخه دی .اد کتاب «د رونه ګروسه » د ليکنې له مخې اوس د امريکا د بوستون Boston په موزيم کې خوندي دی .

۷- د سعدي د بوستان يوه نسخه .- چې په ۱۴۸۷ م کې ليکلی سوی او د قاهرې په موزيم کې سته .رونه ګروسه په خپل کتاب « د شرق مدنيتونه» کې ليکلي چې په دې اثر کې د خوښي بزمونه او د مينې مجلسونه او د يو مسجد داخلي جوړښت ترسيم سوی دي چې هر تصوير يې د رسامۍ شهکار دی .

۸- د بهزاد ۳۳ مينا تورونه :- دا ميناتورونه د امير خسرو د ديوان په يوه نسخه کې چې ۱۴۹۶ م کال ليکلی سوی ، کښل سوی او د برلن په ملي کتابتون کې سته .دا مينا تورونه د بهزاد په نګارخانه اړه لري چې ځينې به يې په خپله د استاد بهزاد د لاس وی .

۹- د سلطان حسين ميرزا تصوير :- دا هم د استاد بهزاد له شاهکاريوڅخه ګڼل سوی دی

ketabton.com - The Digital Library



او لوسړي تصویردي چې په هغه کې دیوه سړي ټول ظاهري اوباطني خصوصیات یکښې ښوولی سوی دي، او د «رونه ګروسه» په قول د استادبهزاددي تصویراو د نورو پخوانیو استادانو د تصویروترمنځ هغسې توپیر سته لکه داروپاداو سینونقاشانو دآثار ورا و د «ژان فوکه» یا «فرانسوا کاوه» دلاسي تصویرو ترمنځ چې لیده کیږي داتصویرد مارتین د کلسکیون جزودي .

۱۰-د یوه بنګي شهزاده تصویر:- د مارتن په عقیده دامیناتور د آق قیونلودتبردوروستني مشرتصویردي چې په ۱۵۰۲م کال د صفویانوپه لاس وژلی سوي دی او اوس دا میناتور د «Douet» په کلکسیون کې خوندې دي .

۱۱-د مراد آق قیونلو تصویر :-
چې د Koechlin په کلکسیون کې سته !

۱۲-خمسه نظامی: - چې په ۱۴۴۳م کې لیکلی سوی او د لندن په برتش موزیم کې خوندي ده .

۱۳-د بهزاد د چیني تصویرونه :د یوه ډېره ښکلی نسخه ده چې په ۱۵۱۱م کال د هرات په ښار کې د سلطان حسین میرزا د کتابتون د پاره استنساخ سوې ده او اوس د لندن د برتش موزیم په کتابتون کې خوندي ده .

۱۴-یوه ښکلی تابلو:- د پسرلي یوه روح خوشالوونکي ډېره ښکلې تابلو ده چې تراوسه یې ښکاري ندي لیدلی سوی دی او استاد بهزاد د خپل هیواد د پسرلي روښانه او خوشالوونکي منظره ترسیم کړې ده .

۱۵-دلیلي او مجنون میناتور ونه :- د پترسبو رګ په موزیم کې یوشمیر میناتور ونه سته چې د استاد بهزاد له ډېروښو آثارو څخه ګڼل کیږي، او د لیلا او مجنون قصه په ډېره ښه توګه ترسیموي .

ketabton.com - The Digital Library



١٦- یوښکلی تصویر: د بهزاد په قلم په ١٩٣١ م کال په لندن کی د ایران د صنایعو په ننداړتون کی ایښو ولی سوی و، چی د شیراز په موزیم اړه لری. د دی تصویر سره د استاد بهزاد په خپل خط داسی لیکلی سوی دی :

« این رقمی است بدیع مشعر از مضمون افلا ینظرون الی الابل کیف خلقت، که هم شکسته نها د فقیر ناسرا د بهزاد بعد از وصول عمر بدرجه هفتاد و تجربه قوی در ین اسرافتاد» په دې تصویر کی یو اوښ لیده کیږی چی مهاریی د یوه بوډا سړی په لاس کی دی او غو اړی هغه چوک کړی .

١٧-تیمور نامه :-چی د استاد سلطان علی په خط لیکلی سوې او د استاد بهزاد په انځو ر او نقش ښکلی کړ ه سوې ده .د اتیمو ر نامه د مولانا هاتفی اثر و .

١٨-خمسه نظامی:- چی په ٨٤٦ ه کی لیکلی سوې او ټول تصویرونه یې د استاد بهزاد په قلم دي چی په زلمیتوب کی یی کښلی دی. او دا نسخه اوس د لندن په بریتش موزیم کی خوندی ده.

١٩- د سعدی گلستان :- د لندن په هنری ننداړتون کی د مصر د ملیه کتابتون له خوا د گلستان یو ه خطی نسخه ولیدله سوه چی ټول تصویرونه یې د بهزاد په قلم وو ، او د مصوری شهکار باله کیده ـ د تصویرو د کښلو کلونه ٨٩٢-٨٩٤ هـ و.

٢٠- د اوښا نود جنگ منظره: دا ښکلی منظره او ستاد بهزاد په اوپا کلنی کی کښلې ده او د ایران په یو ه کتابتو ن کی سته .

٢١ د مولانا جامی تصویر : د مولانا جامی یو تصویر د استاد بهزاد په قلم د حضرت رضا په کتابتون کی سته ، چی د هغه له مخی بیاد هند د جهانگیر د دبار مصور « دولت » نوسی هغه تصویر نکل کړی د ی او په پای کی یی لیکلی دی :

« عاسله کمترین خانه زادان دولت جهانگیرشاهی ازعمل استاد بهزاد نقل نمود »

٢٢-خمسه نظامی: یوه ښکلی نسخه وه چی ښاغلی نعیمی په کابل کی د سلطان علی په خط

ketabton.com - The Digital Library



اوداستاد بهزاددلاس ‌تصویرواو سیناتوروسره دهغه‌وخت دپرهنی دوزیرپه کتابتون کی‌لیدلی. وه (۱)

۲۳- د استانبول په‌سرای یلدزکی هم داستادبهزاد دلاس‌بدیعه آثار سته چی « ارمناک‌بیگ » نومی‌فاضل په استا نبول کی‌یوه رساله دبهزاد دآثار وپه‌ناسه په فرانسوی ژبه ور باندی‌لیکلی ده .

۲۴- دیوې بوډی اویوه‌زلمی تصویر: چی‌دغره په‌لمنه کی‌دسینه پرغاړښکاری‌اود استاد بهزادلاسلیک‌ورباندی سته داتصویردامریکا دنیویارک دکورگیان‌دنفیسو آثاروپه مجموعه کی خوندی دی .

۲۵ بهرام گور: یوسیناتوردی‌چی‌دبهرام گوردښکارپه حال کی‌ښیی اوداستادبهزاد لاسلیک‌لری اودسیتروپولتین په‌موزیم کی‌دی.

۲۶ دشاه طهماسب د زلمتیوب رسم :

چی شاه طهماسب ونی‌ته‌ختلی ناست دی دارسم دفرانسی دلوورپه موزیم کی‌دی .

۲۷ د اوزبک محمد شیبانی تصریر : چی‌د « العبد بهزاد » لاسلیک لری .

۲۸ شپاړس سینه تووره : چی‌جهانگیر هغه بهزادته‌منسوب کړی دی

ښایی‌چی‌پخپله دبهزاد اویادبهزاد دشاگردانوله کښلی سوی‌وی .

۲۹ دحافظ شیرازی دديوان‌سرلوحه .

۳۰ دیوه مسجددجوړښت تصویر :

په ۱۳۶۰م کی چی په‌پوستون کی سته.

---

(۱) صور تگران وخوشنویسان هرات‌۳۴ مخ

ketabton.com - The Digital Library



او داسی نور داستاد بهزاد آثار چې دنړۍ په مشهورو موزیموکې خوندي دي

مأخذونه :


۱ صورتگران وخوشنویسان هرات درعصر تیموریان تالیف مرحوم نعیمی ۱۰ مخ

۲- هنرعهد تیموریان - دپوهاند حبیبي - ۵۲ مخ

۳- آریانا مجله - د۱۳۳۷ هش کال ۲۷۹ گڼه - ۱۳ مخ ۲۸۰ او۲۸۱ گڼې

دښاغلي محمدانور نیر هروي لیکنه ۴- مجله هنروسردم ۶۶-گڼه- ۷/ مخ

۵- حبیب السیرجز ۳ج ۳ /۳۶۲ مخ

۶- سرآمدان هنر -۹ مخ

۷- تاریخ صنایع ایران - ۱۹۴ مخ

۸- رهنمان صنایع اسلامی -۵۸ مخ

۹- گلستان هنر - دپوهاند حبیبي په حواله -- ۱۳۴ مخ

حالات هنروران -- ۲۹ مخ

۱۱- بیست مقاله قزوینی-۲۶۸، ۲۷۲، ۲۷۳ مخونه ۱۲- دابرنامه- پارسي ترجمه- ۱۰۵ مخ

۱۳ دکابل سالنامه- د۱۳۱۷ کال -۳۴۹ مخ

۱۴- عالم آرای عباسی - ۱۲۷ مخ

۱۵- پیدایش خط و خطاطان

۱۶- پښتو آریانا دائرة المعارف -۷/۸۴۰ مخ

۱۷- تاریخ افغانستان - دپرسیسایکس تالیف -- ۱/۲۷۳ مخ

ketabton.com - The Digital Library



### ۱۶۰۲- بهشتي هروي :

مولانا بهشتي د مولانا حميد ګل هروي ورور او د دري ژبې شاعر و، بنه طبع او بنه خوي يې درلود، او د امير عليشير نوايي په وخت کې يې په هرات کې ژوند کاوه.

امير عليشير ورته «خلقتي بهشتي» ويل او دا بيتونه د ده دي :

| | |
|---|---|
| در کنده تونه هر بې سرو پا افتاد است | اين بلائي است که در ګردن ما افتاد است |
| هنګام عيد و موسم ګلها شګفتن است | ساقي بيا ر باده چه حاجت بګفتن است |
| شمع امشب ترک دعوي با رخ آن ماه کن | تيره کردي مجلس ما را سخن کوتاه کن |

ماخذ :

---

مجالس النفائس - ۸۰، ۸۶، ۱۵۰ مخونه

### ۱۶۰۳ بهکت بابا

دا فغانستان او انګريزانو په دوهمه جګړه کې د انګريزانو لښکرو سره کندهار ته راغلی او دیوی پیښې له کبله په کندهار کې ګوډ شوی و، وروسته د يوه روحي حالت د پيښيدلو په سبب مجذوب شوی او د فقر لاس يې هر څه ته اوږد او او خه پيسې چې به په لاس ور تلې په هغو به يې خوږې رانيولې او پر کوچنيانو به يې ويشلې.

د کندهار عوام ورته عقيده درلوده، هغه وخت چې مړ شو، نو د کندهار د ښکارپور دروازې لوېديځ پلو ته د ده د مزار ځنګ ته يو مسجد ودان شو، او اوس هم هلته په تيره بيا جمعې په شپه ... د ... طريقې د پيروانو د غونډې ځاى دى او په جهر ذکرونه پکښې کېږي.

مأخذ :

---

د کندهار مشاهير - ۹۶ مخ

ketabton.com - The Digital Library



## ۱۶۰۴ـ بهکهاری خان پرملی :

د لودی سلطان ابراهیم په وختو کی د«مسند عالی» لقب در لود٬او په هند کی دلو دیانو د وخت نو میالی امیر و ، چی بیا دبابر په امیرانو کی شامل سو .

په (۹۳۳ ق) کال چی بابر خپلی درنی لښکری دمهد سلطان میرزاتر مشرتابه لاندې د«بین شاهو خیل » مقابلی ته لیږدولی دی هم دیوه امیر په‌حیث ورسره و .

مأخذونه :

۱ـ لودی پښتانه ـ ۲۸۹ مخ ۲ـ بابرنامه ـ ۲۱۶ مخ

## ۱۶۰۵ـ بهلول لودی (۱) :

سلطان بهلول لودی دملک کالا زوی په‌ختپه شاهوخیل لودی٬دلودی پښتنو شاهانو دکهاله خورانومیالی‌او سترسلطان و٬دده‌مور هم شاهوخپله‌لودی پښتنه او دملک کالا خپله‌ترله وه٬چی په(۸۱۳هق) کال‌چی بهلول‌یې په‌نس و٬اولنگواله ته نژدې و٬ خونه‌پرونږ پدله مړه‌سوه٬ خو بهلول‌یې له‌نسه ژوندی راویستئ سو .

په د غه وخت کی د ملک کالا کور دملتان د ښار په «کمانگران» نومی سیمه کی و ، او سلطان بهلول هلته په دغه توګه و زیږید .

ولی‌چی په (۸۲۱هق) کال‌چی‌دسلطان بهلول‌اکا«سلطان‌شاه اسلام‌خان»د سر هند حاکم‌سو ٬ ئونورتول ورورنه ورسره‌ولاړل٬ یوازی‌د سلطان‌بهلول پلار ملک کالاچی د ملتان د «دوروالې »دسیمی‌حاکم‌و په ملتان کی‌پاته سو خو چی دنیازیو پښتنو سره په یوه جګړه کی وواژه‌سو٬او بی‌مور بهلول په کوچینوالی کی بې‌پلاره‌هم‌سو .

---

(۱) د سلطان بهلول د ژوند دا پیښی د محترم محقق استاد پوهاند عبدالشکور رشاد د « لودی پښتانه » له کتابه را اخیستی سوی دی .

ketabton.com - The Digital Library



**هغه و، چې سلطان شاه اسلام خان د بهلول اکا سمدستي د خپل وروركهول سرهند ته وروغوښت، بهلول او دهغه د وه نوروروڼه « محمد » او « فيروز »** اوخوريي دخپل خواخوږي اکا ترسيورى لاندې په خوراناز لوئيدل.

پوهاند رشاد ليکلي چې: «شوخ ؛ ذکي اوښوکی بلو (بهلول) که څه هم پرتهولو گران و خودمشرخان (اسلام خان) زړه ورسره ډوبيده ، دسترګو تور اود زړه سر يې وه خپل زامن يې ترده پورې هيڅ نه بالل ؛ دده هره شوخي او بې ادبي اخوبه يې دده دار تلونکی عروج پا يلامه گڼله نکل کاچې يوه ورځ شوخ نازولي « بلو » د موچنو سره دا کا پرمسله (جای نماز) وخوت مسله او هغه هم بيادمشرخان مساله ؟! مينځواوسا هو گانو په يوه پلا پررا ترپال ،لته پيرجوړ سو چاواهه چاتراته اوخوکئ ورته خښمېدل! اسلام خان چې دالته پېرولید دوراره خوايي ونيوله، دوى يې وترټل او ويې ويل :«نازولي بلو کمکی دی که زما پر ککره پښه کښېږدي پروانه لري »

د کورنېرسنی اومينځی چې انتظار يې درلود پر «بلو» به خان څه ناورين ورژوی د خان دی خبرې ته هيښې پاتې سوي، خان چې ددوی هيښتيا وليدله، وې فرمايل : «تاسې مه هيښېږۍ ، زه په دغه وراره کی هغه رشي اوښيگنی وينم چې د هغوله اسله به يوه ورځ د خوراناستوسرړه سی اوز موږ د کهاله سترگی به پرې لوړې وی»

د اسلام خان د اخره آخروختله کمکی بلو (بلوخان) سو، سلک بهلول، ملک بهلول فتح خان اوورپسې د ډهلي تهولواک « سلطان بهلول سو، چې په نياو (عدل) تدبير او رعيت پالنه کې يې نوم يووړ، اوله نوميالیو پاچهانو څخه وګاڼه سو» بهلول چې زلمی نوړی يې، دآسو په سوداګرۍ لاس پورکی، له پښتونخوا څخه به يې آسان هندوستا ن ته وروستل اوخرخول به يې، په دې کارکی يې ښې روپۍ وګټلې سوداګرۍ يې پرمخ ولاړه او ورسره ورسره تجربه هم پيدا کړه خلک پر راغونډسوه اود کاروان مشر سو.

پوهاند رشاد ليکلي چې :

«نکل کا : يووخت بلوخان (بهلول خان) له پښتونخوا څخه د راستنېدلو په لاره کی

ketabton.com - The Digital Library



کې چې د حسین خان پښتانه زوی قطب خان (چې بیا د بهلول په پاچهۍ کې لوی امیر سو) او د بهلول خان خپل اکا «ملک فیروز» هم ورسره ملهوو «ساماني» ته راغی او پریوه باوله ستانه چې «سیدامام» یا «سیدابن امام» نومېد پېښ سو، باوله ستانه ورته وویل: «په تاسوکی داسی څوک سته چې دډهلی پاچهی په دووزرو(۲۰۰۰)چلند وتنګورانیسی؟» قطب خان او فیروزخان څه ونه ویل خو بلوخان خپله امیانی چې یو زروشپږسوه تنګی پکښې وې دستانه سیدمخی ته کښېښووله او په خورا ادب یې ورته وویل چې: «تردې زیاتی نه لرم» مجذوب سید امیانی واخیستله او وې فرمایل: «دډهلی پاچهی دې مبارک وه! دادوه ملهبه دې هغه وخت نوکران وی!»

بلوخان دډهلی پاچهی په(۱۶۰۰) تنګی رانیوله، او دمجذوب سید له مخی راپاڅېد، پرلارې ملګرو ډېرپرو خندل او نا خوالی یې ورته وکړلې، بلوخان ځواب ورکا:

«داروپې تول عمرنه بسېدلې دلېږوورځو خورې و، که دبزرګ ستانه ویناترسره سوه خورا ارزانه سوداسی کړې ده، او که نه دیوه فقیرسیدخدمت می وکاوه دا هم ثواب لري»

په دغه پلاچې دبلوخان کاروان ډهلی ته ورسېد، له پښتونخوا څخه راوستلی آسان یې به تیار کړل او دخپل اکا «اسلام خان» په وسیله یې دډهلی دپاچا سلطان محمدشاه (۸۴۷-۸۳۷ هق) حضورته وروستل سلطان تول آسان خوښ کړل او دپنجاب دیوې یاغی سیمی دیو کال په مالیه یې ځینی را نیول، دسلطان محمدشاه په کمزوری پاچهی کی ډېرې سیمی ددې نه وی چه مالیې تو لولو ته لاڅه بلکه په همدغه نامه دې څوک متر ګی ورښکا رکړی، خو بلوخان او ملګرو یې پاچاهی سنبد ورا خیست او هغی سیمی ته یې دمالیا تودتو لولو دپاره دوه تنه پښتانه ولېږل مالیه تولوونکی پښتانه هلته ډېر وځورول سول، په یو چم یې غوږونه تری راخلاص کړل او تربلوخانه یې ځانونه راورسول، بلوخان چې په نکل

ketabton.com - The Digital Library



خبرسونوخپل اکا «اسلام خان» ته یې وویل: «زه پخپله هغې سیمې ته ځم، خو هلته چې هر څه وسوه پاچا به بیا څه نه وایې!» اسلام خان چې د بلوخان دا خبره پاچا ته ورسوله، پاچا په خوراخوښۍ ومنله او وې فرمایل:

«که ستا وراره هغو یاغیانو ته ایلادور کړي او بیرته یې ایل کړي نو زه به هغه سیمه د ر-سته ده ته ورو بخښم او څه چې ولجه او بند یان په لاس ورسي هغه دی هم ټول د ده وی»

زلمی بلوخان ته چې د پاچا دا پیغام ورسېد، نو ملا یې وتړه له او دیو یې د لي توریالیو پښتنو سره هغې یاغي سیمې ته مخ ونیو، ټول یاغیان یې ایل کړل د کال مالیه یې راغونډه کړه او د پرولجو او بندیانو سره په جګ مغزي بریالي د هلي ته ستون سو.

اسلام خان چې د نازولي وراره (بلو) دا توره ولید له له خوښۍ په کمیسه کې نه ځائیده سمدستي یې خپله نازولی لور «شمسه» ورکړه او وراره «بلو» ئې زوم هم سو.

سلطان محمد شاه چې د پنځه شلو پښت کلن بلوخان دا توره او میړانه ولیدله سو داګری یې پرېښووله هغه سیمه او څونوری ورپوری سیمې یې د جاګیر په توګه د «ملک بهلول» د خطا به سره ورو بخښلی، په دې ډول نود (۸۳۸ هق) کال په پای کې بلوخان «ملک بهلول» سو او په پنجاب کې یې خپل جاګیر وموند.

ملک بهلول خپل سپاهیان د پرښه روزل، کال په کال به یې نېوی سپاهیان نیول وتررو زنې وروسته به یې د سلطان محمد شاه تر حضور تیرول، سلطان به د ملک بهلول فوځی تنظیم او روزنه د پرستایله او د نویو سپاهیانو د خرڅ د پاره به یې نوری نوی سیمې د جاګیر په توګه ورکولې، په دی ډول وروروده لاهور د شاو خوا سیمې ټولی د ده په جاګیر کی راغللی.

ملک بهلول چې داسی ژر د ومره لوړی درجی ته ورسېد د هغه مجذوب سید خبری یې زړه ته ولوېدلې. له یوې خوا خپل ورځ په ورځ زیاتېدونکی قوت او له بلی خوا د سلطان محمد شاه کم واکی (چې د ډهلي په شل میلي کی امیرانو وزته د خلوا کی نغاري وهلی) د هندو-ستان د پاچهی خیال ورپیدا کړ او ځاګیردار ملک بهلول د تاج و تخت په فکر کی سو.

د (۸۴۰ هق) کال په شا وخوا کې د سرهند واکمن «سلطان شاه اسلام خان» وو، چې هغه هم اسلام خان خپل زامن او وروڼه لرل، خو ځکه چې د قام د اقبال ستوري یې د خپل وراره او زوم «ملک بهلول» په تندي کې لیده نو ملک بهلول یې په خپل نیابت ټاکلی و، ملک بهلول هم اکا د وصیت سره سم د سرهند د حکومت واک په لاس کې واخیست، خو د پر ژر د خپل بل اکا ملک فیروز» او خپل تربور، (د اسلام خان زوی قطب خان) د مخالفت او رقابت سره مخامخ سو.

ملک فیروز یې ژر د ځان کړ او قطب خان چې ځان د سرهند د حکومت او جاګیر رښتینی وارث ګاڼه او د بهلول سوټ یې هم پیچلای نسوای، نو د ډهلي د پاچا «سلطان محمدشاه» دربار ته ولاړ او نیاو (داد) یې وغوښت.

سلطان ته (چې د لودیو اتفاق او د ملک بهلول دونه ترقي او واکمني نه ښه ښکارېدله) نو ښه پلمه په ګوتو ورغله سمدستي یې په (۸۴۳ ه ق) کال یو تکړه لښکر د ملک سکندر «تحفه» په مشرۍ د ملک بهلول ځپلو له پاره سرهند ته ولېږه.

له دې خوا د ډهلي لښکرې د ملک سکندر په مشرۍ سرهند ته ورخوځېدلې او له بلې خوا د سلطان محمدشاه په امر جسرت ګکهړ د خپل قام سره پر سرهند را غی، پر پښتنو مځکه سره سوه، د سرهند د شاو خوا غرو ته وختل - هغه وو چې د ملک سکندر تحفه او جسرت ګکهر لښکرې په سرهند کې سره یو ځای سوې او پښتنو ته یې داسې حال ونه ورولېږل:

«تاسې څه دومره ګناه کړې ده چې مینې مو توري پرېښې دي او تورو غرو ته ختلي یاست؟ دا کار د کړو نه و، په خبرو د امشکل حلیدای شو ای -»

دې خبرو د پښتنو په سپېڅلو زړو کې اثر وکا، او د لودیو پښتنو سپین ږیری مشر «ملک فیروز» د غلیمانو په غد راو قسمو تېر و وت، خپل زوی «شاهین خان» او وراره «ملک بهلول» یې له کډو او لښکرو سره پرېښوول، پخپله د خوتنو نورو مېړو سره ملک سکندر «تحفه» او جسرت ګکهر ته ورغی

ketabton.com - The Digital Library



خو تر پوښتنې او گرو پېرنې د مخه ونيول سو، او ملگري يې و وژل سول- دډهلي او گکهر لښکري په شاهين خان او ملک بهلول پسې و وتلې، شاهين خان ديوې ډلې پښتنو سره د غليم دمخ نيوې دپاره پاته سو، او ملک بهلول کډې دغرو خوکو ته وخېژولې، دډهلي او گکهرو لښکري پرشاهين خان پېښې سوې، جنگ و نښت ډېر توريالي زلمي او پخپله شاهين خان و وژل سول، او پاته پښتانه بند يان سول، د پښتنو زلميو ککري سرهندته يوړې سوې.

نکل کاچې جسرت گکهر ددغې سوبې په مناسبت په سرهند کې دربار وکړ، او دملک فيروز لودي ښځه يې دهرې ککهرې نوم اونښان پوښته، په دې لړ کې دشاهين خان سرهم راوړه سو، ملک فيروز و ويل: «دانه پېژنم!». غليمانو هغه ککرې دملک بهلول گنهله او له هرې خوا يې د ميړانې، زړورتيا، او تينگارستاينې شروع سوې، ملک فيروز چې داستاينې واوريدلې ليمه يې لانده سول او دجسرت په ځواب کې يې و ويل :«دا ککرې زما د توريالي زوی شاهين خان ده!» جسرت ورته و ويل :دمخه دې ولې نوم نه ښود؟ زوی مړی فيروز په خوراستانت ورته و ويل: «ماو يل نه چې په ميړانه به نړ سوی نه وي، پيغور به را ته پاته سی، او اوس چې بهلول زمري ژوندی دی داډه يم چې ددغو خيالو رو ځلمو دتودو وينو پوربه نه پا تېږي» جسرت دپښتنو تر ځپلو وروسته پنجاب ته ولاړ، سرهند يې د ډهلي لښکرو او ملک سکندر تحفه ته پرېښود-او دپښتنو بنديان چې ملک فيروز هم پکښې و، دډهلي دربار ته ولېږل سول.

يوازې ملک بهلول دغرو په څوکو کې لالهانده او ځپلې گسرزېډه، په زړو لښکري يې تارپه تارسوې، ننگيالي او جنگيالي يارا ن يې ياد د ښمنو له لاسه دگور توري خاورې څوړلې چې ککرې يې په کله منار و کې نښتې وې

ketabton.com - The Digital Library



او یا په زندانو کی پراته وو. خو بیا هم ځیلی مګر توریالی بهلول خپل همت له لاسه ورنه کړ، مځکی آرام نه ورکاوه، د وری هیسته یې پورو دار وکړ، څه توریالی سپرونه یې بیا پرځان را غونډ کړل، پر پاچاهی حدود و به یې ناتارونه جوړول او هغه سیمی به یې تالاکولې- په دغو وختوکی یې ملک فیروز اکاهم دډهلی له زندانه وروتښتېد او قطب خان تربوریې هم د خپل کهاله او تبرنوره دابده ورغ ونه سهلای سوای او دډهلی د پاچهی تردربایې دقام دننګیالیو سره تورغرونه او دپاچاهی تور، لوړی او تندی غوره کړې ځکه نو ځیلی بهلول یو ډاډه او سروچ بهلول سو، په سرهند یې برید وکا، دسرهند پاچاهی حاکم یې دډهلی دربارته په پناه وړلو مجبور کړ، او دسرهند او شاوخوا تللیواک یې بیاموند، او ځیلی پښتانه بیا پر خپل بورسول. دډهلی دربارچی دسرهند په نیولو خبر سو، سمدستی یې دوزیر الممالک نائب السلطنه حاجی شرقی (چی د سرقع افغان مؤلف حاجی شدنی لیکلی) او په حسام خان ملقب و، ترمشر تابه لاندی دډهلی درنې لښکری د لودیو پښتنو ځپلو لره د سرهند لورته وخوځولې.

مدبر ملک بهلول چی دمخه یې لادډهلی دلښکر و مقابلی ته لیځی غښتلی وې له هغی خوا دیوه لږ مګر توریالی، تکړه، منظم او دانتقام له جذبې ډک لښکر سره مخ پر ډهلی راروان سو. دپنجاب د«سادهورې»یا«شاهپور»او خضر آباد دسیمو ترمنځ په«کړه»یا«لده»نو سی ځای کی لښکری سره مخامخ سولې کلک جنګ ونښت، دبهلول لښکر و داسی توره وکړه چی غلیما نو به لاتر ډېره یادوله، او پښتنو ځلمیو دملک سکندرد جنګ د خپلو نا مراد و ځلمیو پوریو په دوه واخیست، دډهلی لښکر و ماتې وکړه او نائب السلطنه حسام خان وزیر الممالک په تېښته ډهلی ته ترپلل؛ بریالی ملک بهلول تر پانی پته پوری ټولی سیمی ونیولې او سوبه وړی له ډېر وولجو او بندیانو سره

ketabton.com - The Digital Library



سرهند ستون سو، او س نوغښتلي بهلول هرچاو مانه ، او دخپل اکاربنتانی خلف سو ،اود پانی پت پهسیمو کی یې تقر یباً خپلو اک حکومت جوړ کی ،چی بیا د ډهلي پاچهی و رته خو لهچو لهنه کړی سوه .

خو بیاهم بهلول ته دده تدبیر دااجازه و رنه کړه چیدډهلي ددربارسره مناسبات خراب کړي ، نوځکه یې د سلطان محمدشاه حضو رته و لیکل :

«زه دپاچا هغه پخوانی نوکر یم ، خو د حسام خان وزیر په ژوند زما او دډهلي ددربارتر منځ دمناسباتو دښه کېدلو هیله نهسی کیدلای ـ که پاچا دغه خند(حسام خان ) پهمرګ لهمنځه و باسی او ځای یې «حمیدخان »تـه(١) وسپاری نو زه بهدپخوا په شان دپاچا هرحکم تـهغاړه ږدم »

سلطان محمدشاه چی دغښتلي اوتوريالي بهلول دغه مخلصانهليک ولوست نوبی څه تأمله یې ومانه اوحسام خان وزيريي (چیدابوالفضل پهقول دده دپاچهي رونق و ) ووژه اووزارت یې حمیدخان تهوسپاره(٢) اوهم یې سمدستي ملک بهلول ته «دفتح خان ملک بهلول» خطاب وروليږه ' ددهميرانه اوتورهيې ډيره وستایله ځکه چی له یوی خوا په خپله دا خطاب معمولي خطاب نه و'اوله بلي خوايی دملک بهلو ل دسرهند پر حکو مت او جاګیرداری پاچاهی مهرولګـا وه نو د ملك بهلو ل د را تلو نکو هيلو د پاره یې هم و ړپر انسيت ' ځکه چی د ی پو هیده چی دډهلي لهعياش او کمزوری پاچاڅخه دحسام خان غوندي باتجربه و زيرپهژوند دپا چهي دنیولو پهلاره کی سوبهنهوهاو کهوههم ډيری ويني بايدبهیدلی وای اوډيری خواري ګاللیسوی وای .

---

(١)شو کت افغان دغه حمیدخان هم لودی ګنی .

(٢)دتاريخ داودی مؤلف دغه پيښه دمحمدشاه دزوی علاءالدين پهوختو کی راوړی مګرنور تاريخونه دا پيښه دمحمدشاه پهزمانه کی ګنی اودغه چاره دسلطان محمدشاه اوملک بهلول دروغي سبب بو لي .

ketabton.com - The Digital Library



مدبر ملک بهلول په یوه‌غشي دوې نخښې وویشتلې، یوېې دخپلې لارې څخه حسام‌خان غونډې سنګړه‌ایسته کړه اوبل یې دخپل لاس سړی «حمیدخان» وزیر کړ، او حقیقتاً دحمیدخان وزارت دبهلول دپاچهې تیره سوه، اوهرلورته دلودیودو ر ډېل‌سو، هرسیمه چې به یې غوښته هغه به‌یې نیو له، ځو کث یې سخې ته د ر ډدای نه‌سوه، او«فتح خان ملک بهلول» هسې‌تش پـه نامه دډهلې تر واک لاندې و، اود سلطان محمدشاه کمزورې‌دې حدته‌ورسېدله چې دده‌خپل امیران پـرزړورسول او د«میوات» امیرانود «مالوې» پاچاخلجي‌سلطان‌محمود (۸۳۹-۸۷۳ هـ) پرډهلې‌باندې دبرید‌دپاره راوباله، اوسلطان محمودهم چې‌له‌خدایه‌دا غوښته، د(۸۴۴ هـ) کال‌په پای کې‌یې لښکرې پرډهلې ر او بهولې .

سلطان‌محمدشاه چې‌دفتح خان‌ملک‌بهلول پرتوره اوزړه‌ورتوب‌ویسادرلودله‌نوځکه‌یې سمدستي هغه له‌سرهنده‌دمالوې دلښکرومقابلې‌ته‌راوغوښت -ملک بهلول هم دخپلو شلو زروغښتلو جګړ نو سره (چې‌ځورلس‌زره‌یې‌یوازې‌پښتانه‌وو) ډهلې‌ته‌راغې، او د خلجي سلطا ن محمو د شاه مقابلې ته یې تیارې ونیولې ، او د ذې خلجي دمیاشتې په‌لومړیو ورځو کې‌دډهلې لښکرې دسلطان‌محمدشاه دزوې تر مشرتابه لاندې ډهلې‌څخه جنګ‌ته وروتلې، چه‌ملک‌بهلول دخپل‌شل زرې‌توریالي پوځ سره(چې‌ډېر ماهرغشي ویشتونکي‌په‌کې‌وو ) دډهلې دلښکـروپه‌مخ کې دمخکښ (مقدمته الجیش ) په‌توګه روان‌و .

خجلي سلطان‌محمود‌ترډهلې‌دباندې‌ورته‌اړولي و، اوځنګه‌چې دډهلې‌پاچاسلطان - محمدشاه‌پخپله‌جنګ‌ته‌نه‌و، وروتلی‌نودمالوې پاچاسلطان‌محمودهم‌خپلې‌لښکرې دخپلو زامنوسلطان‌غیاث‌الدین اوقدرخان‌ترمشر تابه‌لاندې دملک‌بهلول‌مقابلې‌ته‌راوایستلې،

kētabton.com - The Digital Library



لەغرمې ښخەترما ښام کلک جنګ وسو، اودمؤرخينوپه اتفاق په دغه جنګ کښې ملک بهلول اوددەلښکروداسې تورەوکړه چې دډ هلي دلښکروپټ يې خوندی کړ، اودمالوی دلښکر وغرور يې پرسرورمات کړئ .

په دغەشپەخلجي سلطان محمود تەخبرورسېدچې سلطان احمدشاه گجراتي دمالوی پرپايتخت «سانډو» بريد کړی دی نودډېروارخطااو ترهور سو، اودستنېدودپارەيې پلمه غوښتله. اوپه همدې وخت کې دډهلي دبي زړه اوناپوه پاچاسلطان محمدشاه له خوادروغې پيغام ورته راورسېد چې خلجي سلطان محمود تەيې دستنېدلو پلمەجوړه کړەخوښنګه چې دادر وغی پيغام دملک بهلول پەخوښه اوسلانەو، نوغيرتمن ملک بهلول ډېرخواشينی سو ، اوچې خلجي سلطان محمود له ډهلي ښخەلښکری وخوځولی نوملک بهلول د خپل لښکرو سره ترشا بريد وکړ د خجلي سلطا ن لښکری يې خورا وځپلی اوډ ېری ولجې يې ځنی ونيولی ، او چې له ډ يرو ولجو سره ډهلي تەراوګرځېد سلطان محمدشاه ډ ير ونازاوه اوډېر پاچاهي خلاتونه يې ورو بخښل، خپل زوی يې وباله او د«خان خانان» لقب يې (چې د هغه وخت لەخوراوتلو القابو ښخه و) ور کړ . بيا نوملك بهلول د « خان خانان » دلقب او ډېرو ولجو سرەبريالی سر هندتەستون سو . په (۸۴۵ هق) کال سلطان محمدشاه «ساماني» تەولاړ، هلته يې «خانان خانان» ملك بهلول تەد «لاهور» او «ديپاپور» حکومت (چې دتاريخ فرشته پەقول پخوا لاملك بهلول خپله غېږ پر راګرځولې وه) ور کړ، او دجسرت ګکهر ځپلو لره يې وګماره ،محمدشاه ډهلي تەځنې ولاړ، ملك بهلول پەهغه جسرت ګکهر پسې چې يو وخت ددغه پاچاپەحکم دده ( ملك بهلول ) ځپلو لرەراغلی و، لښکری ويستلې، جسرت کافر چې دخان خانان ملك بهلول دتوری او زړو رتوب نکلونه

ketabton.com - The Digital Library



ډېر اروېدلی وو، دروغی پیغام یې ورته ورواستاوه، او په دغه ترڅ کې یې دډهلي دراتلو نکي پاچهۍ مبارکی هم ورکړه، نو څنګه چې ملك بهلول هم نه غوښته چې دډهلي پر رقیبانو سر بیره نور هم دځان دښمنان کړي نو یې دجسرت دروغی پیغام ومانه او دغی مبارکی یې د پاچهۍ هیله ښه ترا پسی ټینګه کړه او دلاهور او دیپالپور حکومت دده طاقت لا پسی غبرګ کړ، دشاو خوا پاچاهی سیمی یې نوری هم پسی ونیولی او له لاهوره تر پانی پته تقریبا دملك بهلول خپلوا که پاچهی وه.

په (۸۴۶ هق) سلطان محمد شاه دځینو اسیرانو په لمسون (چې غوښته یې دی لا پسی کمزوری کړي خان خانان ملك بهلول ته چې دډهلي دتاج وتخت حقیقي ساتندوی و، یوسخت لیك راولېږه او وې تراته. دغه تر تلو دده او محمد شاه پاچا مناسبات سره وران کړل او خان خانان ملك بهلول دډهلي دنیولو د پاره په تیاریو بوخت سو، نو د هم دغه کال په پای کی خان خانان ملك بهلول خپلی لښکری پر ډهلي ورو بهلولي سلطان محمد شاه کلابند سو، خو سلطان بهلول په دغه وار دډهلي دنیولو امکان ونه لید سرهند ته یې لښکری ولېږدولی، او هلته یې «دسلطان محمد» یا «سلطان بهلول» په نامه ځانته خپلوا ك حکومت تاسیس کړ مګر خطبه او سکه یې دډهلي تر نیولو پوری پرخپل نامه نه کړه.

د (۸۴۷ هـ ق) کال په پای کی چی دډهلي پاچا سلطان محمد شاه وسړ، نو نالایق زوی علاءالدین یې پر تخت کښېنوست او د «عالم شاه» لقب یې غوره کړ. دده بیعت لره تول امرأو رغلل خو یوازی سلطان محمد «بهلول» ورته ور نه غیء.

په دغه وخت کی دډهلي دپاچهی نظام که څه هم له پخوا څخه لا دسلطان محمد شاه په زمانه کی ګډوډ سوی و، خو عالم شاه چی پر تخت کښېنوست هغه پاته وا ك او انتظام یې هم تر خپل عیش ځار کړ. دملك خال ورځ په ورځ

ketabton.com - The Digital Library



ورانېده، هرلورته ملوک الطوایفي سوه په هرښاراوهرسیمه کی بیلی بیلی پاچهی جوړی سوې، له لاهوره ترپاني پته بیا دملتان ترخنډو او ناګور حصاراوهانسي پورې دشاهو خیلولودیو په لاس کی وه، پر (کول) عیسی خان اوپر «بیانه» داودخان غیبرراګرځولې وه، په «مهرولی» کی چی دډهلی سهیلی لمرلوېدیز پلوته لس میله لیری پروت دی احمد خان سیواني دخپلوا کی بیرغ پورته کړی ؤ سنبهل دجمنادسین دخواجه خضر ترګودره پورې چی دډهلی ته خورا نژدې دی ددریاخان لودی ترلاس لاندی و، په «چندوار» کی قطب خان لودی خپلواک حاکم ودشاه عالم یوازی خپل جاګیر «بدایون» اودډهلی ښاراوشاه وخوا په لاس کی پاته وه ځکه نو په هغه وخت کی داستل و، چی «پاچهی دشاه عالم له ډهلی څخه تر پالم» (۱)

نو په داسی وخت کی سلطان بهلول بیا پرډهلی بریدو کا علاء الدین شاه عالم کلابند سو، خوسلطان بهلول بیا لښکری څنی راستونی کړې اوپه لاهور کی یې یوشاهانه جشن جوړکی تولو امیرانوسردارانو ته یې خلاتونه ورکړه، په دې وخت کی وهغه لس زره توریالي پښتانه چی یې له کسې غره اوروه راغوښتي وو، هم ورته را ورسېدل دېریې و نازول خلاتونه اوجاګیرونه او آسونه وروبخښل د دوی په راتګ د لښکرو شمېر خلو پښتوزرو ته ورسېد .

کله سلطان محمد (بهلول) په لاهور کی شاهانه جشن جوړکړتولو پښتنو ته یې حکم وکړچی بې توری اوسپاهي توبه په بل کارنه کوی د کرهني اوسوداګری څخه به لاس اخلي یود ووتنو چی ددې حکم له منلو څخه یې ټټه وکړه سیاستاً ووژشول سول په دی صورت نو پښتنو له یوه مخه سپاهي توب ته مخ ونیواو سلطان محمد (بهلول) فوځي طاقت دېر غښتلی سو .

په دې وخت کی یوه بله پېښه هم وسوه چی دبهلول دپاره یې دډهلی د پاچهی نیولو لاره پرانیستله هغه داوه چی یو وخت د حمید خان

---

(۱) پالم دډهلی له ښاره پنځه کروه لیری دی .

ketabton.com - The Digital Library



وزیرپلار «فتح خان» «درای پرتاب» کوټ وران کړی و، اوددهٔ ماندینه چې یې بندی را وستلې وه ځان ته یې کښېنولې وه ،دغه غچ درای پرتاب په زړه کی و، غوښته یې چې دده ترزوی یې کسات و کاږی، نو په (۸۵۰ هق) یا په (۸۰۲ ه) کال چې سلطان عالمشاه ډهلی څخه بارهری «مارهری» ته نژدې «برهان آباد» ته ولاړ هلته یې دعیسی خان او قطب خان په سلا پاچاته وویل : که پاچا حمیدخان وزیر ووژنی ، یا یې ایسته کړی نو به څلوېښت یاغی سیمې په پاچهی دفتر کی داخلی کړو، دغه لمسون پاچا د حمیدخان وزیر وژله یابند ته چمتو کړ ، خو حمید خان ځینو درباری خپلوانو په دغه حال خبر کړ ، او یا د ځینو په عقیده له بنده وغورځېد، ځان یې په پټه ډهلی ته ورساوه ځینی کسان وایې چې په دغه لمسون کی دسلطان محمد (بهلول) الاس هم و .

په هرصورت حمیدخان وزیر چې ډهلی ته ورسېد پاچهی کورنی یی په خوراسپکاوی له ډهلی څخه وایستله او په خپله یې پرډهلی غېږ راوگرځوله ، عیاش شاه عالم په «بدا یوان » کی ورته کښېنوست .

حمیدخان وزیر که څه هم دډهلی واک ومونده خو بیا هم پوهېده چې دادرونده بار په خپل نامه ترمزله نشی رسولای نو یې خیال درلود چې دسلطان علاءالدین شاه عالم پرځای بل څوک دډهلی پرتخت کښېنوی ،دجونپورپاچا «سلطان محمود شرقی » دشاه عالم زوم و، او خلجی سلطان محمود دمالوې پاچا په «مانډو» کی ناست و، چې له ډهلی څخه خوراډېرلیری و ، ځکه نومجبوراد ډهلی دپاچهی دپاره د حمید خان وزیرسترگی سلطان محمد (بهلول) او قیام ته ورواوښتلې ، دحمیدخان په بلنه دواړه امیران (بهلول اوقیام خان) په خورابیړه ډهلی ته راوخوځېدل، قیام خان چې خبرېده سلطان محمد (بهلول) بیا دلښکرسره ډهلی ته ځان راورساوه او قیام خان چې ځان دبهلول ساری ساری نه باله نو بیرته خپل جاگیرنه ستون سو .

حمیدوز یرچې بهلول ولیدو رته یې وویل: » دډهلی پاچهی دی ستامبارکه سی ، و زا رت به د ی زه په غاړه واخلم »

ketabton.com - The Digital Library



بهلول ځواب ورکړ:« زه سپاهی سړی یم په چاچهی ښه پوهېږم،ته پاچاسه اوزه بەدی سپهسالارسم او که ښه نورخدمت راو سپارې هغه ته هم ولاړیم »

حمیدخان ورته وویل:«سادا کار دځان دپاره نەدی کړی خاص کاسلام دښېګنی دپاره می داجرأت وکړ، ځکه چی ماباورد رلود چی پەدغه پاچهی کی بەداسلام حال لاپسی وران سی اوزه بېربدم چی نوری بخولی (فجایع) به لا پسی پیښی سی (الملك لمن غلب) زەترتابر یالی اوغښتلی نەوینم ځکەماتە دد ې کاردپاره غوره کړی» ترډبراصرار وروسته ملك بهلول قانع سو،لەحمید خان و زیر څخه یې ددهلی د ښارکلی واخیستلی او حمیدخان ته یې وویل :

«زەیوازی دښار دوره ساتندوی یم هرحکم چی ته کوې هغه وړم »اوپه دې صورت یی حمیدخان له خپلی خوادادە کړ ! ځکه چی ملك بهلول په دې ښه پوهېدچی که څه هم دی پەنامه پاچاو،خوپه حقیقت کی دهغه حمیدخان دلاس سړی و،چی دده پەتوره اوتدبیریی وزارت موندلی و ؛مګرځیرك،مدبراودوراندیش بهلول داوضعیت په خوراسېره سینەسهه ،وخت تەیی کتل چی دادستر ګواغزی اود سرچنګك هم دتدبرله مخی لەمنځه وباسی خوچی ځان رښتیا پاچاوګڼی، نوهغه و ،چی دڅه مودی دپاره دیهلول غاړه حمیدته کړەوه اوڅه چی بەوزیرویل پاچا به هغه کول ، اوهره ورځ به پاچادوزیرسلام تەورتی نکل کاچی یوه و رځ حمیدخان و ز یر ،بهلو ل پاچا اوڅوتنه نوردپښتنو ملکان مېلمستیا ته وروبلل ، دور اندیش پاچا دپښتو نلکانو ته وویل چی :

«دحمیدخان وزیر دربارته چی ورسو، دد ی دپاره چی ستاسی بیره اوپرتم ددمله زړه ووزی تاسی بەهسی احمقانه وضعیتونه کوئ چی و « زیـربې طبیعی وګـڼی » پښتانه ملکان چی هم دو زیردسترخـوان تەورغلل چاوچنی پەملاکی ووهلی اوچا دحمیدخان ترڅنګك کښېښوولې، حمیدخان وزیرچی سبب ځنی وپوښتېدوی وویل: «بېربزوچی غلانەسی» وزیرددوی پرسپیڅلی ورځ دېروخندل اودوی تەیی داډ ورکړ چی دلته غلانسی کېدلای (خوداپه حقیقت کی د هغی ډرامی لوېړی پردەوەچی

ketabton.com - The Digital Library



ځیرک بهلول تش په نامه پاچا جوړه کړي وه )

ډوډۍ چې وخوړه شوه پښتنو ملکانو په خوراتعجب غالیواو کمبلوته وکتل وزیرته یې وویل : « لەدغو څخه یویوتوکز سو ډته راپرې کړی چی خولی ځنی وګنډواو زامنو ته یې پەسوغات کې ولیږو ، هلته بەسوکام داوسنی چې سو ډدوزیر په دربارکی ډیر درانه یو ، حمیدخان داهم ددوی سپیځلتوب وګانه او ورتەوی ویل:

« تردغه به نو ربه ښەتوکران درته درکړم »

کله چې د هندوستان ددو د سره سم تر ډوډۍ وروسته دګلو ، عطر او پان ستر خوان وغوړېد ځینو عطرونه وښبله ، چاګلونه وخوړل، چالنده چونه (چې پەپانوکی لږ لږ په کار یږی) په خوله کړه،خولی یې وسوی او پر کمبلو یې توکړل .

حمیدخان وزیر چې داوضعیتونه ولیدل نوریې و نەسهلای سوای دایې خپل سپکاوی وګانه او بهلول ته یې مخ واړوه چې :

«داولی داسی بی باکی کوی؟ »

بهلول پەخورا ادب ورته وویل چې:« داناپوه کلیوال دی په غروکی اوسی ، بې لەوژلو او خوړلو یې نورخه نەزده ، دښاری خلکو سره ډېر نەدی اوسېدلی »

دیو ینا حمیدخان ډاډه کړ ،دربارمات سو ،او هر څوك خپلو خپلوکوروته ولاړل، دمېلمستیا پەسبا بیا بهلول دعادی ورځو پەشان دحمیدخان وزیر کره سلامی تەورغی، نوروخت چې به دی دحمیدخان دربارتەدننه ورننووت ، څه پښتانه مشران بەورسره پرېښول کېدل او نورسړی به یې دباندی درېدل پەدغەورځ دبهلول په لمسون دباندی پاتو پښتنو ځینی حاجبان ووهل،او په زوریې غوښتل دربارتەننوزی، ډیو ډسره پورته سو ، او حمید خان تەوویل سول چې :

ketabton.com - The Digital Library



«دباندی پاته پښتانه ملك بهلول ته‌بدو ردو ایی چې‌مو ږ هم لکه بهلول د حمیدخان و زیر نو کران یو ، دی‌پخپله دربارته ننووت او‌مو ږ نه‌پر پږ دی »

هغه‌و ، چې‌و زیر تول پاته پښتانه دننه دربارته و روبلل ، پښتانه چې‌و ر ننو تل نو بېل بېل د و زیر دنو کرانو شا و وته یو او دوه و دربدل،په‌دی وخت کې دبهلول تر بو رقطب‌خان‌و رو ړاندی سو ، څنځیر یې د حمیدخان‌مخی ته کیښو د،او و رته وې و یل :

«سلاداده چې تاسی دخو ورځو د پاره گوښه نشینه سئی— ځکه‌چې مو ږستا مالگه څکلې ده نوستاو ژله و ړنه گنو!»

و زیر چې دانندازه و لیدله دسبب پوښتنه یې‌و کړه، قطب‌خان ددې ځو اب سره چې:

«مو ږتانه‌و ژ نو ، خو خنگه‌چې تاپخپله نمکحر امی کړی‌ده ، نو او س‌مو ږ هم په‌تاو یسانسو کولای »

دحمید خان مغرو رو زیر پښو ته‌یې بېړی و رواچولې او دډهلی دښار تر کلادباندی په‌یوه ځای کې تر سړ ینی پو ری‌نظر بندو ساته سو ، او بهلول‌دډهلی دپاچهی بشپړ و اك و مو ند— خو په‌دی ښه‌پو هېدچې په‌یوه ملك کې‌دو ه پاچهان نه‌ځائیږی‌او دو هم پاچاسلطان علاءالدین عالمشاه و ،چې په‌بدایو ن کې ناست‌و ، نو ځکه مدبر بهلول ،عالمشاه ته‌و لیکل :

«زمستاپلار رو زلی یم،زمستاهغه پاچهی چلو م چې ستاله‌لاسه و تلی‌و ه،ځکه نوماتر او سه ستانوم له‌سکې او خطبې څخه نه‌دی ایستلی » سلطان علاءالدین عالمشاه و ړته ځواب ر او لېږه چې :

«زماپلار ته‌خپل زوی‌بللی—زه هم‌تاخپل مشر و رو ر بو لم، ځکه نو د پاچهی کار بار تاته پر پږ دم، او زه د«بدایون»پر جا گیر سکته شو م »

هغه‌و ، چې تر پو رته ځواب‌تر و ر رسېدو و روسته بهلول د(۸۵۰ ه ق) کال

ketabton.com - The Digital Library



دلوسړی خو ر په او و ه‌لسمه دشپږ دیر شو کالو په‌عمر دخپلی پاچهی‌اعلان وکی او د«سلطان بهلول ل‌شاه غازی » لقب یې‌غو ره کړ ، خطبه او سکه یې‌پر خپل نامه کړ ه، دملك اصلاحاتو ته‌یې ملاو تړ له، لښکری یې غښتلی کړې، او د عدل او انصاف و ر یې درعیتو پر مخ و پر ا نیست ا و د سلطا ن علاءالدین هغو امیر انو ته‌چې دسلطان بهلول سر ه په‌ډ هلی کی‌و و ،و ظیفی‌او تنخاوی دپخو اپه ډو ل و تباکلی او پخپله سلطان علاءالدین عالمشاه په«بدایو ن» کې‌پخپل عیش او عشرت‌بو خت‌و ،څو چې‌په(۸۵۵ هق) کال همهلته په«بدایو ن» کی مړ سو .

دسلطان علاءالدین عالمشاه په‌مړ ینه که‌څه هم سلطان بهلول د«بدایـو ن »له خوا بې‌غمه سو ،خو دعالمشاه دزو م سلطان محمو د شر قی له‌خو اچې‌د«جو نپو ر» پاچاو ، تر هغه غښتلی فتنه و ر ته پاڅېدله،او سمدستی خبر و ر ته را او رسېد چې سلطان محمو د دډهلی دبر ید دپاره ځان چمتو کوی .

دسلطان بهلو ل دارشه و ه‌چې‌تر خپله وسه‌پو ری یې‌له‌جنګه ځان ژ غو ره ، ځکه‌یې نو په‌خو را کېږ ه غاړه دجو نپو رله در باره ‌دنه‌بر ید (عدم‌تعرض) د تړ و ن هیله و کړ ه،خو دجو نپو ر دمغر و ر پاچا سلطان محمو د او د هغه دملکی زړ و نو کله دامنلای سو ای چې‌دملکی دپلر ګنی‌پر تخت دی نو رڅوك ناست وی، او همدغه سبب‌و ،چې دسلطان بهلو ل درو غی پیغام یې ر د کړ .

په‌۸۵۶ه ق کال سلطان بهلو ل د خپل پخو انی جا ګیر سر هنداو دیپالپو ر خو اته‌و لاړ ،او دډهلی نیابت یې‌خپل مشر او نوی زلمی‌زوی «خو اجه بایز ید» ته وسپا ره .

ځینی و ایی‌چې‌ده غو ښته دپنجاب له‌سیمو څخه نو رفو ځی طاقت دشر قی‌پاچا مقابلی ته‌ر او لی، او ځینی و ایی چې غو ښته یې دسر هند او دیپالپو ر تر انتظام و ر وسته ملتان چې‌په هغو ختو کی‌دیو ه ستانه شیخ یو سف‌تر لاس لاندی و ، و نیسی .

ketabton.com - The Digital Library



په(۸۶۰ هق) کال هغه وخت چې سلطان بهلول د پنجاب په سیمو کې و ، د جونپور پاچا سلطان محمود تقریباً د دوه لکو تنو فوځ او یو نیم زر وهاتیانو سره پر ډهلي یرغل وکیء نوی زلمی «بایزید» او څو ورسره پاته امیران پو هېدل چې د دونی درنو لښکرو مقابله د څو تنو سړو او ښځو کار نه دی بله چاره نه وه په کلا ننو تل ، ښار کلا بند سو ، د جونپور لښکرو شاوخوا ورته واړول ، د کلا دساتندو یو مشر توب دسلطان بهلول د پښتنی خوا ښی «بی بی مستو» چې د اسلام خان کو نډه او دسلطان بهلول دا کاماندینه وه پر غاړه واخیست — او ددی دپاره چې غلیم په دی و نه پو هیږی چې په کلا کی فوځو نه نسته د لو دی کورنی ټو لو پښتنو ښځو ته یې دناریینو کالی و رواغوستل ، کلا ته یې وخېژولې او پهری یې وروسپارلی — څه سړ ونه چې په کلا کی وو ، ټول یې وگمارل چې تل به د غلیم پر لښکرو غشی اوروی ، په دغو زلمیو کې د خپل وخت نامتو غشی ویشتونکی دخان جهان لودی زوم (شاه سکندر شیروانی ) هم و ، چې هر غشی یې یو ولس موته (پنځه نیم فته) او ږ دو و ، او تراتو سو وگامو پوری رسېده ، او دده پر ټولو غشو په زرین لیك «سکندر شاه» لیکلی وو .

د ډهلي دښار کلابندی پسی او ږده سوه او بی بی مستو دسلطان بهلول د و رسېدلو په تمه تر ډېره وخته پوری کلاو ساتله ، خودلو دیو سړ نو دراتگ ږغ و رنغی ، نو دانگیالی مېرمن او ټول کلاوال د کلابندی خوا ریو ستخ کړل او په پای کی یې سلا پر دی سوه چې دښار کلی غلیم ته ور وا ستوی او خپل ځانو نه و باسي. نو بی بی مستو دسید شمس الدین په لاس د ډهلي دښار کلی دیوه پیغام سره دسلطان محمود مشرقی خور او رتېر امیر دریاخان لودی ته (چې دشرقی د لښکر و ټول انتظام په ده پوری اړه درلو دله) و رولېږلې او ځنگه چې هغه هم پښتون و ، نو دپیغو ر په توگه یې دا پیغام هم ورسره مل کی چې :

« که دلو دیو دناموس دنه خوندی کولو پېټ و ړې نو کلی درواخله ! »

ketabton.com - The Digital Library



وايي هغه وخت چې سيدشمس الدين د دريا خان د ربار ته ورغی نو دده په غوښتنه دريا خان خپل درباريان پاخول، او چې دوی دوه په دوه سره پاته سول سيدشمس الدين ور ته وويل:

«سلطان محمود (شرقي پاچا) ستاسره څه خپلوی لري؟»

دريا خان ځواب ور کی چې:

«خپل سی نه دی، زه يې نوکر يم او دی سی پاچادی»

سيدبيا پوښتنه ځينی وکړه:

«سلطان بهلول ستاڅه کيږی؟ »

دريا خان وويل:

«موږ سره عزيزان يو، وروڼه يو، دی هم لودی دی او زه هم»

سيد ورته وويل:

«نودده سيندی او خوينډی ستاڅه کيږی؟»

دريا خان ځواب ور کی:

«دده مورسی مورا و دده خوينډی سی خوينډی دی»

نو په دی وخت کی سيدشمس الدين کلی له جيبه را وايستلی، سخ ته يې ور ته کښېښو ولي او ورته ويويل:

«اوس نو ستاخپله خوښه ده چې دخپلو سيندو او خوينډو پر دځوندی کوی که يه؟ »

پر دريا خان ددې پوښتنی ځواب ودرېد او په خوراتر هو ره وروځ يې ورته وويل:

«که سلطان بهلول را ارسېدلي وای، څه خوبه سی هر وسرو کړی وای، او س چې داگ تش تور پاته دی هيڅ تدبير نسی کېدلای».

دلته نو هوښيار سيدور ته ويل:

ketabton.com - The Digital Library



«سلطا ن بهلو ل خو ر ا رسپدلی دی،ښایی زما ترستنیدلو دمخه په کلانئو تلی وی».

در یاخا ن چې داو ارو پدله نوقومی پیر زو ینې یې پر نو کری بری و مو ند او کلی یې بیر ته سیدته‌و ر کړې،او سیدیی په‌خو ر اډاډه زړه او در ناوی‌د کلا خو اته ستو ن کی‌ء، او پخپله در یاخان دستی دسلطان محمو دشر قی‌پاچادر بار ته‌و رغی او عرض یې‌و کړ چی :

« د کلا کلی ماته ر او ړه‌سوی وې خو ساېې له اخیستو څخه نته و کړ ه، دا ځکه چې ار و پدل کبری چې‌بهلو ل دیو ه بې‌شمیره فوځ سره ر ا رسپدلی دی،نو که‌مو ږ ماتې و ر کړ ه ټو ل ملك ز مو ږ دی— پاچادی دلته او سی او ماته دی اجازه ر ا کړی چې‌مخه‌یې و نیسم، او نو م نښان یې و رك کړ م»

شر قی پاچاهم سمدستی دسلطان بهلو ل دمخنیوی حکم و ر کړ .

له‌بلی‌خو ا سلطان بهلو ل چې‌دسر هند او دیپالپو ر په‌سیمو کی‌دشر قی سلطان محمو د په‌بر یدخبر سو ، نو سمدستی یې دخپلو امیر انو په‌سلاپښتونخو اته‌دهری پښتنی قبیلی په‌نامه یو یو لیک ا و یوه جرگه و لیږ له ا و خپلی سر ستی‌لره یې ر ا و بلل .

د سلطا ن یهلو ل‌د لیک مضمون« شو کت ا فغا ن » دا سی ضبط کړ ی دی:

«لوی خدا ی پښتنو ته‌د هندو ستان (ډهلی) پاچهی و ر کړې ده، دهندو ستا ن دنورو پاچهانو سترگی نه‌پررو نیږ ، اودانعمت یې پر پښتنو پیرزو نه‌دی ، غوا ړ ی پښتانه له‌هندوستانه و ر ك کړی۔ هندو ستا ن یو ارت اوآزاد ملك دی ، ټو ل عز یز ان پکښې ځاېدلای سی، که تاسی دلته راسی پاچهی‌به‌تش زما په‌نامه وی ، او ملك به‌ټو ل چې اوس‌زماپه لاس کی‌دی او یابې پس له‌دې نیسو سره و و یشو. په‌دی و رځو کی دجو نپو ر پاچا خورا ډېری لښکری پر ډهلی

ketabton.com - The Digital Library



رابهولي دي ، د پښتنو خويندې او ميندې كلا بندي ګالي ، او دا دتبولو پښتنو ننګه ده - هلې را پاڅيء ! دجو نپور د پاچا سر ته وروليء ! »

ددې حال په ورسېدلو دپښتنو ځلمو فوځونه يو په بل پسې له هرې خوا مخ پر ډهلي راوخوځېدل چې پښتنې ننګه پر ځاى كړي او پښتنې خويندې او ميندې له كلابندۍ څخه وژغوري .

هغه و ، چې سلطان بهلول د پښتنو ددېرو زياتو او لويو لښكرو سره خپل ځان په تلوار ډهلي ته ورساوه او له ډهلي څخه پنځلس كروه ليرې يې په «بيره» يا «نريلا» كې واړول؛ دډهلي له خوا ددرياخانلودي لښكري دهغه ديرش زرفوځ او دېرشو ، ياځلو پښتو پيلانو سره چې سلطان محمود شرقي دخپل يوستر امير هراتي فتح خان په مشرۍ ورسره كړيوې ورورسېدلې .

سلطان بهلول خپلي لښكري پردرو برخو ويشلي وې اوله دروخواوي يې د دښمن پر لښكرو وروخوځولې ، خوراكلك جنګ ونښت.

وايي چې داسلام خان زوى قطب خان هسې غشي ويشتل چې په هغه وخت كې يې ساري نه درلود ، او په دغه جنګ كې يې په يوه غشي هغه جنګي پيل چې هراتي فتح خان دټول شرقي فوځ په مخ كې پر سپورؤ ، هسې له كاره ويوست چې بيا دجنګ سپک (قوت) پكښې پاته نه و ، دغې پيښې د شرقي فوځونږ ي وتښتول او په دغه ترڅ كې د قطب خان سترګې پر درياخان لودي ولګېدلې نو ورږغ يې كړه چې:

«په دغسې وخت كې چې ستا خويندې او ميندې په كلاكې بنديانې دي ستا پښتنې غيرت داڅنګه منلاى سي چې دپردو له خوا وجنګېږې او دخپل پت او ناموس فكر پر پرږدې ؟»

درياخان چې داپيغوروار وېد وررږغ يې كړه:

« كه څوک دشاله خوا پر مابريدنه كوي زه به ستون سم »

ketabton.com - The Digital Library



قطب خان ډاډ ورکیء او لوړه یې ورسره وکړه، دریاخان مخ وگرزاوه، دده په مخ گرزولی دشرقی لښکرو پښې هم لهمځکی وختلې، هراتی فتح خان (چې پیل یې لادمخه له کاره وتلیو) دسلطان بهلول دیوه امیر «رای کرن» په لاس کښېوت اوځنگه چې پخواتردې درای کرن وروړ «پتهورای» «ددغه فتح خان لهلاسه وژل سوی و، نودههم فتح خان وواژه، او ککری یې سلطان بهلول ته وروړه، په دغه جگړهکی لودیوته اووه جنگی پیلان هم په لاس ورغلل دسلطان محمود دفوځ دماتی خبرچې د هلی تهورسېدد کلا خلکو پهخورا خوشالی دکلاساتندویی مشری «بیبی مستو» تهحال وروړ، اوهغې ورته وویل: «تاسی وگوریء داخلک چېراستنېږی پهخپلو خیمونوزی کهبرابر دخپل پاچا دربارتهځی؟ دوی چې وکتل هغه خلک ټول، برابر خیموته تلل اوخپل کالی یې ټولول داحال چې یې «بیبیمستو» ورووړ، نوهغې سمدستی حکم وکیء چېدښادی ډولونه دی وډنگول سی؛ سلطان محمود شرقی چې له کلا څخه دښادی ډولونه واروېدل درباریان یې وپوښتل چې:

«په کلا کیولی د ښادی نغارې ډنگولی کېږی؟»

درباریان لاد تحقیق دپاره پاڅېدلی نهو، چې لودی دریاخاپه خورابده ورځ وروورسېد، اودهراتی فتح خان دوژنی او دشرقی فوځودماتی بدخبر یې وروووړ. سلطان محود بلــه چاره ونه لیدله سمدستی یې جونپورته د کوچ نغــارې وډنگولې اوسلطان بهلول بریالی په ډ هلی ورننووت، کلا بندو پښتنویېخوراتود هرکلی وکئ، اوهری خواتهدخوښی ډمامېووهغېدلې، جشنونه ونیول‌سول‌اوله پښتونخوا څخهورغلیو پښتونتهیېدرانه درانهانعامونه ووېشل،خوکله چېیېملک کالونومیپښتانه مشرتهخلاتونه کښېښوول هغه وانهخیستل‌سلطان بهلول چې یېدنتېی علت وپوښته دهورته وویل چې:

ketabton.com - The Digital Library



«زه‌په‌دغه جنګ کی‌تهی سوی یم،اوس که‌زه‌دغه خلاتونه اخلم‌پښتانه‌په‌پیغور را کوی چی کالونخان‌خپل تپ‌خرځ کی،خوماداتپ د کام په‌ننګ کی اخسیتی‌دی ، زه‌داپه وینوسور تپ نه‌خرڅوم اوداپیغور نسم وړای دتپ بهااخستل دناسیالوکار دی ننګیالی یوازی دننګ دپاره ګانونه و ژنی‌او بس »

په‌(۸٦۱ هق) کال سلطان بهلول دخپلول‌لښکروسره‌دمیوات‌اودو آبی‌لورته‌وخوځید، میواتی احمدخان یې(چی‌دخضرخانی سلطان علاوالدین عالمشاه په وختوکی‌دتول میوات‌خپلواک‌واکمن‌و)مخی‌ته‌راووت اودسلطان‌بهلول حکم‌ته‌یې‌غاړه کښېښووله- سلطان‌دده دهغه طاقت (چی‌تل به‌یې یاغی توب‌ته‌پاڅاوه )د لږ ولو په‌غرض‌دهغو خواو ،او وه سیمی‌دده له‌واکه و ایستلی او پاته یې‌ده‌دجاګیرپه نامه‌و ر پریښوولې داحمد خان اکا « مبارک‌خان»یې‌ده‌هلی په‌دربارکی دیرغمل په‌توګه دځان سره بوت ، او د « برن » له‌لاری «سنبهل» ته‌پسی ورغیء او دسنبهل واکمن « دریاخان لودی» یې هم اطاعت و مانه او او وه پیلان یې‌و رو لاندی کړل‌سلطان- بهلول دده‌او وه سیمی هم‌دخپلی پاچهی په دفتر کښېیستلی اونوری یې ده ته دجاګیر په‌توګه‌ورپر ېښوو لې بیانو«کول» (اوسنی‌عیلیګر) ته‌پسی‌و رتېرمسو، دکول واکمن «عیسی‌خان »یې‌پرخپل حال‌پرېښود؛ له‌کوله‌څخه«برهان آباد» ته‌و لاړ او«دسکیت» واکمن‌مبارک خان‌لوانی یې هرکلی وکیء سلطان‌هم دسکیت بیرته مبارک‌خان ته‌وسپاره، بهوګاو ن ته‌ورغیء اود هغی‌سیمی واک یې «رای پرتاب» ته‌ورکی - اوله هغه‌ځایه «راپړی» ته‌و لاړ ، راپړی واکمن‌دحسین‌خان پښتانه‌زوی قطب خان ځان کلابندکی خودسلطان‌بهلول‌لښکرده‌پر ژ رور باندی‌بری وموند‌اود‌خانجهان‌لودی په‌زیرمه قطب‌خان وباخښه سواو جاګیر یې هم بیرته ورکړمسو.

بیانو سلطان بهلول «اتاوی» ته‌وخوځید‌هغه سیمه یې‌هم و نیوله، او په دی توګه‌تول«میوات»او دو«آبه» او «سنبهل» ده‌هلی‌په‌پاچهی کښېیستلی‌سوی‌اودداتولی هغه‌سیمی‌وی‌چی‌دمبارکشاه (۸۲۴-۸۳۷ هـ ) په‌پاچهی کی په‌ده‌هلی‌پوری‌تړلی‌وې .

ketabton.com - The Digital Library



دجونپور پاچاچې او رېدل چې سلطان بهلول تراټاوې پورې لاسونه اوږده کړه
سمدستي يې خپلې لښکرې داټاوې لورته او روخوځولې، لښکرې په اټاوه سره مخامخ
سوې، لومړی ورځ يوسپک جنګ وسوپه سبايې د راپړې حاکم «قطب خان» او د
«بهوګاون» حاکم «رای پرتاپ» منځ ته راغلل او ددواړوپاچهانو ترمنځ يې په ځينو
شرطو روغه وکړه اودواړې سره مخامخ لښکرې بېر ته خپلوخپلو ځايوته ستنې سوې .
خوترڅه مودې وروسته يې بيادسلطان بهلول اوسلطان محمودشرقي ترمنځ شخړه منځ
ته راغله اوځوجګړې يې سره وکړې ( چې تفصيل يې «دلودي پښتانه» په ٨٣-٨٥
مخو کې راغلی دی) ځوپه پای کې سلطان محمودشرقي په (٨٦٢ ه ق/) کال مړسو
اومشرزوی شهزاده بهيکن دسلطان محمدشاه په نامه دپلار پرځای کښېنوست اوهغه هم
دسلطان بهلول سره مخالفت شروع کی ترڅو جګړو وروسته سلطان محمدشاه هم ووژل
سو، اود هغه پرځای سلطان حسين شرقي کښېنوست اوسمدستي يې دسلطان بهلول سره
روغه وکړه؛ اوددسلطان بهلول اخښی اواوتربور (قطب خان لودی) يې له بنده ايله
کی اوپه ډېر احترام يې ډېرو خلاتو او آسانو سره سلطان بهلول ته ورولېږه .

په (٨٦٧ ه ق) کال سلطان بهلول د ډهلې چارې قطب خان لودی اوخانجهان وزيرته
وسپارلې اوپخپله دلوی لښکرسره دملتان دياغي حاکم دځپلواود پنجاب دانتظام دپاره له
ډهلې څخه وخوځيد خوپه لاره کې خبرسوچې د سلطان حسين شرقي لښکرې مخ پر
ډهلې راروانې دی، نوځکه يې دپجاب کار نيمګړی پرېښتوداوپه خو راتلواردشرقي
لښکرو مخنيوی لري ډهلې ته ستون سو ، خو تراتو ورځو جنګ وروسته يې
بيادځينواميرانوپه ګواښ تردرو کالو پورې دنه بريد تړون دسلطان حسين شرقي سره
وتاړه .

تردرو کالووروسته سلطان حسين شرقي بيادېو لک سپرواويوزر پيلانو سره پاځېد «اټاوه»
يې ونيوله اوپه «بيانه» کې دده په نامه خطبه وويله سوه، له بلې خواسلطان بهول دځپلو
لښکر سره ورووت په «بهتواره» يا (کود کان ) کې يې دشرقي فوځومخه ونيوله

ketabton.com - The Digital Library



خو د سخه‌ترهغه‌چې جنګ وسی‌د خانجهان لودی په زیار بیار وغبه وسوه نوسلطان‌ډهلی بهلول نوسلطان حسین جونپورته‌ستانه سول ؛

مګر لږ وخت و روسته سلطان حسین بیا دډهلی خواته لښکری راوبهولی چی سلطان بهلول یې په «سنګهره» کی سخه ونیوله ، څو جنګونه سره وسول چې پای یې‌بیا په روغه تملم سو .

په (۸۷۶ هق- یا-په ۸۷۴ ه) کال چی دملتان پاچا سلطان قطب‌الدین‌لنګا‌رای سهره و مړ او پر ځای یې زوی «سلطان حسین لنګا» پاچاسو ،سلطان بهلول دملتان دپناه و روړی پخوانی پاچا« شیخ یوسف سهر وردی» نرستی لره دپنجاب‌و اکمن تاتارخان لودی وګماره چی د شهزاده مبارک ( باربک‌شاه) ترمشر تا به لاندی پرملتان بریدوکړی خوشهزاده نا کامه پنجاب ته ستون سو . ۱

د(۸۸۳ ه ق) کال دلوی اختر په‌سیاشت سلطان‌حسین شرقی د«سنبهل»تر نیولو وروسته‌خوو رادرنې لښکری چی تاریخ فرشته‌یولک‌او څلو ښت زره سپاره بللی دی‌دیو زراو څلورسوو پیلانو سره دډهلی لورو ر ولیږدولې سلطان بهلول که‌څه‌هم په‌دغه وخت‌کی دکشمیر یانودسرکوټلو په‌نیت سرهندته تللی‌و، خودفاع ترتیبات‌او انتظامات یې‌ډیر ښیږ وو ، نودخانجهان لودی زوی «حسین خان» له «میرتهه» څخه دهغه مقابلې ته وګوماره ، او پخپله سلطان بهلول له‌سرهنده ډهلی ته‌ولاړ .

هغه‌و، چی سلطان حسین شرقی د خپل درانه لښکرسره د «جمنا» پرغاړه د«چوسا»ګودرته نژدې واړول ، اوسلطان بهلول هم داتلسو زرو پښتنو سپړو سره وررووت او د سیندپردابله ژې یې‌ور ته‌و اړول‌او سلطان‌حسین ته یې‌خال وړولیږه چې: « ډهلی تراتلسوکروه پوری ماته را پر پرده‌نوری هغه سیمی‌چی تانیولی دی هغه یې ستا- دمسلمانانو وینی به‌نه‌سره تویوو، او ته‌ماپه‌ډهلی کی‌له خپلی خوا دتاکلي حاکم په‌توګه وګڼه »

ketabton.com - The Digital Library



خو سلطان حسین چې په خپل قوت مغرور و ، د سلطان بهلول دا کړه غاړه ونه منله .

وايي سلطان بهلول چې له روغي نا امیده سو، نو یوه شپه د بختیار قطب الدين کاکي زيارت ته ولاړ او هلته د رسته شپه لخ سر خدای ته په عجز او نیاز و لاړ و ، او د خپلي سو بې د پاره يې لاسونه پورته کړي وو، خو چې سپېدو ته نژدې پریشاني يو وړ ـ که گوري يو نا آشنا سړی ورته راغی، کو تک يې په لاس ور کی او ورته یې وویل :

«ځه ! هغه لیوان چې دلته راغلي دي له دغه ځایه وشړه! »سلطان بهلول چې داخوب ولید پر خپل بری يې ټينگ باور پیدا کیء خدای پاک ته يې دشکر سجده و کړه خپلو لښکرو ته يې مخه کړه او دخدايي مرستي په توکل دهغو لیوانو دشړلو په تکل کی سو.

د جمنا تر طغيا ني سیندو ر پوري ووت او د سلطان حسین پر لښکر يې ناخا پي یرغل و رووړ، او دسلطان حسین دلښکر و امیران يې تېښتي ته مجبو ر کړه او سلطان حسین بیا روغی ته غاړه کښېښوو له، او له ډهلي څخه يې لښکري ستني کړ لې ، خو سلطان بهلول د خپلو لښکرو سره تر شا برید پرو کړ ، څه خزانه او جنگي سامان يې په ولجه په لاس و رغلل او خلو يښت تنه درانه اميران يې بنديان، و نیول؛ بیا نو د پټیالي ، کهپنل، جاليسر ، شمشاباتسکيت، کول، مارهره او جلالي خواته پر مخ ورتېر سو،او هغه سیمې يې هم و نیولې، خپل خپل حاکمان يې پکښې کښېنول، سلطان حسین مجبور سو چې په «رام پنجهره » یا « را پړی» یا«پنجهوارن »کی تر یوې جگړې وروسته دسلطان بهلول سره روغه وکړي او د«دهنو پامو» سیمه خپل وبش وتا کی . خو نژدې یو کال وروسته بیا سلطان د ډهلي خواته لښکرې وايستلې مگر بیا يې هم ماته وکړه او د«گوالیار» لورته وتښتېد، سلطان بهلول د«اټاوې » سیمه و نیوله ، او د هغه ځای ا واکمني يې ابراهيم خان لواني ته وسپارله .

ketabton.com - The Digital Library



بیایي د«کالپي» او«قنوج» سیمی هم و نیولې، سلطانحسین «بهار» تهو تښتېد ـ تر هغه و روسته د«جونپور» سیمه هم دسلطان بهلول پهلاس کښېوتله او په (۸۸۴هق) کال یې خپل زوی سبارک خان دجونپور پرتخت کښېناوه او «باربکشاه» خطاب یې ورکیء، او ډهلی تهبر یالی ستون سو، او دخپلو بریو جشن یې جوړ کیء، په عام دربارکی یې طلاوی او سرغدری و پاشلې، ډېر بخششونه یې وکړه، سپاهیان یې و نازول او دمحتا جورعیتو پر مخ یې دخزانو دروازې خلاصی کړې.

په (۸۸۹هق) کال سلطان بهلول دمالوې دپاچاهۍ بر یوه شمالی سیمه « پالن پور» بر یدوکیء او تر هغه وروسته یې دگو الیارلورته لښکری وخوځولې دگو الیار راجادوه لکه سرې‌تنگې و روړ اندی کړې» سلطانهغه ځینی ومنلې او نور یې څهورته و نهویل، اتاوې ته ولاړ، او د«گوړ کهیور» دسیمی حکومت یې«معظم خانعلیزی» ته وسپاره او ډهلی ته ستون سو. په پهدې وخت کی سلطان بهلول اتیا کلن و،پهځان کی‌یې دضعف‌نخښی لیدلې اوملک یې دادارې په غرض پرشوبرخوووېشه:

جونپور اولمرختیزی سیمی یې خپل زوی باربکشاه تهور کړې؛

بهړایچ یې‌خپل‌خوریی «کالاپهار»ته‌کړه سانکپوریې خپل زوی«عالم‌خان ته؛ کالپی یې خپل لمسی «اعظم همایون »ته؛ بداون یې دخان جها نلودی زوی «خانجهان »ته؛

او ډهلی او دوابه یې شهزاده نظام ته ورکړه ، او د و لیعهدی دپارهیې هم‌شهزاده نظامو ټاکه ، ځکه چی‌دسلطان ترټولو مشرزوی«خواجه بایزید» د یوه مریی لهلاسه وژل سوی و.

دملک دادارې تر وېشلو وروسته سلطان بهلول دگوالیا رخواته لښکری ولېږلې، دگوالیارراجا و ته ایل‌سو، او اتیالکه تنگی یې دنذرپه‌توگه

ketabton.com - The Digital Library



دسلطان حضور ته ورا ندی کړلي ،سلطان هم دگواليار حکومت بير ته ده نه ور پر پښود ، او پخپله دډهلي خوا ته وخوځيد ، پر لاري ناروغه سو، او څنګه چي يې ناروغي د مرګ وه نو خپل وليعهد «شهزاده نظام» ته دا دوه وصيتونه ولېږل :

۱-د«سور» له قامه به هيڅوک امير- يا-خان نه مقرر کوې ځکه چي دد وی په سرو کی د پاچهی خيال سته .

۲-د«نيازی» قام هيڅوک نه نوکر کوې ځکه چی دا خلک وفانه لری هغه و، چی سلطان بهلول د (۸۹۴ هـ ق) کال د برات پر مياشت کی دا تيا-کلو په عمر د دتاريخ داؤدی په قول تر څلور څلو ېښتو کالو، او د طبقات اکبری په قول تراته دېرشو کالو او اتو مياشتو او اتو ورځو پا چهی وروسته په« تلاولی» يا«بهداولی» يا «جلالی » نو مي ځای کی (چی د سګيت په شاوخوا کی دی )وفات سو،جنازه يې ډهلي ته راوړه سوه او د « سيری » په کلاکی د نصير الدين چراغ ډهلی دهديرې تر څنګه ښخ کړ سو، او دده دوختو يو ه شاعر دده د مړينی نېټه داسی و يلی د ه :

بهشتصد و نو د و چهار رفت از عالم خديو ملک ستان وجها ن کشا بهلول
به تيغ ملکستان بو دليک دفع اجل بو دمحال بشمشير و خنجر مصقو ل

سلطا ن بهلول يو ديندار ه، زړه ور، تو ريالي ، زغمو نکی، په لاس کی خلاص او کر يم النفسه پښتو ن و :

سر بېره پر دې ځنو يې دعلم او ادب سره هم مينه درلو دله،خپل ذرمارته به يې شاعر انو ر بلل او ددوی شعر و نه به يې ار و يدل ،دی پخپله هم د پښتو ژبی ښه شاعرو ، له هغه يوې في البديهه څلو ريزی څخه چی پټی خز انې ظبط کړې ده مو ږ ته دده د پښتو شاعری مقام ښه څرګند يږی .

ketabton.com - The Digital Library



محمد رسول کلا توال هوتک په خپل بیاض کې لیکلي دي چې : «په هندوستان د برسات په موسم خلیل خان نیازي هسې رباعي انشا کړه او د سلطان بهلول پاچا په مخ کې یې و ویله.

خړې اوریځې ژاړي له پاسه کو یله بوغ کا، بېلتون له لاسه
په هغه لونې گوهر په خول ستا دا مرحبا کاستا زموږ مو اسه !

سلطان بهلول چې دا رباعي واورېدله په ځواب کې یې سمد ستي دا رباعي وویله.

ملک به زرغون کړم په ور کړه راسه گوره اوریځې د دا دله پاسه
خول سي دعدل په دروړونه دي جهان به زیب مومي زساله لاسه

په هغه کتاب کې چې « نیلسن وایټ » د ډهلي د پاچهانو دسکو په باب کې لیکلې او په (۱۹۳۷ م) کال خپور سوی دی دسلطان بهلول د دوو سکو عکسونه راوړ سوي چې د لو مړې سکې پر یوه خوا « سلطان بهلول شاه بحضرت ډهلي او پر بله خوا یې «الخلیفته المؤمنین امیر خلدت خلا فة» لیکلي دي :

او ددوهمې سکې پر یوه خوا المتوکل علی الرحمان شاه سلطان بهلول بحضرت ډهلي» او پر بل خوا یې «في زمن امیر المومنین خلدت خلافة » لیکلي دي .

(دسلطان بهلول دخویونو، او لادونو، امیرانو، حاکمانو، او دده د وخت دمصنفینو په باب د«لودی پښتانه »۷۰۱ مخ نه تر ۱۲۵ مخه پوری دي و کتل سي.)

مأخذونه :

---

۱ـ لودي پښتانه ـ د پوهاند عبدالشکور رشاد تألیف چې په ۱۳۳٦ هش کال د پښتو ټولنې له خوا چاپ او خپور سوی دی له ۴ مخ څخه تر ۱۲۵ مخ پوري .

۲ـ تاریخ فرشته ـ ۱/۱۷۳ مخ ۲/۴٦۲ ۳ مخ ۳ـ حیات افغاني ۲۸۰ ۲ـ مخ .

۴ـ تاریخ خورشید جهان (۷۵ ـ ۲۲۲ مخ.) ۵ـ مرقع افغان ـ ۱۷ ، ۳۳ مخ .

٦ـ طبقات اکبری ـ ۱/۹۷ ۲ مخ ۷ شوکت افغان ـ ۳/٦۴ ۱ مخ .

۸ـ مأثر رحیمي ـ ۱/۳٦ ۴ مخ . ۹ـ سیر المتأخرین ـ ۱۳٦ مخ .

۱۰ـ خزینة الاصفیا ـ ۲/۷۵ « ۱۱ـ پټه خزانه ـ ۷۵ «

ketabton.com - The Digital Library



## ۱۶۰۶- بهلول نیکهٔ :

د روب دسیمی یو روحانی نیکه و، چی د یر خلک یې مزارته و رځی. دی په خته میرزی سنځرخېل کاکړ و، او د کلا سیف الله په سیمه کی پردښت مرغه باندی ښخ دی.

مأخذ :

---

مزارات - دسیال کاکړ لیکنه - ۰۰ مخ

## ۱۶۰۷- بهیکن لودی :

دهند د کالپي د حاکم محمودخان لودی زوی او دسلطان سکندر لودی له خور انوسیاالواسیر انوښخه و.

و ایی چی خو را سپېڅلی اویوه ستوی سړی و.

طبقات اکبری یې د عالم خان لودی زوی گڼی او پلار یې «داتاوی» حاکم بولی.

مأخذونه:

---

۱- لودی پښتانه -۲۲۷ مخ ۲-مرقع افغان-

## ۱۶۰۸- بهیم : Bhim

تر «کملوپاچا وروسته په کابل کی «بهیم» نومی برهمنی پاچا و' چی دالبرونی په قول یې زیانی سکی په کابلستان کی پید اسوی دی-دده پرسکه «شری بهیم دیو ه SRi Bhim Dea » لیکلی سوي دی او دغوایی او یو پر آس سپور شکلونه سته.

ماخذ:

---

افغانستان بعداز اسلام-۹۷ مخ

ketabton.com - The Digital Library



## ۱٦۰۹- بهیم پال :

د کابل د ختیزې سیمی د برهمنی شاهانو وروستی پاچا وچی دغزنویانو فتوحاتوله مخه یووړ. خودده په نامه کوسه سکه لاس ته نه ده راغلی. وایې چی په (۱۷ ۴ هق) کال دپلار ترمړینی پنځه کاله ور وسته مړدی.

مأخزونه :

۱- افغانستان بعد از اسلام - ۱۰۲ مخ

۲- زبدة التواریخ ( خطی )

## ۱٦۱۰- بیاض د سوابی :

د پښتوژبی صوفی مشربه شاعرو، او ددو ولسمی هجری پیړی په پای کی یې د پیښو ر د مردان دسیمی په سوابی نومی ځای کی ژوند کاوه .

دده پوره نوم محمدبیاض او په ختهه جدون پښتون و، دی پخپله وایې :

که پوښتنه خوک زما دنسب کاندی زه په اصل یم جدون له پلار له جده

او خپل نوم داسی یادوی :

مسافرمحمدبیاض سره خه نشته په نخاس که یې خرخوی سرییی در زار شه

او بیاض یې تخلص و، لکه چی وایی :

دخپل یارپه سینه سرښنده بیاضه ابا خپل د ناسړدانو وطن نه دی

خه موده په پیښور کی اوسېدخو په پای کی د کن ته تللی او هلته پیښورداسی یادوی :

د بیاض قدربه هله تاله را شی که استوګنه کاندی بیاپه پیښور کی

او بیا و ایی :

توره ږیره کړه بیاض په وطن سپینه د خپل یارد جوره ځی ځای د کن شه

او بیا د پردیسی په حال کی دوطن یارانو ته داسی سلام لیږی :

که خوک پیښن شودوطن په ښویارانو دبیاض دعاسلام دی ورته وا یی

ketabton.com - The Digital Library



داسې ښکاري چې د ډیر عمر خاوند و، ځکه چې وایې :

غا بن وتلې تيته ملا سترگې تا ر يگنې
بياض ښکلې پسې گرځې سوال دخولې کا

سپينه ږيره بياض خو له غواړې له ياره
ملاست پرې باندې وايې عالم ځکه

معلومیږي چې په تېر و شاعرانو کې زياتره دحميدماشو خېل د اشعارو تــر اغيز ی لا نـد ی تللی دی او هغـه پرطرز يـې د برې غـز لـې ويلې، په تېره بيا دحميد دهغه ترکيب بند جواب يې خوند ور دی چې حميد د خپل يارپه بېلتون کې ويلی او لوسړی بنديې دادي :

نن بەشپەزمادیارپه کوم‌مکان‌وی جلوه گر به‌په کوم هټ‌په کوم‌دکان وی
شرمولی‌به‌یې‌حسن‌کوم‌ترکان وی کوم دکان‌به‌یې دخو لې‌ددر وکان وی
په‌ډبوه‌به‌یې‌دمخ ښوک‌پتنگان‌وی همخو ابه به‌یې پاکا ن‌که‌ناپاکان وی
ولی‌نه چوې له دې غمه زمادله چې‌دی وا ور پده ديار دتلو بد له

په‌همدې وزن دبياض‌د ترکيب بند لو مړی بنددادی :

نن په‌شپه زمادیار په کوم‌مقام وی لکه‌میاشت‌به‌را ښکا ره په کوم یوبام‌وی
تماشگير به‌یې‌و مخ ته‌خاص و عام‌وی هرسړی به‌یې د سرو سترگو غلا م وی
دو اړه لاس‌یې اېښی چاته په‌سلام‌وی خوب‌خندالە‌ستو مانی‌به‌پرې‌حر ام وی
ولی‌نه‌چوی زمازړه له ډېره غمه چې‌لا ببل‌گرځي‌جد ا له خپل همدمه

بياض دخو کنو دمیاعمر صاحب مر يد و، او په زيا تو بيتو کې يې د هغه نوم يادکړی دی‌لکه‌چې وا يي:

ز ه بياض‌خاصه غلام دمیاصاحب‌يم دا من گير يې په دنيا هم په قيامت

ketabton.com - The Digital Library



یا دا چی :

خو چی نو م د میا عمر خان صاحب څوک واخلی هغه لورته زه بیاض لاس په سلام یم

بل ځای وایی :

غم به نه وینی بیاض تر سرګه پوری چی سرید د میا صاحب د څوکنی شه

ځنګه چی میا عمر صاحب په (۱۱۹۰ ه ق) کال کی مړ دی نو د بیاض ژوند

هم د دو ولسمی هجری پیړی په پای کی یقینی دی ، ځکه چی په (۱۲۰۰ ه ق)

کال بی د میا عمر صاحب دوراړه میا محمد سعید بازګل ویرنه ویلې ده :

په سنه د زراو دوه سوه داغم و ورځ اتبار او د شبقدر شپا ړ سم و

د بیاض د کلام نمونې :

— ۱ —

سحر د ارا ته آواز وکړ و بلبلو چی به لوټ ګډه وو ، ستاد باغ په ګلو

لوی شې ولی رانه پاڅېدې بیا کښېنه دخو ږ زړه د مه می کیږی په کتلو

بیا به هیجری زه ونه وایم تا ته چی ته بد کښی د خولې په راکولو

له هوسه په مجلس کی می مخ رون که چی می ځنګ له چرئ راشې بې و یلو

په خپل یار پسی به ځی قلندر کیږی چی «بیاض» غواړی رخصت د پر دو خپلو

پس له دې به د «بیاض» د زړه رضا کړم چی د مخ صفت می کاندی په غزلو

— ۲ —

چی په سپین رخساره تورو زلفو دام ږدی عاشقان به وو ته سر ږکښې مدام ږ دی

خو له په خوله چی سخا مخ و در پری یار ته

- بختور به لب په لب مره به جام ږدی

دبنو غشی چی تول را باندی خلاص کا

یار ها له لینده د و روخو په ارام ږ د ی

چی دیدن د بنا یسته و ، په کور مو می

ستر ګی ونخوره چی په بله خوا به کام ږدی

ketabton.com - The Digital Library



چې سي خاوري کړ خپل ځان ستا په کوشه کې
په تندي سي قدمونه خاص وعام ږدي

راشه درشه دهر چا په تشه خوله شي
«بیاض» لاس په سر د پاسه د سلام ږدي

- ۳ -

چې ظلم ډېر شي د لاسه کمه شي
که ورځ کړه وي هغه به سمه شي

چې ډېر خانان شي ډېر سلکان شي
سمه غرگوره دوا ړه له غمه شي

دده نور اشعار د «تېر هېر شاعران» په کتاب کې راغلي دي .

مأخذ :

تېر هېر شاعران ـ د بېناغلي اثر تأليف ـ د پېښور چاپ ـ له ۷۷ مخ څخه تر ۸۵ مخ پوري

## ۱۶۱۱ـ بیاض گل (قاضي) :

خواجه سید قاضي بیاض گل مشهور په « قاضي بیاض » د پښتو ژبې شاعر و ، د دولسمې هجري پېړۍ په پای کې ژوندی او دعلي خان شاعر (۱۱۸۰ هق) معاصرو ، او د هغه سره یې علمي او ادبي رابطه درلودله ، او په «ينگلېه» کې اوسېده، او قبر یې د پښتونستان په چارسده کې دی او اولاده یې په نوي و قاضي خیلو کې ژوند کوي .

مأخذ:

فرهنگ زبان و ادبیات پښتو ـ ۸۳ مخ

ketabton.com - The Digital Library



## ۱۶۱۲ - بیانی خراسانی :

دخراسان دجوین یوخوږ ژبی شاعرو، چی خپل وخت یې په تجارت تېر-
او ه عمر یې پنځوسو کلوته رسېدلی و، او دوسپې (آبله) په ناروغی مړسوی
او دابیت دده دی :

یک شبی گفتی سرو درخواب بیدارم هنوز

سالها شد کین سخن را پاسس بیدارم هنوز

مأخذ :

---

پښتو آریانا دائرة المعارف ۳ ـ ۵۶۳ مخ

## ۱۶۱۳ - بیاضی بلخی :

یو قلندر منشر به شاعر و، ځکه نو د «بیاضی دیوانه» په نامه مشهور سوی و.
دیو لسمی هجری پېړی په نیمایی کی یې ژوند کاوه ـ دا مطلع ده ته منسوب دی:

أی زشانه زلفت را میل عنبر افشانی

زلف عنبر افشانت مایه؛ پریشانی

مأخذ:

---

پښتو آریانا دائرة المعارف ـ د «مآثر بلخ» په حواله ۳ ۶۳ ۵ ـ مخ

## ۱۶۱۴ - بیبك خراساني :

دایوه ډېره عارفه ښځه وه، په خراسان کی اوسېدله .

شیخ ابوسعید ابوالخیر وایی :

«بیبک ماته راغله او وویل چی عرض لرم .

ما وویل : وایه !

دې وویل: خلک دعا کوی چی خدایه موږ یو کړی پر یږده چی تا و پېژنو-

ketabton.com - The Digital Library



خو دا دري کاله کېږي چې زه وايم :خدايه ! مايو نفس ځان ته پر پردمـچې ځان و پيژنم، چې زه څوک او دڅه دپاره يم؟؟»

مأخذونه:

---

۱ ـ پښتني مېرمنې ـ ۱۰۳ مخ

۲ـ خيرات حسان ـ لومړی توک .

## ۱۶۱۵ ـ بيبو بکوانۍ :

مېرمن بيبو دعلي‌محمد لوردفر اه دسيمې دبکواد تلخک د کلي نوميالۍ مېرمن وه ، چې د(۰۰ ۹ هق) کال په شاو خوا کې يې ژوند کاوه او ديوه مشهورا و لسي نکل پهلوانه تېره سوې ده ،چې دانکل دکندهار په عوامو کې خورا زيات شهرت لري ، او دشپې يې په باندو ، کوتوا و حجرو کې زلميان او زاړه ، په ډېرې دلچسپۍ ا وري .

په دې نکل کې د بيبو له خولې ځينې شعرونه هم سته چې دسندرو په توگه يې په نکل کې پر ځېل ځېل ځای نکلچي په خوليږه او لوړا و از پر اولسي وزن وايي او دکندهارپه‌اصطلاح يې «ناري »بولي .

داناري ددېوانو د اشعارو غوندې عروض نه‌لري‌بلکه پر څپلوا و لسي او پښتني ځانته او زانو و يلې کېږي .

د نکل لنډيز داسې دی چې:بيبو يوه ښکلې پېغله وه ، او دځپلې ا کادزوي «بنادی » سره يې له‌کوچنيوالي څخه مينه‌وه ،، او هغه‌هم پر دې مين و ـ تل به دبکواو دلارا م پر دښتو او شپلو اوغرو کې يوځای څره کړ ځېدل ،مېږی‌به‌يې پوولې ، او بو تې‌به‌يې‌تو لو ل ، يوه‌و رځ ددلاژلم دغره په‌يوه کوچنې ځنگله کې پر «بنادی » دزلميتوب لېونتوب او د «بيبو» مينې دونې غلبه‌و کړ ه‌چې بيبو ته‌يې دځپلې مينې اعلان وکی ، او په ښکاره ئې خوله‌ځينې وغوښتله،

ketabton.com - The Digital Library



دبیبو پرمخ دحیاخولې ماتی سوې، په زړه کی راضی وه؟ خو دپښتنو الی پټ‌سانع سو، ورته ویو یل چی: «په پښتنو کی دا دستور دی چی اکاخپله لور وراره‌ته ورکوی نوښه داده‌چی‌ته زما پلارته‌سړکه‌ر او لیږې هغه‌به‌ماتاته درکړی نوزه به بیا ستاسم اوته زما» ښادی خوا بدی کیږی، وطن پرېږدی اصفهان ته ځی بیا یې پلار له اصفهانه راولی بیا هند ته ځی، خو هلته هم دبیبوله مینی نارامه وی څه‌موده وورسته‌بېرته راځی‌او دبیبو کلی‌ته نژدی‌یې مارچیچی سری پیبوچی په‌خبرېږی نو دلیونی مینی په څېر راځی دښادی پرسړی ځان اچوی او دا هم سړی او دواړه په دلارام کی څنک پر څنګ یوځای ښخېږی اوتر اوسه ددوی قبرونه دلوی سړک پرغاړه ددلارام هوتل‌ته‌نژدی سته.

پخواچی به دپردیسانو قافلی ددوی دهدیرپرحدرا رسېدلې نوداد عنعنی‌په توګه یوسنت و، چی‌دقافلی‌یوه سړی‌به ضرور په‌لوړآواز دبیبواو ښادی دنکل یوه‌ناره‌کوله اودا یې ښه‌شګون‌باله. اوس‌به‌دبیبواوښادی‌دنکل‌دوې ناری چی‌دبیبوله خولې‌ویلی سوی دی‌دنمونې‌په‌توګه راوړو:

- ۱ -

هغه وخت چی‌ښادی ددلارام‌دپوتیوپه منځ کی له‌بیبوڅخه خوله‌وغوښتله‌اوهغې دپښتنی‌حجب له‌امله خوله ورنه کړی اوښادی‌ورځینی بېل‌سو، اووطن‌یې پر ښوده نوبیبو خپله پښېمانی په یوه ناره کی‌دا څرګنده کړه:

«خدایه‌ددې‌پوتی‌په‌هاخوا، د ها بل پوتی‌په‌دا خوا
زمااو دښادی‌وه سره ناسته سپینه‌خوله‌یې‌له‌ماغوښته، ورسی‌نه کړه
زما ارمان شوی دښادې، و ر و سته خوا سته !»

ketabton.com - The Digital Library



-۲-

: بیبو دخپل سین په بپلتانه کی سوځېدله بکواپر دښت کاروانونه تېرېدله، داستنظره وه چې گوندی ودی به راسی خوچی کاروانونه تېرسوه او ښادی پکښې نه وي، نودخپل سوی زړه څخه داسی آوازراباسی : کاروانونه دبکواپردښت تېرېږی کاروانونه دبکواپر دښت تریری ښاد ي جان سی پکښې نسته، په دانور کاروان سی مینه ،نه ماتېږی»

- ۳ -

ښادی خان له اصفهانه راگرځېدلی و ، اودده ا کاخپله لوروړ په نکاح کړې وه ښادی خان دبیبو کره ورغی اوله بیبو څخه چلم غواړی نوپر بیبو داسی ناره کوی :

«که ورورولی بیبو جانه په څه نازاو په نخرولی
دیوه ښادی د پاره ، پر چلم اوړدی.»

بخملی گوتی سپځی

بیبوچې دښادی آوازاوری نوله خوشالیه په ناره کی داسی جواب ورکوی :

«چلم به ډک کړم دلونگو' داژیړ پیزوان به پاس پرچلم کېږدم' نوبه یوسم دا چلم او سپینه خوله به دښادی وسخ ته کښېږدم »

ددی نکل بشپړ تفصیل اونوری ناری د مرحوم محمد گل نوری په «ملی هینداره» کتاب کی راوړه سوی دی .

مأخزونه :

---

۱-پښتنی سېرمنی-۷ ۲ مخ ۲-پښتانه شعرأ-۱ ۱۱۸/۱ مخ ۳-ملی هینداره

## ۱۶۱۶- بیبو بلو څه :

دبلوڅستان د کلات دلوړی خان اعظم میراحمدخان نوسیالی او جنگیالی خوخوروه.

هغه وخت چې میراحمد خان «دسبی» په سیمه کی دباروزیو قبیلی سره ترپنځلسمی جگړې وروسته ماته وکړه نودده خور «بیبو» ده ته پیغورو رکی اوپخپله یې دباروزیود قبیلی سره جگړی ته ملاوتړله لښکریې ورویوست او د « سبی » په بیری نومی ځای

ketabton.com - The Digital Library



کې ئې دبارو نږیو دلښکر دسلار سر دار میرزاخان معروف په بخت بلندخان سره سختې جگړې وکړې خوچې سره سوه.

دآس دسپرلی سره یې زیاته سینه درلودله اودورځې به ترا وو سیلو زیاته پرآس سپره تله او هم ښه سدبره ښځه وه چې دهغه وخت یوشاعر «شیخ فاضل» یې پخپله منظومه جنگ نامه کې داسې ستایي:

| | |
|---|---|
| یکی خواهرش بود «بیبو» بنام | چو مردان بدیوان نشستن مدام |
| همه مردمان کرده او را سلام | بگردش همه مردمان خاص وعام |
| زنی بود دانا بسی هوشیار | بمردا نگی در جهان اشتهار |

مأخذ:

---

هماری جدوجهد - په اردو، دعبدالرحمن غورلیکنه - ۱۴۰ مخ

## ۱۶۱۷ - بی بی ایمنه:

دسلطان بهلول لودی هوښیاره او مدبره ماندینه او دسلطان سکندر لودی مور وه هغه وخت چې سلطان بهلول لودی په (۸۹۴ هق) کال کې مړسو، نو د هغه پرځای دسلطان سکندر لودی په پاچا کېدلو کې بی بی ایمنی لوی لاس درلود، ځکه چې دسلطان بهلول مشرزوی باربک شاه وه، چې موریې هم پښتنه وه، خو دبی بی ایمنې په تدبیر ددې مېړنې زوی نظام خان چې وروسته یې دسلطان سکندر خطاب وموند دپلار پر ځای پر تخت کښېنوست.

مأخذ:

---

تاریخ مرصع - دوهم فصل - ۷۰ مخ - د ۱۹۷۴ م کال د پېښور چاپ

## ۱۶۱۸ - بی بی تاج:

نوم یې «کرم نسا» د حاجي حیات گل لور په ختیځ سوسند د پښتو ژبې شاعره وه، د پېښور په ښېقدر کې اوسېدله او په شعر کې یې «تاج» تخلص کا وه؛

ketabton.com - The Digital Library



په قادر یه طریقه کی دبغداد دسجاده نشین حضرت مصطفی شاه مریده او د سلوک او علم اوعرفان سپړمن وه .

ددی نظمونه په مدح الابرار نومی کتاب کی راغلی دی چی نمونه یې د «تېرهېرشاعران» په کتاب کی هم راوړه سوی ده .

مأخذ :

تېرهېرشاعران - ۲۷۹ مخ

## ۱٦۱۹ - بی بی زینب :

دبلوچستان د کلات د مشر لومړی میرمحمودخان نو میالی خور وه، خو دمیرمحمودخان ددربار نوازی د پالسی سره یې سخت مخالفت درلود، او د همغه اختلاف په سبب دمیرمحمودخان څخه بېله سوه او دخپل بل وروراميرمصطفی خان سره اوسېدله همغه وخت چی میر محمد رحیم خان دمیرمحمودخان بل ورور د «کچهی» او «داجل» دسیمو دحکومت په نسبت خپل و رور میرمصطفی خان و واژه نودی ننګیالی سپړمنی د «پنج منه» دسیمی په یوه ځنګله کی دمیرمحمد رحیم خان لاره ونیوله او همغه یې دخپل ورورمېرمصطفی په کسات وواژه اوداپه خپله د «کچهی» دسیمی مشره سوله ـ خو میرمحمود خان ورغی او همغه سیمه یې ددی له لاسه ویستله بی بی زینب ته خبنم ورغی او د خپل ور ورمیر محمود خان پرخلاف یې بیرغ پورته کی او د میرمحمود تول نائبان یې له «کچهی» څخه وایستل ځکه چی د کچهی سیمه دمیرمصطفی خان داولاد جا ئزحق و .

همغه و چی په (۱۸۱۳ م) کال کی میرمحمود خان پر کچهی برغل و کی بی بی زینب یې دمقابلی توان نه درلود د «سبی» تنخاخواته ولاړه او د «خجک» دسیمی سردار میرخان ته یې پناه وروړه میرمحمودخان خجک ته پسی ولاړ خو دخجک دسردار په تسپارښتنه یې بی بی زینب ته و نفقه وټاکله سگربی بی زینبه بیاهم په

ketabton.com - The Digital Library



پته‌د میرمحمود خان له مخالفته لاس‌وانه خیست‌له کـلاتـه کابل تـه راغلـه چی‌د کابل‌له پاچاشخه مرسته‌وو غواړی خو دلته‌یې هم‌څه لاس‌ته‌ورنغله‌بیرته کلات‌ته ولاړه او دژوندترپایه همهلته‌دمحمودخان‌سره‌او سېدله .

مأخذ :

همارې جدو جهد پهار دو دعبدالرحمن غورلیکنه-۱۷مخ

## ۲۶۱- بی‌بی زینب هوتکی :

بی‌بی‌زینبه دنوسیالی او سترقائد اوسلی‌زعیم‌میرویس‌نیکه پوهه‘عالمه اوښدبره‌لوروه دفقه‌علم اواسلامی احکام اودپښتواودری متداول کتابونه یې‌د کندهارله‌مشهور اونومیالی عالم اودمیرویس نیکه دکورنی دخصوصی ښوونکی ښوونکی او استاد ملانورمحمدڅخه زده کړی‌اووروسته یې‌بیا پخپله‌دخپلی کورنی‌ښځمنوته‌ښوونه پرغاړاخیستی وه‌د پلارترمړینی وروسته یې‌دمملکت په‌مهمو چاروکی‌هم لویه‌مشورتی برخه‌درلودله، او ورو نوبه‌تل‌له‌دی‌څخه مشوری‌اخیستی په‌تېره بیا هغه‌وخت‌چی‌شاه‌محمود هوتک اصفهان ته‌وولاړ اودهغه ورورشاه‌حسین دپاچهی‌دچارو اگی په‌لاس کی‌و نیولی.

دپټی خزانې مؤلف محمد هوتک لیکی: «هسی روایت کا: چی بی‌بی زینب ډېره هوښیاره او په مهماتو دامورو عالمه ښځه ده، او د پادشاه جمجاه‌شاه حسین په امورو کی تدبیر کا، او هر کله په‌رای صایب مشکلات دامورو حل کا، او پادشاه دزمان یې‌په خبرو عمل کا، او نصایح یې اوری» دنادرشاه خراسانی دیرغل په وخت، کی‌چی دکندهار ښاریې محاصره کیء بی‌بی‌زینب دخپل وروسره او‌ډه پراو‌ډه له‌ښاره‌دفاع کوله اوڅه وخت چی‌محاصره ختمه سوه هم ترټولو دمخه بی‌بی‌زینب دیوې ډلی افغانی مشرانو سره نادرشاه‌ته ورغله او دهغه سره یې د متارکی دشرطو په باب کی‌خبری‌وکړی(۱)

(۱) تاریخ افاغنه ـدسید ظهورالحسن تألیف ـ۵ مخ

ketabton.com - The Digital Library



سر بېره پر دې بي بي زينب دادنياتو سره هم مينه درلو دله ، د پښتو او دري پخوانی ديوانونه يې کتل او په خپله يې هم په پښتو شعر ونه ويل. محمد هوتک ليکی: «دا درشهوار دصدف عصمت ښه ښه شعرونه هم وايی ، او دسو زونانو او شاعرانو قدر کا ، دو اوين دشعراهر کله لولی ، او له مضامين شيرين يې کام شيرين کا، عمر په عبادت دخدای او تلاوت دقر آن شريف تېروی او مخدراتو دحرم دپادشاه ته درس او کښل او لوستل و رښيی. نقل کا: چی د شاه محمود جنت مکان دمرگ حال، قندهار ته راو رسېد، نو دپادشاه خاندان عاليشان ټول غمجن سول او مخدراتو دحرم ساندی او غلبلې کا، بی بی زينب چی و الله دو رو ر دوفات و او رېدله، ډېره غمجنه سوه، او په تلاوت دقر آن او لمانځه يې تسکين و کا، دنتلی زړه ـ او هسی و يرنه يې په و ير دخپل و رو ر مرحوم و و يله، چی زه يې دلته را نقل کوم، خدای تعالی دی ټول خاندان عاليشان دپادشاه ظل الله ژوندی و لری او خوښ» هغه مرثيه چی بی بی زينب دخپل و رو رشاه محمود پر مړينه و يلې وه داده:

ډ غم سو چی ورو ر تېر له دنياسو ،نا · کندهار و ار ه په ژړا سو ، نا
زړه می په و ير کی مبتلا سو ،نا · چی شا ه محمو د لـه ماجلاسو ، نا

---

دا رو ڼ جهان را ته تور تم دی ، نا · زړه د بېلتو ن په تيغ کړ م دی ،نا
هو تک غمجن په د ې ماتم دی ، نا · دپاچهی تاج مو بر هم دی،نا
چی شاه محمو د تېر له د نيا سو ، نا · کندهار و اره په ژړ اسو ، نا

* * *

ځو انو ، مېړ ه دتوری جنگګو، نا · و لا ړ د کا م په نا م و ننګئو ،نا
دښمن له ده په وينو ر نګ و ،نا · پر ميدان شيرو، یا پلنګ و ،نا
افسوس چی مر گ ددده په خولسو،نا · کندها ر و ار ه په ژړا سو ،نا

ketabton.com - The Digital Library



محموده ! نه یوازی خور ژاړی پر مرګ دی تو له کلی کو ر ژاړی
خپلو ان لاځه، پاچادیو رور ژاړی لښکر سپاه دی پلی سپو ر ژاړی
پښتو دی تول په واویلاسو، نا کند ها رواړه په ژړاسو، نا

* * *

اصفها ن پا ته تا ج نسکو ر عالمه چی شاه محمو د سو نن په ګو ر عالمه
د پښتو ن لمر سو، تیاره تو ر عالمه را ته دښمن به کا پیغو ر عالمه
چی پاچا و لاړ پښتو ن ګداسو، نا کند هار رواړه په ژړاسو، نا

* * *

لښکرسو خپور پښتون ولاړدی اریان په خاورو ځای کا شاه محمو د عالیشان
پاته سو تخت وتاج دتو ل اصفهان زړه یې راسو ړسو، کاخو ښی دښمنا ن
و ایی پښتو ن اوس بې پاچاسو، نا کند هار واړه په ژړا سو، نا

* * *

آسمانه ! بیادی څه ستم کا څرګند وشلاوه تاچی دپښتو ن و، پیو ند
دښمن دی بیا زمو ږ په وېر کاخو رسند چی شاه محمود دی کا په قبر کی بند
پر کور موویر شو ! او غو غاسو، نا کند هار واړه په ژړا سو، نا

مأ خذو نه:

---

۱-پته خز انه-د کابل لو مړی چاپ -۱۸۰ مخ تر ۱۸۸ مخ پو ری

۲-هو تکیان -د کابل چاپ -

دبینوا تألیف -۱۵۲ مخ

۳-پښتنې سېر منی -د کابل چاپ دبینوا اثر -۷۰ مخ

۴-تار یخ افاغنه-دسیدظهو را لحسن مو سو ي اثر-۵ مخ

ketabton.com - The Digital Library



## ۱۶۲۱- بي بي ستي :

يوه پر هيز گار ه عابده ښځه وه، چې دابو مسلم سره يې ژوند کاوه، او ابو مسلم د بي بي ستي په مرسته په نيشاپور او هرات کې خپل ډېر کارونه بشپړ کړل .

په ۱۵۸ ه کال کې مړه سوې او په هرات کې ښخه ده .

شاهرخ ميرزا د دې قبرجوړ او د دې قبر ته يې نژدې يو سترجومات هم ودان کې

مأخذ:

پښتو آريانا دائرة المعارف -۴/۵۶۵ مخ

## ۱۶۲۲ بي بي ستي هروي :

يوه متقي او پر هيزگاره ښځه وه، ابو مسلم خراساني ته يې ډير ښه نظر درلود، او ددې په همت ابو مسلم په هرات او نيشاپور کې مهم کارونه سرته ورسول.

دا ښځه په لومړي سر کې ښه ښځه نه وه، ځکه چې مړه يې ابو نصر ډېر بې باکه و، خو په پای کې يې ښې لارې ته مخه شوه، او ډېر معتقدين يې وموندل

په (۱۵۸ هق) يا په (۱۵۰ هق) کال په هرات کې مړه سوې ده او دشاهرخ ميرزا په وختو کې د دې عابدې پر قبر باندې ښه ودانۍ ودانه سوه او قبر ته يې نژدې يو ښه مسجد جوړ کړه سو.

دمجمل فصيحي مؤلف ليکي چې:

دابو مسلم له عيارانو څخه يوه هم «بي بي ستي» وه چې توبه يې وکښله او دخپل وخت نوميالۍ زاهده سوه .

دې په هرات کې ژوند کاوه، او په (۱۵۰ ه ق-۸۶۷م) کال مړه سوه او په «بازارخوش» کې ښخه ده.

مأخذونه:

۱- پښتني ميرمنې- ۳۲ مخ ۲- مجمل فصيحي -۱/ ۲۲۱ مخ

۳- د هرات دمزاراتو رساله -۱۰ مخ

ketabton.com - The Digital Library



## ۱۶۲۳- بی بی ستی کا سی:

یوه عا رفه ښځه وه چې د کو یټې د کاسیانو په لو یه هـ دیره کی ښخه ده، او او ډیر خلک یې مز ار ته و رځی او ز یارت یې ښه شهرت لری.

مأخذ

---

مز ار ات ـ ر ساله ـ ۳ ، مخ دښاغلی سیال کا کړ تألیف

## ۱۶۲۴ - بی بی شمسو رو شا نی:

دبایزید پیرو ښا ن ماند ینه وه او هغه وخت چې پیرروښان د هندگور گانی د ولت سره دخپلی خـا روی اوخـپل دخپلوا کی دساتلـو دپاره مبار زه پیـل کړه دا ننگیالی مېرمن په تولو مبا رزو کی د پیر روښا ن سرملگر ی او زیاته استوگنه یې داشنغراو توتی په غره کی وه.

پلار یې شیخ حسین نومېده او د اودی تبر څخه و.

د پیرروښان ترمړینی وروسته دا باسیند پرغاړه چې دد ې مېرمنی د زامنو اکورودگانی دو-لت دطرفدارانو ترمنځ سختی جگړې وسوې او په دغو جگړو کی د دې ننگیالی مېرمنی د ری زامن (شیخ عمر، خیرالدین، نورالدین) ووژل سول نود شمنانـو د هغو سرونه اولاسونه پر ی کړل او بی بی شمسو ته یې راوړل بی بی شمسو هغه دری سرمېچ او ښکل کړل او وې ویل:

«په تاسو دی رحمت وی چې ثابت قدم پاته شوی او د حق په لاره کی موسرونه ور کړل»

د زامنو مړینی د بی بی شمسو د مبارزی غزم کمزوری نه کړ بلکه څه و خت چې جلال الدین روښانی تیراته راغی نو بی بی شمسو یې هم دځانه سره راوستله او دلته به تل د روه په غر ونو کی لالهانده گرځېده او د هند کورگانی دولت پرضد به یې خلک مبارزی ته لمسول او پاروله، څو چې د (۱۰۰۰ هـ) کا ل به شاو خوا کی دا مبارزه او ننگیالی میرمن په تیرا کی سر مسوه او ښا یی چې هم دلته په تیرا کی ښخه د ی.

ketabton.com - The Digital Library



ځینو مؤر خینو ددی نوم « شمسیه » او ځینو هم « شمسی » لیکلی دی .

مأخذونه :

۱- روښانیان د مغلو تاریکیان دعبدالاکبر اکبر لیکنه - د پښور چاپ

۲- بابریدروښان- دښاغلی خادم تا لیف

۳- دزیری جدیده- د ۱۳۵۰ ه ش کال دوری دوهمه نېټه

۴- کابل مجله- د ۱۳۵۰ کال ووری میاشت- ۶ گنه- ۵۹ مخ

## ۱۶۲۵- بی بی صاحبه :

د کامران لور او د اصفهان دفاتح هوتکی شاهمحمود ماندینه او ملکه و

د (۱۰۱۷ ه ق) کال درجب دمیاشتی په نهمه دسه‌شنبی په ورځ مړه ده او قبر یې

د کابل دشهدا ی صالحین دجانباز دزیارت په ځنګ کی دی چی یوه گنبده هم وربانده

سته اودقرآن کریم په آیتوښایسته سوی لوحه هم لری .

مأ خذ :

پښتو آریانادائره‌المعارف- ۴/۵۶۶ مخ

## ۱۶۲۶ - بی بی صاحبه بړیڅه :

دنومیالی پښتون حافظ رحمت خان روهیله ننګیالی اونومیالی خوروه، ورورېی لاژوندی

و، چی گوندمسوه پنځه زامن یې درلودل چی پنځه سره دحافظ رحمت خان سره دانګریزانواوشجاع

لدوله په جګړه کی ملګری وو . په دغه جګړه کی حافظ رحمت خان شهیدسو نوډیرروهلیه

پښتانه هم شهید ان سول خودا پنځه ورو نه ژوندی کو ر ته راغلل او هغهٔ وخت چی

خپلی کو نډی سور «بی بی صاحبی» د وی ولیدل ، وې پوښتل :« څنګه راغلاست ؟

ستاسی ماماد خپلونا زولو زامنو سره په جګړه کی شهید سو اوتاسی چی د هغه سره په

جګړه کی ملګری واست څنګه ژوندی راو ګرځید لاست ؟ اوروغ رمت زمامخی ته ولاړ یاست ؟

لیر ی سی له مخی لیر ی سی که تاسی نه شرمیږ ی زه شرمیږم اوخوزه ژوند ی یم نور نه غواړم

ketabton.com - The Digital Library



چی ستاسی مخونه ووینم» هغه وچی دغی ننگیالی پښتنی میرمنی بیا د ژوندتر پایه د خپلو زامنو مخونه ونه لیدل، خپل ټول جاگیر یې خرڅ کی او د هند په «بریلی» نومی سیمی کی یې یو ښکلی اوعا لیشانه مسجد جوړ کی چی هغه مسجد اوس هم «د بهار ییو» په محله کی سته او «د بی بی صاحبی» مسجد یې بولی.

مأخذونه:

۱ ـ افغان ـ په اردو ژبه د خان غازی لیکنه ۲ ـ کابل مجله ـ د ۱۳۰۴ کال دوړی ـ ۶ گڼه

## ۱۶۲۷ ـ بی بی گله:

د پښتو ژبی شاعره وه او د دولسمی هجری پیړی په شاوخوا کی د پېښور په سیمو کی اوسېدله په دینی علوموکی یې مطالعه درلوده او ښه پوهه میرمن وه.

د دې له اوړ د مناجات څخه دا بیتونه دی:

بی بی گله خبرداره
له کل نهی تو به کاره
په ایمان شکر گذاره
پاته وخت د ی د سبا

ماخذ:

فرهنگ زبان وادبیات پښتو ـ ۳ ۸ مخ

## ۶۲۸ ـ بی بی گله شنغری:

د پښتو ژبی شاعره وه او یو منا جات یې قاضی عبدالحلیم اثرد فویه شر یعت کتاب د یوی زړی نسخی په پای کی لیدلی دی .

ماخذ:

پرهېر شاعرن ـ ۱۶ مخ

ketabton.com - The Digital Library



## ۱۶۲۹- بی بی گنجانی :

بی بی گنجانی د بلوچستان د خان میر محراب خان ما ینه د یره زړه وره ښځه او میر محراب سره په ښوجنگونو کی مله وه . جنرل ولشائرچې له کابل څخه د ستنیدلو په لارکی بلوچستان ته ورسیدی پر کلات یې حمله وکړله میر محراب خان کلابندسو ښځې او کوچنیان د پټې دروازې له لاری یوه خوندې ځای ته ولیږل مگر بی بی گنجانې له ښځواو کوچنیانو سره نه ولاړه اوله میر محراب خان سره په کلا کی پاته سوله میرمحراب خان چې د انگریزانو جنگ ته واووت دا یرج ته وختله اوله هغه ځایه څخه یې میرمحراب خان ښاره میر محراب خان چې دانگریزانوله لاسه شهید سو :

نو دا په خپله ددو وجگړ نو سزه بې له ډاره له حصاره و وتله، خو انگریزانو چی محراب خان سرو لیدجگړی بس کړه،او بی بی گنجانی خپل شهیدمیره حصارته راوړ، او په خپلو لاسو یې ښخ کی .

مأخذ :

همارې جدوجهد - په اردو، دغور لیکنه -۹۱ مخ

## ۱۶۳۰- بی بی مبارکه :

دملک سلیمانشاه یوسفزی لور، او د ملک شاه منصور خور، او دظهیر الدین بابر ماند ینه وه .

ظهیر الدین بابر دالغ بیگ کورگانی وراره په (۹۱۸ هق) کال کی کابل و نیو او ددې ښځې په نسبت یې ځان دیوسفزو دوست باله. خو بی بی مبارکی ته دگورگانی حکمران د کورنۍ د ښځو د شندیدو دارو ورکړه او له اولاد څخه یې واچوله .

داښه من داکبر تر زمانې ژوندۍ وه او دهمایون میرزا مور یې حال کښلی دی او وایی چې دایوه باتدبیره او مهربانه ښځه وه. دبی بی مبارکی کورنې دبابر سره زیاتې مرستې وکړې او دبابر ددوی په مرسته پرلودیانو

ketabton.com - The Digital Library



بری ومومند، خود همایون موروایی چی دغه پیښه پر بی‌بی‌مبارکی د یره ،
درنه لگیدلې وه (۱)

مأخذونه :

۱ـ دښاغلی محمدابراهیم عطایی یادداښت
۲ـ دپښتنو تاریخ ـ دمرحوم قاضی عطاالله‌خان تالیف ـ ۱/۳۲۴مخ .

## ۱۶۳۱ـ بی بی مستو لودی :

دسلطان بهلول لودی مېرنی خوانبې او اسلام خان چې دسلطان بهلول اکاو، کوندوه .

په(۸۶۰هق) کال چې سلطان بهلول په پنجاب کې و، او په دهلی کې یې یوازی یو زلمی زوی « بایزید» پاته‌و، او دده نیابت‌یې کاوه، او په هغه وخت کې دجونپور پاچا سلطان محمود تقریباً ددو لکو جگړه یو نیم زرجنگی پیلانو سره پر دهلی یرغل وکی، زلمی «بایزید» او څوو رسره پاتو امیرانو بله‌چاره و نه‌لیدله ددهلی دښار په کلانو تل،ښار کلابندسو او دجونپور لښکری شاوخوا پر کلار اوگرځېدلې .

په‌دغسی وخت کې‌د کلا دساتندویو مشرتوب همدې ننگیالی پښتنې «بی‌بی‌مستو» دسلطان بهلول پښتنی خوانبی پرغاړه واخیست، او ددې دپاره چې‌غلیم په‌ددې ونه پوهېږی چې‌په کلاکی‌فوځونه‌نسته‌دلودی کورنی ټولو پښتنو ښځوته یې دناریننه و، کالی ورواغوستل، کلاته‌یې‌وروخېژولی‌اوپهرې یې‌وروسپارلې ـ څه مېړونه‌چې په کلاکی وو، ټول یې‌وگمارل‌چې تل به‌دغلیم پرلښکرو غشی اوروی ؛ په‌دغو زلمیو

(۱) مرحوم قاضی عطاالله‌خان لیکی‌چی :بی‌بی‌مبارکه‌دخان ملکشاه‌منصور لوروه .

ketabton.com - The Digital Library



کې د خپل وخت نامتو غشي ويشتونکي د خان جهان لودي زوم «شاه سکندر شيراني» هم و، چې دده غشي يوولس موټه (٥ نيم فټه) اوږده وو، تراتو سوو گامو پورې رسېدل او دده پر ټولو غشو په زرين خط «سکندر شاه» ليکلي و،

کلابندۍ پسې اوږده بي‌بي مستو د ميړنۍ سلطان بهلول د ورور سپېد لو په تمه تر ډېره وخته پورې کلا خوندي کړه خو د بهلول د راتگ ږغ رانغی دااو ټول کلاوال د کلابندۍ خواريو ستخ کړي، پای ته يې سلا پردې سوه چې ښار غليم ته وسپاري او ځانونه وباسي، نو توريالۍ مشرې «بي بي مستو» چې د لوديو فوځو او ملاتړ دو رسېدلو څخه نااميده سوه نو يې د سيد شمس الدين په لاس د ډهلي د ښار کلي له دې پيغام سره چې: «که د لوديو ناموس د نه خوندي کولو پېټ وړئ، نو کلي واخله!» او د سلطان محمود شرقي خوراو تير امير دريا خان لودي ته (چې د شرقي لښکر و ټول انتظام په ده پورې اړه لرله) ورولېږلې وايي چې سيد شمس الدين تر کلا ورووت، د دريا خان لودي دربار ته ورو ستل سو، دريا خان د ډهلي د استازي په غوښتنه خپل درباريان وپاڅول چې دوی دوه سره پاته سول، سيد شمس الدين ورته وويل: «سلطان محمود شرقي پاچا ستا سره څه خپلوي لري؟» دريا خان ځواب ورکه:

«خپل مې نه دی زه يې نوکريم او دی مې پاچا دی»

سيد ورته وويل:

-سلطان بهلول ستا څه کېږي؟ دريا خان وويل:

-«مورسره عزيزان يو، ورونه يو، دی هم لودی دی او زه هم»

سيد ورته وويل:

-«نو دده ميندې او خوندې ستا څه کېږي؟»

دريا خان ځواب ورکی:

-«دده مور مې مور، او دده خوندې مې خوندې دي»

ketabton.com - The Digital Library



بیانو سیدشمس‌الدین کلی‌له جیبه‌را او ایستلې ، سخ ته یې ورته کښېښو و لې اوورته‌ویل :

—« اوس نوستاخپله خوښه‌ده . چې دخپلو مېندو او خوېندو پرده خوندي کوې که یه؟ »

پر دریاخان ددې پوښتنې ځواب ودرید او په خورا تر هوره و رځ یې ورته وویل :

—« که سلطان بهلول رارسېدلی وای څه خو به‌مې هرو مرو کړی‌وای ، اوس چې ډاګ تش‌تور پاته‌دی هیڅ تدبیر نه‌سی کېدلای »

خوکلی یې‌وانه‌خیستلې او سلطان محمود شرقي‌ته یې وویل چې :« بهلول دیوه‌یې‌شمېره فوځ سره رارسیدلی ، پاچا دی دلته اوس‌او‌ساته دی اجازه راکړی چې سخی‌ته‌یې‌ورووزم »

هغه‌و ، چې سلطان‌محمود شرقي هم‌اجازه ورکړه ، او رښتیا هم‌له‌هغی‌خوا سلطان بهلول د‌پښتنو دډېرو جنګیالیو زلمیانوسره دډهلی‌خواته‌ورغی‌ء د سلطان محمود شرقي لښکر یې مات کی‌ء ، دسلطان محمود دلښکر دماتی خبر چې‌ډهلی ته‌ورسېد دکلاخلکو په‌ډېری خوشالی‌دکلانګیالی‌ساتندوی «بی‌بی‌مستو» ته‌حال ورووړ ، او «بی‌بی‌مستو» ورته وویل :

«تاسی وګوری‌ء چې‌دسلطان محمودشرقي‌دلښکر خلک‌په‌خپلو خیمو ننوزی او که‌دخپل پاچادربارته ورځی؟ »

دوی چې‌و کتل‌و یې‌لیدل چې‌دستانه سوی‌لښکر خلک‌برابر خپلو خیمو ته ننوزی او خپل کالی‌را غونډوی ، نو«بی‌بی‌مستو »دستی حکم وکی‌ء چې د ی ښادی ډولونه‌دی وډنګوی .

سلطان محمود شرقي وارخطاسو بله‌چاره یې ونه‌لیدله سمدستی دجونپور

ketabton.com - The Digital Library



خواته وکو چېداو سلطان بهلول بریالي په دهلي ورننووت ، او «بي بي مستو» په خپل پښتنی عزم کی بریالی سوه.

مأخذونه :

۱ـ لودی پښتانه ـ دپوهاند عبدالشکور رشاد لیکنه له ۷۶ مخ څخه تر ۸۰ مخ پوری

۲ـ مرقع افغان ـ ۸۴ مخ ۳ـ تاریخ د اود ی ـ ۱۶ مخ.

**۱۶۳۲ـ بی بی میر گوهره :**

دلوی احمدشاه بابا بلو څه ماندینه او دقلات دخان میر محبت خان بلوڅ خوروه.

په (۱۱۶۳ هق) کال چی لوی احمدشاه بابا دبلوڅستان د کلات خوا تـه ولاړ ، مستنګ یې ونیو او د کلات سیمی ته پرمخ ورغیء ، نـو د کـلات خان حاجی رحیم خان بابی د کلام الله سره احمدشاه باباته شفیع راواستاوه ، احمدشاه بابا هم دهغه شفاعت ومانـه او د کلا ت خاني یې میر محبت خان ته پرېښووله ، او بیرته کندهارته راغـیء ـ نوموړی خـان هم خپلـه یوه خورچی «بی بی میر گوهر » نومېدله دآخون محمدحیات په وسیله غزنی ته داحمدشاه باباحضور تـه ولیږله چی احمدشاه باباهغه په نکاح کړه او په دې توګه د احمد شاه بابا و د کلات دبلوڅانـو د وستی لا پسی ټینګه سوه.

مأخذ :

دنوای معارک تعلیقا ت ـ ۷۷۳ مخ

**۱۶۳۳ـ بی بی نوره هروی :**

مېرمن بـی بـی نوره دهرات یـوه عـابده او صا لـحه ښځـه وه، چـی ژوند یې پـه تقـوی او زهـد کـی تېـر کړی و ، اود دې مېـر منی لـه ښو کاروڅخه یو داو ، چی وایی دهرات دمالان پل دې مېرمنې تیـار کړی دی

ketabton.com - The Digital Library



ددې قبر دهرات دشمعان په‌محله کې دعراق‌وره ته‌نژدې پروت‌دی،
عوام یې زیارت ته ورځي
مأخذونه :

۱-پښتنې مېرمنې-۱۳سخ ۲- دهرات دمزاراتو رساله-۷۶»

## ۱۶۳۴ - بیټ نیکه :

چې شیخ بیټني اوشیخ بټن هم بللی سوی‌دی د پښتنو د ډېروطا یفو یوستر او نومیالی نیکه تېر سوی دی چې د پښتنا نه شعراء د لومړي توک په ۵۴ مخ کې ددې‌لوی‌نیکه په‌باب داسې لیکلي سوي دي چې:

«دپښتنو دعلم‌الانساب پوهانو او هغو مورخینو چې‌اسمأ‌الرجال یې‌لیکلي‌دي، شیخ بیټني د پښتنو دډیرو طائفو لوی‌نیکه‌بللی‌دی،او وایي‌چې‌دابیټني‌دغرغښت اوسړبن ورورو پخپله د پښتنو ملي عنعنات هم ددې تصدیق کوي (۱) اماپه مورخینو کې لومړی ددې ملي‌عنعنې‌تصد یق ابو الفضل‌د گو ر گا نی پاچا اا کبردعصرمورخ کړی،چې‌دپښتنودغه درې پلازه‌مشهور دی(۲) مگر دد ی نیکه‌نوم مورخینو مختلف راوړی ، ځنې یې «بیټ»او ځنې‌یې«بیټني»او ځنې یې «بټن» لیکي .

نعمت‌الله هروی او خانجهان خان لودی هم‌په مخزن‌افغانی کې‌دشیخ بټیني اولاد او ددې قوم‌مشاهیر او اولیاء‌مفصلاً راوړی .

ځنگه چې آئین اکبری په(۱۰۰۶ ه)او مخزن‌په (۱۰۱۸ ه) کې‌لیکلی‌شوی دی نوداویلای‌سو ،چې‌دپښتنو دملي‌عنعناتو او درجالو دتاریخ لومړی‌لیکو نکی

(۱)داخبره چې‌بیټ‌نیکه او غرغښت او سړبن‌سره ورو نه دی زیاته خبره نه غواړی .

۲- آیئن اکبری -۲ ر ۱۹۱ مخ

ketabton.com - The Digital Library



هم دوی دی .نعمت‌الله په‌دې سلسلو کی‌مجمع الانساب او اخباری احمد ی کتابو ته هم‌حواله‌ور کوی ،چی‌تر ده‌دمخه لیکل‌شوی ، او د پښتنو د انسابو ذکر یې کړی دی ، په دغه کی‌اخوند درو یزه‌ننگرهاری هم‌چی‌تر(۱۰۴۸ ه) پوری ژوندی و (۱) ده هم د پښتنو انساب راوړی دی (۲) د غو ټولو سو رخینو دشیخ بیټنی‌ذکر مفصلاً یاضمناً کړی دی .

مگر تر دغو ټولویو. پخوانی او زوړ اثر چی دشیخ بیټنې‌ذکر او اشعار پکښی راغلی‌دی دسلیمان ماکو دبارک خان‌دزوی«تذکرة‌الاولیاء» ده،چی پسله (۶۱۲ه) لیکلی شوې ده. ددې کتاب هغه‌یوخو پا ڼی چی‌سته دشیخ بیټنی ذکر داسی‌کوی :

«نقل‌هسی‌کاندی‌یارانو‌چی په روزگار دشیخ بیټنی کی د ده ورورچی سړبن نوسېد، او پر شیخ بیټنی هم‌خوراگران‌و ؛سړ بن نه‌دولو دزامن،او هر کله‌به‌یې‌ویل خپل ورورته؛ بیټنی خپل زوی اسماعیل‌ورکاوه اولوی‌سو دسړ بن په کاله، خدای مهربان داسماعیل په‌برکت سړبن ته‌نصیب کړه، دوسره زامن چی‌اوس تروس‌تېرسو گڼون دهغو ؛ داسماعیل سر قد واقع دی دکسي پر غره چی زه هلته تللی‌وم(۳)»

له‌دې روایته ښه‌ښکاریږی چی‌په پخوانو پښتنو کی د شیخ بیټنی کرامات مشهوروه، اوددې کتاب لیکونکی لکه‌چی پخپله‌وایی‌دکسې‌غرمرەته(۴) تللی او ددغه اسماعیل زیارت یې کړی دی .

---

۱ـ تذکره‌علمای هند-۹ ه»

(۲)تذکرة الابرارو الاشرار،او پښتو مخزن.

(۳)دسلیمان ماکو پښتو تذکرةالاولیاء

(۴)پښتانه‌دسلیمان‌غره‌ته دکسې‌غر هم‌وایی.

ketabton.com - The Digital Library



دسلیمان ماکودغه روایت نعمت‌الله کټ مټ په مخزن کی تائید کوی او داسی لیکی: «نقل است سړبنی برادر کلان بتنی مفلس بود ، و از هیچ چیز دستگاهی نداشت، باوجود آن از سعادت فرزند هم محروم بود ، روزی سړ بنی بخانه برادر خود که شیخ بتنی باشد آمده عرض کرد که ای برادر! دعای تو درباب جمیع خلائق مستجاب الدعوات است، در باب من توجه نمی‌فرمائی، که در طلب فرزند و فراخی معاش کوشش بسیار دارم ، حضرت شیخ بیت فرمود که یک پسر مرا ببر و پرورش نما، که بقدم او هم دهم اسباط، و مال و منال و مواشی که لوازم دولت است میسر آید، آخرالامر شیخ پسر خود اسماعیل را ابرا در خود سربنی داد، و سربنی برادر زادهٔ خود را بخانه آورده پرورش می‌نمود، از برکت قدم او دولت و اولاد چندان بظهور آمد که تاقیام قیامت کم نخواهد شد. چون اسماعیل بسن رشد رسید از ریاضات شاقه بمراتب ولایت رسید، و این شیخ اسماعیل که مقبره و گنبد ایشان بر کوه سلیمان واقع است همان شیخ اسماعیل سړبنی پسر حضرت بیت است.....(۱)»

په دې ډول دسلیمان ماکو قول که څه هم تر نعمت‌الله خلورسوه کاله دمخه دی ، مگر یو دبله سره پوره ربط اونشر دیوالی لری ، او دابنکاره کوی چی تر ازم هجری کاله هم دشیخ بیټنی لوی نیکه په باب کی پښتنو معنعن کلک او مستند روایات درلوده چی له هغو څخه په دغو دوو کتابو کی لړ پاته دی. متأسفانه دشیخ بیټ نیکه نوراحوال مو پرته نه دی پانه ، او نه دده دژوند ونو ځت سؤرخینو تصریح کړی دی، فقط ځنی له دغو مورخینو څخه داهم لیکی، چی دی دغورد پاچهانو معاصرو ، او دغو رله مشهوری کورنی څخه شاه حسین نومی دده په کور کی و (۲)...

---

(۱) مخزن افغانی - قلمی - دنعمت‌الله هروی .

(۲) مجمع الانساب، تاریخ سلطانی حیات افغانی، خورشید جهان

ketabton.com - The Digital Library



په‌دی حساب‌نو که بیت نیکه له‌یوه سره د لومړیو غوری مشرانو معاصر - وی نودده دژوند وخت موږ له( ۰۰ ۳خخه‌تر ۰۰ ۴هـ ) پوری تخمین کولای سو سلیمان ماکوپه خپله تذکرةالاولیأکی‌دبیت‌نیکه له‌خولې‌یوشعرهم‌را نقل کړی‌دی چی دپښتوژبی دادب په‌تاریخ خورامهم ګڼل سوی‌دی.
سلیمان‌ماکودده‌دشعر داسی یادوونه‌کوی:

«نقل‌کاندی چی‌شیخ بیټنی‌سپین ږیری‌سو‌، نوده‌ِ به‌هرکله‌خښتن‌ستایه‌، اوربته به‌یې یې‌درخاست‌کاوه چی زماپه‌کهول او دسړبن اوغرغښت په‌کهول‌کی برکت‌کښېږده ، . بادارقبول کړدده‌درخواست‌او ډ که‌سوه‌ځمکه‌دپښتونخوادد وی په‌کهلول‌، نقل‌کاوسی‌چی حضرت شیخ بیټنی به‌ډیرډېره‌داسندری‌لولولې‌اود کسی غره‌کی به‌ګرزېدپه شپی»» ـ

اوبیانودبیټ نیکه هغه‌شعر داسی راوړی :

لـویه خدا یه لویه خدا یه ستا پـه مینه پـه هر ځا یه
غرو لاړ دی د ر ناوی کی تو له ږ و و په ځا ری کی
د لـته د ی د غـر و لمـنی زموږ کېږ دی دپکـښې پلنی
داوګړی ډېر کړی خدا یه ! لو یه‌خدایه ! لویه خدایه !
دلته لېږ زموږ او ربل د ی و وړ کورګی‌دی‌وو ړ بور جل‌دی
مینه ستا کی موږ میشته یو بل دچـا په ملـه تلـه نه یو
هسکه ا و مځکه نغښته ستاده د مـړوو د ه لـه تـپا د ه
د ا پا لنه ستا د ه خدایه ! لویه خدایه ! لویه خدایه !

که‌دبیټ‌نیکه دغه‌لوړشعر دآریایانود زاړه‌کتاب‌ریکویدا Rigvida سره‌مقایله‌کړه‌ی کړه‌سی‌نودا به‌ښکاره‌سی چی داشعرد فکراو مضمون له مخی لرغونیو آریائی افکاروته‌څومره‌وړ ته‌دی‌ـ دریکوید ایـومناجات داسې‌دی:

ketabton.com - The Digital Library



«لوی خدای دژوندون واکمن دی مالک الملک دی ، دی بناغلی کورنی وگروته ور کوی خدایه موبستامرەیی یو بی او لادەبی بیگنی مومه و ژني (۱) »

ماخذ :

پښتانه شعرا-لومړی توک له ۵۰ مخ څخه تر ۵۰ مخ پورې

## ۱۶۳۵- بیخود هروی :

خواجه عبدالحمید . بیخود ددری ژبی شاعرو' اود دشاهزاده کامران سدوزی او وزیر یارمحمدخان الکوزی پەخوتوکی پەهرات کی اوسېد' «دسیف الملوک » کیسه یی په نظم کړی ده . دده دیوان چی زرو بیتونه رسېږی ښا غلی فکری سلجوقی راغونډ کړی خولاچاپ سوی نه دی.

دهرات دبیچقی په کلی کی مړاو د بیچقی څنګ ته ښخ دی .

داغزل دده دی:

طبیب دردمن جانانه خواهد شد ؟ نخواهد شد
بزلفش پنجه من شانه خواهدشد؟ نخواهد شد

بدام زلف مشکینش یکی خال سیه د یدم
نصیبم چیدن این دانه خواهدشد؟ نخواهدشد

نگشتم آشنایش سالها درخاک کوی او
رقیبش همچوسن بیگانه خواهدشد؟ نخواهد شد

دل من سخت پرخونست ازجور رقیب آیا
خلاصم زین سگ دیوانه خواهدشد؟ نخواهدشد

نیندیشم زمرگ امادرین فکرم که بعدازمن
گل من کوزهٔ میخانه خواهد شد نخوهد بیخود

---

(۱) ریگوید -باب -۶ فصل- ۶'۷' فقری

ketabton.com - The Digital Library



نموده توبه بیخودازسیی مینای هشیاری

ز پیمان برسر پیمانه‌خواهد شد ؟ نخواهدشد

مـــأخـــذ

یادی‌از رفتگان - تألیف مولاناخسته - ۱۵۶ مخ

**۱٦۳٦- بیخودی بلخی :**

دبلخ له‌دری‌ژ بو شاعرانوڅخه و او د(۰۰ ۹ ه ق) په‌شاو خوا کی یې‌په بلخ کی ژوند کاوه ،دابیت دده دی :

گر آبر وی‌ترا نشدی ماه‌نو غلام ایام هرگزش‌ننها ذی هلال نام

مأخذو نو :

۱-مذ.کراحباب-خطی-۰ ۱ ۳مخ ۲-تاریخ افغانستان‌درعصرگورگانی هند-۹ ۲ ۲مخ

**۱٦۳۷ - بیخودی فراهی :**

فراهی ملامحمدیوسف یوناقص الخلقه‌سړی و ، چی‌یوه سترگه‌یوغو ږاویوه سږ مه یی نه‌درلود ەدده له‌بدی قواری‌او دکریهی منظرې څخه به خلکو کرله‌کوله،خودپرخواږه‌اشعار یې‌و یل‌او دجذب حالت‌یې‌درلود .دابیت‌دده دی:

نخورند درگلستان گل و لاله آب‌بیتو بگلوی‌شیشهٔ می نرود شراب بیتو

مأخذ:

پښتو آریانادائرةالمعارف - ۳/۵٦۹ مخ

**۱٦۳۸- بیدار زیکه:**

دخپلو ختر و حانی سړی‌و ، دکویټې‌دلوړلائی دسیمی‌په‌شاو خوا کی ښخ دی عوام خاک‌یې‌زیارت‌ته و رځی‌او عقیدت و رسره څرگند وی.

مأخذ :

مزار ات-۵ ۵مخ دښاغلی سیال کاکړ لیکنه .

ketabton.com - The Digital Library



## ۱۶۳۹ - بیدل اشنغری :

د پښتو ژبې نوسیالی شاعر او د پیښور د اشنغر دسیمې داوتمانز و د کلي اوسېدونکی و . دی په پله دخپل کلی دشاعرانو شمېرداسی ښیی :

څه حاجت د ی چی بیان و کړم دوا ړ و دوه څلوېښت ز ساد کلی چی اوتمان دی او د اشنغردسیمې مشهور سیند «جیندی » داسی یادوی :

تمام رخت دخوشدلی راځخه یوړ شو چی ګډ شوی و م دسینی په جیندی بیا

په بل بیت کی و ایی :

اوس به څه له مانه صبرو آرام غواړې؟ چی می یوو ړ مال متاع دعشق جیندی بیا

او دخپل عصردشاعرانو نومونه داسی راوړی :

هرچی دی زما دعصرهغه دادی چی هریو پکښی خوشخویه سخندان دی

صاحبزاده، محمدی، علیخان ګوره هم سعید، له بیان اکبرسره عیان دی

مقبول شوی په داباب کښی دی هرچاته چی هریو پخپل قوت کښی پهلوان دی

محمدی ترحمیدزیات و یینم کم نه دی هرچی زړ و نه پرې غوڅېږی علیخان دی

چی ممتاز زسادعصرد همدا دی نور بیشماره دی دو اړ و به بیان دی

څنګه چی په ( ۱۱۱۸ ه ق ) کال دحمید بابا دشعر بازار تودو ، او همد غه زمانه دخمکنو دمیان عمرصاحب دژوی و ، نوځکه دبیدل ژوندد(۱۱۱۸ هق) کال په شاوخوا کی یقینی دی .اوهم دبیدل دیوه بل بیت څخه څرګندېږی چی دده دشعر عروج د«تیمورشاه» په زمانه یعنی دوولسمی هجری پیړی کی و ،لکه چی وایی :

په دوران دتیمورشاه کی کج دوران شه بې ګناه هبی تقصیره کړم جانان یوب

اوده دیوبل شعر څخه معلومېږي چی دده عمرسپین ږیرتوب ته رسېدلی و، دی و ایی :

سپینی ږیری خوار خسته ترخار و خس کړم خپلی مینی خا کسترلکه قفس کړم

بل ځای وایی :

ketabton.com - The Digital Library



دستم رستم دغم په ملک سلک کړم　　　　مهرو سینی سپینه ډیره کم هلک کړم

او له یوم بیته یې داسی اټکل کیږی چی دبیدل عمر ترسلو کالو پوری رسیدلی و ، لکه چی وا یـــــی :

صدساله طالع دحسن طمعدارو　　　　مرو رله دره هراولارحام لاړ

د بیدل دشاعری په باب کی ښاغلی همیش خلیل دبیدل ددیوان په سریزه کی چی د (۱۹۵۷م) کال په اکتوبرپه پیښور کی چاپ سوی دی داسی لیکلی :

«ددیوان بیدل په انکشاف ، دپښتو ادب په تاریخ کی یقیناً دیونوی نازک خیال شاعر اضافه و شوه ، د چا کلام چی دپښتوادب دلمنی دوسعت او پلنوالی موجب سو .

بیدل دپښتوشاعری په دنیا کی دیواو چت او جګ مقام خاوند دی ، چی دپښتو په رنګینه شاعری کی نمایان حیثیت لری اودخپل شاعرانه قابلیت په زور یې دشعر په هار کی لعلونه او ملغلری و پیلی ، او دتخیل پرواز ته یې عقل ګوته په خوله دی .

بیدل دخپلی رنګینی او سوز و ګدازنه د کی شاعری له کبله دپښتو ادب مخصوص مقام حاصل کړو ، او دپښتوشاعری یې دداسی محاسنو که کړه چی دادب د ښکلا مقبولیت او حسن معیار ګڼلی شی - دوی په پښتوادب کی دشاعرانه فن هغه نزاکتونه لطافتونه اوباریکی و اچولې ، چی که پښتوادب کی دلطیفی ، باریکی او رنګینی شاعری خه لرد بر کمی محسوسیدو بیدل هغه تقریباً پوره کړو .

ځینو پښتنو لیکوالو او شاعرانو حمید بابا او کله کله کاظم خان شیدا د پښتو د «بیدل» په نامه یاد کړی دی او دا ځکه چی ددغه دواړو پښتنو شاعرانه انداز ، تخیل او نازک خیالی دفارسی د «بیدل» سره برابری خوری ، و لی دا تراوسه هیچا نه معلومه نه وه ، چی پښتوادب خپله لمن کی خپل «بیدل» هم لری چی ، دزمانی دانقلاباتو او ناسازګارحالاتو په وجه زموږ له نظره پټ و .

ketabton.com - The Digital Library



بیدل په خپل سبک کی دلو ړ مقام خاوند دی ، خیال پر و ری سره داستعار اتو او تخیل یوبی پایابه اوبی ساحله سمندر دی چی کلام کی دفصاحت او بلاغت ساری نه لری .

د افکار او له مخه دبیدل شاعری عشقیه او بزمی ده ، ولی کله کله مذهبی ، اخلاقی او اجتماعی رنگ اخلی .

داسی معلومیږی چی بیدل ، حمیدبابا ، کاظم خان شیدا ، علی خان او کامگار خان دیوه مکتبه هم فکره شاعران دی او شاید هم دغه وجه ده چی ددغه دو اړو شعراؤ په طرز تحریر او سبک کی دخیال پرو ری سره سره مبالغه او اغراق هم موجود دی او دادبی تلازماتو داستعمال سره دتشبیهاتو ، استعاراتو ، او مکاحاتو لړ ویې هم دشاعری حسن او ښایست یو په دوه کړی دی .

بیدل په خپل یوشعر کی حمیدبابا او علی خان خپل هم عصریاد کړی دی او ددغه دریوو اړو شعر او دد یوانو دمطالعی نه پس معلومیږي چی اکثرو ځایونو کی نه صرف دوی دشعر په یوه ځکه طبع آزمائی کړیده بلکه ددوی دتوارد نه دا اندازه په مشکله لگی چی گنی داددریو دماغونو اختراع ، لکه حمید چی و ایی :

خط په مخ دصنم راغی که سپو ږ مۍ شو په هاله کی

دایي غابښ په خوله کی زیب کا که ژاله شو په هاله کی - ترپایه .........

بیدل و ایی :

خط یي مخ په خوش نمط که که ماه زیب کا په هاله کی

غابښ ژ ټی و او ری که در دی چی زینت که په لاله کی ترپایه ........

علی خان و ایی :

خط په مخ دصنم راغی ء که میاشت گیره شوه هاله کی

که سنبل دی او س تو کیږي په اطرافو دلاله کی ترپایه......

یاپه دې غزلو کی چی :

ketābton.com - The Digital Library



حمیدوایی:

وآسمان ته به دشعر زینې کیږدی

که حمید دغم له سره زنگون وکیښ

بیدل وایی:

چې خور ور بې خوره په زور په غبرگی پرېووت

بیدل ځکه سر دغم له زنگون وکیښ

او نور داسې تو او ږدنه

دبیدل د اشعارو دیوان په دوه سوه او دری شپیته مخوکی د (۱۹۵۷م)

کال دا کتوبر په میاشت د«شاهین برقی پریس پشاور» په مطبعه کی دښاغلی

همیش خلیل په تدوین او ترتیب چاپ او خپور رسوی دی ، چې دوه زره ،

څلورسوه او پنځه ویشت بیتونه لری، او د کلام نمونې یې دادی :

چې می ولیده د ترکی خوله لاله

څه نا څاپه واوښتم په کشاله

داله مخه یې چاپیر لیکه دخطشوه

که چاپیره له سپوږ مې وینم هاله

چې نظریې د آهوسترگو پرې وشو

ترختن په تېښته لاړ شه غزاله

چې یې درور ته دغا ښونمودار شو

غمزه ده په هیبت و یلی شوه ژاله

چې یې واوریدو جادو ستادغمزو

په لړزه په زلزله شوه بنگاله

دعصمت رستم چې لاف وکه تاوو یشت

ځکه تل درپسې کړه آه و ناله

ketabton.com - The Digital Library



که دی خط دی خوش نمط راته نیولی
پکښې شکلې دتاغم په قباله
چرې نه وی چې له مانه دی دل تورکه
جانه ! وشره رقیب سپی رزاله
په سلګو دزنکدن شومه دلبره
څخوه راته دشونډو پیاله
چې دی مینې راته درست جهان دریاب کړو
کښېناستی نشم دصبر په جا له
که بیدل له لپونتوبه و ، خلاص شوی
بیا دی که ، مجنون په غم شیدا واله

۲

داپه مخ یې دخطلیکه دو تا راغله
که کعبې لره مشکینه قبار اغله
زه دیار خط دبلاله کبره خلاص کړم
بلاو خوره هرچې وایی بلار اغله
دخنداپوښته چې تا کړه له غمازه
بازه مالره له سوخته ژړا راغله
ګل خزان که تارپه تارځکه بلبله !
دځیګرپه وینو سره په غوغار اغله
سرو مال به په هغه زمان قربان کړم
که سی یوځله په ناز محبوبار اغله
دو صال کلای دړی وړی لاړه
چې دی توپه دهجران په صدا راغله

ketabton.com - The Digital Library



دم په دم چې سنډې توره د لیچو

دازما په مرګ له کومه فتوا راغله

تللی صبر مې دزړه په بیرته راغیء

چې مې ترکه په خندا کې زیبار اغله

تاچې لاس د دلاسې و رته په سر که

مسا فر له دسفر ښه هوا راغله

دابې لیاوه بادشاهی دښکلیو واوړه

مبتلا فرقه ترې بیابې نوارا غله

که څیګر مې دستم په توره غوڅ و

دکرم له ښه طبیبه دوا راغله

بیا یې ماتې په لښکر کړه دغم ګډه

لاس په غاړه له بیدله چې بیارا غله

۳

چې کوې راته خبرې په تندی بیا

غوڅوې مې دزړه ولی پیوندی بیا

خیال ل دخال دبازدناز یې پیدانه کا

دتوسن دخیال مې مات شو پښیوندی بیا

دوصال پیاله مې لاس دهجرتوی کړه

قبلوم دیارد غم مستمند ی بیا

عقل نقل له میاوه که آرام رم لاړ

له اغیار سره چې یا رشه سوګندی بیا

دهوس طوطی مې ګشت کاوه په ګلو

ناګهان جانان په زلفو که بندی بیا

ketabton.com - The Digital Library



څوک به بیا سوی نجات له دې سماته

چې قاتل شه د جهان په لاس وندی بیا

کوم تقصیر دی له ماشوی نه پوهېږم
چې غماز ستایی په مینه ما غندی بیا

دوصال صوبه یاغی وه چې فوجونه
د هجران و رپسې لاړه ګرندی بیا

دا یې خط دی په سپین مخ باندې حیران یم
که حبش دی ځی کعبې له دهندی بیا

دا په زلفو مخ د جان بندشه که پښې دی
له مصحفه جار یستلی تورهندی بیا

چې ویلی یی و ینا لویه دزوروه
خلقه ما ته دبیدل شوه په تندی بیا

-۴-

چې خودرایه راته وایې بسکه چپ
جانه! ته هم یوخودرایې بسکه چپ

څه له کړې را ته تروې تندی خبری
پرې پوهېږم خان نمایې بسکه چپ

د او یل دی هیڅ اثر راباندې نکه
چې دښمنه ! دوست نمایې بسکه چپ

په حکمت به مې له جان و نه جار باسې
که ابو علی سینا یې بسکه چپ

په قصو مې تسلی نشی د خوږ زړه
که یې ځان سره پارسیالې بسکه چپ

دا ثر وینا دی به زده پرې پوهېږم
بې هوده سر په وینا یې بسکه چپ

په افسون مې ستا د هجر بهی نشی
چې له ما نه مبتلا یې بسکه چپ

څه تقریر راته د صبر کړې نا دانه!
که ملایې خوجولا یې بسکه چپ

نصیحت دې ځانله وساته ناصحه
جو فروش ګندم نمایې بسکه چپ

ketabton.com - The Digital Library



سا که او ریدې خو یو و یی دی بس و ه

څه په هره گړ ی و ایې بسکه چپ

سخ په سخ راته جان وو یل بیدله .

خو شیه و ر ک شه څه څه و ایې بسکه چپ

- ۵ -

چی سی ترکه زیبا ښکلی وطنی ده

غوره‌چو ن‌ور ته‌زسافروتنی‌د ه

چی آهو یی شه آهو د آ هو سترگو

غز اله یی شر مولې ختنی ده

چی سسکن یې به با گر ام له خرام و ینو

پا بوسی له یې راغلې یمنی ده

شر سنده تر ې هزار ه ، صدبر گ ، گلاب شی

چی تخنه یې د سخ صافه سمنی ده

چی یې ځان حلقه بگوش شمیر م له سینی

ځکه ز یا ته سی له هر چا تمنی ده

په کو م زو ر و خو زم زه د غم له گتی

چی دلبر رابا ندی ایښی صد منی ده

لو لپه سی شه صورت او رسی په زړه دی

را ته پیښه د غماز و تر بگنی ده

په و اله به د و صا ل نشی خړ و به

چی تکره می د زړه ځکه توسنی د ه

مهر و یان د جهان و اړه سرنگو ن‌شوه

چی جامه ز ما د تر کی سو سنی د ه

ketabton.com - The Digital Library



ژه بیدل به خنگه مست و ربا ندي نه یم

چې مې ترکه زیبا پګلې رنې ده

ماخذ :

د «دیوان بیدل» سریزه ، او د دیوان نورمخونه .

## ۱۶۴۰- بیدل بلخی :

ددری ژبې شاعرو ، په شمع انجمن کې یې دا یو بیت راوړ مسوی دی :

می برد هر کس به پیش یار از جان تحفه ای ماتهیدستان بیدل شرمساری می بریم

نور حالات یې لاس ته را نغله .

ماخذ

شمع انجمن - ۸۶ مخ

## ۱۶۴۱- بیدله هروی :

میرمن بیدله د خواجه عبدالله د یوانه ماندینه وه ، په هرات کې او سیدله او په دری ژبه یې شعر وایه . دا بیت دد ي دی (۱)

روم به باغ و زنرگس دو دیده وام کنم که تا نظاره آن سرو خوش خرام کنم

دد ي میړه خواجه عبدالله د هرات د مشهور خواجه حکیم زوی و ، چې په (۱۲۶۸ ه ق) کال مړ دی ، نو دد ي میرمنې ژوند هم دد ي نیتې په شاو خوا کې اټکل کیدای سي .

ماخذونه :

۱ - پښتنې میرمن - ۳۱ مخ ۲- مشاهیرالنسوان - ۳۰۷ مخ

۳- تذکرة الخواتین - اردو

(۱) څوک چې دا شعر میرمن بې بې «بیدلې» ته چې دشیخ عبدالله خوروه منسوبوي شمع انجمن ۸۶ مخ (خیرات جسان ـ ج ۱ )

ketabton.com - The Digital Library



## ۱۶۴۲ـ بیدلی لنگ هروی :

مولانا بید لی لنگ دهرات دخیابان په کوڅه کی اوسید ، په دری ژبه یی شعر وایه او تل به دمیخانی په گوټ کی ناست و ـ دا مطلع دده دی:

چشم پر خون وخیال خال آن دلبر دراو مجمری پر آتش است و پاره عنبر درا

مأخذ :

مجالس النفائس ـ ۱۵۷ مخ

## ۱۶۴۳ ـ بیدلی هروی :

بی بی بیدلی حزین په هرت کی اوسیدله او دشیخ عبدالله دیوانه خور اودری ژبی شاعره وه ، دا بیت ددی دی:

روم به باغ و ز نرگس دو دیده وام کنم که تا نظاره آن سرو خوش خرام کنم(۱)

ماخذونه :

۱ـ شمع انجمن ۸۶ مخ ۲ـ مجالس النفائس ۲۰۲ مخ ۷۰۳ مخ

## ۱۶۴۴ ـ بیدم افغان :

مولوی غلام جیلانی بیدم په ختـه افغان دهند په « پیلی بیت » کی او سید او دری ژبی شاعر و دطبقات الشعرا مولف دی «مجموعه خوبی های انسانی» بللی دی او لیکی چی :

اگرچه نو مشق است فاما سزاق گفتگویش پهلو بر تبه سخن استادان می زند باین عاصی اتحاد د لی و روابط کلی دارد

ماخذونه :

۱ـ تین تذکری ـ دطبقات الشعرا په حواله ـ ۱۸۷ مخ ۲ـ هند په تاریخ او مدنیت کی د افغانانو برخه ـ قلمی ـ ۱۱۸ مخ

(۱) دمشاهیر النسوان دا بیت «بیدله هیروی» دخواجه عبدالله دیوانه ساندینی ته منسوبوی

## ۱۶۴۵ - بیرام خان خانخانان بدخشي:

دسیف‌علي بیگ زوی په دري و اسطې د ترکمانانو نومیالي مشر شکربیگ بهارلو ته رسېږي ده نیکه یار بیگ د شاه اسماعیل صفوي په وختو کې له عراقه بدخشان ته راغلی و، او له هغه ځایه د کندوز امیرخسرو شاه ته ورغی، او پخپله بیرام خان په بدخشان - یا - په بلخ کې زېږېدلی، او د پلار تر مړینې وروسته یې په بلخ کې د علم زده کړه وکړه او په شپاړس کلنۍ کې د هند د تیموري پاچا «همایون» په خدمت شامل او ورو ورو زلمی شو، او د خپل اهلیت او لیاقت په سبب د پاچا د مصاحبت او امارت منصب ته ورسېد.

د (۹۵۰ هـ. ق) کال د بحرم په اوومه نېټه بیرام خان هغه وخت د همایون خدمت ته ورسېد چې همایون د مالدیو له وېرې په لاس ته راګرځېدلی او دسنده د اوبو پر غاړه یې په سمسوره قصبه کې اړولی و، او هغه وخت چې همایون د پښتنو له لاسه هند پرېښود او د ایران دربار ته یې پناه یووړه بیرام خان هم ورسره و، او بیرته همایون ته یې د پاچهۍ په ورستنو لو کې ډېر زیار وویست او د همایون په طرفدارۍ یې ډېرې جګړې وکړې چې د هغو په عوض کې یې د «خان» لقب وموند، او همایون د کندهار تر نیولو وروسته هغه ښار بیرام خان ته وسپاره او په (۹۶۱ هـ ق) کال دی په کندهار کې و، او د همایون له خوا یې نوازش ولید، او په هند کې هم تل د همایون د سردارانو په سر کې ولاړ و، او په سرهند او نورو ځایو کې یې جاګیرونه وموندل، او د «یار وفادار»، او «برادر نیکوسیر» او «فرزند سعادتمند» په خطابو یاد شو.

د همایون تر مړینې وروسته ای اکبر پاچا پر تخت کښېناوه، او بیرام خان د وکیل سلطنت حیثیت درلود او د اکبر د مخالفانو په سر وهلو او سر کوټلو کې یې ډېر زیار وویست، څو چې د «خان خانان» لقب ور کړ شو.

په (۹۶۵ هـ ق) کال یې د همایون پاچا خورزه د میرزا نورالدین محمد لور

ketabton.com - The Digital Library



چې همایون په‌خپل ژوندکي دده په‌نامه کړې وه او «سایمه سلطان بیگم» نو سپدله په‌نکاح کړه .

څه‌موده وروسته دحاسدانو په نغوته او چغولی داکبر پا چا نیت مځینی وگرځېد او ده هم‌دامارت سامان‌لکه‌بیرغ او نغاره‌او نور پاچاته ورولېږل خوځه موده وروسته بیرته اکبر پاچا وروغوښت‌او د (۹۶۸ ه ق) کال دمحرم په‌میاشت داکبر پاچا دربارته ورغی‌ء او په‌ډېر عزت یې هر کلی وسو بیانو بیرام خان اجازه وغوښتله چې دشریفو اماکنو زیارت وکړي ، اکبر پاچاهم اجازه ورکړه ، خو هغه وخت‌چې دگجرات دپټن ښارته ورسېد دهغه ځای یو پښتون مشر «مبارک‌خان‌لوانی» دخپل دپلار دوژلو او خون په قصاص د همغه‌کال ددربمې خورپه څورلسمه دجمعې په‌ورځ پر بیرام خان یرغل وکړ‌ء او په‌خنجر یې وواژه ، لوسړی‌دی‌دشیخ حسام په‌هدیره کې (چې دهغه‌ځای له‌نومیالیو مشایخو څخه‌و) ښخ کړه‌سو ، او بیا دحسین قلی خان خانجهان په‌زیار دده مړی په (۹۸۵ هق) کال مشهدته یووړه‌سو ، او هلته یې ښخ کي‌ء ، او قاسم ارسلان‌مشهدی دده‌دوژلو نېټه‌داسې په نظم کړې ده :

بیرم بطواف کعبه چون بست‌احرام

در راه شد ازشهاد تش کار تمام

در واقعه هاتفی پې‌تار یخش

گفتا که «شهیدشد محمد بیرام»

بیرام خان ددری ژبې دشعر سره‌هم زیاته مینه‌درلودله او پخپله‌یې هم شعر وایه ، او هم‌یې داستادانو په‌اشعاروکې پرځای گوتې وهلې او دخل‌یې کاوه‌چې هغه یې د «دخلیه» په نامه‌را راغونډول .

وایې هغه‌وخت چې بیرم‌خان په کندهار کې‌و ، نو همایون دا غلور یزه ورته ولېږله :

ketabton.com - The Digital Library



ای آنکه انیس خاطر محزونی
چون طبع لطیف خویشتن موزونی

بی یاد تو من نیم زمانی هرگز
اما تو بیاد من محزون چونی

بیرام خان په جواب کی ورته ولیکل :

ای آنکه بذات سایهٔ بیچونی
از هرچه تر او صف کنم افزونی

چون میدانی که بیتو چون میگذرد
چون می پرسی که در فراقم چونی

وایی چی یوه شپه همایون پاچا د بیرام خان سره خبری کولې، د بیرام خان سترگی
لږ پټی سوې ، همایون ورته وویل :«تاته وایم» .

بیرام خان متنبهه سو، و یی ویل : «زما پاچا ! حاضر یم - خوار و یدلی می
دی چی د پاچهانو په ملازمت کی باید سترگی وساتلی سی، او د درویشانو
په خدمت کی زړه، او د یوهانو په حضور کی ژبه- نو ځکه چی ستاسی سره
دادرې سره صفتونه ستهنو په دې کی می فکر کاوه چی کوم یو وساتم »
د پاچاد الطیفه خوښه سوه او دی یې وستایه .

دده داشعار و یو ښیر دیوان پاته دی ، او سربیره پر هغه د فضل او کمال
او صلاح او تقوی او همت او کرم خاوندو ، قوی زړه یې درلود او تیموری
کورنی ته یې دیادولوړ خدمتونه کړی وو
مآخذونه :

---

۱-مآثر الامراء-۱/۳۷۱مخ تر ۳۸۴ مخ پوری .

۲- دد هخد الغتنامه -ب- ۹۳۹مخ ۳- تزکره نتایج الافکار -۲-۱۰ مخ

ketabton.com - The Digital Library



**۱۶۴۶- بېرېل:**

دکندهار په ښار کی نوسیالی یونانی‌طبیب او حکیم و.

په پښتو ژبه یې لیکنی هم کولې چې دکندهار په پښتو مجله او نورو خپرونو کی‌چاپ سوی دی.

د(۱۳۵۰هش) کال په‌شاوخوا کی‌مړ دی.

مأخذ:

فرهنگ زبان و ادبیات پښتو ۸۵مخ

**۱۶۴۷- بېرنگ پېشاوری:**

مرزا محمدامین بیگ‌بیرنگ ددری ژبی‌شاعر اصلاً د پېښور و، خو په‌لاهورکی اوسېد. فاضل سړی او دښه‌خیال او فکر خاوندو. په طریقت کی‌یې دخواجه باقی باالله لاس نیوی کړی، او په شعر کی‌یې «بیرنگ» تخلص کاوه.

په (۱۱۲۳هق) کال په لاهور کی دسالنډی په‌ناروغی مړ سو، او خیر الله فداده شاگرد او سلگری یې د مړینی نېټه داسی ویلی وه: «باقی‌بالله شد بیرنگ در بزم بقا» دسفینهٔ خوشگو دمؤلف په‌نظر په‌شعر کی‌یې ښه‌سلیقه درلوده، او تر «میان آفرین» چې دلاهوریانو استاد باله کېده او ښتی‌و.

د«مردم دیده» دتذکرې مؤلف لیکی چې: «مرد فاضل و حکیم و شاعر بود» او د«صبح گلشن» مؤلف بیا لیکی‌چې: «بخوش طبعی و بذله سنجی و مضمون آفرینی از معاصران گوی سبقت می ربود. در ابتداء بمنصبداران شاهی انسلاک داشت، آخرالامر لوای ملازمت نواب عبدالصمدخان صوبه دار کابل بر افراشت، وقصاید غرا در مدحش کاشت واز جوایز وافره تمتع وافی بر داشت» د اشعارو یو دیوان یې هم درلود چې څلور وزرو بیتونه رسېده،

ketabton.com - The Digital Library



دا بیتونه ددہ دی :

دماغ دلـد هـی نیست آستین مـرا

دیگر به گریه میاور دل حزین مر

* * *

بر خویش رفته رفته بـر آرزو فتاد

آخر کمند رتبه او درگلو فتاد

* * *

رفتم از خویش سوی یار سلامی گفتم

قاصد گریه روان بود پیامی گفتم

* * *

بادام بچشم او سزن دم

ای خسته چه درد ساغ داری

* * *

قطره قطره می بارد ابر تاچه میخواهد

ساقی اندکی دریاب کین هوا چه میخواهد

* * *

نشه حسن بعشاق چه بیرنگی کرد

خال تریاکی ولب میکش وخط بنگی کرد

مأخذونه:

۱- سفینه خوشگو ۵۵ مخ ۲- تذکره شعرای پنجاب ۹۱ مخ

۳- تذکره مردم دیده ۱۰۴ مخ ۴- صبح گلشن ۷۳ مخ

**۱٦٤۸- بیقیدی بدخشي:**

یو بې‌قیدها وآزادمشر بهشاعرو، پهدری ژبه یې شعرو ایهاو په (۱۰۹۰ ه ق) کال

ketabton.com - The Digital Library



کې سړی دی‌دا بیت ده ویلی :

شو خیکه دلم شیفته یکځ نگه‌او ست          صدناز و کرشمه بدوچشم سیه او ست

ما خذ :

---

پښتوآریا نا دائره المعارف -۳/۹۳ه مخ

## ۱۶۴۹- بې قیدی بلخې :

ددری ژبې غزل‌ویونکی شاعرو، او په ( ۹۰۰ ه )کال کی مړدی .

مأخذ :

---

تاریخ نظم و نثردرایران - ۱/۶۷۲مخ

## ۱۶۵۰- بیکر نیکه :

په ختهٔ کاکړپښتون‌اوداحمدشاه‌بابادوختویونومیالی‌مشراوپه کاکړستان کی‌د«جوگی» دکهاله لوړی سړی‌و ،او داولسی‌مشرپه توگه ئی‌حکمرانی کوله،چی ترسړینی وروسته‌یې‌په اولس، کی،ښه،نوم پرییښی دی

وائې‌چی‌احمدشاه بابا دکاکړودملی همکاری‌په‌جایزه کی‌د کاکړستان‌دو اکوالی بیگرنیکه‌سپارلی وی،داخبره دروب گزیتمرپه‌لوړی تو ک که‌هم تائید سوی‌ده

مأخذ :

---

پښتواوپښتانه په‌سهیلی‌پښتونخوامی‌دپروفیسرسیال کاکړتالیف-۱/۱۷۶مخ شوی‌ده .

## ۱۶۵۱-بیکس (د سوا بی) :

عبدالغفران دگل زمان زوی دپښتوژبی له معاصروشاعرانو څخه و په (۱۹۲۲م) کال‌دمردان‌دسوابی سیمی‌په ډاگی کی‌زیږبدلی‌او تر (۱۹۷۰م) کال وروسته‌مړدی.

په‌عصری مدرسوکی یې زده کړه کړی‌وه،په‌پښتوژبه یې‌هم‌شعر وایه‌او هم‌یې نثر لیکه، یوه‌بدله لری چی سریې‌دادی :

ketabton.com - The Digital Library



« چې یې شرق دتورې خورو، دادقوم هغه سالاردی »

مأخذ :

---

فرهنګ زبان و ادبیات پښتو -۳ ۸ مخ

## ۱۶۵۴ - بیکسی سجاوندی غزنوی :

مولانابیکس دلوګرد سجاوندو، او ښکه چې یې په غزنی کې ژوند کاوه په «غزنوی» هم معروف دی ـ لوړی په کابل کې دمحمدحکیم مرزاسره اوسېداو بیاحج ته وولاړ اوله حجه هندوستان ته ولاړ ځه موده هلته اوسېد، او دحدیثو ځینی کتابونه یې لکه مشکوة المصابیح ، او شمایل النبی پرمېرمرتضی شریفی و لوستل او چې سپین ږیری سو نود خپل وطن خواته راهی سو خوله بده مرغه په (۹۷۳ هـ ق) کال پرلاری په پېښور کې مړسود، خپل وخت نومیالی شاعرواوپه اشعاروکی یې «بیکسی» تخلص کاو ه اودشعر رازراز ډو لولونو کې لاس درلود. دابیتونه ددده دی :

در دیرو کعبه جزبتومائل نبوده ام      هرجا که بوده ام زتوغافل نبوده ام

---

فلک را رسم بمهری نه در دوران سا بوده      که دوران فلک تا بوده بی مهروفا بوده

دبیکسی غزنوی دابدله دفخری اسیری له «ردیف الاشعار» ځخه رااقتباس سوی ده :

تاچوګل خیمه بدشت آن ګل رعنا زده است      جانم از کشورتن خیمه به صحرا زده است

عجبی نیست که دیوانه وسوداز ده است      ګر بز لف تودلم دست تمنا زده است

دامن شاهد ګل بهرچه شدخون آلود      مګرش خار تمنای تودر پاز ده است

هرنسیمی که ګد رکر دازان حلقه زلف      دم زمشکین ختن وعنبرسار ازده است

نیست در انجمن چرخ برین مشعل مهر      آه من شعله برین طارم خ را زده است

ketabton.com - The Digital Library



کوهکن ازمژده هردانه اشکی که فشاندا — خار حسرت شده سراز دل خاراز ده است
« بیکسی » داده فلک ساغرعشرت همه را — سنگ بیداد همین برقدح مازده است

مأخذونه:

۱-شمع انجمن-۸۲-مخ ۲- تذکره علمای هند-۳۴ مخ
۳-پښتوآریانا دائرة المعارف ۴/۵۹۴ مخ
۴-تاریخ نظم ونثر درایران -۱/۲۵۷ مخ

## ۱۶۵۳- بیکسی هروی :

دآزادی طبعی خاوند شاعرو، دتستر له ښاره د هرات ښارته راغلی و، او د لته مشته سو دا بیت دده دی :

نگاهداراز هوای گرم گلبرگ ترخودرا — سریزای گل عرق بشناس قدرجوهرخودرا

مأخد :

پښتوآریانا دائرة المعارف-۴/۵۹۴ مخ

## ۱۶۵۴- بیگ محمد :

د یوولسمی هجری پېړ ی په وروستیو کلو نو کی د پښتو ژبی شاده یو شعرپه یوه جونگ کی چی په (۱۱۴۲ هق) کال کی لیکل سوی راغلی دی او هغه دادی :

څه عجبی زما دیار د خولې خبری — چی خبری یی تر هر څه وی نادری
له عاشق سره یی نیازو ی په خلوت کی — و غافل وته قهر یېری لری لری
دجمال خوبی یی زیاتی دی بې حده — خلقی په د یدن کړی قلندری
د واړه لبی شکر ینی تر نباتو — عجب غاښی یې لکه سپینی مرغلری
سره باړ خویی لکه گل وی دگلا بو — چی یې شماره خوشبویی یې څسی له لری
توری زلفی یې په مخ باندی خوری کړی — د پریشان زړه په آرام و ایی سندری
دو اړو وروځو یی لیندی بانیویې غشی — تل پرزړ نوگوزا زو نه کا جابری

ketabton.com - The Digital Library



ته‌دزړونوازارسه اخله محبوبی!
خلقی‌دی‌یوځه و رځی مسافری

پوری‌و و ری‌یې په‌خوله کی کړه محبوبی
د رموز خبری کله و ی ظاهری

دگومان کړی دی ماته‌په‌نظرکړه
څه عجب پټ‌سپاهی‌یې بهادری

د دیدن اجربه درکه «بیګ محمد»!
ته چې هسی د هجران غمونه نغری

ماخذ:

ادبی‌ستوری -۱۸مخ

## ۱۶۵۵- بیګ‌محمدلغمانی:

ددوست‌محمدزوی دپښتوژبی اولسی‌شاعرو،او دلغمان په‌سرکزشمتی کی اوسېد. دینی کیسی اوخیالی حکایتونه یې پراو لسی او زانوپه پښتو نظم کول‌او هم یې دحضرت محمد(ص) وفات نامه په‌پښتونظم کړی‌وه چې اوس‌هم‌په‌مذهبی حلقو شهرت لری.

دی‌د(۱۲۶۴ هش)کال په‌شاعوخواکی په‌پاخه عمرمړدی -دابیتونه ددده‌دی:

راشی‌مټ په‌نیکی کانی
دا ژوندون‌به‌وی‌ترکله

بیګ محمدویښې خدایه!
ته په روی د پیغمبر!

غوړپی‌کښېږدی موښانو
حکایت وا یم له سره

ماخذ:

فرهنګ‌زبان وادبیات پښتو-۸۶مخ

ketabton.com - The Digital Library



## ۱۶۵۶ـ بیگی هروی :

دامیردرویش علی دبلخ دحاکم ماندینه وه، په هرات کی یی دپرعزت او حشمت درلود، دخپل وخت دشاعرانو سره یې بنې سرستی کولې او په خپله یې هم په دری ژبه شعرو ایه داخلوریزه ددې ده :

آبی که فلک بلب چکاندمارا　　سرگشته ببحرو بر دواندمارا
ای کاش بمنزلی رساند مارا　　کز هستی خودباز رهاندمارا

وایي چې کله کله به یې شراب چښل ، خوبیا یې توبه وکړه یوه ورځ دبدیع الزمان په یوه مجلس کی ناسته وه، ساقي نورو ته دشرابو جامونه وویشل خوځنګه چې دې سېرمنی توبه کړې وه نوساقي دې ته جام ورنه کړ، هغه وچې دفی البد یهه دابیت وو ایه :

من اگرتوبه زمی کرده ام ای سروسهی　　توخوداین توبه نکردی که مراسی ندهی

مأخذونه :

تذکرة الخواتین

۲ـ پښتني مېرمنې ـ ۳۲مخ

## ۱۶۵۷ـ بی نشان پېښوری :

ددری ژبی شاعرو ، او دده اشعار دپېښوری میرعزت الله له خولې څخه اروېدلی سوی او دابیتونه دده دی :

دلبربیاکه که کفش کفت خانهٔ دل است　　منز لگه خیال تو و یرانهٔ دل است
این زلف تابناک که صد حلقه میزند　　برهم مده به باد که کاشانهٔ دل است
ازحال بی نشان غریب ای صبابگو　　با یار دلنوا ز که جانانهٔ دل است

مـأخذونه :

۱ـ پښتو آریانادائرة المعارف ـ ۳/۵۰۶ مخ

تذکره آفتاب عالمتاب

ketabton.com - The Digital Library



## ۱۶۵۸- بینوای بدخشي:

شاه خلیل الله دخلـفه ابراهیم بدخشاني زوی ددری ژ بی نومیالی شاعراو د سیراوسلوک خاوند و .

په طریقت کی یې د خپل روحاني او عالم پلار چی هغه هم شاعراو عالم سړی و سیراو لاس نیوی کړی و ، او په اشعارو کی یې «بینوا» تخلص کاو مـدابیتونه ددهدی:

من آب شدم سراب دیدم خودرا — دریا گشتم حباب دیدم خودرا

آ گاه شدم تمام دیدم غفلت — بیدارشدم بخواب دیدم خودرا

عارف بودآنکه خویش را کرد فنا — اثبات نمود ذات حق را ببقا

صوفی است کسیکه خویش را کرد ثبوت — دریافت بخودجمله صفات و اسما

در صورت قطره سر بسر دریائیم — توذره مبین مهر جان آرائیم

گویند که کنه ذات او نتوان یافت — مایافته ایم اینکه کنهش مائیم

زاهد که دراین سر اچه مأوادارد — اندیشه ز گفتگوی فردا دارد

گوشادبزی که زاهدو فاسق ازوست — هر جاآ بیست روبدریا دارد

وایی چی دهجری قمری ددوولسمی پېړی له شاعرانو څخه و ، او دده داشعارو زیاته برخه څلور یزی دی چی په هغو کی یې هم زیاتره تصوفی مطالب بیان کړی دی.

مأخذونه :

۱- ریاض العارفین -۰۷ مخ — ۲- پښتوآریانادائرة المعارف -۳/۶۰۵ مخ

## پایخوږ

د«ب» ردیف په دې پایخوږ- کی د«الف» ردیف هغه نومیالی راوړ و چی ددی کتاب په لوړی، دوهم او دریم ټوک کی د«الف» له ردیفه پاته سوی دی- دادد ې دپاره که چیری دا کتاب دوهمه پلارچاپېده دا نومونه به په هغه ردیف کی پرخپل خپل واورل سی :

ketabton.com - The Digital Library



آ

**۱٦٥۹ـ آدم:**

دپښتوژ بی شاعر و، چی څو شعرونه یې د میاحسیب ګـل کاکـاخیل (چی په ۱۳۰٥ هق کی مړدی ) په بیاض کی راغلی دی ـ څنګه چیددی جونګ زیاتره شاعرانو ددو ولسمی هجری پېړی په اوایلو کی ژوند کاوه نو داسی اټکل کاوسی چی آدم دی هم په دغو وختو کی دپښتونستان په سیمو کی ژوندی و، او شهرت یې درلود .

مأخذ :

فرهنګ زبان و ادبیات پښتو ـ ۱ مخ دښاغلی زلمی هیوادمل تألیف ـ

**۱٦٦۰ - آدم:**

دپښتوژ بی صوفی شاعرو، اودیوولسمی هجری پېړی په شاو خوا کی یې ژوند کاوه ـ دده د شعرنمونه دکاسی عبدالغنی په جونګ کی (چی په ۱۱۳۲ هـ ق ) کال کی لیکلی سوی راغلی دی ـ او یوبیت یې دادی:

د ا بیا ن فقیر آ د م و یلـی پر خلاصه سلوک کی له نظیر

مـــأخذ:

فرهنګ وزبان و ادبیات پښتو ـ ۱ مخ دښاغلی زلمی هیوادمل لیکنه

**۱۰٦۱ـ آدم:**

دپښتو اولسی شاعرو ، چی د کندهار په ریګستان کی اوسېد ، مذهبی ، عشقی او حماسی اشعاریې پرملی آهنګونو ویل ، او شعرو نه یې په عوامو کی شهرت درلودی په (۱۳۰۲ هق) کال کی مړدی اودا بیتونه دده دی :

الف وایی بل نسته ب لویه الله ت وایی توبه کاږه خواره بنده

ث وایی ثابت که څپل زړه له ګناه

ماخذ :

فرهنګ وزبان وادبیات پښتو ـ ۱ مخ

ketabton.com - The Digital Library



## ۱۶۶۲- آدین :

د پښتنو ژبې شاعر تېرسوی دی او د دو ولسمی هجری پیړی په او ایلو کی یې ژوند کاوه او د (۱۱۴۰ هق) کال په شاخوا کی یې شهرت درلود .

د ده دایو شعر د عبد الغنی کاسی په پښتو جونګ کی ستـه ، چی وایی :

له روغه خلقه کناره زه سرو رګرځم

پر زړه سی سینه ده دیار زه پرې اوتر ګرځم

چې یې د زړه یقین و رځی طبیب له ساسره دی

او نور به څه لره دبل طبیب پر د رګرځم

هغه طبیب ته په زاری کړم چی دار و سی وکا

که نه وی ګانده به تر داحالو بتر ګرځم

د عشق له حاله چی خبر نه وی خبر یې مه کړه

داد ګنده هبر ګو به لی زه خو رم چی خبر ګرځم ،

زه چی په تا پسی مین شو م ننګ و نام می یر یښو د

شپه او و رځ ستار په طلب لیل و نهار ګرځم

پر عاشقانو تل وایه شی تهمت

او زه « آدین » د تهمتو نو پنډ په سر ګرځم

ماخذ :

---

ادبی ستوری ۱/۱۴ مخ

## ۱۶۶۳- آزاد :

د پښتو ژبې شاعر دی چی د عبد الغنی کاسی په پښتو جونګ کی یې یو شعر راغلی دی او د ښاغلی رفیع په اټکل بی شی چه تر (۱۱۴۲) هجری قمری کال د مخه ژوند کاوه نه ریې دادی :

چې و دوست و ته رښتینی عشق ریبار نه وی

هغه رسمینه مینه څکه ځی په کار نه وی

ketabton.com - The Digital Library



دغه خندا به یې مقصود ته رسوی چیری ؟
چی په ژړا یې دوا ړه سرې سترگی خمارنه وی
هغه ژوندی په معنی مړ بالهٔ شی
چی په گوگل کی یې دذکر دندو کارنه وی
چی دحق سینه یې په زړه روزی نه شوه
دی په مثال دچهار پادچا په کارنه وی
او چی ستا په دربار ونمانځه، هغه ونمانځه شو
داگناهو نه یې هر گز دچا په شما رنه وی
« آزاده » مه په شریعت کړه یاره
دسولاسینه چی روزی شی هغه خوارنه وی

مأخذ

ادبی ستوری -۱/۱۶نخ

## ۱۶۶۴- آزاد خان خټک:

د خوشحال خټک زوی او دد وی دکورنی د نوروغړو په څیرد پشتو ژبی شاعرودده شعر متفرقی توتی لیدلی سوی دی چی یوه دالاندی توته یې دخپل ورور اشرف خان هجری په وېرنه کی (چی په ۱۱۰٦ هق کال مړدی او یلې ده:

د هجرت یې زرسل شپږو
اشرف خان چی فوت شو یاره
«غم اندوه» دده تاریخ دی
که حساب کړی و یې شماره

مأخذ :

تاریخ مرصع - دپیښورچاپ ر-۲۸۷ مخ .

ketabton.com - The Digital Library



## ۱۶۶۵- آزادخان ساپی :

مولوی آزادخان دمحب الدین زوی په ختیه ساپی په (۱۲۸۵ ه ش کال) د کاپیسا د تګاب په لنډه اخیل کلی کی زیږیدلی او د پښتو ژبی شاعر و. متداوله علوم یې دهغی سیمی له پوهانو څخه سولوستی و، او پر اولسی او ژانو یې شعرونه ویل، او کله کله پر کلاسیک طرز غزلی او څلوریزی و یلې :

دده داشعارو یوه کوچنې مجموعه راغونده سوې ده، او نور اشعار یې دخلکو په خولو کې دی.

مولوی آزاد په (۱۳۲۵ هش) کال کی مړ دی ـ دابیت دده دی :

آزادی دآزاد خان ده په کلام کې

دي په سوال شرمیږی دېر له خپل شرفه

مأخذ :

---

فرهنګ زبان و ادبیات پښتو-۱/۳ مخ.

## ۱۶۶۶- آزاد کوهاټی :

د پښتو ژبی شاعر و، او دلری پښتونخوا په «کوهاټ» کی اوسید، دی په خپله خپل څا داسی ښیی : ببلتون په ما باندی څه سشندی څه نخرې کړی یاره چی د «کوهاټ» د رود یو اوس له ما کبیری جدا دبېلتانه ظالم له لاسه ولې نه ژاړم به

دخپل وطن ګل او ګلزار اوس له ما کبیری جدا

دده اشعار په «جشن نوروزی» کی راغلی او څنګه چی ددې کتاب زیاتره شاعران د «نوروز» شاعر دعصر دی نوله دې «کبله آزاد» هم د نوروز دعصر او دده دادبی مکتب شاګرد ګڼل کیدای سی.

آزاد دخپل شعرونه په هندی راګونو. سم ویلی، خوبیا یی هم د پښتو ښېګنی ورسره ساتلی او په خپلو اشعارو کی یې د نورو ژبو لغات او ترکیبونه ډېر کم راوړی دی :

ketabton.com - The Digital Library



داده دده د کلام نمونه :

ښه پرې پوهېږم چې هرېيار اوس له ما کيږي جدا

های ارمان هغه دلدار اوس له ما کيږي جدا

اوس درنګ ساعت له عزيزانو نه جدا به شمه

ولې نه ژاړم موراو پلار اوس له ما کيږي جدا

بېلتون په ما باندې خه شندي خه نخرې کړي ياره

چې د کوهانه دراو ديوار اوس له ما کيږي جدا

دبېلتانه ظالم له لاسه ولې نه ژاړم به

دخپل وطن ګل اوګلزار اوس له ما کيږي جدا

نن څکه ناست يمه په خنګ فراق ژړا کومه

چې رشک ګل پري رخسار اوس له ما کيږي جدا

له تاجدا بهشي« آزاده» دا«حيدر»او «سرور»

های ارمان ګل نګار اوس له ما کيږي جدا

دوی نوري بدلې يې د«ادبي ستوري» په کتاب کې راغلي دي.

مأخذ :

---

ادبي ستوري - ۱۵۵/۱ مخ

## ۱۶۶۷- آزاد ګل (ميا) :

په خټه کاکاخيل د خپل وخت ښه عالم او هم د پښتو ژبې شاعر و .

پلاريې مطهرګل نوميد ، او دی په ( ۱۰۹۵ م ) کال د کاکاصاحب

ketabton.com - The Digital Library



د زیارت په کاجی خیل کې زیږیدلی او په (۱۹۵۰م) کال کې مړدی.
دینی علوم یې دهند په دیوبندمدرسه کې او دطب علم یې په دهلی
کې زده کړی وو، اوچې بیرته خپل ټاټوبی ته راغی نو دمردان په
سیمه کې یې دیوه روغتون بنسټ کښېښود، او دهغه ترڅنګه یې
یوه مجله د«افغان» په نامه خپروله.

په پښتو او اردو کې ښه لیکوال و، په شعرو کې یې اولسی او
اجتماعی مضامین ډېر وو، دا بیت دده دی:

ذاکارونه دقدرت دی آزاد ګله

رازدخدای دمعرفت دی هویدا

مأخذ:

---

فرهنګ زبان وادبیات پښتو ۱/۴ مخ.

## ۱۶۶۸- آصف خان جندولی:

د پښتو ژبې اولسی شاعرو، او د پښتونستان په جندول کې اوسېد، او په
اشعارو کې یې مذهبی او عشقی مضامین راوړل او پر اولسی او زانو یې ویل.
د(۱۳۲۰ هـ ش) کال په شاوخوا کې، او داسرو کې دده دی:

چې ځمکه شی لینده آسمان یې ژی ویشتونکی خدای شی -

پیغمبر به نیسی ډال ورته

مأخذ:

---

فرهنګ زبان وادبیات پښتو ۱/۵ مخ.

ketabton.com - The Digital Library



## ۱۶۶۹- آفتاب پری پیشوری :

یوه هنرمنده شاعره وه چې د(۱۳۰۰ هق) کال په شاوخوا کې یې د پېښور
په سیمو کې ژوند کاوه، او دهندی دموسیقی پر مقاموبې غزلې ویلې،
او خو غزلې یې په « بهارگلشن » نومې کتاب کې چاپ سوې او هم یې دشعر
نمونه د«ادبی ستوری » پهدوهم ټوک کې راغلې ده . دابیت د دې دی :

نړه بهشي آخر «افتاب پری » لهدغه غمه ته

ستاپه مثال خو کټ پهښتن کې سرگردانې د ی

مأخذ :

---

فرهنگ زبان وادبیات پښتو -۱/۵مخ.

## ۱۶۷۰- آنخون خټک

د پښتو ژبې اولسی شاعر و ، او پر اولسی وزن یې شعرونه ویل،دده یو څه
اشعار د«گلزار پښتو» په کتاب کې چاپ سوی د ده ژوند د دیرلسمې هجری
پېړۍ په پای او د څورلسمې هجری پېړۍ په سر کې ا ټکل کېدای سی-
دا بیت دده دی :

خال دی اینښی پهجبین نوم دی خورپه زوی زمین

زبا پیر میحی الدین د«آنخون » دخولې گفتار دی

مأخذ :

---

فرهنگ زبان وادبیات پښتو -۱/۶مخ .

## ۱۶۷۱- آیتی هروی

دخپل وخت ددری ژبې نومیالی شاعر و ، په هرات کې اوسیده ،لومړی
یې په اشعار و کې « نرگسی » تخلص کاوه او بیا خپل تخلص په «آیتی»
واړاوه ، او د ده معاصرینو پوری تړلې دهچې هر وخت به یې د یوچا

په‌شعر کی یو باریک مضمون و سوندهغه یې دستی په نظم کاوه، خو په‌هر جورت دی دخپل وخت له زبردستو غزل و یونکو څخه گڼنی سوی دی او دده داشعارو دیوان سته. او په ترکی‌ژبه یې‌هم شعر وایه.

مأخذ:

---

تاریخ نظم و نثر در ایران ۱/۳۳۰مخ دسعید نفیسی تألیف

## ۱۶۷۲ـ ابا:

### الف

دا باخیلو پښتنو مشر نیکه و، چی پڅه زامن یې درلودل:

شاه بیگ، شخالی، شرغا، خاسی او اسماعیل.

او بیاددې پنځو زامنو په‌نامه په‌پښتنو کی‌څانګه څانګه خپلو نه‌سته.

مأخذونه:

---

حواشی‌ـتو اریخ حافظ رحمت خانی ـ په‌اردو، ۳۰۶مخ.

## ۱۶۷۳ـ ابابکر کندهاری:

د بایزید روښان د تحریک له مشرانو څخه و، په کندهار کی زیږېدلی او د یوولسمی هجری پیړی په شاوخوا کی یې ژوند کاوه: په‌دینی او شرقی‌علومو کی‌یې‌ښه سطلعا درلودله. د روښانیانو دسلی، روحانی او تصوفی تحریک سلگری سو، او یو کتاب یې «مرآة‌العارفین» په‌نامه نظم کړ. تصوفی اشعار یې‌ویل، او په‌تصوف کی‌د وحدة الوجود یانو له‌ډلی څخه گڼل کیږی. دابیت دده دی:

خیرلبیان‌یې کړوروړاندی　　　　احداددخدای و ته سجده کړه

مأخذ:

---

فرهنگ زبان و ادبیات پښتو - ۱/۲۳مخ.

ketabton.com - The Digital Library



**۱۶۷۴-ابراهم:**

د پښتو ژبې شاعرو، پادری هیوز د ده یوه بدله د خپل کتاب «کلید افغانی» د «چمن بی‌نظیر» په (۳۸۹) مخ کی د «براهیم» په نامه‌ته اخیستی ده. نوځکه دی ددې کتاب د «ب» په ردیف کی د «براهیم» نامه‌تر رجوع وسی او هلته د ی هغه غزل و لوستل سی.

مأخذ

---

کلید افغانی - چمن بی‌نظیر - د کابل چاپ - ۳۸۹ مخ.

**۱۶۷۵ ابراهیم خلیل:**

د پښتو ژبې اولسی شاعر په خته خلیل مو سندود پښتونستان په «ستر انی» سیمه کې یې ژوند کاوه - داولسی آهنگونو سره سم یې شعرونه ویل، او د حافظ عظیم گنداپوری (چی په ۱۳۲۱ هق) کال سر دی له پیرانوڅخه گنلی سوی دی

مأخذ:

---

فرهنگ زبان و ادبیات پښتو - ۱/۸ مخ.

**۱۶۷۶-ابراهیم شاه کالوخانی:**

د پښتو ژبې حماسه ویونکی او داستان جوړونکی شاعر و، د پښتونستان د کالوخان په سیمه کی اوسېد.

دده حماسی شعرونه زیاتره دافغان او انگریزد جگړو دقصو په باب کی دی. د «یوترابان» قصه هم دده ده. تر (۱۲۸۰ هق) کال پوری ژوندی و.

دابیت دده دی:

دابراهیم شاه د کالوخان قوت معلوم شو کوی شعر په دې قصه بې ښکاره زوم شو

مأخذ:

---

فرهنگ زبان و ادبیات پښتو - ۱/۹ مخ

ketabton.com - The Digital Library



**۱۶۷۷ـ ابراهیم متی زی :**

د پښتو ژبی غزل و یو نکی شاعرو، او د یوو لسمی هجری پېړۍ په شاو خوا کی د پېښور په لتو کی او سېد. په طریقت کی د چشتیه طریقې پیرو و دا بیت دده دی:

ابراهیم ځکه د آشنا په کوی داخل شه چی یې عشق شه په دالار ر هنمونو ر وورو

مـأخذ :

فرهنگ زبان و ادبیات پښتو- ۱/۸ مخ

**۱۶۷۸ـ ابن یمین شنو ازی**

دا میر حبیب الله خان (۱۳۱۹-۱۳۳۷ هق) دو ختود پښتو ژبی شاعرو، دشینوار و په لوی اپاپین کی او سېد، او پر کلاسیک طرز یې شعرو نه و یل، او په شاعری کی د رحمان بابا پیرو و.

مأخذ :

فرهنگ زبان و ادبیات پښتو- ۱/۹ مخ

**۱۶۷۹ـ ابو احمد بستی :**

دخپل و خت نوسیالی محدث او اصلی نوم یې محمد د ابرا هیم زوی او دجناح نمسی او کنیت یې ابواحمد بستی و.

په (۳۴۶ ه ق) کال دبغداد له لاری حج اوته تللی. حدیثونه یې له اسحق بن ابراهیم القاضی البستی او صاحب احمد بن آدم څخه زده کړی وو.

مأ خذ :

دسیستان ځینی پخوانی مشاهیر- ۱۱ مخ دنباغلی ز هری لیکنه

ketabton.com - The Digital Library



## ۱۶۸۰ - ابو بکر جامي :

دمولانا عبدالرحمن جامي هروي له نژاده دښو معنوي او صوري کمالاتو څښتن په تېره بيا په ښه خطليکلو کې لوی لاس درلود- هغه و خت چې يې له خراسانه کردستان ته مهاجرت و کړ، هلته يې په «سيلميه» مدرسه کې ځای و نيو، ډېر شاگردان پرر اتول سول او خصوصاً د نستعليق په خط کې يې ډېری استفادې ځينې و کړې، او هلته يې د خطښې ښکلی ټوټې او ر قعې پر ېښو و لې دی په (۱۰۷۷ هق) کې مړ سو.

مــــأخذ :

---

خط و خطاطان -۱۲۳ مخ دابوالقاسم رفيعی مهرآبادی تأليف .

## ۱۶۸۱ - ابو بکر محمد بلخي :

دعلي زوی ، دطرخان نمسی ، دعبدالله کړوسی

و دجياش کوسي دخپل و خت له محد ثانو څخه و ، او په ابوعبدالله بلخي بيکندی هم ليکلی سوی دی څه موده په شام او مصر کې او سېد، او ز ياتره ليکنی يې په کوفه او بصره او بغداد کې کړی دی .

د(۲۷۸ هق) کال د رجب په مياشت کې مړ دی .

مأ خذ :

---

لغتنامه -ب-۳۸۲ مخ دمعجم البلد ان په حوالۀ

## ۱۶۸۲ - ابو بکر (ميا)

ميا ابوبکر د ديرلسمی هجری پېړی له پو هانو او ر و حانيونو څخه و ، د پښتو نستان په «گوجر و گړهی» ا وسېد ، او په ( ۱۳۰۹ ه ق ) کال کې مړ دی- دی په پښتو ژ به ليکنی هم لری .

مــــأ خذ :

---

فرهنگ ز بان و ادبيات پښتو-۱۹۱/ مخ

ketabton.com - The Digital Library



### ۱۶۸۳ـ ابو الحسن هراتی :

دپښتوژ بی لیکلوال قاضی خیر الله پیښوری لیکی چی ملا ابوالحسن هراتی «کلیله و دمنه» په پښتو راا ړولی وه .

مأخذ :

فرهنگ زبان و ادبیات پښتو-۱/۰۱ مخ

### ۱۶۸۴ ـ ابوعبدالله محمد بلخی:

دفضل زوی او دعباس بلخی نمسی دخپل و خت له نوميالیوصوفیانو او مشایخو څخه و . په (۳-۴) هجری پیړیو کی اوسېد .

له بلخه څخه وایستل سو ، سمرقندته ولاړ ، اوپه (۳۱۹ هـ ق) کال مړ دی .

مأخذونه:

۱ـ الاعلام زرکلی-۷/۱۲۲ مخ

۲ـ لغتنامه ـ ب ـ ۲۳۸ «

### ۱۶۸۵ـ ابوعلی حسن بلخی :

دشجاع زوی اود رجا بلخی نمسی د خپل وخت نومیالی و ، اوپه (۴۴۲ هـ ق کال په نهه څلويښت کلنی کی مړ دی.

مأ خذونه :

۱ـ ددهخدا الغتنامه ـ ب ـ ۲۳۸ مخ

۲ـ معجم البلدان ـ

### ۱۶۸۶ ـ ابوعلیشاه (سید) :

سیدابوعلیشاه دسید امیرالدین زوی دپښتو له خوږ ژ بوشاعرانو څخه و ، دی په (۱۸۳۳ م) کال دپیښور دشبقدر په اسلام آباد کی زیږیدلی دی. دینی علوم یې

ketabton.com - The Digital Library



په «کتوزی» کی لوستی اوخه ووده هم په «پنډیالی» په تدریس او تألیف بوخت وو

دی دیر تألیفات لری چی مشهوره یې دا دی :

۱ - جنگنامهٔ حسنین

۲ - مناقب غوث الاعظم.(رح)

۳ - وفات نامه

۴ - قصهٔ جابر انصاری .

۵ - کلیله و دمنه .

۶ - لیلی و مجنون .

۷ - نصیر بربری .

۸ - قصهٔ قهقه .

۹ - قصهٔ شمشاد.

۱۰ - قصهٔ مرغابی.

۱۱ - بختیار .

۱۲ - سیر حاتم .

۱۳ - آدم و درخانی .

۱۴ - قصهٔ دل افروز .

۱۵ - جنگنامهٔ محمد حنیفه.

۱۶ - جنگنامهٔ شیرعلی .

۱۷ - جنگنامهٔ کلان .

۱۸ - دیوان سید .

۱۹ - در محفل

۲۰ - مناجاتونه .

ketabton.com - The Digital Library



دده په دیوان کې بدلې او اشعار د پښتو پراو لسې او ژ انو هنم ستة .

دی په (۱۹۳۰م) کال کې سړسو، او دابیت دده دی :

که ښکا ره دی په چمن شی د ښځ گل په نار. وسو رورانحی و ژله بلبل

مأخذ :

فرهنگ زبان و ادبیات پښتو-۱/۰۱سخ

## ۱۶۸۷-ابو علی شقیق بلخی :

دابراهیم ز وی او دعلی از دی بلخی نمسی په دو همه هجری پېړۍ کې دخراسان له لويو نوسیالیو صوفیانو او عار فانو څخه و .

د مړینې کال یې ذهبی (۱۹۴ هق) او دوفیات خاوند (۱۵۳ هق) لیکلی دی .

مأخذونه:

۱-الاعلام-دزر کلی-۳/۲۴۹ مخ

۲-لغتنامه-ب- ۲۳۸ « ۳- طبقات الصوفیه

## ۱۶۸۸-ابو علی عبدالله بلخی :

د محمد بلخی زوی مشهور په «بلخی» په در یيمه هجری پېړۍ کې د بلخ له نوسیالیو محد ثانو څخه و .

ماخذونه

۱-الاعلام-دزرکلی -۴/۲۶۱مخ

۲-تذکرة الحفاظ - ۲/۲۳۳« ۳-لغتنامه-ب- ۲۳۸ «

## ۱۶۸۹-ابو الفتح البنی غزنوی :

دسلطان محمود غزنوی دو ختو نوسیالی شاعرو، په دری ژ به یې خواږه شعرونه و یل، دده زیات اشعار دعرفان او توحید په باب کې و و-د (۴۳۰ ه ق) کال

ketabton.com - The Digital Library



د کوچني اختر په میاشت مړدی۔ لکه چې یو شاعر دده د مړینی نېټه داسی په نظم کړې ده :

شیخ عالیقدر مجدالدین ابوالفتح آنکه بود مقتدای اهل فضل وسر اهل کلام

چار صدباسی چواز تاریخ احمد درگذشت درمه شوال رحلت کردتادا ر السلام

مأخذ

---

مفتاح التواریخ -۳۸مخ

## ۱۶۹۰-ابو القاسم عبدالله بلخي :

داحمد زوی او دمحمود د کعبي بلخي نمسی د دریمې هجری پېړۍ په پای او دڅلرمې هجری پېړۍ په سر کې له معتزله امامانو څخه و.

مأخذونه :

---

۱-الاعلام-دزرکلی -۳/۱۸۹مخ

۲-تاریخ بغداد-۹/۳۸۴ «

۳-ددهخدالغتنامه-ب-۲۳۸ «

## ۱۶۹۱-اتکړ مولانا-یا-ارکړ مولانا :

د تیرا داورکزو او سپدو نکی دخپل وخت له نومیالیو غازیانو او مجاهدینو څخه و، چې په شیخ المشایخ مولانا اتکړ-یا-مولانا ارکړیې شهرت درلود، او دسواد د باباجی صاحب مشر خلیفه او مأذون و، مزاریې دشلمالی وزیرستان ددوړ دقبیلې په سیمه کی دی .

مولانا اتکړ په ۱۸۷۸م کال دبنو او دټل په منځ لاره کی د پرنګیانو پر لښکر یرغل وکې او انګریزی پوځ ته یې زیات تاوان ورساوه، او څو تنګیالی غازیان هم شهیدان سول . بیا په ۱۸۸۹م کال یې ددوسو وو زیرو، مسیدو او دوړو

ketabton.com - The Digital Library



غاز یانو سره دتقال په اته سیلی و. اتن په سپری نوسی ګلی کی پرانګریزانو حمله وکړه ، په کیمپ ورننوتل لاس په لاس جګړه وسوه او دانګریزانو اوه شپېته تنه جګړن یې و وژل .

په دی توګه نوسالاناتکړیاـ ار کړله هغونوسیالیو مجاهدینو څخه و ،چی دژوند زیاته برخه یې په غزاګانو کی تېره سوې و، زوړ او په پای کی هم شهید سو.

مأخذ :

---

پښتانه ـ دوتوک ـ ۲۱۳ مخ د کابل چاپ .

## ۱۶۹۲ ـ احسن :

د پښتوژبی عالم شاعر مېناغلی همیش خلیل لیکی چی :

«دحالاتو یې هیڅ پته نه لګی صرف هم دغه دوه غزل یې په لاس را غلی ـ داسی معلومیږی چی «احسن» یو عالم سړی او د یو مقلد شاعر په حیثیت پښتو ادب کی د ښکاره مقام خاوندو، و د اشعارو اسلوب یې دخپل و خت د پښتنی روایا تو په بنیاد دی »

دادوی بدلی دده دی :

- ۱ -

. . . . . . . . . . . . کړم

خپل قسمت دیار دمینی انفعال کړم

د تصویر په شان یې ساه در ته و لاړ یم

د بوسې زکوۃ و باسه در ته سوال کړم

چه سی یار له غمازناست و لید په سترګو

دسا هی په طوری یې په تیغه حلال کړم

ښار دزړه سی کړه تالا سپاد ترکو

بی تقصیره بیګناه یې ز ه تالا کړم

ketabton.com - The Digital Library



ده د کبر کاسه تل مدام نسکوره

ځکه غم د یار د حسن دی زوال کړم

چې معدو مه شوه و عده دو صال ځکه

تسله دې خو پر خاطر خپه فال کړم

اته وايي چې در از پرده پوشي کړه

زه «احسن» يې ځکه بند له قيل و قال کړم

- ۲ -

چې پنهان رانه دا ستا ښکلی رخسار د ی

له ژوندونه مې نور سرګو ته تلوار دی

په اميد ستا د راتلو ګلستان ګل شه

د ست بسته پر ته و لاړ سرو چنار دی

چې شهرت مې ستا د مينې خدای نصيب کړ

او س په بيار ته جار وتل راته د پر عار دی

چه په خوله د ی ر قيبانو ئی تل زور و ي

عاشق ځکه د منصور غوندی سنګسار دی

يو ځل تا دسرو لبانو مې راکړی

لا تراوسه مې په سر کې داخمار دی

چې دستا له وصله زه يم محرو م شوی

تو ل صورت مې دی تبجن زړه مې بيمار دی

که رسن د زلفو ور کړی خوار «احسن» ته

په محيط د ر ياب د عشق کې ګـرفتا ر دی

مأخذ :

ور که خزانه - ۲/ ۵ . ۲ مخ دښاغلی هميش خليل تاليف د پيښور چاپ

ketabton.com - The Digital Library



### ۱۶۹۴-احمد تراهی:

دپښتو ژبی شاعرو او په (۱۲۹۳ ه) کال دلری پښتونخوا په «تراهی» نوسی ځای کی اوسېداو په همدی ځای کی یې په یوه جومات کی امامت کاو مـدی تکیوته دی په خپله داسی اشاره کوی:

تراهی و، کی بی مقام دی — خبر دار پرې خاص وعام دی
په مسجد کې کی امامت کړم — خپل مولی له عبادت کړم
سنه د ری نـوی یـو زر — دوه سوه نور کړه برا بر
خـلو رمه د شعبا ن وه — په قدرت د پاک سجان وه
توقف کړه ای احمده ! — و رانـدی تا لره دمه ده

ده په همدی کال او همدی ځای کی دوی پښتورسالی چی یوه «خوابنامه» او بله «فالنامه» نومېږي د پـښتو په لنډه مثنوی په نظم کړی او په یوه وقایه کی خپری سوی دی چی نمونی یې دا دی:

له خوابنا می څخه:

پس له حمده له صلوته — را شه غوږ و نیسه ما ته
چی باعث په بنده راشی — نور یې خدا ی ته التجاشی
هر انسان لره خطاشته — لـه مو لی ځنی عطا شته
القصه نکوم خوابنامه زه — و رسره ضـم فالنامه زه
چی پښتوته شی اسانه — په فا رسی ده قدر گرانه

له فالنامی څخه:

پس لـه دار نگه کلامه — وا یم تا وته نیکنا مه
اوس می دار نگه فکرت دی — فالنا مې وته حاجت دی
نقل دی له نصر الدینـه — اې زما و رو را مینه
د هو یلی دی دا شان — په ترتیب سره اسا ن

ketabton.com - The Digital Library



فاتحه دي له يوه وا ر ه ولولي ا ې بر خو ر د اره
بياسائل ته دی ای جانه ا مـر و کـا د دی شا نه
چې دښې لاس گو ته کېږده په يوحرف بانديې يې پرېږده
پس لسه هغـه مقـر ر ه گو تی لاندی کړه نظره
چې کوم حرف دی لاندی ښکلی نظرو کړه لا ندی غـلی

له پای څخه :

پس له دې مې اختتام دی بيا هر چاته مې سلام دی
د اسلام علی الد وا م په هر چا په خاص و عا م
مختصر مې کړه ابيا ت چې کتاب تري نه شی ز يات
مسمی يم په « احمد » په نامه د محمد

مأخذ :

ادبی ستوری -۱/۱۱۱مخ

## ۱۶۹۴-احمد تیر اهی :

گـل احمد مشهو ر . پـه احـمـد تـير اهـی دعـبدالكر يم زوی پـه ختـه خليل دپښتو ژ بی ښه شـاعر و ، پـه ( ۱۲۴۲ هـ ق ) کـا ل د پيښو ر د سيمو په « سپينه ډهيری » کی زېږ ېدلی د ی - دينی علو م يي لو ستی و و ، او تر هغه و روسته يې تد ر يس کاوه او په تأليفو بو خت و و . بيا په «تيراهی» سيمه کی ميشته سو ، او همـلته يې اسات در لو د . دده ژ و ند تر ( ۱۳۰۱ هـ ق ) پو ری يقينی دی .

احمد په خفيف بحر مثنوی کی ډېر اثار لری چی مشهوره يې دا دی :

۱-قصص الانبياء

ketabton.com - The Digital Library



۲ـ قصه شهزاده رت و پدمن.

۳ـ قصه طوطی مینا.

۴ـ ذخیرة القراء .

۵ـ هدایت المؤمنین.

۶ـ فالنامه و خوابنامه.

۷ـ قصهٔ جمجمه

دابیتونه دده دی :

تیراهی کی سکونت کړم
هم پیشه دامامت کړم
یم په اصل کی خلیل
و ایم تاته اوس دلیل
سفید ډهیری کی می ښه جد دی
خاص بنده د پاک احد دی
فرزند یم د عبدلکریم
که ایمان می شی سلیم

مـــــأخــــذ:

فرهنگ زبان و ادبیات پښتو-۱/۴۱م خ

## ۱۶۹۵ـ احمد جان ځاځی:

د پښتو ژبی اولسی شاعر، په خته الیسنگی ځاځی و، اود ځاځیو په «پټله» کی او سېد ـ شوونه یی پرملی آهنگوړ غول .

په (۱۲۷۰ هش) کال کی زېږېدلی او په (۱۳۴۰ هق) کال کی مړدی.

ketabton.com - The Digital Library



دابیت دده دی:

د هلک توری سترگی توری یې و روځی دی    نور و بنویي رانه ایستی ډډو زی دی

مـأخذ:

---

فرهنگ زبان و ادبیات پښتو-۱/۱۷ مخ

## ۱۶۹۶-احمد (ملا) الینگاری:

ددینی علومو طالب او دپښتو ژبی او لسی شاعرو ، پلار یې محمد حسین نومېداو دلغمان دالینگار پهشاهی کی اوسېد .

په(۱۳۰۱ هق) کال زېږېدلی اویه)۱۳۴۵ ه ق) کال کی مړ دی.شعرو نه یې براولسی و زنوو یل-دابیت دده دی:

مانـن و لیده هـغه دلـبر    شین خال یې ایښی دزنی پرسر

مـــأخذ:

---

فرهنگ زبان و ادبـیات پښتو-۱/۱۶ مخ

## ۱۶۹۷-احمدجان (ملک):

ملک احمـدجان د ملامحمد زوی او دراز الدین لمسی په ختهساپی دخپل وخت او خپلی سیمی مخو رسړی و ، او د لـغمان دمرکزپه احمد زیـوکی اوسېد په پښتو ژبه یې شعرونه وایل ، غزلی او قصیدې لری - اشعاریې د هیواد په مطبوعاتو په متفرق ډول خپار هسوی-او دی په(۱۳۲۷ هش) کال کی مړ دی دابیت دده دی :

احمدجانه دیوانه دی خلق بولی    که په عقل افلاطون شې یا بهلول

مأخذ :

---

فرهنگ زبان وادبیات پښتو- ۱ر۱۷ مخ

ketabton.com - The Digital Library



## ۱۶۹۸ـ احمدجي :

دمحمدشاه گل زوی د پښتونثرلیکونکی و ، یوی کتاب یې د«مفید المبتدین» په نامه په(۱۳۲۵ هق) کال دصرفي قواعد و په باب کی لیکلی و .

مـــــأخذ

فرهنګ زبان و ادبیات پښتو-۱/۱۸ مخ

## ۱۶۹۹ـ احمدخان :

داحمدشاه بابا دوختود پښتوژبی شاعر تېرسوی دی(۱۱۶۰-۱۱۸۶ هق ) دده خطی اشعارلیدلی سوی دی او دابیت دده دی :

احمدخانه هرسړبه هله پوښي چې      دعمرتار یې پرې شي په مقراض

مأخذ

فرهنګ زبا و ادبیات پښتو-۱/۱۹ مخ

## ۱۷۰۰ـ احمدداودزی :

دیوو لسمی هجری پیړۍ له نومیالیو صوفیانو اومشایخوڅخه و، اود«شیخ احمدداؤ-دزی» په نامه یادیده-دپیښورپه سیمو کی او سېداوپه تصوف کی دنقشبندیه طریقې پیرو و ،سربېره پرتصوف یې په پښتوژ به شعرو نه هم و. یل ،او یو کتاب یې د«الشرایع و الاحکام» په نامه په پښتونظم کړی و .

په(۱۱۱۸ هق) کال مړسو، اودداؤ دزی په محله کی ښخ دی .

مـــــأخذ :

فرهنګ زبان و ادبیات پښتو-۱/۱۵ مخ

## ۱۷۰۱ـ احمد (شیخ) لودی :

شیخ احمدلودی دشیخ سعیدلودی زوی داوومی هجری پیړۍ له نومیالیو پوهانو اوسورخانو څخه و .

ketabton.com - The Digital Library



ده په (۶۸۶ هق) کال کې یوګټور کتاب د«اعلام اللوذعي في اخبار اللودي» د ملتان د لودیانو پښتنو پاچهانو د کهاله په باب لیکلی و، چې کامران خان د سدو خان زوی چې په ښار صفا کې اوسید، پخپل کتاب «کلید کامراني» کې هغه ته حواله ورکړې ده، او د پټې خزانې مؤلف محمد هوتک یاد هغو دواړو کتابو یادونه کړې ده، او د شیخ حمید او شیخ رضي لودي د ژوند حالات یې له همدغو کتابو څخه را اخیستي دي.

مــأخذ:

---

پټه خزانه ـ د کابل لومړی چاپ ۶۷ مخ

## ۱۷۰۲ ـ احمد غوري:

د پښتو ژبې د ستر نامتو لرغوني شاعر «ښکارندوي» د پلار نوم و، چې د غور په «فیروزکوه» کې یې د هغه ځای د کوتوال حیثیت درلود، او په پټه خزانه کې یې یادونه راغلې ده.

مأخذ:

---

پټه خزانه ـ د کابل لومړی چاپ ۳۷ مخ

## ۱۷۰۳ ـ احمد کندهاري:

دخپل وخت عالم او د پښتو ژبې فاضل شاعر، او په شعر کې د پیر محمد کاکړ د ادبي مکتب پیرو و. تر (۱۲۰۱ هق) کال پورې یې ژوند یقیني دی ـ ده د اشعارو یوه دیوان درلود، او دوه نور اثره یې د «حقیقت الاسلام» او «علم و عمل» په نامه هم لیدلي سوي دي.

مــأخذ:

---

فرهنګ زبان و ادبیات پښتو ـ ۱/۲ مخ

## ۱۷۰۴ ـ احمد ګل ټکړی:

په پښتونستان کې اوسېد ـ د نولسمې عیسوي پېړۍ په شاوخوا کې یې ژوند کاوه

ketabton.com - The Digital Library



دافغانانواو انگریزانو ترمنځ د( ۱۸۵۷ ع ) کال دجگړې قصه یې په نظم کړې وه چې دار مستترختیځ پوهاند هغه په خپل کتاب «دپښتنخوا دشعرها رو بهار کې ر او ړې ده چې دایی دپای بیتو نه دی :

بهاو لپور کې فرنگی یوی و رځ دتوره و که لاف

داسلك دپیښا و ر دی ر ب و ر کړی دی انصاف

چراته دی په ایرو کـی که څوك پیښشی پرې صراف

و یل داحمدگل خلق په بیعه لکه درکه

علاوه پردې یې په یوه چاربیته کې دامیردوست محمدخان او دسیکانو جگړه هم نظم کړې ده چې هغه هم دار مستر په خپل کتاب کی راوړده چې لومړی بیت یې دادی :

چاوې چې دوست محمدغازی سنبال شه په کابل کې

خیژ ی دلښکـرو بادشاه په قندهار زو گایی

ســـــأخـــــذ:

دپښتنخوادشعر هارو بهار ـ دکابل چاپ ۱۲، ۱۳، ۱۴ مخونه

## ۱۷۰۵ ـ احمدگل سلیمانخیل :

دغازی امان الله خان په وختوکی چی دپښتو ژبی دپاره په (۱۳۰۱ ه ش) کال دکابل دارگ په «شمالی برج» کی یوه علمی او تحقیقی ټولنه جوړه سوه او «مرکه دپښتو» و بلله سوه داښاغلی دهغی مرکې غړی و ، چی دپښتوژ بی دکتابود لیکلو دموادو او لغاتودراغونډولو په لاره کی یې زیار ایستلی دی ، او په هغه مرکه کی یې دسلیمانخیلو دلهجې نمایندگی کوله.

مأخذ:

یوازنی پښتو ـ دکابل چاپ

## ۱۷۰۶ ـ احمدنور آ ډ هگر :

د(۱۳۰۰ ه) کال په شاو خواکی یې پر اولسی اوزانو پښتوشعرونه و یل، او دلغمان په مرکزکی اوسېد .

ketabton.com - The Digital Library



دابیتودده دی :

زه احمدنور آهنګرپه ژړا زاړمه    له لویه خدایه څخنی خپل ایمان غواړمه

له بی وفاو نی دنیا نه لاړمه    هغه سلک چی ساید لی سواری دی پکی

مـــأخـــذ

---

فرهنګ زبان و ادبیات پښتو ۱/۲۳ مخ

## ۱۷۰۷ـ احمدی عبید الله :

د لوی عالم او عارف سیا محمد عمر څمکنی زوی و ، چی پښتو ژبه یی شعرونه ویل ، په غزل کی یې « غریب او په قصصو کی یې «احمدی» تخلص کاوه ـ په (۱۱۵۵ هق) کال زیږېدلی او دمتداو لو علوموترلوستلوو روسته یی در وحانیت خواته مخه واړوله ، او داداب او بلاغت پر فنونوسربېره یې په تصوف کی هم لوړمقام وموند، دده داآثار مشهور دی :

۱ـ هشت بهشت . ۲ـ شمایل نبوی ۳ـ قصهٔ جهاندار . ۴ـ دیوان

دده ژوندتر(۱۲۳۳ هق )پوری یقینی دی ـ او دابیت دده دی :

ترقیامته به په خود پس له دې نشی    چی غریب دی په دید دخپل نګار مست

مـــأخذ :

---

فرهنګ زبان و ادبیات پښتو ـ/۲۳ مخ

## ۱۷۰۸ـ اختر محمد شینواری

د پښتو ژبی شاعر و ، او په موسیقی کی یې لاس درلود د پلار نوم یې شیر زاده او په ختمه سیا خبل شینوا ری و. په ( ۱۹۰۸م ) کال په «لواړګی» کی زیږېدلی او په (۱۹۴۷م) کال په لواړګی کی سړاو همهلته ښخ دی اخترمحمد تموکی او بدیهه و یونکی سړی هم و ،او دده زیات شعرونه دپښتو پر اولسی او زانوسم وو . په شعرو کی یې هم تصوفی هم عشقی او فکاهی موضوعات بیانول

ketabton.com - The Digital Library



دابیتونه‌دده دی :

په‌بازارکی دوصال‌سی دهستی‌پنگه تالاشوه

په‌اوره‌کلی ساشومه په‌پسرکی په‌خندا شوه

دهجران داو رپوښتنه دی‌له خپلو شونډو وکړه

په سوال چی‌دوصال دی‌سره‌لمبه مخ کی پیداشوه

مأخذ :

---

فرهنگ زبان و ادبیات پښتو۱/۲۶ مخ

## ۱۷۰۹ـ اختر (ملا) :

ملااختر ددولسمی هجری پیړی په شاو خوا کی په کندهارکی او سېد، او دخپل وخت د پښتو لیکوال و، او د پښتو په تاریخ کی یې مطالعه درلوده‌او دپښتنو دتاریخ په‌نامه یې‌یو کتاب تألیف کړی‌و، چی‌انګریزېستر بیلویې‌د « تاریخ ملااختر » په نامه‌یادوی. د«یوسفزی‌افغان»دکتاب‌مولف‌هم د «تاریخ ملا اختر» نوم‌دپښتو په تاریخی کتابوکی یادکړی دی .

مأخذ :

---

فرهنگ زبان و ادبیات پښتو-۱/۲۷ مخ

## ۱۷۱۰ـ اختو سنځر خیل

اخترمحمد مشهورپه « اختو » دکاکړو په سنځر خېل ټبرکی نوسیالی مبارز و، چی د یر غلګرو پرنګیا نو سره یې مبارزی کړی وې ، چی دهغه ځای‌خلکو په کاکړی غاړوکی ښه‌ستایلی دی‌چی و ایی :

جنګ کوی اختو په کښې      پرو خلن ګرځی سلیشې

پرکلات اختو بندی      پرړوبلاری بې‌پرو اځی

ستا یو سردی ګار بې‌کې      اختوته‌لوی‌اپسرانوړې

(۱۱۶۶ هـ )

ketabton.com - The Digital Library



یو اختو بل شپرا لی		له رو به غبرگ بابوگانو ری
یو اختو بل شپرا لی		دو اره مز غن سره گیا ن دی
پر کابل اختو بندی		پرروب لاری پ نخر و ځی

مأخذ :

پښتواو پښتانه ـ دسیال کاکړ، دکوټې چاپ ـ ۱/۹۰۳ مخ

## ۱۷۱۱ـ اخلاص خان :

دآدم خا ن او در خا نی دنکل له څهر و څخه د ی ، چی مسعو د بن عبدالله په هغه نکل کی داخلاص خان دخولـې ناري را وړی دی ده‌دلسمی هجری پیړی په شاو خوا کی ژو ند کاوه ـ دا بیتو نه دده‌دی :

دغه نورستوری سی کو ری
دقطب‌ستوری سی‌نه کو ری
له‌ځایه‌در خو هسی‌ر نگ ښایسته‌ده
دجنت حوره به‌ځر نگه ښایسته وی

مأخذ :

فر هنگ زبان و ادبیات پښتو ـ ۱/۲۷ مخ

## ۱۷۱۲ـ اخو ندکبیر :

حافظ عبد ا لکبیر مشهور په اخو ند کبیر د پښتو ژ بی‌شاعر او دقرآن حافظ و ، چی دلوی احمدشاه بابا (۱۱۶۰ ـ۱۱۸۶ هق ) په‌و ختو کی‌یې ژو ند کاو ه ، او خپل یو کتاب یې چی«معجزا ت » نو سیده د احمد شاه باباد پاچهی پر او و م کال شروع کړی‌و ، او پخپله و ایی:

په‌شرو ع ددې کتاب شو م		په و کښو د رنایا ب شو م
سن د هجر چی سی‌شمار کړه		«سو غق» سی‌ترې اظهار کړه

ketabton.com - The Digital Library



چی ز رسل او شپږ شپېته وو
د او و تللی نو ر پـه تلـه وو

احمدشاه بادشاه پښتون و
او وم کال یې پـه رفتون و

داخوند کبیر دژوند نورحالت لاس‌ته رانغله، خوددې آثارونو سونه بې پاتـه‌دی

۱ـ معجزات : دا کتاب پـه‌لنډبحر کی‌مثنوی دی او د کوم عربی اثر ترجمه ده ـ تقریباً یوزراو پنځه سوه بیتونه لری او داسی شروع کېږی . :

اې چی‌خدای و احد احدیې
لم یلد و لم یو لـد یې

هر چه کړې هغه به وشی
بې دستاله کړوځه نه‌شی

چی ځه نه‌وی تې‌پیدا کړې
بیایې هسی رنگ‌پناکړی

گویا هیڅ نه و، پیدادی
پـیدا شـوی پـه دیـنـا

لکه وړاندی چی عدم و
نې صورت او نه یې دم‌و

که بنده کوم کارکوینه
که ساکن یا چیرته ځینه

که‌اوقوال وی که‌افعال وی
قوت‌ستا د ذو الجلال وی

ketabton.com - The Digital Library



قوت ته و رکوې خدا یه
ته هادی یې رهنمانه

دا قوت وارډ له تا دی
چې اوس زه و ایم زمادی

۲ ـ دفع الفقر : دا یوه منظومه ترجمه ده چې شروع یې په دې بیتو کېږي :

کل ثناخدای لره ښایی
چا و یلې یا یې وا یی

هسې خدای چې دی خالق دی
د همه مخلوق رازق دی

هم قابض دی هم باسط دی
هم رحمان رحیم ، مقسط دی

هم غني سړی دی خوار کا
خوار فقیر دی دنیا دار کا

بیادرود چې تل حیات دی
په سر ورد کائنات دی

۳ ـ دار المجالس :

۴ ـ سیف ادار امنظر لمجالس :

داخوند کبیر یو شمېر منا جا تونه د فوائد الشریعت دهغې چاپي نسخي پر حاشیو باندی چاپ شوی دی چې په (۱۳۰۴ هق) کال په ډهلي کې لیتوگراف شوې ده .

ماخذ :

---

پښتانه شعرا ـ ۳/۸۲۵ مخ

## ۱۷۱۱۳ - اخوند مصری

د پښتو ژبې شاعر و، خو د ژوند نور معلومات یې په لاس رانغله، یو اثر یې یوه بدله د عبدالغنی کاسي په پښتو جونګړي کې راوړه سوې ده. ښاغلي رفیع دده ژوند تر ۱۱۴۲ هق کال د مخه اټکل کړی دی. دده بدله داده.

---

که مخامخ شوم له خپله یاره سره
دا دنیا به اوارہ کړم له روزګاره سره
هغه پر تاسین و تا ته ګوري
دا به هوده خبري نه کړي له وزګاره سره
که عالمان په جهان نه وای پیدا
و داعاسیان به وزګه شوي له کفاره سره
پتنګان و سوه د څراغ په لمبو
او د بورا او ملخ څه دي له انګاره سره
چې اهار را شي پسرلی به نه وي
او ښایسته بلبله زیب کاله ګلزار سره
هغه توتیان چې په بانو نو اوسي
اوس یې له بانه الوا ته کاله چغاره سره
او هغه زړونه چې د حق په لاره خو ښو
په هر زمان به یې جنګر یزوی له کفاره سره
او هغه زړونه چې د حق په لاره و سړه
ښایسته جنت ...و رته ورکړه له دیداره سره
غازیان غزا کوي د حق په لاره ...
او داد مشکو بار به یوسی له داواره سره

ketabton.com - The Digital Library



دنیا هندوه دهندوانو رپز که
وی دهندوانو دپره مینه له‌زناره سره
«اخوند مصری» په‌تادرمن نور به‌په‌خه پر غیږی
ستا لیونی‌مینه‌غواړی له‌دیداره سره ۰
مأخذ :

ادبی‌ستوری - ۱/۱۲ مخ .

## ۱۷۱۴ - اخوندمیاداد

دپښتنو ژبی پخونی شاعر دی چی د میرزا حنان کندهاری شاعر له یوه بیته موپیژانده او د « دافغانستان نومیالی » دلوسړی توک په ۲۵ مخ مونوم راوړی و ، خو څنگه چی دکلام نمونه یې لاس‌ته راغلی نه وه ، او اوس د ښاغلی حبیب الله رفیع په زیار دهغه څو بدلی دعبد الغنی کاسی او ملاښایسته خان کاسی په پښتنو جونگو نوکی موندلی‌سوی‌نو‌ځکه‌مود اخوند میاداد کلام د نمونې په‌توگه یوه بدله راواخسته‌له - نوری بدلی یې« دادبی ستوری» دکتابه‌لسم او یوولسم مخ کی‌سته، خود دبشپړدیوان څرک یې لامعلوم نه‌دی . هغه بدله یې داده :

که‌دی دحق مینه روزی شی له‌دوامه سره
لکه‌الف چی‌و صلت‌بیامو نده له‌لامه‌سره ۰
که‌دی او دس دمحبت په‌میوو شی چیری
دحقیقت نمونځ به‌اداکړې له‌اسامه‌سره ۰
که‌دی دارشتینی‌مینه‌په‌زړه پربوزی چیری
دابې و فاننگه به‌پاتې شی‌له‌نامه سره
په‌څه‌حکمت دی ددنیاسرایونه روغ کړه څه‌شو
او س دگو رخو نه‌یې‌په‌پر بو ته له بامه‌سره ۰

ketabton.com - The Digital Library



ته‌خو راغلی مسافر یې دمقصود په طلب
دغفلت خوب دی اختیار کړی‌له‌آرامه‌سره
دسکند ر دآئینی دو ر(خو) هم تېرشه
هسی دجم خبری پاتی شوې له‌جا مه‌سره
په‌نالیدلی لار به‌څې ز ېر مه یې و لی‌نه کړې
په‌آخرت به‌پښېمانی کړې له‌هر گامه سره
تر چندن تیره‌سفیدی‌سی ستادمخ لیده شی
اوس دی دگو ر چینجی هوس کاهر اندامه سره
«اخو ند میاداده» آخر تگ دی له‌نیمگړی د نیا
دمسافر څه دلبستگی ده‌له‌مقامه سره (۱)
مأخذو نه :

---

۱-ادبی ستوری -۱/۹مخ
دښاغلی رفیع تألیف .
۲-دپښتو ادب تاریخ - ۵۶مخ

## ۱۷۱۵-ار سلاخان اتمانخیل :

پروفیسرسیا کاکړ لیکی چی : «دننگ تو ته، دغیرت نخښه اودپښتنو-الی‌سمبول غازی ارسلاخان هغه نومیالی کاکړ مبار زدی چی پخپل ژو ند انه

---

(۱) دا خوند میا داد د دې ښدلی څینی بیتونه په‌ډیرسېرِ تغییرد پښتا نه‌شعرا په لو مړی تو ک کی‌دمیاعبدالکریم په‌نامه‌راو ړ مسوی‌دی-خوڅنگه‌چی‌میاعبدالکریم ددیا رلسمی هجری پېړی شاعر دی ، او دابدله دملاښایسته خان په‌جو نگ کی‌په ۱۱۴۲ ه کال‌خطاطی شوې ده، نو څکه داخو ند میاداد گڼله کېږی .

ketabton.com - The Digital Library



کې یې پرنګ ته وچه نده کړې دسهیلي پښتونخود بوري دتاریخي ناوي دغه ملي شخصیت تل له پرنګ سره په مبارزه اخته، او دانګلستان و استعمار چیانو ته یې همیشه په سپکه سترګه کتلي دي.

ددغه انقلابي پښتون له کارنامو څخه یوه تاریخي کیسه داوه، چې څه وخت د «کیسفورډ» بدلي له کوټې څخه د کاکړستان و تل چوټیالي ته وسوه نو ده دپښین دیوه ترین و رور فیض محمدخان غازي کسات دپرنګیانو دهمدغه ستر ملکي منصبدار څخه، چې په تل چوټیالي کې یې په ځپر دپولتیکل وظیفه اجراکوله، دمیني اوو ینې د ترون په اساس و اخیست، ارسلاخان دبوري په سنځاوي کې ترڅان پنځلاو چاغ پرنګی هغه وخت په پښتني ایمان پخپله توره وواهه چې دی پخپل کورکې له غسله فارغه او په سینګار اخته و- خو ارسلاخان ګیسفورډ راچپه کې بالاخره دکاکړ و دغه ملي فرزند پخپله سبارزه چاره داسې سوري سومبری کی چې په نتیجه کې هغه سردار او دی غازي وګرځید، بیا نو غازي ارسلان په پای کې دپرنګیانو له خوا په سنځاوي په دار سو، خو ترمرګه پوری پرخپلو کړو پښېمانه نسو. ددغه ملي شخصیت په باب یوه فولکلوري غاړه دخلکو پر ژبه، چې دلته وړاندې کیږي:

ارسلا ګیسپو رټ مردار کی،   نوم یې لوړ ترسرداران کی،

اوس په بوري کې دیوه سپتر چمن نوم «ارسلاخان» پارک ګرځېدلی دی»

مأخذ:

---

پښتو او پښتانه - دکوټې چاپ - ۱/۲۲۶مخ

## ۱۷۱۶- ازمیر خان مندو خیل:

د اختر محمد زوی د ږوب له نوسیالیو مجاهدینو څخه و، چې د غازي امان الله خان په وختو کې یې د افغانستان دخپلواکی

ketabton.com - The Digital Library



په‌سبارزوکی دپرنگیانو پرضد سړنی برخه اخیستی وه.دی د«وله‌اکرم» په‌کلی‌کی او سېد ، او په ړوب لېوی کورکی جمادارو ، خو په (۱۹۱۹م) کال دنورو پښتنو زلمیانو په‌ملگری دپرنگیانو سره په سړانه‌وجنگېد ، او په‌پای کی‌د«کوندر»په‌سیمه‌کی میشتمه سو، څوچي بالاخر دپرنگیانوله لاسه شهید کړه و سو.

وایی چی پرنگیانو د ازمیرخان غازی سر پری کیءاو انگلستان‌ته‌یی‌ولېږه، خو بل‌روایت دادی چی‌دده سر یې دمشومرانی دسره‌سره‌ښخ کیء .

مأخذ :

پښتو او پښتانه ـدسیال کاکړ لیکنه ـ۱/۵۵م‌مخ .

## ۱۷۱۷ـ اسحاق :

پښتو ژبی قصه و یونکی شاعرو ، د همدې پېړی په سرکی یې دپښتونستان په‌سیمو کی‌ژوندکاوه. یوه قصه یې‌د«شهزاده جهانگیر او شهزادی گلرو » په‌نامه په پښتو نظم کړې ده ، او متفرقی غزلی هم‌لری دابیت دده دی :ـ

لاتر اوسه زه اسحاق روغ شوی نه یم

خدای دی نه سپځی په‌اور دمحبت څوک

مأخذ :

فرهنگ‌زبان و ادبیات پښتو-۱/۳۱مخ .

## ۱۷۱۸ـ اسلم شاه :

دپښتوژبی شاعرو، او د پېښور په‌شاوخوا کی اوسېد .

دملک نوروز شاعر همعصره او د هغه دادیې مکتب شاگردو .

دده‌څلورشعره په «جشن نوروزی» کتاب کی‌راغلی او په اشعارو

ketabton.com - The Digital Library



کی يې دنو روژبو اغیزه لیدله کپړی ،او هم يې دابياتو په اوزانو کی لږو ډېره بیو زنی لیده کپړه ی ـدايې دکلام يوه نمونه ده اونورشعرونه یې په «ادبی ستوری» نومی کتاب کی راوړه سوی دی :

قسم دی صنم بر تو ام مبتلا — رقم دی په زړه ستا دمینی سودا
قسم دی بر هم دی ستاپه مخ نورخوبان — بر تر دی له هر چاحسن ستادی لیلا
پری رو ، سمن بو ، سنبل موی جانان — سکن بر یدن سعطر بدن خوش لقا
مجنون په زړه خون ، نازنین ستاله عشقه — مفتون په دارنگ یم گلگون محبوبا
په غفلت تما می گذشت آه عمرمی — نکردم عمل خود شدم روسیاه
له شرمه د خپلو گنا هو نو خاو نده — په مخ سی رو ان او ښکی څی په ژړا
بروی نبی عفو گردان گنا هم — ندارم بجز او دگردا د خواه
ایمان په امان پاک سبحان غواړی تاته — په مخ دسر و رهر سحر «اسلمشاه»

مأخـذ :

---

ادبی ستوری -۱ /۱۳۷ مـخ

## ۱۷۱۹ـ اسماعیل :

دخپل وخت له عالمانو او د پښتو ژبی له مؤلفانو څخه و، د قـرائت او تجوید په علم کی يې پوره معلومات د رلودل او یو کتاب یی د «معرفة القرآن» په نثراو نظم تألیف کړی و ، او د محمد بن جزری شافعي مقدمه هم ترجمه کړې و ـ دابیت دده دی :

ketabton.com - The Digital Library



دا امخارج وعربی ووراوړی جزری
په پښتو سی کړه بیان چې طالب ته شی اسان

مأخـذ :

فرهنګ زبان و ادبیات پښتو- ۱/۳۳ مخ

## ۱۷۲۰-۱سوتا باباجی :

نوم یې حمیدالله مشهور په« اسوتاباباجی »دشرف شاه زوی او قطب شاه نمسی ، په خته ماسوزی پښتون دخپل وخت له نومیالیو زبرګا نو او شیخانو څخه و ، چې د ژوند زیاته برخه یې په وعظاوتبلیغ او اصطلاح کی تېره سوې وه ، او په ( ۱۳۰۳ ) کال د « اسوتا » په سیمه کی مړاو ښخ دی ځکه نو هغه ځای « اسوتا شریف بولی او دی په« اسوتا باباجی» مشهور سوی دی ، او د ده او لاده «پاچاګانو» په نامه یادېږی اسوتاباباجی دسوات دشیخ محمد شعیب مرید و .

مأخذ :

حواشی-تواریخ حافظ رحمت‌خانی-په‌اردو، ۶۲۳ مخ .

## ۱۷۲۱-۱سیم ګل :

د پښتو ژبی اسی شاعرو ، پلا ریې محبت نومېد او د پګتیا د منګل دسیمی په « لژه » کی او سېد - شعر و نه یې پراو لسی‌او زانوسم‌ویل او زیاترشعرونه یې شفاهی‌و- په(۱۳۲۴ هش) کال کی‌مړ او دابیت دده‌دی

شین سترګی سړ ی نر و د ی کیتو به کی
چور پوی غو ند ی‌و ښه‌یی‌خوره غره کی

مأخذ :

فرهنګ زبان و ادبیات پښتو -۱/۳۵ مخ .

ketabton.com - The Digital Library



## ۱۷۲۲ـ اصغر (ملا) :

ملااصغر د گدای زوی او داخوند درویزه ننگرهاری ورور، داخوند درویزه پرسبک یې نیم عروضی پښتو شعروایه چې د مخزن په ځینو خطی نسخو کې یې نمونې سته - یو بیت یې دادی :

و اوری یارانو نبی ناست په جماعت و

جبرائیل و، پرې راغلی له بنه خدایه پرې رحمت و

مأخذ :

فرهنگ زبان و ادبیات پښتو -۱/۳۷مخ.

## ۱۷۲۳ـ اعظم خان پنیزون :

پروفیسر سیال کاکړ لیکي چې : «د کاکړو په سنځرخیلو میالی پښتون دی چې په (۱۸۴۲) عیسوی کال کې یې د نورو پښتنو شاه زلمیا نو په ملتیا دپښین دایکلز یو په تاریخي جنګ کې بروخه درلده ده پې جنګ کې چې تفصیل یې د کوټې او پښین په ګز یټیو کې خوندی سوی پښتنو د جنرل انګلینډ پوجو نو ته ماته ورکه، اعظم خان او دهغه ملګرو بری وموند . اوس مبارز اعظم خان پنیزون حق لری، چې دملی شخصیاتو په کتار کې ودریږی .

مأخذ :

پښتو او پښتانه ـ د کوټې چاپ -۱/۳۲۱ مخ .

## ۱۷۲۴ـ اعظم لغمانی :

دشاه محمود د سدو زی دوختو د پښتو ژبې کوچی شاعرو .

نهه سیاشتي دلغمان دالینګار په ښوراوه کې او سېداو درې سیاشتي سرو سیمو ته تی - په ختپه اکا خیل و .

پر او لسی او زانو! یې ښه شعرونه جوړول، ده شعر و نه تر اوسه دعو امو

ketabton.com - The Digital Library



په‌خولو کی‌جاری دی ، په‌شعرو کی‌یې عشقی، مذهبی او تاریخی‌مضامین بیانول۔ دابیتونه دده دی :

در ته‌تیر سی‌مشکلات کړه غو ږ پرې و نیسیء عالمه

دشاعر کو ر سی میرات کړ مانیو لی‌دی محکمه

غوټ و رمېږ سی‌دده سات کړ خلاص‌به‌نشی له‌اعظمه

ته‌تېک دبنگالې یې چیری‌تښتې اې لعینه .

مأخذ :

فر هنگ زبان و ادبیات پښتو ۱/۳۷ مخ .

## ۱۷۲۵_افضل :

دپښتوژ بی نومو رکی شا عرو چی دښاغلی خېرونکـی همیش خلیل په زیار یې دکلام‌نمونه موند لې سوی‌ده او ښاغلی‌همیش‌خلیل‌داسی لیکی: «دپښتوادب دافنکار دحمید باباواوعبدالقادر خان ختېک دزمانی و' په‌مجوعی‌حیثیت د افضل‌شاعری دنوادرو خالی نه‌ده او خصوصاً په‌فنی لحاظافضل دډیر زیار اومحنت نه کاراخیستی دی' پخپله هم دغه‌دعوه لری اووایی: نزاکت و،که صنعت که‌تلازم و« دفقیر»افضل »په شعرچندان راغی دافضل کلام دهغه د دردمند 'ناقراره اوسوی زړه‌آئینه ده،چی‌دهغه‌دزړه داغونه‌اومینی سری‌لمبی‌پکښې په‌حقیقی‌شکل ښکاری ـتاسوئی‌هم‌وګوری:

هسی‌داغ په خاطرنه لرم دیارزه

چی‌هردم‌ځینی‌توی‌نه کړم‌لاله زارزه

فراغت زماله ملکه‌نه بیرون دی

دسیماب په‌دود همیش‌یم ناقرارزه

دشفابهی به‌څه راوړی طبیبـه !

چی ددرددپاسه دردو ړم پرپرهارزه

ketabton.com - The Digital Library



لاله گل د نو بها ر شگفته نه و
بې موسمه توپه څه دخزان راغی
دیار خیال دی لکه نوح سلامت اوسی
که دستر گو په کشتی مې طوفان راغی »

د کلام نوری نمونی :

-۱-

مینی تار اباندی و کړو اثر و رو ورو
چی یې و ویستم له خوابه له خورو رو رو
دم په دم یې ستاد عشق جنون ز یاتیږی
لیونی د یوانه وش شوم ابترو رو ورو
ننګ ناموس و ماته څه بنایې ناصحه!
له ماپاتی شه دعقل دفتر و رو ورو
وار مستاد مینی اوردی چی رالګی
مدام سول شی په سکرو تږاخګرو رو ورو
د غمزی په تیغ دی وو ژلم دلبره
او س سی و کا په دز ړه نه خنجرو رو و رو
سل منترمسل افسونه یې خجل کړه
چی کوی راته خبری دلبرو رو و رو
د نار و فریا دافضله ! حاجت نشته
و رد کړه نوم دیار په شام وسحرو رو ورو

-۲-

هسی داغ په خاطرنه لرم دیارزه
چی هردم څینی توی نه کړم لاله زارزه

ketabton.com - The Digital Library



نه‌سې زړه ګنه‌زړه نه دی په‌ګوګل کی
داساتلی لرم اور دګل رخسار زه
په‌هرشان دیار په مرسته‌پسی ورکښه
که هرڅه دخوړ خاطروم په هروار زه
چی فلک‌ځینی تعلیم‌دخونریزی کا
له‌هغو خونخوار وسترګویم‌بیمار زه
په‌شرف د یارد جور هرګزنه‌شوم
د ګردون په آپتونوپرو ادار زه
هریوخارچی یې‌دغم‌زړه کی نهال کړم
شګفته ځنی دګلو کړم‌خر وارزه
فراغت زماله ملکه نه‌بیرون‌دی
دسیماب‌په‌دو دهمیش‌یم ناقرار زه
دشفابهی به څه راوړی‌طبیبه!
چی‌ددرد پاسه‌در دوړم په‌پرهار زه
دشدت کنجی‌می‌ماته‌درقیب کړه
محکم‌قفل په آستان یم‌دنګار زه
هسی‌ګرددیار په کوی کی‌شوم«افضله»
چی هیڅ شان‌یې‌دامن نه‌پریزدم غبار زه
دافضل‌دوی‌نوری‌بدلی‌هم«دور کی‌خزانی »
په‌دو یم‌توک کی‌راوارسوی‌دی.
مأخذ:

---

ورکه خزانه ـ دپښتورچاپ-۲/۰۰۲مخ

ketabton.com - The Digital Library



## ۱۷۲۶ـ افضل خان (افضل الدوله):

افضل الدوله افضل خان دهندله پښتنو نوميالیو نوابانوڅخه و ،پلاريې فاضل خان او نیکه یې احمد خان نومېده په ختهه مندڼ و .

ددو لسمی هجری پیړی پهشاو خواکی یې په هندوستان کی ژوندکاوه .

پوخ ادیب ،شاعراو مفسرو ، په پښتوژبې یې شعر وایه،اودقرآن کریم تفسیریې له دری څخه په پښتو رآاړولی و ـ دا بیت دده دی:

افضل خان بنده د رب رحمان رحیم دی امتی د محمد یم دامی شان

مأخذ

---

فرهنگ زبان و ادبیات پښتو ـ ۱/ ۳۹ مخ

## ۱۷۲۷ـ اکبر :

دپښتوژ بی شاعراودزمینداو ری اکبر پرته بل اکبر او دملک نو روز معاصرو،او دده له اشعارو داسی ښکاری چی دملک نور وز دادبی سبک او مکتب پیرو اوشاگرد دی دده دوې بدلی په «جشن نور وزی» نومی کتاب کی راغلی دی چی دلته دده دشعردنمونی په توگه و راندی کیږی :

-۱-

دپرجمال ـ مخ دی څراغ ... ز لفی دی جال ـ سینه دی باغ
بدن دی گل ـ سیب دی ذقن ... سیاه دی خال ـ لکه دزاغ
دهن کوثر دندان دی در ... په سر دی شال ـ لب دی قیماغ
ابرو کمان بانه خد نگ ... شومه پایمال ـ په زړه می داغ
قدیې شمشاد ـ گردن بلور ... بدمی دی حال مه کړه دماغ
«اکبر» غلام د دستگیر ... درته کړی سوال ـ غواړی فراغ

ketabton.com - The Digital Library



-۲-

پروت په فراق ای دلدارستا        که ته وا خلې خبر سی

پروت په فراق همیشه ژ اړم        غم دی په ماشه انبا رستا
که ته و اخلی خبرسی
جدائی‌دی بی‌یاره‌هیڅوک‌نکړی        لکه چی زی یم نا قرارستا
که ته واخلی خبرسی
ښکل دی‌د زلفو زه پکی بندشوم        یم نا علاجه گر ( ؟ ) ستا
که ته واخلی خبرسی
مات سی‌په زړه‌کی تیغ دمژگانو        هم راته‌وایې نه یم یارستا
که ته وا خلی خبرسی
« اکبره » قدر په‌چاکی نشته        تول بیو فا شه گلزا ر ستا
که ته وا خلی خبر سی

ماخذ

---

ادبی‌ستوری-۱/۱۶۲ مخ

## ۱۷۲۸-اکبر دین خان:

دپښتونستان دسروت«دلکی» دکلی دپښتوژ بی شاعرو٬چی‌د(۱۳۰۰ه)په‌شاوخوا کی‌یې‌ژوند کاوه٬په خته سروت‌و. شعرونه یې پراو لسی‌اوزانوسمو یل٬ ددهغې اشعار «دگلزار پښتو» په‌کتاب کی‌چاپ سوی‌دی-دابیته دده دی:

را را مجبوبې تا دلبو جام        گل درقیبانوله‌ساو یری‌په‌ارمان

ماخذ:

---

فرهنگ زبان و ادبیات‌پښتو-۱-۳۴۳مخ

ketabton.com - The Digital Library



**۱۷۲۹ـ اکبر شاه :**

ملا اکبرشاه د دیرلسمی هجری پېړۍ دپای په شاو خوا کی د یوسفزو دسیمی په «کوندی» محله کی اوسېد او د پښتو ژبی حماسه ویونکی شاعر و شعرو نه یې پراولسی او زانو سمو یل اوتر (۱۲۸۰ هق) کال پوری ژوندی و.

ده دآدم اودر خانی قصه هم په نظم کړی ده او هم دده یوه حماسی بدله د «قتل کړ» ترعنوان لاندی مشهور ختیځ پوهاند دارمستتر په خپل کتاب « د پښتون خواه اوشعر «هار وبهار » کی روړی ده چی هغه داده:

. راغلی غازیان د پیرنګی په دغه ګړباندی
اوړی قتل ګړباندی
راغلی غازیان غزاله و اړه لورپه لور عالمه
ګډه یی کړه په شور عالمه
داشادو مخی خدای ور کړی دی په کور عالمه
آخلی به تری خور عالمه
توره نه وی ودزی وکړ په لو ړ باندی
اوړی قتل ګړباندی
توره نه وه داو لیاو کراست ورسره
د یریی قوت ورسره
مو لا به حوری وله وکړی هرجنت ورسره
مرګ شهادت ورسره
سولیان سره شوغګ یې خور شو په کنړباندی
اوړی قتل کړبا ندی
سولیانړه شور امدت شی آی دسوات صاحبه
او ښی سی خاځی برسات صاحبه

ketabton.com - The Digital Library



په عاجزانو باندې شوې دې پسات، صاحبه
شه بنيرسيرات صاحبه

لکه بلبلې چې يـريگي په لگـړ بـانـدې
اوړې قتل گړباندې

لکه لگړهسې په دوی باندې شوړې کولې
دوی به ترې سوړې کولې

له و يرې تنگ شوچې غاز يانو پرې داړې کولې
بيل بيل به کاړې کولې

خلق پرا ته دبرندو په دغه خو ړ باندې
او ړې قتل گړباندې

ډېر به صفت کوم به خپله په لسان دولې
پور ته شه نشان دو لې

حورې صفت کوې په زسکه په آسمان دو لې
سل يې شه سجان دو لې

نه حصارپړې مومنان په دې شوپړ باندې
اوړې قتل گړباندې

نه حصارپړې مومنان ترينه خطر نه کوې
تويې پرې اثرنه کوې

ځان پرې غازې کړې چې خوک دين د پيغمبرنکوې
بددې چې باورنکوې

زه اکبر شاه ملا و رځمه په ملاتړ باندې
اوړې قتل گړ باندې

ماخذ :

---

د پښتنخوا ه دشعرهاروبهار –۸ ۱ مخ د کابل چاپ

ketabton.com - The Digital Library



**۱۷۳۰ـ اکرم:**

دښاغلي همیش خلیل په قول داشرف خان هجری له (۱۰۴۴ هق) ځخه تر (۱۱۰۶ هق) ددو ر شاعردی. دی لیکي چې: «داسې معلومیږي لکه چې هجري او اکرم دواړو به کله کله په یوه سر که غزلي لیکلې، او هم دغه وجه ده چې دا کرم درو ستو دوه غزلو نه په ردیف او قافیه دهجري په دیوان کې غزلي موندی شي ـ مثلاً:

دهجري دیو غزل مطلع ده:

رازمي هله هویدادعشق مذکور که

چي مي خو بن دلر گی سرلکه منصور که

د یوبل غزل په مقطع کې وایي:

هجري د پردی شاعران په زمانه کې

ماخو ستاشعرپه واړو کې منظور که

دا کرم غزلي د شاعرئ یو خاص صنف لري چې هغه بې نقطه شاعري بللې شي ولي باوجود دغه صنفه دا کرم غزلي دعام فهمه او چتی دی... ددې په مقابله کې اگرچه دهجري غزلي بې نقطه نه دي ولي عام فهمه او رواني ضرور دي.»

دا کرم د کلام نمونې:

(۱)

مکره مکره کامه دروه دلداره

کامکره دار کوله کر د گاره

ما سر مدله او ره مه لره واله‌م

ماهه! و رو کوم کلام همه له داره

ketabton.com - The Digital Library



سرو مال و دل ماو اړه و ماو ر کړه
لاهم کله له ماصلح کړه طراره
ماه د ماه له مهره و ر که لکه مهره
مسک د هم طرو که سهل له مداره
هرآدم که دله مهره مهر سور که
اسم و ر ک و ه دعالموله کطاره
دوه گوهر د هم و اصل کړه له احمره
هم دو صل کړه له مهره حوره ماره
دم له دمه صدو لک کاره ملا کا
«اکرم» کم آگاه دد هرله اسراره

—٢—

مکړه مکړه دار داله مهره دو ر کړه
داو اله دل دماهم کله مسرو ر کړه
کله کله دا محسود مهر و اکړه
دعا گوماهه واله دهر سحور کړه
دگل ملک لره هاره د رو به له کوره
صدو لک و اله عدم هاله صدو ر کړه
له ودو ده دو ر هرگوره هم الم وه
دل ئی او س دماه له و صله همه سور کړه
د مادل د ا و رذ مهر و اړ ه و سه
اوس له مهره هم و اله کله معمور کړه
صدو لک کسه مد اح کسرد ماه مو رده
کله سور ملا له ماه سمه لور کړه

ketabton.com - The Digital Library



ماه که‌رو ملاله مهره کا اکرمه ! گوره‌گوره‌له هوسه ماه حور کړه
دا کرم دوې‌نوری‌بدلی هم په«و ر که خزانه» کی سته.

مـأخـذ:

و ر که خزانه- دپښتور چاپ -۲/۱۴۳ مخ

## ۱۷۳۱-اکرم :

دپښتوژ بی او لسی‌شاعرو ،چی‌شعرو نه یې‌دموسیقی پرمقامونوسم‌و یل.دده‌څینی غزلی‌په«بهار گلشن» کی‌چاپ سوی‌دی‌دابیت دده دی:

سرو دو همه‌شراب‌خښمه‌نور له‌بدو توبه دو اړه‌لاسونه‌په‌تندمحمدا کرم‌ایښی‌دی

مـأخـذ:

فرهنگ زبان‌و ادبیات پښتو۱ /۳٦۳مخ

## ۱۷۳۲-اکر ام اخو نز اده:

ملامحمدا کرم مشهور په»«اکرم‌اخونزاده» دپښتو ژ بی عرو،اود(۱۳۰۰ هق) کال‌په‌شاو خوا کی یې‌ژ وند کاو ه.
دحضرت محمد(ص)نور نامه‌یې‌دغزل‌او قیصید ې‌په‌قالبو کی‌په نظم کړې ده .
معلومیږی‌چی‌په‌دینی علومو کی‌یې‌ښه مطالعه د رلو د له .
دده‌نور نامه‌دمذهبی تدر یس‌په‌حلقو کی په «نور نامۀملاا کرم »شهرت‌لری-دابیت دده دی :

بیچاره اکرم ښښنه‌له تاغواړی
دعفونامـه‌په تاښایی‌هم ستاده

مـأخـذ:

فرهنگ زبان و ادبیات‌پښتو-۱/۳٦۳ مخ

ketabton.com - The Digital Library



**۱۷۴۳- اکرم نیازی:**

ملامحمداکرم نیازی دپښتوژ بی شاعرو ،او دلغمان دالینگار په «وت» کلی کی اوسېد، دده ژوند د( ۱۳۰۰ ه ق ) کال په شاوخوا کی اټکل کېدای سی .

دی عوامی شاعرو ،اوپه دینی علوموکی یې مطالعه درلودله .

دالینگار دسیمی جغرافی اوضاع یې په پښتو نظم کړې وه ـدابیت دده دی :

حساب درته کوم شیم دخوکلونوسونه

چی دروغ پکی رانشی رښتیا وایمه حالونه

مأخذ:

فرهنگ زبان و ادبیات پښتو-۱/۳۷ مخ

**۱۷۴۴-التفات خان :**

داحمد شاه بابااو دهغه زوی تیمورشاه دو ختوله نومیالیوڅخه و ، چی داحمدشاه بابا په زمانه کی یې د«خواجه سرایې» رتبه درلودله، او د تیمورشاه په ختوکی ددولتی خزینی خزانه داروتیا کل سو، او داتیا کل یې په(۱۱۸۶ ه ق) کال کی و .

مأخذ :

سراج التواریخ-۱/۳۷مخ

**۱۷۴۵-الکو نیکه:**

دپښتنو دیوه مشهورټبرا لکوزو لوړی نیکه و ،چی داټبرترا وسه دده په نامه یادیږی دالکو دپلار نوم سلیمان(زیرک) اودنیکه نوم یې عیسی اوورنیکه یې رجړو ،چی رجړبیاداودل یاابدال زوی و،اودابدال ژوندد(۸۰۰ ه) په شاوخوا کی اټکول سوی دی.

ابدال بیادترین زوی او ترین بیا دشرخبون زوی او شرخبون بیادسړبن زوی و .

ketabton.com - The Digital Library



دالکويوو رو ر پوپل اوبل و رو ر بار کړو، چې د پوپلزو تبرپوپل او د بار کزو تبر بارکزنه منسوب دی.

مأخذونه:

---

۱-حيات افغاني-۹ ۳۲ مخ

۲ - پر نوا ی معارک باندې د پوهاند حبيبي تعليقات- ۳۹۷ مخ

## ۱۷۳٦-الله داد (شيخ)

شيخ الله داد په ختيه سموزي داشنغر اوسيدونکی د خپل وخت نوميالی عارف و، پلار او نيکه يې هم د سموزيو مرشدان تيرسوي و.

د پټې خزانې مؤلف محمد هوتك د «او لياي افغان» د کتاب په حواله ليکي چې:

«شيخ الله داد لوی ولي وا ولوريې بی بی نيکبخته چې په حقيقت کی هم نيکبخته غا رفه ښځه وه»

مأخذ:

---

پټه خزانه - د کابل لومړی چاپ -۱۸۱ مخ

## ۱۷۳۷-الله يار اليسه خېل:

د مبين زوی د کوټې د هند و باغ د کمپوغي دسيمې د کڅ نومی کلي اوسېدونکی په ختيه اليسه خېل کاکړ د ږوب په ملیشه کی مبارز پښتون و، چې د پرنگ په وسله به يې پخپله پر نگيان وژل، لکه هغه وخت چې ملي مبارزينو کلاخان او قايم خان دا پوزی پر ښار بر يدو کی عنو الله يار چې د پر نگ په عسکر کی ناست و، د پر نگيانو دوه ډگر والان يې د هغوی په ورکړ سوو وسله و وژل، دی په طبيعي مرگ مړ سو، او د کمپوغي په شيري گڅ کی خاو روته وسپارل سو.

مأخذ:

---

پښتو او پښتانه -دسيال کاکړ د کوټې چاپ - ۱/۲۹٦ مخ

ketabton.com - The Digital Library



**۱۷۳۸ـ الله ویردی:**

دغازی امان‌الله‌خان په‌و ختو کی‌دهغی پښتوټولنی غړی و، چی امان الله خان دارګ په‌شمالی برج کی‌دپښتو دخدمت دپاره‌د«سر که دپښتو»په نامه‌په (۱۳۰۱هش) کال کی‌جوړه کړې وه،اوالله ویر دی دو ردګ دټبر دنماینده په توګه پکښی کار کاوه.

مأخذ:

یو ازینی پښتو ـ دکابل چاپ‌و روستی پاڼه.

**۱۷۳۹ـ الولا:**

د پښتو ژبی حماسه ویونکی شاعر و، د بلوخستان‌په پښین کی‌اوسېد، او پر اولسی وزنو یې شعر ونه ویل ـ دافغان او انګریز د جګړو دپیښی یې هم په نظم کړی دی، او پخپله یې‌هم دپښتنو په‌ملی مبارزو کی برخه اخیستی‌وه. تر (۱۸۹۳ع) کال پوری‌دده ژوند یقینی دی ـ دابیت‌دده‌دی:

غازیان‌تمام سوه، کفار راغلیء په‌ملکو باندی

پـه خه پندو پا نـدی، وهـی وطن

مأخذ:

فر هنګ زبان و ادبیات پښتو ـ ۱/۴۸مخ.

**۱۷۴۰ ـ الهداد (میا):**

دپښتو ژبی له پخوا نیو صوفیانو شاعرانو څخه‌و، دده ژوند دیو ولسمی هجری پېړی په شاوخوا کی اټکل کېدای سی ـ دده غزلی په متفرق ډول داخوند میاداد په دیوان کی راغلی دی ـ دابیت دده دی:

بېلتون غضب و، حکم د رب و په نایی کښېښوه میاالهداد

مأخذ:

فر هنګ زبان و ادبیات پښتو ـ ۱/۴۹ مخ.

ketabton.com - The Digital Library



## ۱۷۴۱ـ الله یار خان نواب :

دنو میالی حافظ رحمت خان بړیخ زوی دهند لهجنگیالیو او فرهنگیالیو او پوهانو پښتنو څخه و .

په(۱۱۵۷ هق) کال کی زیږېدلی او په(۱۲۴۸ هق) کال مړ دی .

نواب الله یارخان په پښتو ، دری او هندی ژبو ښه لیکوال و ، او په پښتو به یې شعرهم وایه .

ده دهندی ، دری او پښتو لغاتو یو فرهنگ د«عجایب اللغات » په نامه تألیف کړی و ،دابیت ردده دکتاب په پای کی دده لهخوا لیکلی سوی دی :

ماچی خیال دتاریخ وکه لههجرته چی حساب شو
همیې دامصرع تاریخ ده ، چی اتمام داکتاب شو

مأخذ :

---

فرهنگ زبان و ادبیات پښتو -۱/۱۰۵ مخ.

## ۱۷۴۲ـ الیاس (مولانا ) :

مولانامحمدالیاس دخو رلسمی هجری پېړیپه سرکی دپیښور له مفسرینو څخه و ، چی د «مخزن التفاسیر» پهنامه یې پرقرآن کریم یوتفسیر لیکلیو ، او همیې پهژبه شعروایه- دابیتونه دده دی :

ای زما خپله ځیگره
ای زما دزړگی سره
نصیحت درته کاوه شی
ستاد پاره د ه بهتره

مأ خذ :

---

فرهنگ زبان و ادبیات پښتو -۱/۱۰۵ مخ .

ketabton.com - The Digital Library



## ۱۷۴۳ـ امام الدین (شیخ) :

شیخ امام‌الدین خلیل غوریاخیل دخپل وقت نومیالی عارف او عالم او د نومیالی سترعارف شیخ متی له اولادې ځخه و .

پلاریې شیخ کبیر نومیده او مشهور په «بالاپیر» و، موریې «تاج بی بی» دملک درویزلوروه چې په خلیلوکې ستانه کورنی بلله کیده .

شیخ امام الدین د(۱۰۲۰ هـ) کال دمحرمی دمیاشتی په سرکې د دوشنبې په ماښام پیدا نو کې و زیږید، او د (۱۰۶۰ هـ) کال دمحرمی په ۲۲ دچهارشنبې په شپه په پیښور کې مړ او ښخ کړه سو.

دیو کتاب د «تاریخ افغانی» په نامه دافغانانو دتاریخی پیښو په باب کې لیکلی و بل کتاب یې د اولیای افغان په نامه «کښلی و، چې د پټې خزانې مؤلف محمدهوتک په خپل کتاب کې دخپل پلارله خولې له هغه کتابه روایت کړی دی ، او لیکی چې: «هسې وایی کاتب الحروف محمد: چې زما پلار روایت کا ، چې شیخ امام‌الدین خلیل غوریاخیل ، پخپل کتاب «او لیای افغان» هسې کښلی دی ....»(۱)

**مأخذ :**

پټه خزانه ـ دکابل لومړی چاپ ـ ۱۸۱، ۲۱۴ مخونه

---

(۱) دانومیالی که څه هم «دافغانستان نومیالی » ددریم ټوک په (۴۷۲) مخ کی راوړه سوی دی خو څنګه دیوه کتاب نوم «اولیای افغان» هلته یاد سوی نه و، او هم دپټې خزانې حواله یې نه درلوده، نو دلته بیا راوړه سو .

ketabton.com - The Digital Library



**۱۷۴۴ـ امان ترین :**

ملا محمد امان دگل محمد زوی او د ملا یعقوب لمسی په ختمه ترین دکندهارد پنجوایی دا ولسوالی دپاشمول دکلیاو سید و نکی دپښتو ژبی‌شاعر او خطاط و ، په(۱۲۱۶ هـ ق) کال کی یی د«شرح الیاس» یوه نسخه خطاطی کړې وه . په‌دینی علومو کی‌ښه مطالعه درلوده ، او متفرقی‌غزلی یی لیدلی سوی دی‌دابیت دده دی :

چی‌په‌دردو په غموسره الوددی

ته‌پروکه یو نظر خوار دی‌امان

مأخذ :

---

فرهنگ زبان و ادبیات پښتو -۱/۵۳مخ .

**۱۷۴۵ـ امان گجراتی :**

دپښتو ژبی قصه و یو نکی ناظم و ، چی‌د«افغانستان‌نومیالی» ددریم‌ټوک په (۳۸۱)مخ کی‌راوړه سوی دی ،خو هلته‌دده‌دشعر نمونه نسته، اوهم‌یې یو ازی د«افسانه غم‌آلود»قصه‌چی‌له‌اردو ښخه‌یې ترجمه کړی‌یاده سوې ده ، حال دا چی دی نور ی منظومی قصې هم لری چی نمونه یې‌دا دی ؟

۱ـ گل‌وصنوبر ـ

۲ـ شهزاده بهرام گور

۳ـ گل اندام .

او دابیت یې‌دنظم نمونه‌ده :

لوی یې‌ته لوی دی قدرت دی غنی‌خدایه بسنده‌ښه پکی و یلی‌شی‌بې‌ځایه

مأخـذ :

---

فرهنگ زبان و ادبیات پښتو ۱/۵۳مخ.

ketabton.com - The Digital Library



## ۱۷۴۶- امامی هروی :

قاضی جلال الدین محمود امامی دخراسان قاضی القضاة او د خپل وخت نومیالی زاهد او متقی و، او ملوک کرت ورته په درنو سترگو کتل - دمثال په توگه کله چی په ملك معز الدین حسین کرت ده ته خط لیکه نو دخط په پای کی به یې لیکل :

«بنده مخلص دولتخواه حسین کرت»

دی په (۷۸۲ هق) کال کی مړ او په گازرگاه کی ښخ دی .

مأخذونه :

۱- حبیب السیر - ۳/۸۷ مخ .

۲- رجال حبیب السیر - ۵۷ »

## ۱۷۴۷- امیر اصلاخان جوانشیر :

دتیمورشاه درانی دوختوله نومیالیو ماموړینو څخه و، په (۱۱۸۶ هـ ق) کال چی تیمورشاه په پېښور کی و، او دهغه ځای دزمیندارانو مشر فیض الله خان خلیل د اسدالله خان مومند په همکاری دتیمورشاه دوژلو توطئه جوړه کړه او د شپې پر بالاحصار یرغل وکیء، نو دا امیر اصلاخان جوانشیر که څه هم ددیوانی مال داتلاف په جرم دتیمورشاه له خوا بندی و، بیاهم پر خپل سر له بندیخانې راووت او دفیض الله خان او د هغه د ملگرو سره په سخته مړانه وجنگېد او چی تیمورشاه دده مړانه ولیدله نو وروسته تر هغه چی هغه شخړه پای ته ورسېدله! امیر اصلاخان یې له بنده خلاص کیء ، په غبرکی یې ونیو، او هغه ددیوانی مال تاوان یې هم وروباخښه ،او لانور خلعت یې هم ورکیء .

مأخذ :

سراج التواریخ - ۱/۳۸ مخ .

ketabton.com - The Digital Library



**۱۷۴۸ـ امیر خان ننگرهاری :**

د پښتو ژبې نومیالی شاعر و، دده پلار او نیکه گان په جلال آباد او لالپوره کې اوسېدل چې اوس یې هم عزیزان د لته ستهـ خو پلار یې داحمدشاه بابا په وختو کې دپېښور د اشنغر سیمې ته ولاړ او «په شیر پاو» نومې کلي کې میشته سو، او تر ( ۱۲۶۱ هـ ق ) پورې ژوندی و، دشعر دیوان یې درلود، او په خته علي زی او په علیز و کې حسن خېل مومندو، اوداغزل یې د کلام نمونه ده:

ستادزلفو خیال مې تلو نې لهسرنه دی
څو مې ساه پسې له غمه بدرنه دی
لکه وی لذت د استاد لعلو لبو
دالذت لادشربت دکوثر نهدی
لکه ستا بشر دی ښکلې پیدا شوی
لاښایست هسې دشمس وقمر نه دی
ښایسته که پهجهان کې ډېر یادېږي
پهښایست کې یو له تابر ابر نه دی
ناصح ځکه که تروې ترخې خبری
چې یې خبنلی ستادشو نډو شکر نه دی
لاپخواز ماخبر له هغه واخله
چې یې توری خاوری څو لابشر نه دی
څوگریوان پهدواړه لاسه پاره نه کا
لاهجری دیار لهغمه بتر نه دی

ketabton.com - The Digital Library



مين يارچې پکښې نه‌و يني‌په ستر گو
په«امير»باندې و دان هشتنگر نه دی

مأخذ :

تير هير شاعران -۹۷ مخ دعبدالحليم اثر افغاني اثر دپښتو رچاپ .

## ۱۷۴۹-امير خان هجری :

دپښتو ژبې‌پخواني شاعر دی‌او د (۱۰۸۰ ه ق ) او ( ۱۱۵۰ ه ق) کلو ترمنځ دده ژوند اتکل سوی دی خو د ژوند حالاتو تفصيل يې لاس‌ته نه‌دی راغلی، يوازې دده له ځينو اشعارو څخه ځرگنديږی چې دی يوې خاني کورنۍ ته‌منسوب‌دی لکه چې‌وايي :

که‌ځيلې‌کايارد زلفوو رپه غاړه
کابه تر که‌پرې «امير»خپله خاني

هجری داشعارو دوه ديو انه لری چې په‌هغوکی‌ځای‌په‌ځای د«شهباز»دمړ ينې په‌باب يادونې کړی، لکه‌چې وا يې :

چې‌دناز په‌خوب او ده پرې «شهبا ز» پروت دی
دلحده يې‌بونين ځکه دلونگ ولاړ - يادا چې:

ددنيالذت يې‌واړه په‌ما تريخ کړ
چې«شهباز» شير ين‌دهان شير ين گفتار لاړ

خوښاغلی‌هميش خليل ليکي‌چې :« په‌يقين سره نشي ويلی کيدی‌چې دا شهباز څوک دی، ولی د قياس نه معلوميږی چې‌شهباز په ضرورڅوک دښاعر دوينې په‌رشته کی‌او ياڅوک نږدې دوست وی »

د اميرخان‌هجر ی د ديوانو په باب هم ښاغلی هميش زياتوی چې :
« اميرخان هجری په حيثيت د يو پرگوشاعر مونږ ته د خپل کلام

ketabton.com - The Digital Library



دوه ضخیم قلمی دیوانه پریښی دی ( ۱ ) چې دشاعـرد قادر الکاسی نه علاوه دهغه په علمی قابلیت هم دلالت کوی - دهجری طرزلکه دځینو نوموړو لرغونو پښتنو شعراء عشقی اوروان دی، شیرینی او تأثر هم لری ،دپوخ عقل فکرخاوندی په ژبه ښه عبور لری وینایې هم صفا او شسته ده... دځیلې ساده ساده وینا په تنه بوده کی دبلاغت او صنائعو دملغلرو په پیبلو هم پوهیږی ... »

اوس دهجری د کلام نمونه ولولیء :

-- ۱ --

گل په لړه ژړ او خاندی شبنم ته
یاری وپه ښوده داو ښکوپه باران مخ
چې زمادزړه آهونه وزه رسی
ځکه هسی رنگ کبود شه دآسمان مخ

- ۲ -

که تبو لی دخو بر و یانو پرې تبو لیږی
زه دځان په سوه رضایم لکه شمع
چې می ولوه مخ دغم په ډیر و او ښکو
دمجلس د عشق رنایم لکه شمع
چې میشته شو پکښې خیال دسر و چشمانو
زما زړه شو ځکه گنج د درسر جانو
د عقیق لړ مون به ډک نه و، د وینو
که یې نه وې په زړه خیال دسر و لبانو

ketabton.com - The Digital Library



— ۴ —

لکه دی چی ارغوانی زمادیار رنگ
هسی کله‌دی دگلو دگلزار رنگ
لکه خال چی شین زمادیار دمخ دی
هسی نه‌لری سبزه دمرغزار رنگ
لکه‌دی زمادیار چی توری زلفې
هسی‌نه دی دسنبل دشبتار رنگ
یار زماچی تور کاکل په‌مخ خواره کا
شي‌خجل ورته دمښکو دبازار رنگ
چی‌په بونین زمادیاردزلفو راشی
له هیبته تغییرو خوری دعطار رنگ
ماهلا له پوښته زماد تغییر رنگه
که‌په‌ځای لیدلی چاوی دبیمار رنگ
تسله بلبل په‌گل دیارد مخ کا
چی‌ونه وینی هیچرته درخسار رنگ
چی‌یې تیغ پرې دسروسترگو نهم کښنو که
په‌سرو وینو یی‌لړمون که‌دانار رنگ

— ۵ —

په‌شبنو آهوکی مدام تازه نرگرځم
ماموندلی‌دی سپرلی په‌د اخزان کی
په‌ژړ راژړا زماداهسی خاندی
لکه گل‌چی سحر خورشي‌په باران کی

ketabton.com - The Digital Library



دا یې خیال ماپه گوشه دستر گو را ووست
که آهو وحشي رادرومي په داماں کې
دهر بوټي دگل زرواری څا ریږم
چې یې عکس دمخ وینم په بوستان کې
چې یې خیال دکړو روځو وړپه زړه شي
زوړند سر لکه غنچه کړم په گریوان کې
مأخذ :

ورکه خزانه ـ دبښاغلي همیش خلیل تألیف ـ ۲/۳۶مخ .

## ۱۷۵۰ـ امیر خلیل هراتی :

د هرات نومیالی خطاط و، لومړی د ستر خوشنویس محمود بن اسحاق سره اوسېدا او له هغه شخه یې د خط زده کړه وکړه او په لږ وخت کې لوی استادسو، اوشهرت یې وموند، او هغه وخت چې اول شاه طهماسپ صفوی خراسان ته راغلی امیر خلیل یې ډیرو نازاوه او ډیر خلعتونه یې ورکړه ـ تر هغه وروسته هند وستان ته ولاړ اد گو گانیانو شاهانو دربارته یې لاروموندله ـ دشاه عباس په وخت (۹۹۶-۱۰۳۸) کې له هنده اصفهان ته ولاړ، او دهغه پاچا دربارته یې لار پیدا کړه، هغه پاچاهم لوړه مرتبه ورکړه، اوفرمان یې ورکی چې دسلطنتي کتابتون دپاره ځینی نوټي اومرقعات ولیکي په دې توگه یې ژوند تېراوه ،څوچې دده او مشهور خطاط «میر عماد» ترمنځ د ښه خط په باب کې مناقشه پیښه سوه او هر یوه به دخپل خط دښه والي دعوه کوله ، ددې مناقشې خبره شاه عباس ته ورسېدله اوشاه عباس تردوی ترمنځ دهغه وخت ډېر نومیالی خطاطان ملامحمد حسین او علی رضای عباسي میانځگړي او قاضیان و ټاکل هغه و

ketabton.com - The Digital Library



چې هغو دواړو ددوی خطو ته ترژوري کتنې وروسته د امیرخلیل خط ته ترجیح ورکړه. څهموو روسته امیرخلیل دهند دپاچهانو پهغوښتنه له شاه ـ عباس څخه اجازه واخیستله او هندوستان تهولاړ ، اوچې حیدرآباد د کن ته ورسېد ناروغي ورپیښه سوه او په ( ۱۰۳۵ ه ق ) کال مړ، او په حیدرآباد دکن کې ښخ کړه سو .

مأخذ :

خط و خطان ـ ۵۲ مخ .

دابو لقاسم رفیعي آبادي تالیف د تهران چاپ

## ۱۷۵۱ـ امیر شاه کویټی :

امیرشاه معروف پهمحمدعلی دخپل وخت عالم او دپښتو ژبی شاعر و. دپښتونستان په کویټه کې اوسېد، اود «سنهخیلو» پهجماعت کې يې امامت کاوه، بیاهندوستان تهولاړ ،لومړی پهلکهنو کې اوسېداو په(۱۲۷۸ ه ق)کال دگو الیار ریاست تهوکوچېد،او پهیونانی طب بوخت و .

ده پهعربی ژبه هم شعروایه، او یوه میمیهقصیدهيې پنځهشپېته بیتهدخپل پیرسیدا میر په ستاینه کې پهعربی ویلې ده چې څو بیتونهيې د «تیر هیر شاعران» په ـ (۱۶۴،۱۶۵)مخو کې راوړه سوي دي اوځنگه چې داقصیده يې په(۱۲۷۸ ه) کې ویلې دهنو دده ژوندهم پهدغهکال کې یقیني دي .

نبوي شمایل يې هم په پښتو ژبه نظم کړی دي او دادوه بیته دده دي :

امیرشاه زهیر دي ژاړي صبح وشام وتاته ژاړي

## ۱۷۵۲ـ امیر (ملا) :

دشاهشجاع الملك دوختو د پښتو ژبی شاعر و ،دپښتو نخوادسردان دضلع دسوابی دتحصیل دکلابټ پهکلی کې اوسېد.

ketabton.com - The Digital Library



ده پهخپلو اشعاروکی پهکابل کی دشاهشجاع دپرتخت کښېنا ستلو او بیاله -
تخته د رلو د یدلو پیښې یادوی ،ځکهنوتر (۱۲۴۰ هق) کال پوری دده ژو ندیقینی
دی .ده پهپښتو ژبه کی«دتمیم انصاری »قصه پهنظم کړی ده اوپهقصه
نظم کولو کی د«فیاض مندړ«پیر و ښکاری رد »قوم»قصه یې هم پهنظم کړې دهاو
دافغانان او انګریز دلو مړی جګړی پیښی یی هم به نظم لیکلی دیدا بیتونه دده دی
آشناستاپهسپینه خو لهږخنګهجوړ ړ یری چی ته اخلې لها میره رخصتو نه

ستا د لطف خوانچه غواړی راکړهلاس دخدای دپاره

ماخذ:

نېر هېر شاعر ان -۱۶۳ مخ

ستايا ری شوه لهاميره هسی پاتې لکه پاتې شه کابل لهشجاع و له

ای امیره د رنجیت پلیت دلاسه رنګینهوطن خراب دپیښور شه

زه امیر خو میر افغان د کلا بت یم نه په اصل ترک، تاجك یادلازاك

ددهنو ر اشعار په«تیر هیرشاعر ان »کیستهٔ .

مأخذ :

تیر هیر شاعر ان - ۱۷۷ مخ

## ۱۷۵۳- امیری هروی :

امیر جلال الدین یو سف دبایسنغر میر زاددربار لهخو شنو یسانواوشاعر انو څخهو
چی پهاشعاروکی یې «امیر» تخلص کاوه .

مأخذ

تاریخ نظم و نثر در ایر ان - ۱/۲۳۴ مخ

ketabton.com - The Digital Library



**۱۷۵۴ـ امین :**

عبدالجلیل امین د مذهبی موضوعاتو شاعرو ، نوځکه یې په شریعي او مذهبی موضوعاتو کی ښه معلومات درلودل ، ده یو اخلاقی او مذهبی اثر په (۱۳۳۰ هـ ق) کال کی په نظم کړی دی ـ دا بیت دده دی :

لس و رځی اته سیاشتی دوه کلونه په حساب دعبدالجلیل امین شوی ای اخونه

مأخذ :

---

فرهنگ زبان و ادبیات پښتو ـ ۱/۵۸ مخ

**۱۷۵۵ـ امین الله راجایی :**

د پښتوژبی اولسی شاعرو ، اوپه شعرو نوکی یې زیاتر دینی موضوعات بیانول دنما نځه ځینی برخی یې په پښتو ترجمه کړی او دده معماوی شهرتلری . امین الله آهنگری کوله او په (۱۲۷۳ هـ ق) کال دلغمان په راجایی کی زیږیدلی اوپه (۱۳۴۵ هـ ش ) کال کی مړدی دا سروکی دده دی

هردم کوم بیان ، وایمه سر د قرآن

و اوری یارانو راته جوړه ترجمه شوه

رب ته هیله شوه زما

مأخذ :

---

فرهنگ زبان و ادبیات پښتو ـ ۱/۵۸ مخ

**۱۷۵۶ـ انار :**

د پښتوژبی شاعرتېرسوی او دده یوشعردملانښایسته خان په پښتوجونګ کی راوړه سوی دی .

دښاغلی رفیع په اټکل یې د دولسمی هجری پیړی په سرا کی ژوند کاوه .

ketabton.com - The Digital Library



د ده هغه یوازینی شعر چی د ملا شایسته خان په پښتوجونګ کی راغلی دادی:

سرمی سل ځله تر تا دلبره زارشه — ولی هو مره در ته وایم چی می یارشه
په درست عمر کی په قار راغخه ګرځې — باری یو ځله په مهر را کنار شه
پرهغه چی ستا خاطر پری آزار یږی — پر بدل زما، دلدار خاطر آزارشه
چی په سیان ددو و سینو جدایي که — دغه فعل د غماز د ی غمازخوارشه
د وصال شپه شب قدر ده ، «اناره» — پردغه شپه چی اوده نشي بیدارشه

ماخذ :

ادبی ستوری -۱/۵۵ مخ

## ۱۷۵۷-۱ نار ګل لغمانی :

د پښتوژ بی اولسی شاعرودلغمان په سیمو کی اوسېداو پراولسی آهنګو یې سم پښتوشعرونه جوړول.د ده شعرونه په عوامو کی شهرت لری اود(۱۳۷۸ هش) کال په شاوخوا کی مړدی.

مأخذ :

فرهنګ زبان و ادبیات پښتو-۱/۵۸ مخ

## ۱۷۵۸-۱ نخر ګل :

د پښتو یوخوږژ بی شاعرتیرسوی دی او د(۱۲۲٦ هش) کال په شاوخوا کی د پېښور په سیمه کی او سېد په(۱۸۴۷ ام) کال یې د «ترانه محفل» په نامه یوه خوږه کیسه له اردواو فارسی څخه په پښتونظم را روولی ده،نظم یې اورد مثنوی دی او زیاتره لغات یې سوچه پښتو دی او ځای ځای یې هم پښتوبه لی پکښې را وړی دی .
په دی کیسه کی د سلطان محمود غزنوی عدالت او د ښځو عفت او پاک نفسی بیان سوی او ددو و پا کو مینانو د کامیابی مینی کیسه ده،او ترحمداو ثناو روسته خپل ځانته د کیسی دلیکلو داسی امر کوی :

لاس کړه پوری په کیسه باندی تلوار کړه — ساسعان پري د محفل تول خبردار کړه
شپه تیریږی لږ ساعت دی پکی پاتی — د رنګ ساعت له به سارغان باغ کړی ساتی

ketabton.com - The Digital Library



يخ نسيم بەد سبا اوس جاري كېږي
مروركل په گلشن كې پخولا كيږي
سروه كـج گردن دباغ منځ كې ولاړه
د بلبل د نه را تلو په زړه لتاړه
صنو بر خواره كړه لاس ډېردی خوشاله
همسری له دې چنار راغلی خواله
شمشاد چوب پەلاس ولاړ مینځ کی دباغ
د بلبلو تول ته كله پر پر دی زاغ
سبزه رنگك توتاپه غاړه كړ خپل طوق
ځی خدمت لەبه گلش ته په ډېرشوق
ته هم واخله قلم وكـړه تحـريـر
حاضران كړه د مجلس پوی په تقرير

ښاغلی حبـيب الله رفیع پەخپل كتاب «ادبی ستوری» كی ليكی چی: «دەپەدې كیسەكی خپلەبرخەپەډېربرياليتوب او استادی سره ترسره كړې او دا كيسه يې پەداسی مهارت سره ليكلی دەچی دپښتودستروسترو كيسەليكونكو استادانو له كيسوسره اندول كېدای شي، پەدې كيسه كی د«روشن بانو» او «نيك اختر» دپاكی مينی پيښی ليكلی شوی دی .

انځرگل يوځای د«نيك اختر» په بيلتون كی د «روشن بانو» ژړا په ډېر زړه وړونكی ډول تصوير وی او داهغه هغه وخت دی چی دسلطان محمو د غزنوی لەخوا نيك اختردغلاپەتورنيول شوی او دمرگ حكم پرې شوی دی »
دلته يې همدابرخه دانځرگل د كلام دغوني په توگەراوړو :

بانوغږكړ وې زماخالقەخدايه په تيزتيغ مې د هجران شوزړه دوه ځايه
دجانان دجدايي طاقت مې نشته څه خوبياو ړو مې لەدە عقباته بيايه

ketabton.com - The Digital Library



روح منلی صدقه می ددلبر دی
اللهٔ ساسی ددلبر په حضور واخلی
دفلک چی زړه منل هغه یې و کړل
ما غریبی تـا سره څه بد وکړی
نرناحق دی‌او ردهجران راچاپیر کړ
بې گناه دی‌ظلم وکړ په‌ما باندی
«انځرگله »له چشمانو ته‌نم وچ کړه

عزرائیل راو لـېږه زمـاتـرسرایـه
چی تسکین د لگیرضمیرشی‌دینکرایه
زماني‌روی کړه‌در بـ ته‌هیڅ مه‌و ایه
ای فلکه ! څه‌تقصیر زما وښایه
ما کوم کارکړی له‌تانه و، بې‌ځایه
څله غوارم دا درسی له‌رهنمایه
دبانو دخولی‌اشعار په‌ښه‌شان ستایه

مأخذ :

---

ادبی ستوری ۱/ ۹۸ مخ

## ۱۷۵۹ـ انعام خطاط:

ددو ولسمی هجری پېړی دپای له خطاطانو او دپښتو ژبی له‌ناظمانو څخه و، ده دپښتو دکتابو څونسخې په‌خپل ښه خط لیکلی دی‌چی‌دده دنظمونو نمونې هم‌پکښې‌سته.

په(۱۱۷۶ هـق) کال یې‌د رحمان باباد یوان یوه نسخه خطاطی کړې وه
چی‌په‌پای کی‌یې دابیت لیکلی و :

شکرشکرچی‌تمام شو دادیوان په دستخط د«انعام »خوار و حیران

مـا خـذ :

---

فرهنگ زبان و ادبیات پښتو- ۱/ ۵۹ مخ

## ۱۷٦۰ـ انگوخان بامیزی :

دتیمورشاه‌درانی دوختوله‌نومیالیو څخه و، چی‌په (۱۱۸٦هـ ق) کال یې د تیمورشاه په‌امرداحمد شاه‌بابادوختو زیرشاه‌و لی خان‌چی‌دتیمور شاه ورور شهزاده سلیمان او خپل زوم یې داحمد شاه‌باباترمړینی و روسته پرتخت کښېنولی و، داسلام خان‌په‌ملگرې‌و واژه ـ دسراج التواریخ مؤلف‌لیکی : «شهزاده (تیمور

ketabton.com - The Digital Library



چون از تخت‌نشینی برادر کوچک خود سلیمان که بواسطهٔ وزیرشاه ولی‌خان شده ازو آزرده خاطربود درمنزل سیاه آب واقع غربی بکوا « اذانگوخان بامیزئی» رامأمور بقتل شاه ولیخان کرده واو باتفاق وهمدستی اسلامخان ویرابادو فرزند ودو تن خواهرزاده گان ارجمندش بقتل رسانید.. »

مأخذ :

سراج التواریخ - ۱/۳۵ مخ

## ۱۷۶۱ـ انمرخول خیل :

پروفیسورسیال کاکړ لیکي‌چی:«انمر دمرانیودخول خیلودبابوزیو په‌تېرکې مبارزشخصیت‌تېرسوی دی ـده دخول خیلو په د هنه کې‌یی‌پرنګیان وژلی دی او بالاخره پخپله داستعمارچیانوله‌خوا په دارسو »

مأخذ :

پښتواو پښتانه - ۱/۳۸۹ مخ

## ۱۷۶۲ـ انورشاه (سید) :

سیدانورشاه دپښتو ژبی شاعراو په ختهٔ سید ؤ ه دده‌نیکه گان‌لکه فخرعالم‌بابا، میرعقیل، او نورپه روحانیت او پیری مشهوروو، او په تېراکی اوسېدل .

سیدانورشاه د(۱۱۳۷ هق) کال په‌شاوخواکی په«کلایه » کی زیږېدلی وو، چی‌و روسته‌عالم ، پرهیزگاراو دسلوک واقف سړی‌سو ـ دبرخلک یې مریدان سول او په«میاصاحب» یې‌شهرت وموند، مریدان یې«میامریدا ن »او نمسی‌لې «میانمسی» بلل کېدل ،دده ژوند تر(۱۲۰۷ هق) کال پوری یقینی دی ـښاغلی همیش خلیل لیکي :

«قنبرعلی خان چی دپښتو په‌مقدمینوشعراء کی‌څرګند حیثیت‌لری،دسیدانورشاه عقید تمند اومریدو ، بلکه‌دسیدانورشاه‌دتعلیماتو پرېدومړه‌زیات‌اثرشوی‌و ـ

ketabton.com - The Digital Library



چی خپل آخری ژوندیې تول دهغه سره یو ځای تېر کړی و «کلایه» مخامخ د «مستوری توی» هاخواته «لیړی» نومی ځای کی ښخ کړه سو، او ښه گنبده پرولاړه ده .

د دشعردیوان هم درلود ، او دښاغلی همیش په روایت یو مکمل دیوان یې دسید قاسم «ابراهیم زی» سره په هنگوتحصیل کی ستهٔ.

د کلام نمونه :

باده راشه دشیرین یا رله وطنه
عرض وکړه څه احوال یارله دیدنه
نورانی محبوب دمخ رنگ گلابی دی
ارغوان له شقائق زیات له سو سنه
چی صفت تعریف دگل او دبلبل کل
نسترین، سنبل ، نسرین و وله سوسنه
فرهاد څه چاری په ځان باندی وې کړی
خبرنه و، له دی هسی دود شیونه
امتیازیې و، هر چا وته معلوم شی
گل پسرشی چی جداشی له چمنه
عاشقانو په باب داکارعنایت دی
زه به ولی ملامت کړم له کوه کنه
انور ستا په تیغ شهیددی که باور کړی
خوش خرم دی که ښخ شوی بې کفنه

نور اشعار یې په « ورکه خزانه» کی سته.

ماخذ :

---

ورکه خزانه- ۲۰۷/۲مخ

ketabton.com - The Digital Library



## ۱۷۶۳- اورکزی درویش بابا نی :

درویش بابا نیا نو د ډلی له ور وستیو پیروانو څخه و ، چی په پښتو ژبه عرفانی منظومې لری دده ژوند تر (۱۱۷۵ ه ق) کال پوری یقینی دی . «دو ر کی خزانې» مؤلف ښاغلی همیش- خلیل د خپل کتاب په لومړی ټوک کی دده د نظم نمونه راوړې ده . دا بیت دده دی :

رامدد بایزید مسکین کړه په تقوی کی مې مسکین کړه

د عقبی د معاش فکرهم دده په رهبری کړم

مــأخذ :

---

فرهنگ زبان و ادبیات پښتو-۱/۶۰مخ

## ۱۷۶۴- اول خان رغځړی :

د پښتو ژبی غزل و یونکی شاعر او تر (۱۲۰۰ ه ق ) کال وروسته د چارسدې په «رغځړ» کی اوسېد- په شعرو نو کی یې پر غزل سربېره قصې هم په نظم کولې ، چی یوه له هغو څخه «د نیمبو» لاقصه وه ، چی دده له ادبی یادګار و څخه ګڼله کېږی ، دا بیت دده دی

ډهو ښار و کمینی د تن جامه ده اول خان د کمینه وو ، خدمتگار یم

مأخذ :

---

فرهنگ زبان و ادبیات پښتو -۱/۶۱ مخ

## ۱۷۶۵- اول ګل ننګرهاری :

د ثنا ګل زوی ، د پښتو ژبی او لسی شاعر ، د ننګرهار په شیرشاهی کی اوسېد ، پر ولسی او زانویې شعروایه ، او دده شعرونه زیاتره د خلکو په خولو کی وه ، په څلوېښت کلنی مړدی- او دا بیت دده دی :

اول ګل نیالګی د ګلو دی کرلی له خزانه دی الله کړی په امان

مأخذ :

---

فرهنگ زبان و ادبیات پښتو۱/۶۱مخ

ketabton.com - The Digital Library



## ۱۷٦٦-اومی کټوازی :

دپښتوژبی شاعره وه ،په ختهه احمد زی او دکټو ازدکو چنیا نو په سیمه کی اوسیدله، پراولسی اوزانواو آهنگو کی شعرونه ویل- دابیت ددی دی:

خهل لوړلی چی وار به اخلی کهوار یې وا خیستاو ربه یې مړسی

مأخذ :

فرهنگ زبان و ادبیات پښتو -۱/٦۱ مخ

## ۱۷٦۷-ایاز لنډی:

ایازدپښتوژبی اولسی شاعرو ، په شعروکی یې«لنډی» تخلص کاوه . په (۱۳۰٦ ه ش )کال دپکتیاپه پیرکی باک کی زیږېدلی،اوپه(۱۳۴۹ هش) کال همهلته مړدی. پراولسی اوزانویې شعرونه ویل او اجتماعی انتقادی مضامین یی پکښی راوړل دا بیت دده دی :

چیرته نشته په دنیاکی وفادارنن و به نه کسې په رښتیاد مینی یارنن

مأ خذ :

فرهنگ زبان و ادبیات پښتو-۱/٦۱ مخ

## ۱۷٦۸-ایوب خان :

ددیرلسمی هجری پیړی په سرکی ژوند ، اودپښتو ژبی مبارز لیکوال و- یو کتاب یې دپښتنو اوانگریزا نودجگړود شواهدو په نامه لیکلی و .

دی دپښتونستان په«پکلی» په سیمه« زیږېدلی اوله زلمیتوبه یې دملی مسئلوسره علاقه درلودله،اودملی مبارزوپه سلسله کی له پکلی څخه باجوړ یه اوله باجوړه کابل ته راغی،اوهمدلته په کابل کی مړسو،اودپو ستین دوزانو په محله کی ښخ دی .

مأخذ :

فرهنگک زبان و اد بیات پښتو -٦۲ مخ

Thank you for reading

Find more e-books and articles on Ketabton - your multilingual digital library.

**www.ketabton.com**

*Ketabton - Pashto, Farsi, Arabic & English*